ننګرهار اقتصاد پوهنځی

# د اقتصاد د علم اساسات




لیکوال دوکتور مهدي تقوی

ژباړن شېرخان حساس





۱۴۰۰

پلورل منع دی

د اقتصاد د علم اساسات

ژباړن شېرخان حساس

Nangarhar Economics Faculty

Afghanic


Sherkhan Hasas


# Fundamental of Economics




Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

ISBN 978-9936-620-75-9





Not for Sale

2021

# د اقتصاد د علم اساسات


ليکوال  دوکتور مهدي تقوی
ژباړن  شيرخان حساس





ننګرهار  اقتصاد پوهنځی
Nangarhar Economics Faculty



Funded by
**Kinderhilfe-Afghanistan**

افغانيک
**Afghanic**

Pashto PDF
2021


# Fundamental of Economics


## Sherkhan Hasas



Download:
www.kitabona.com
www.ecampus-afghanistan.org

اقرأ باسم ربك الذي خلق

# د اقتصاد د علم اساسات

## ليکوال: دوکتور مهدي تقوی

## ژباړن: شېرخان حساس

دوهم چاپ

دغه کتاب په پي ډي ايف فارمټ کې په مله سي ډي کې هم لوستلی شئ:



| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د اقتصاد د علم اساسات |
| لیکوال | دوکتور مهدي تقوی |
| ژباړن | شېرخان حساس |
| خپرندوی | ننگرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی |
| وېب پاڼه | www.nu.edu.af |
| د چاپ کال | ۱۴۰۰، دوهم چاپ |
| چاپ شمېر | ۱۰۰۰ |
| مسلسل نمبر | ۳۳۴ |
| ډاونلوډ | www.ecampus-afghanistan.org<br>www.kitabona.com |

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې، په جرمني کې د Eroes کورنۍ یوې خیریه ټولنې لخوا تمویل شوی دی.
اداري او تخنیکي چارې یې په آلمان کې د افغانیک لخوا ترسره شوي دي.
د کتاب د محتوا او لیکنې مسئولیت د کتاب په ژباړن او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي ټولنې په دې اړه مسؤلیت نه لري.



د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له موږ سره اړیکه ونیسئ:
ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت، کارته ۴، کابل
موبایل ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴، ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰
ایمېل textbooks@afghanic.org



د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.



ای اس بي ان ۹-۷۵-۶۲۰-۹۹۳۶-۹۷۸

# د لوړو زده کړو وزارت پیغام

د بشر د تاریخ په مختلفو دورو کې کتاب د علم او پوهې په لاسته راوړلو، ساتلو او خپرولو کې ډېر مهم رول لوبولی دی. درسي کتاب د نصاب اساسي برخه جوړوي چې د زده کړې د کیفیت په لوړولو کې مهم ارزښت لري. له همدې امله د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، د وخت د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره باید نوي درسي مواد او کتابونه د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

له ښاغلو استادانو او لیکوالانو څخه د زړه له کومې مننه کوم چې دوامداره زیار یې ایستلی او د کلونو په اوږدو کې یې په خپلو اړوندو څانګو کې درسي کتابونه لیکلي او ژباړلي دي، خپل ملي پور یې ادا کړی او د پوهې موتور یې په حرکت راوستی دی. له نورو ښاغلو استادانو او پوهانو څخه هم په درنښت غوښتنه کوم چې په خپلو اړوندو برخو کې نوي درسي کتابونه او درسي مواد برابر او چاپ کړي، چې له چاپ وروسته ګرانو محصلینو ته په واک کې ورکړل شي او د زده کړو د کیفیت په لوړولو او د پوهې د انتقال پروسې په پرمختګ کې یې نېک ګام اخیستی وي.

د لوړو زده کړو وزارت خپله دنده بولي چې د ګرانو محصلینو د علمي کچې د لوړولو لپاره د علومو په مختلفو څانګو کې معیاري او نوي درسي مواد برابر او چاپ کړي.

په پای کې د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمیټې او زموږ همکار ډاکتر یحیی وردګ څخه مننه کوم چې د دې کتاب د خپرولو لپاره یې زمینه برابره کړې ده.

هیله‌من یم چې نوموړې ګټوره پروسه دوام وکړي او پراختیا ومومي چې په نږدې راتلونکي کې د هر درسي مضمون لپاره لږ تر لږه یو معیاري درسي کتاب ولرو.

په درنښت

پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزي

د لوړو زده کړو وزارت علمي معین

کابل، ۱۴۰۰ ل

# د درسي کتابونو چاپول

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلینو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی له لویو ستونزو څخه ګڼل کېږي. یو زیات شمېر استادان او محصلین نویو معلوماتو ته لاسرسی نه لري، په زاړه میتود تدریس کوي او له هغو کتابونو او چپترونو څخه ګټه اخلي چې زاړه دي او په بازار کې په ټیټ کیفیت فوتوکاپي کېږي.

موږ تر اوسه پورې د ننګرهار، خوست، کندهار، هرات، بلخ، البیروني، کابل پوهنتون، د کابل طبي پوهنتون او د کابل پولي تخنیک پوهنتون لپاره ۳۴۲ عنوانه مختلف درسي کتابونه د طب، ساینس، انجنیري، اقتصاد، ژورنالېزم او کرهنې پوهنځیو لپاره چاپ کړي دي. ۹٦ طبي کتابونه د آلمان د علمي همکاریو ټولنې DAAD، ۲۱۰ طبي او غیر طبي کتابونه د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې (Kinderhilfe-Afghanistan)، ۷ کتابونه د آلماني او افغاني پوهنتونونو ټولنې DAUG، ۲ کتابونه په مزار شریف کې د آلمان فدرال جمهوري جنرال کنسولګرۍ، ۴ کتابونه د Afghanistan-Schulen، ۲ کتابونه د سلواک اېډ، ۸ کتابونه د کنراد ادناور شټیفټونګ بنسټ (KAS) په مالي مرسته چاپ کړي دي.

د یادونې وړ ده، چې نوموړي چاپ شوي کتابونه د هېواد ټولو اړوندو پوهنتونونو او یو زیات شمېر ادارو او موسساتو ته په وړیا توګه وېشل شوي دي. ټول چاپ شوي کتابونه له www.afghanistan-ecampus.org او www.kitabona.com ویب پاڼې څخه ډاونلوډولی شئ.

دا کړنې په داسې حال کې تر سره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې: دا کړنې په داسې حال کې ترسره کېږي چې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د (۲۰۱۰-۲۰۱۴) کلونو په ملي ستراتیژیک پلان کې راغلي دي چې:

*"د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کیفیت او زده کوونکو ته د نویو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړینه ده، چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د لیکلو فرصت برابر شي، د تعلیمي نصاب د ریفورم لپاره له انګریزي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او درسي موادو ژباړل اړین دي، له دغو امکاناتو پرته د پوهنتونونو محصلین او استادان عصري، نویو، تازه او کره معلوماتو ته لاسرسی نه شي پیدا کولای."*

موږ غواړو چې د درسي کتابونو په برابرولو سره د هېواد له پوهنتونونو سره مرسته وکړو او د چپټر او لکچرنوټ دوران ته د پای ټکی کېږدو. د دې لپاره اړینه ده چې د افغانستان پوهنتونونو لپاره هر کال لږ تر لږه ۱۰۰ عنوانه درسي کتابونه چاپ شي.

**له ټولو درنو استادانو څخه هیله کوو، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، ویې ژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچرنوټونه او چپټرونه ایډېټ او د چاپ لپاره تیار کړي، زموږ په واک کې یې راکړي چې په ښه کیفیت چاپ او وروسته یې د اړوند پوهنځیو، استادانو او محصلینو ته په واک کې ورکړو. همدارنګه د یادو ټکو په اړه خپل وړاندیزونه او نظریات له موږ سره شریک کړي، چې په ګډه په دې برخه کې اغېزمن ګامونه پورته کړو.**

د لیکوالانو او خپروونکو له خوا پوره زیار ایستل شوی دی، چې د کتابونو محتویات د نړیوالو علمي معیارونو پر اساس برابر شي، خو بیا هم کېدای شي د کتاب په محتوا کې ځینې تېروتنې او ستونزې ولیدل شي، نو له درنو لوستونکو څخه هیله لرو چې خپل نظریات او نیوکې لیکوال او یا موږ ته په لیکلي بڼه راولېږي، چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح شي.

د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټې او د هغې له مشر ډاکتر ایروس څخه ډېره مننه کوو چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې ورکړی دی، دوی تر دې مهاله د ننګرهار پوهنتون د ۲۱۰ عنوانه طبي او غیر طبي کتابونو د چاپ لګښت پر غاړه اخیستی دی.

د جي آی زیټ (GIZ) له دفتر او CIM (Center for International Migration & Development) څخه، چې زما لپاره یې له ۲۰۱۰ نه تر ۲۰۱۶ زېږدیز کاله پورې په افغانستان کې د کار امکانات برابر کړي وو، هم د زړه له کومې مننه کوم.

د لوړو زده کړو له علمي معین پوهنمل دیپلوم انجنیر عبدالتواب بالاکرزي، د مالي او اداري معین ښاغلي نور احمد درویش، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار ډاکتر ګل رحیم صافي، د پوهنتونونو رییسانو، د پوهنځیو رییسانو او استادانو څخه مننه کوم چې د کتابونو د چاپ لړۍ یې هڅولې او مرسته یې ورسره کړې ده. د دغه کتاب له لیکوال څخه ډېر منندوی یم او ستاینه یې کوم، چې خپل د کلونو - کلونو زیار یې په وړیا توګه ګرانو محصلینو ته وړاندې کړ.

همدارنګه د دفتر له همکارانو هر یو؛ ښاغلي حکمت الله عزیز او ښاغلي فهیم حبیبي څخه هم مننه کوم چې د کتابونو د چاپ په برخه کې یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.

ډاکتر یحیی وردک، د لوړو زده کړو وزارت سلاکار
کابل، مې، ۲۰۲۱
د دفتر ټیلیفون: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰، ۰۷۸۰۲۳۲۳۱۰ ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴
ایمیل: textbooks@afghanic.org

## ډالی!

خدای بښلي ځوانیمرگ فضل ربي شېرزاد او خدای بښلي فرید احمد هلال ته چې ژوند مې د هغوی د بې‌سارې مهربانۍ پوروړی دی.

حساس

## د مطالبو لیکلړ

د کتاب پر دوهم چاپ باندې د ژباړن او څېړونکي خبرې ........................................ ن
اندلیک ........................................................................................................ س
تقریظ .......................................................................................................... ع
لومړی څپرکی ................................................................................................ 1
سریزه ......................................................................................................... 1
کمیابي: ....................................................................................................... 2
د کمیابه کالیو وېش: ........................................................................................ 2
انتخاب: ....................................................................................................... 2
فرصتي مصرف: .............................................................................................. 3
د غوره‌والي (رجحاناتو) درجه بندي: ........................................................................ 4
اقتصادي نظریه: .............................................................................................. 4
آیا اقتصاد علم دی؟ ......................................................................................... 5
اقتصادي منابع: .............................................................................................. 6
اقتصادي واحد: .............................................................................................. 9
کوچنی او لوی اقتصاد: ...................................................................................... 9
دوهم څپرکی ................................................................................................ 10
تولید او د تولید هدف ....................................................................................... 10
د تولید مفهوم: .............................................................................................. 10
د تولید اندازه او اقتصادي رفاه: ............................................................................. 11
ثروت: ........................................................................................................ 11
د ثروت مالکیت: ............................................................................................. 12
د ثروت مالکیت او اقتصادي نظامونه: ....................................................................... 12
فقر، ثروت او عاید: .......................................................................................... 13
د کار وېش: .................................................................................................. 13
د کار د وېش تاوانونه: ...................................................................................... 15
د کار وېش او د تبادلې اړتیا: ............................................................................... 16
د بازار په مرسته د کار د وېش محدودیت: ................................................................... 16
درېیم څپرکی ................................................................................................ 17

د تولید عوامل ........................................ 17
کاروباري مهارت: ........................................ 17
ځمکه: ........................................ 18
د نزولي حاصل قانون: ........................................ 19
کارګر: ........................................ 21
د کاري ځواک کارآيي (ممثریت): ........................................ 22
د تولید د عواملو تحرک: ........................................ 23
پانګه: ........................................ 24
مصرفي کالي ........................................ 24
پانګه‌ییز کالي: ........................................ 24
پانګه عاید ایجادوي: ........................................ 25
پیسې د پانګې په توګه: ........................................ 25
د پانګې تراکم: ........................................ 26
د پانګې تراکم په سپما پورې تړاو لري: ........................................ 26
د پانګې ساتنه: ........................................ 27
د پانګې مصرف: ........................................ 27
څلورم څپرکی ........................................ 29
د نفوس مسئله ........................................ 29
په نولسمه پېړۍ کې د نفوس د زیاتوالي علت: ........................................ 29
مالتوز: ........................................ 30
آیا تاریخ د مالتوز نظریه رد کړې ده؟ ........................................ 30
د نفوس نوي مسائل: ........................................ 31
د نفوس انفجار: ........................................ 33
د نړۍ د نفوس د مازاد مسئله: ........................................ 34
د نفوس مطلوب حد: ........................................ 35
د نفوس سني وېش: ........................................ 36
د راتلونکي انځور: ........................................ 36
پنځم څپرکی ........................................ 39
مطلوبیت او تقاضا ........................................ 39

د دوه امتعو تر منځ ټاکنه، د مطلوبیت اعظمي کول: ........................................ 39
د بې تفاوتۍ منحني ګانې: ........................................ 40
تقاضا: ........................................ 45
الف- د امتعې قېمت ........................................ 45
ب- د نورو امتعو قېمت ........................................ 48
ج- د مصرف کوونکي عاید: ........................................ 50
ادنی امتعه: ........................................ 51
معمولي امتعه: ........................................ 51
شپږم څپرکی ........................................ 53
تولید، مصرف او عرضه ........................................ 53
مقیاس ته ورګرځېدل: ........................................ 55
مصرف: ........................................ 59
عرضه: ........................................ 63
په عرضه کې تغییر: ........................................ 65
د عرضې قېمتي ارتجاعیت: ........................................ 66
اووم څپرکی ........................................ 68
بازار او تعادل ........................................ 68
د بازار جوړښت: ........................................ 68
د بازار اصلي ماډل: ........................................ 68
کامل رقابت: ........................................ 69
کامل انحصار: ........................................ 70
انحصاري رقابت: ........................................ 71
اولیګوپولي: ........................................ 72
د پېرودونکي له نظره د بازار جوښت: ........................................ 74
د بازار د جوړښت ټاکونکي عوامل: ........................................ 75
عرضه، تقاضا او قېمت: ........................................ 76
د عرضې او تقاضا تغییرات: ........................................ 80
اتم څپرکی ........................................ 84
ملي عاید او ملي محصول ........................................ 84

د لوی اقتصاد متحولین: ........................................................84
اقتصادي ماډولونه: ........................................................84
ملي عايد او ملي محصول: ........................................................85
ملي عايد: ........................................................85
ملي محصول يا توليد: ........................................................86
د ترلي بازار اقتصاد کې ملي عايد او ملي محصول: ........................................................86
نهم څپرکی ........................................................94
د کلاسيکو اقتصادپوهانو نظريات ........................................................94
د پيسو مقداري نظريه ........................................................94
مزد- قېمت- استخدام او توليد: ........................................................95
سپما او پانګه اچونه: ........................................................101
لسم څپرکی ........................................................105
استخدام ........................................................105
کامل استخدام: ........................................................106
د کامل استخدام پر وړاندې ستونزې ........................................................108
د نقدينه ارجحيت- پيسو ته د سفته بازۍ تقاضا: ........................................................108
سفته بازۍ ته په پامنيوي سره د پيسو عرضه او تقاضا: ........................................................108
د نقدېدو دام (تلک): ........................................................111
د سپما او پانګونې ترمنځ د همغږۍ نشتوالی: ........................................................112
اتوماتيک کامل استخدام: ........................................................113
د وزګارتيا ډولونه او د لايل يې: ........................................................114
له کامل استخدام څخه رامنځته کېدونکې ستونزې: ........................................................116
يوولسم څپرکی ........................................................118
مصرف ........................................................118
د مصرف د تابع ځانګړنې: ........................................................119
د نفتو صادرونکي هېوادونه: ........................................................123
د قېمتونو تغيير: ........................................................125
د ګټې د نرخ اغېزه: ........................................................126
د زياتوالي او يا يو بل ته زياتونکي ضريب : ........................................................127

دوولسم څپرکی ........................................................................130
د پانګې اچونې تیوري ..................................................................130
د پانګې مفهوم: ..........................................................................130
د پانګې اچونې تصمیم؛ درې مهم عوامل: ..........................................131
د پانګې اچونې معادلې: .................................................................134
د پانګې نهایي محصول: .................................................................135
د عدم اطمینان عامل: ....................................................................135
د پانګې موجودي او د پانګونه اچونې نرخ: ...........................................136
د ګټې د نرخ کموالی: ...................................................................139
د MEC د منحني د ځای بدلېدل: ........................................................143
د پانګونې د تقاضا تغییرات: ............................................................144
د کار فرمایانو په توقعاتو کې تغییر: ....................................................144
د اختراعاتو او ټکنالوژۍ تغییرات: .....................................................145
د پانګونې تقاضا او اختراع: ............................................................146
د MEC، عاید او تولید منحني: .........................................................147
د عاید سطح او تولید: ...................................................................149
مستقله او غیر مستقله پانګونه: .........................................................149
د تولید او عاید د تعادل سطحه: ........................................................151
د یو بل زیاتوونکي او یا د زیاتوالي ضریب- د تعادل د مقدارونو تغییرات: ..........152
د پانګونې د تابع د ځای تغییر: ........................................................153
د مصرف د تابع د ځای تغییر: ..........................................................155
د تولید او عاید د سطحې تغییر: ........................................................156
د پانګې پر محصول نسبت: ..............................................................157
د شتاب (تعجیل) اصل: ..................................................................157
د شتاب د اصل فرضیات: ................................................................159
دیارلسم څپرکی ..........................................................................160
پیسې ......................................................................................160
د پیسو ماهیت: ...........................................................................160
پیسې څه شی دي؟ ........................................................................160

د پیسو دندې: ........................................ 161
د پیسو د تحول بهیر ........................................ 164
پیسې- غیر فلزي کالي: ........................................ 164
فلزي پیسې: ........................................ 164
کاغذي پیسې: ........................................ 166
بانکي پیسې: ........................................ 167
د قانوني ابرا قدرت یا د پیسو قانون دود کېدل: ........................................ 168
د پیسو معیارونه او سیستمونه: ........................................ 168
د کالیو؛ سرو زرو معیاررونه: ........................................ 170
جنسي معیار- دوه فلزي سیستم او د گرېشام قانون: ........................................ 171
اعتباري معیار: ........................................ 174
رویتي سپارنې: ........................................ 175
څوارلسم څپرکی ........................................ 177
بانک ........................................ 177
الف –لنډ مهاله بانکي عملیات: ........................................ 177
ثابت امانت: ........................................ 177
ب –اوږد مهاله بانکي عملیات: ........................................ 179
ج –د ارزښت لرونکو پاڼو خپرول: ........................................ 180
بانکي سازمان: ........................................ 181
پنځلسم څپرکی ........................................ 186
مرکزي بانک ........................................ 186
د مرکزي بانک دندې: ........................................ 186
الف- د مجدد تنزیل نرخ: ........................................ 190
ب- د سوداگریزو بانکونو د قانوني ذخایرو حجم: ........................................ 191
ج –د بازار عملیات: ........................................ 192
د – آني نسبت: ........................................ 193
په لنډه توگه کیفي وسایل په دې ډول دي: ........................................ 193
شپاړسم څپرکی ........................................ 194
انفلاسیون ........................................ 194

د تقاضا انفلاسیون: ........................................ 194
د تقاضا د انفلاسیون کنترول: ........................................ 198
د مصرف انفلاسیون: ........................................ 199
د اضافي فیصدۍ انفلاسیون: ........................................ 202
د انفلاسیون اغېزې: ........................................ 202
د انفلاسیون د له منځه وړلو سیاستونه ........................................ 209
اووه لسم څپرکی ........................................ 212
اقتصادي نوسانات ........................................ 212
د اقتصادي نوساناتو ډولونه: ........................................ 212
د اقتصادي نوساناتو پړاوونه: ........................................ 213
بحران: ........................................ 214
رونق: ........................................ 215
شکوفایي: ........................................ 218
رکود: ........................................ 220
اقتصادي نوسانات- فزیکي او رواني دلایل: ........................................ 222
د نوښت نظریه: ........................................ 222
د کرهنې نظریات: ........................................ 225
د چټک کوونکي نظریه: ........................................ 226
چټک کوونکی او موجودي ګانې: ........................................ 228
چټک کوونکی او مصرفي کالي: ........................................ 229
د چټک کوونکې نظریې نیمګړتیاوې: ........................................ 229
رواني نظریه: ........................................ 230
د مصرف کوونکو او پانګوالو عملیات: ........................................ 230
د رقابت اغېزه: ........................................ 231
د صنایعو د رهبرانو اغېزه: ........................................ 232
د سوداګریزو دورو پولي نظریه ........................................ 232
د تعادل فرضیه: ........................................ 232
د پیسو د عرضې د تغییر دلایل: ........................................ 233
د اقتصادي فعالیتونو پراختیا: ........................................ 234

انقباض: .................................................................................................... 234
څرنګه کولای شو چې نوسانات له منځه یوسو: ................................................ 234
له حده زیاتې پانګونې نظریه: ........................................................................ 235
د ګټې د نرخ اهمیت: .................................................................................... 235
د اقتصادي فعالیتونو سپړېدنه: ........................................................................ 236
د پیسو د عرضې ثبات: .................................................................................. 236
اجباري سپما: ................................................................................................. 237
د اقتصادي فعالیتونو انقباض: ........................................................................ 237
د غیر کافي مصرف نظریه: ............................................................................. 238
ساده نظریې، د خرید غیر کافي نظریه: ........................................................... 238
پېچلې نظریې: د خرید د قدرت ناسم وېش: .................................................... 238
د نوساناتو له منځه وړل: ................................................................................ 240
اتلسم څپرکی .................................................................................................. 241
نړیواله سوداګري ............................................................................................ 241
د نړیوالې سوداګرۍ ښېګڼې: ........................................................................... 242
د تبادلې رابطه: ............................................................................................... 246
د نړیوالې سوداګرۍ فرضیات: .......................................................................... 247
د خارجي تادیاتو بیلانس: ................................................................................ 249
نولسم څپرکی .................................................................................................. 254
د نړیوالو تادیاتو نظام .................................................................................... 254
الف- تر 1944 ز کاله پورې د نړیوالو تادیاتو میکانیزم: ..................................... 256
ب- د سرو زرو او اسعارو اساس نظام (د اسعارو اساس نظام): ............................ 260
ج– د غیر ثابتو (کرېدونکو) نرخونو نظام: ......................................................... 261
عادي اغېزه او بې ګټې اغېزه: .......................................................................... 261
د پیسو د ارزښت کمېدنه: ................................................................................ 262
نړیوال پولي سیستم 1944- 1947: ................................................................... 264
د 1960 ز لسیزې تجربې: ................................................................................ 266
د 1971- 1979 بحران: ..................................................................................... 268
«2- 19 جدول د مرکزي بانکونو ذخیرې په میلیون ډالر» ...................................... 272

د پیسو نړیوال بازار او اصلاحي برنامه: .......... 272
یو آیده ال/د خپل په خوښه سیستم: .......... 276
په اسعارو پورې نور مربوط مسایل .......... 276
الف- د سلف اسعارو بازار: .......... 276
د سلف اسعاري معاملات په درې برخو وېشل کېږي: .......... 277
ب- د اسعارو د کنترول سیستم: .......... 278
د اسعارو د کنترول آثار: .......... 279
شلم څپرکی .......... 281
دولت او اقتصاد .......... 281
د صنایعو ملي کول: .......... 282
د مالیاتو اصول: .......... 284
مستقیم او غیر مستقیم مالیات: .......... 285
د مالیاتو اغېزې: .......... 286
د دولت مالي سیاستونه: .......... 289
یوویشتم څپرکی .......... 293
د ملي عاید وېش .......... 293
نابرابري او فقر: .......... 293
د عاید په وېش کې د نابرابرۍ د موجودیت دلایل: .......... 295
د عاید د نابرابرۍ روند او په هغه باندې مؤثر عوامل: .......... 296
مالیات او انتقالي ورکړې: .......... 296
د عاید د نابرابرۍ پر وړاندې دلایل: .......... 297
د عاید د نابرابرۍ په ملاتړ دلایل: .......... 298
فقر: .......... 298
فقیر څوک دی؟ .......... 298
دوه متضادې فلسفې: .......... 299
په منفي عاید مالیات: .......... 300
ماخذونه .......... 301

## د کتاب پر دوهم چاپ د ژباړن او څېړونکي خبرې

کتابونه خو مې ډېر وژباړل (تقریباً ۱۱۰ ټوکه)، کېدای شي په ژباړو کې مې ځینې خوږې او ترخې وي، خو د دې کتاب ژباړه بېل کیفیت لري. د دې کتاب ښهوالی له څو اړخونو دی؛ یوه خبره خو دا ده چې په پښتو ژبه کې تر دې دمخه ما داسې یو کتاب نه و لوستی، چې د اقتصاد د بېلابېلو موضوعاتو په هکله پکې جلا جلا بحثونه شوي وي او هره موضوع یې په خورا وضاحت سره څېړلې وي. بله داچې دا کتاب مې د درې کلونو په اوږدو کې په ډېر دقت سره ژباړلی او څېړلی، چې دې کتاب ته یې ځانګړی رنګ او خوند ورکړی دی.

دا کتاب یوویشت څپرکي لري. هر څپرکی د اقتصاد پر یوې ځانګړې برخې لکه تولید او د هغه هدف، د تولید عواملو، د نفوس مسئلې، تولید، مصرف او عرضه، ملي عاید او ملي محصول، د کلاسیکو اقتصادپوهانو نظریه، استخدام، مصرف، د پانګې اچونې تیوري، پیسو، بانک، مرکزي بانک، انفلاسیون، اقتصادي نوساناتو، نړیوالې سوداګرۍ، د نړیوالو تادیاتو نظام، دولت او اقتصاد او د ملي عاید پر وېش ژور بحث کوي. چې لوستونکی د دې کتاب په لوستلو سره د اقتصاد له اساساتو څخه پوره پوهاوی ترلاسه کوي. خدای دې وکړي چې د دې کتاب په ژباړې، څېړنې او خپرېدو سره زما اصلي موخه، چې افغان محصلانو او استادانو ته د دوی په ژبه د درسي کتابونو رسول دي ترلاسه شي او د اقتصاد د علم عام مینه وال هم په خپلو څېړنو او ورځني ژوند کې ترې کار واخلي.

په پای کې پر ځای ده چې د دې کتاب په ژباړه او څېړنه کې د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد او د پالیسۍ د څېړنو د ملي مرکز له رئیس پوهنوال دوکتور حمیدالله نورعباد، د ننګرهار پوهنتون اقتصاد پوهنځي دوه تنه تکړه استادانو؛ پوهنمل دوکتور عبدالله عادل او پوهاند محمد بشیر دودیال او د لوړو زده کړو وزارت له سلاکار ډاکټر محمد یحیی وردک څخه یوه نړۍ مننه وکړم، چې له ډېرو بوختیاوو سره سره یې ښکلې مشورې راکړې او د دغه کتاب ژباړې او څېړنې ته یې هڅولی یم.

شېر خان حساس

د 1400 لمریز د زمري/اسد 8 نېټه، کابل

## اندلیک

ډېر د خوښی ځای دی چې د اقتصاد په برخه کې یو ډېر اړین او په زړه پورې کتاب د ښاغلي شېر خان حساس د پرله پسې هڅو، زیار او نه ستړي کېدونکي کار په پایله کې د اقتصاد مینه والو ته چمتو او د هېواد په گوټ گوټ کې د لاسرسي وړ گرځي.

د اقتصاد د علم مینه والو او په ځانگړي ډول د اقتصاد پوهنځیو محصلینو ته د دغه ډول کتابونو چمتوکول یوه ستره اړتیا وه، چې تر دې دمه دغه تشه د پوهنتونونو او لوړو زده‌کړو په برخه کې تر سترگو کېږي. سربېره پردې د هېواد په کچه د نوي واحد کریکولم رامنځته کېدنه او پلي کېدل دا ایجابوي چې په هېواد کې له کریکولم سره سم د مطالعې لپاره درسي کتابونه چمتو او محصلینو او استادانو ته په واک کې ورکړل شي. ښاغلي حساس د نوموړې ستونزې په پام کې نیولو سره په دې لاره کې یو د قدر وړ گام پورته کړ او دا دی د اقتصاد د علم اساساتو په نوم کتاب یې له ایراني فارسي څخه پښتو ژبې ته په پوره امانتدارۍ او روانه ژبه ژباړلی دی.

که څه هم له ښاغلي حساس سره مې د کتاب د ژباړې په جریان کې له نږدې نه خپل نظریات شریک کړي وو او هڅه دا وه، چې د اقتصاد د علم اساساتو دغه کتاب له ژباړې سره سره د هېواد د شرایطو او تغییراتو په پامنیوي له نورو سرچینو څخه هم ځینې موضوعات ورزیات شي او نسبتاً په لوړ حجم سره مینه والو ته وړاندې شي. خو دغه چاره له یوې خوا آسانه نه وه او له بلې خوا یې ډېر وخت ته اړتیا لرله او په پای کې ښاغلي حساس پرېکړه وکړه، چې نوموړي کتاب ته د شدیدې اړتیا په خاطر په لومړي قدم کې دغه کتاب وژباړي او وروسته دغه ژباړه له نویو زیاتونو سره او د مینه والو د وړاندیزونو په پام کې نیولو سره نور هم بډایه او معیاري شي.

د اقتصاد د علم اساساتو دغه کتاب چې یوویشت څپرکي لري، نږدې د اقتصاد ټول بنسټیز او اړین موضوعات رانغاړي او په لنډ ډول یې لوستونکو ته ور پېژني. ښاغلي حساس هڅه کړې چې کتاب په بشپړه امانتدارۍ او د لیکنې له روحیې سره سم په روانه او ساده ژبه په ښه شان او پوره دقت سره وژباړي او په یو مناسب وخت کې یې له اړتیا سره سم د اقتصاد مینه والو ته وړاندې کړي، چې زه د نوموړي دغه هڅه د ستایلو وړ او پر ځای هڅه بولم او ښاغلي حساس ته د دغه کتاب له مبارکۍ سره سره هغه ته د ژوندانه په ټولو چارو کې د لا زیاتو بریاوو هیله کوم.

پوهنیار عبدالله عادل

د ننگرهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد

## تقریظ

د اقتصاد د علم د اساساتو کتاب چې د ښاغلي شېر خان حساس له خوا له فارسي نه پښتو ته ژباړل شوی دی، ومې لوست. دغه کتاب چې د اقتصاد د علم پر عمومي موضوعاتو باندې بحث کوي او د کوچني او لوی اقتصاد د اساساتو عمده برخې رانغاړي، د اقتصاد پوهنځیو د لومړي ټولګي د محصلانو او د نورو پوهنځیو د محصلانو لپاره چې د اقتصاد د علم اساسات د یو درسي مضمون په توګه اخلي، ښه مرستندویه درسي کتاب دی.

ښاغلي حساس چې بې شمېره اقتصادي کتابونه یې پښتو ملي ژبې ته ژباړلي دي، په پښتو ژبه کې د اقتصادي کتابونو له کمښت نه چې کوم پوهاوی لري، د اقتصاد د علم د اساساتو په ژباړه کې یې ډېر ښه انتخاب کړی دی. څرنګه، چې دغه کتاب کولای شي د هغو کسانو لپاره هم ښه معلوماتي سرچینه وي، چې غواړي د اقتصاد د علم په هکله عمومي معلومات لاس ته راوړي.

د ښاغلي حساس زحمتونه د قدر وړ دي، په دې وسیله ترې مننه کوم او د دې ځوربدلي هېواد بچیانو ته د خدمت په لاره کې ورته د لا زیاتو بریالیتوبونو او کامیابیو غوښتونکی یم.

پوهنوال دوکتور حمیدالله نورعباد
د کابل پوهنتون د پالیسۍ د څېړنو د ملي مرکز رییس
کابل- د 1395 لمریز کال مرغومی د 2017 ز کال جنوري

# لومړی څپرکی

## سریزه

ډېر اقتصادي کتابونه خپل بحث په دې موضوع پیلوي، چې د اقتصاد لپاره د مشخص تعریف وړاندې کول ستونزمن دي. دغه ستونزه یوازې په اقتصاد کې نه ده، بلکې په ډېرو علومو کې د مشخص تعریف وړاندې کول آسان کار نه دی. پر دې اساس، د اقتصاد لپاره ډېر تعریفونه وړاندې شوي دي. که څه هم د اقتصاد د یو دقیق او جامع تعریف پر سر توافق ستونزمن کار دی، خو مونږ هڅه کوو، ترڅو په لاندې ډول د اقتصاد د علم څو تعریفونه وړاندې کړو.

لومړني تعریفونه ډېری د شتمنۍ پر بناء وړاندې شوي دي. آدم سمېت په خپل مشهور اقتصادي کتاب باندې «د ملتونو د ثروت د څرنګوالي او دلایلو د څېړنې» نوم کېښود، او جان ستورات مېل اقتصاد «د ثروت د تولید او وېش علم» په توګه پېژني. آدم سمېت د تولید د زیاتوالي د څرنګوالي مسئله، چې په اوس وخت کې هم د اقتصادي سیاست له مهمو اهدافو څخه ده، تر څېړنې لاندې نیسي. جان ستورات مېل پر دغې مسئلې لږ پراخه کته کوي او دواړه موضوع ګانې، تولید او توزیع په پام کې نیسي. په اوس وخت کې د اقتصاد د څېړنې لویه برخه له تبادلې بحث کوي او دیونپارټ[1] اقتصاد د داسې علم په توګه پېژني کوم چې اقتصادي پدیدې د قیمت له پلوه څېړي. پیګو[2] اقتصاد د رفاه له اړخه تعریفوي او وایي: اقتصاد د تولید د زیاتوالي د څرنګوالي او د خلکو د ژوند د معیار لوړولو د څېړنې وسیله ده. اوس د اقتصاد علم د کمښت او انتخاب پر بنسټ ولاړ دی او اقتصادپوهان د دغه چوکاټ پر اساس د اقتصاد خپل خپل تعریفونه وړاندې کوي. خو د دغو تعریفونو له وړاندې کولو مخکې باید د «کمیابۍ او انتخاب» دوه اصطلاحګانې دروپېژنو:

---

[1] - H. J. Devenport
[2]- A. C. Pigou

**کمیابي:**

د اقتصاد له نظره هر هغه څه چې د هغه عرضه لږه وي، «کمیابه» بلل کېږي. دا چې د بشر غوښتنې نامحدودې دي او د تولید موجوده عوامل د دغو اړتیاوو د رفع کولو لپاره کافي نه دي، نو پر دې اساس اقتصادپوهان د انساني غوښتنو په اړوند تولیدي منابع او اجناس کمیابه بولي.

اوس فکر کېږي چې مونږ په داسې یو عصر کې ژوند کوو، چې هر څه پرېمانه دي او ډېر کالي تولید او مصرفوو. دا د کمیابۍ له نظریې سره په ارتباط څه کې څه معنا ورکوي؟ که څه هم په دې وروستۍ پېړۍ کې د ډېرو اجناسو تولید زیاتوالی موندلی، خو بیا هم اجناس نظر د انسانانو غوښتنو ته کم دي. ښه دا چې انساني غوښتنې نامحدودې دي، نو داسې معلومات نشته چې په راتلونکي کې به هم دغه د کمښت ستونزه حل شي او که نه.

**د کمیابه کالیو وېش:**

دا چې د انسانانو غوښتنې نامحدودې او د دغو غوښتنو د رفع کولو لپاره منابع معدودې دي، نو باید داسې یوه لاره د دغو کالیو د وېش لپاره پیدا کړو کوم چې دغه کالي په مناسبه توگه د دوی ترمنځ و وېشل شي، چې دغه د کمیابه کالیو د وېشلو مسئله په اقتصاد کې زمونږ د بحث موضوع جوړوي.

په حقیقت کې اقتصاد د داسې علم په توگه پېژنو کوم چې «د انسانانو فعالیتونه د هغوی د غوښتنو او کمیابه منابعو په اړوند مطالعه کوي». په اقتصاد کې د بحث مسئله، د منابعو صرفه جویي (پاسره) او د هغوی وېش د هغو منابعو ترمنځ چې د دغو منابعو د لاس ته راوړلو لپاره پرې له یو بل سره رقابت کوي. د دغه تعریف ښه والی دا دی چې ټول اقتصادي فعالیتونه پکې رانغښتي دي.

**انتخاب:**

که کالي د انساني غوښتنو په پرتله کمیابه دي، که چېرته انسانان ډېرې ناتکمیله غوښتنې لري او اقتصادي منابع یوازې د دغو غوښتنو یوې برخې ته کفایت کوي (ځکه چې د ټولو اړتیاوو رفع کول ممکن نه دي)، نو باید له ټولو کالیو څخه هغه یوه برخه وټاکي. که چېرته مونږ یو ډول کالي مصرفوو نو باید د نورو کالیو  له مصرفولو څخه ډډه وکړو. که چېرته د انسانانو دغه چارې معقولې وي، نو واضح ده، چې په لومړي وار به هر څوک د خپلو لومړنیو او مهمو اړتیاوو د رفع کولو هڅه

وکړي. یعنې هغه کالي به انتخاب کړي چې هغو ته ډېره اړتیا لري او د هغو کالیو له مصرفولو څخه به ډډه وکړي کوم چې د دوی لپاره لږ اهمیت لري.

که لږ فکر وکړو نو واضح به شي، چې د انتخاب مسئله په اقتصاد کې څومره اهمیت لري. په پانګوالو اقتصادونو کې مصرف کوونکي په آزاد ډول کولای شي، چې د اړتیا وړ کالي وپېري. د هغو کالیو مقدار او شمېر چې پېري یې دا د هغو پیسو د مقدار په واسطه محدودېږي کوم چې له دوی سره موجودې دي. د مصرف کوونکو د ښې تقاضا سرعت د بېلابېلو کالیو لپاره، د هغو کالیو د مقدار تاکوونکې ده، چې تولیدوونکي یې تولیدوي. که چېرته ځانګړو کالیو ته د مصرف کوونکو تقاضا زیاته شي، تولید به یې زیات شي او د نوموړي تولید لپاره به ښه صنعت کرنیزې او نورې اړینې منابع لاس ته راوړي. په هغو صنایعو کې چې محصول ته یې تقاضا کمه ده. په داسې صنایعو کې چې کومې منابع په کار وړل کېږي کمې به وي. نو د مصرف کوونکو تقاضا ده چې د بېلابېلو صنایعو ترمنځ کمیابه منابع سره وېشي.

په پلان شویو اقتصادونو کې، دولت تصمیم نیسي چې کوم کالي او په کومې اندازې سره تولید شي. په دغو اقتصادونو کې له مشتري څخه د هغه د انتخاب د حق یوه برخه اخیستل کېږي. که چېرته اقتصاد کاملاً پلان شوی وي، نو دولت د مصرف کوونکي پر ځای د کالیو د انتخاب په هکله تصمیم نیسي. دولت دا ټاکي چې کوم کالي او په کومه اندازه تولید او څه ډول اقتصادي منابع او د تولید عوامل د بېلابېلو صنایعو ترمنځ توزیع شي. سربېره پر دې، ممکنه ده، دولت تصمیم ونیسي چې هر مصرف کوونکی څومره کالي مصرفولای شي او ډېری وخت په دغو اقتصادونو کې د کمیابه کالیو د توزیع لپاره له یو ډول جیره بندۍ څخه کار واخیستل شي. همدارنګه په آزادو اقتصادونو کې هم په غیر عادي شرایطو لکه د جګړې پر مهال د کمیابه کالیو د عادلانه وېش لپاره له جیره بندۍ څخه استفاده کېږي.

## فرصتي مصرف[3]:

د یوه کالي واقعي مصرف څه ته وایي؟ ومو لیدل چې افراد نه شي کولای خپلې ټولې غوښتنې پوره کړي، باید د کالیو له ډلې نه یو څه انتخاب کړي. د یوې غوښتنې پوره کول له هغې بلې غوښتنې څخه تېرېدل دي. پر دې اساس، د یوې غوښتنې واقعي مصرف، هغه کالي دي چې د لومړنیو کالیو د مصرف په صورت کې، نه شو کولای هغه مصرف کړو. د مثال په توګه که چېرته یو

[3] - Opportunity Cost

کس 500 پولي واحده ولري او کولای شي چې په هغه باندې یو قوطی سگرټ یا څلور قوطیه شیدې د خپلې کورنۍ لپاره وپېري. که چېرته له دغو دواړو څخه یې سگرټ انتخاب کړل، نو د سگرټ د خرید واقعي مصرف، د هغه د کور لپاره د څلور قوطیه شیدو له لاسه ورکول دي. که چېرته یو محصل د ماسپښین له 2 نه تر 4 بجو پورې کولای شي د اقتصاد علم اساساتو په صنف کې گډون وکړي یا د فوټبال د مسابقې لیدو ته ورشي، نو په داسې صنف کې د کېناستلو واقعي مصرف د نورو کالیو پرېښودل دي، چې د لومړیو کالیو د مصرف په صورت کې نه شي کولای هغه مصرف کړي. دغه مصرف ته په اقتصاد کې «فرصتي مصرف» یا له لاسه تللی مصرف وایي.

## د غوره‌والي (رجحاناتو) درجه بندي:

په اقتصاد کې داسې په پام کې نیول کېږي، کله چې یو کس په یو وضعیت کې واقع کېږي، په منطقي توگه عمل کوي. پر دې اساس، که داسې وي چې له دوه کالیو څخه یو انتخاب کړي، نو تل به په دې تکل کې وي چې داسې کالی انتخاب کړي چې هغه ته ډېر رضایت ورکړي. دا په دې معنا ده چې مصرف کوونکي د غوره والي د درجه بندۍ لپاره یو معیار لري، او داسې فهرست لري چې په هغه کې ناتکمیله اړتیاوې د غوره والي پر بنسټ تقسیم بندي شوې دي. د دغه فهرست په سر کې د هغوی شدیدې اړتیاوې ځای لري او په لومړي سر کې هغوی د دغو اړتیاوو د رفع کولو هڅه کوي. که داسې وي چې په دغه فهرست کې له دغو غوښتنو څخه یوازې دوهمه او پنځمه پوره کېدای شي، هغوی د پوره کېدو لپاره دوهمه اړتیا انتخابوي. زمونږ د اقتصادي نظریې له آنده، د دغې فرضیې لپاره باوري یو چې افراد په منطقي ډول چلن کوي. پر دې اساس، داسې یې فرض کوو، چې هغوی خپلې اړتیاوې د رفع کېدو د لومړیتوب او غوره والي پر اساس طبقه بندي کوي.

ډېری کسان هیله لري، ترڅو د اقتصاد علم د هغوی ورځني جاري اقتصادي مسائل حل کړي او کله چې د دغه علم له محدودیتونو سر مخامخ شي، ناهیلي کېږي. اقتصادپوهان نه شي کولای د هغوی د ټولو ورځنیو مسائلو لپاره د حل وروستۍ لاره وړاندې کړي، خو کولای شي د یو ځانگړي سیاست اقتصادي گټورتیاوې او نیمگړتیاوې په گوته کړي. د ورځنیو مسائلو حل د عملي اقتصاد کار دی، مخکې له دې چې د اقتصاد د علم دغه ځانگه وڅېړل شي، باید په اقتصادي نظریې باندې پوه شو.

## اقتصادي نظریه:

کولای شو اقتصاد په درې برخو و وېشو:

1- **توصيفي اقتصاد**: لکه څنګه چې له نوم څخه يې څرګندېږي، د اقتصادي سازمانونو کړنې ستايي.

2- اقتصادي نظريه يا اقتصادي اصول.

3- عملي اقتصاد- چې په هغه کې له نظريې څخه د اقتصادي مسائلو په څېړلو کې مرسته غوښتل کېږي.

اقتصادي نظريه په هغو اصولو کې شامله ده چې په منطقي ډول جوړ شوي دي. د تحليلونو لپاره د هغو وسايلو نظريه ده او ممکن ده چې عملي نتايج منځته رانه وړي. د کار حاصل ته په نه پاملرنې سره، نظريې پر مخ ځي او نتيجه اخيستنې ته تر رسېدو پورې په منطقي ډول دوام پيدا کوي. د علومو د نورو برخو په څېر، په دغه علم کې هم څېړونکي، خپلې څېړنې ته د بشري پوهې د لوړولو په موخه پراختيا ورکوي.

تر هغه ځايه پورې چې په اقتصادي نظريه کې د فرضياتو کارونه ډېره اړينه ده، ځيني وخت نظريه له واقعيت سر ډېره لږه رابطه پيدا کوي. د مثال په توګه، داسې فرضوو چې بشري افراد له اقتصادي پلوه منطقي چلند کوي.

که چېرته شخص منطقي وي او يو شان کالي په دوه پلورنځيو کې په دوه بېلابېلو قېمتونو پلورل کېږي، نومصرف کوونکی به کالي له هغه پلورنځي څخه پېري کوم يو چې يې ورته په ټيټ قېمت عرضه کوي، خو ډېر خلک د خپلو عاداتو تابع وي او په دې حالت کې شونې ده چې يو مصرفوونکی د دې لپاره چې تل له يوه ځانګړي پلورنځي څخه خريداري کوي او کالي له هغه پلورنځي څخه پېري، کوم يو چې يې ورته په لوړ قېمت ورکوي. په دې حالت کې نه شو کولای چې اقتصاد د هغه د غير واقعي فرضياتو په لرلو سره له واقعيت نه د لرې علم په توګه محکوم کړو. ځکه د دغو فرضياتو له شتون پرته، به مونږ د فرضياتو په جوړولو قادر نه يو او په دې صورت کې به د اقتصادي مسائلو علمي څېړنه ممکنه نه شي.

### آيا اقتصاد علم دی؟

غالباً وايو چې اقتصاد د ټولنيزو علومو څانګه ده. آيا کولای شو اقتصاد د يو علم په توګه وپېژنو؟ فزيک، کېميا، بوټاني او نور د علم په توګه پېژنو، آيا کولای شو اقتصاد هم د علم يوه څانګه وګڼو؟

علم د ځانګړو حقایقو مشاهدې، د اړوندو اطلاعاتو ټاکنې، طبقه بندي او د دغو دواړو تعمیم ورکولو ته وایي. پوهانو داسې قوانین وړاندې کړې دي، چې په ځانګړو شرایطو کې تل صدق وکړي او له هغو څخه کولای شو د اوسني وضعیت د تحلیل لپاره کار واخلو.

د علم پورتني تعریف ته په کتو، اقتصاد هم د علم یوه برخه کېدای شي، ځکه چې په دغه علم کې مونږ حقایق مشاهده، اړوند اطلاعات انتخاب، طبقه بندي او د تعمیم لپاره له هغه څخه استفاده کوو. د نورو علومو په څېر مونږ خاصې فرضیې وړاندې کوو (که څه هم د نورو علومو په پرتله زمونږ فرضیات له واقعیت څخه ډېره فاصله لري)، او د یوې فرضیې په مرسته منطقي قیاس ترسره کوو.

په اقتصاد کې زمونږ تر ټولو مهمه فرضیه د فرض کولو (د نورو عواملو ثابت پاتې کېدل) دي. په اقتصادي نظریه کې رایجه طریقه د قیاسي استدلال طریقه ده.[4] دغه نظریې په منطقي استدلال سره لاس ته راوړو. له دغه استدلال څخه په ګټې اخیستنې، اقتصادي قوانین جوړوو، هغه د دې ښکارندوی دي، چې په هغه صورت کې چې خاص شرایط وجود ولري، څه به پېښ شي. نو بیا په خپلو تحلیلونو کې له الجبري او هندسي طریقو څخه د متحولینو د روابطو ترمنځ د څېړلو لپاره کار اخلو.

کومه مسئله چې لرو هغه دا ده، چې په ډېرو علومو کې راټول شوي معلومات ډېر دقیق وي لکه په کېمیا کې څېړونکي د خپلو څېړنو په ترسره کولو سره معلومات لاس ته راوړي. مونږ په اقتصاد کې د بشري افرادو رویې ته په کتو معلومات راټولوو. پر دې اساس، په اقتصاد کې هم د څېړنې دغه طریقه علمي ده او د دغې طریقې او په نورو علومو کې د څېړلو له طریقو سره هېڅ بنسټیز توپیر نشته.[5]

## اقتصادي منابع:

لکه څنګه چې مو ولیدل د اقتصاد علم په دوه اساسي مسائلو بناء شوی دی:

لومړنۍ مسئله دا ده، چې د ټولنې مادي غوښتنې او اړتیاوې (چې افرادو او بنسټونو ته شاملې دي) نامحدودې او په پوره ډول رفع کېدونکې نه دي. زمونږ موخه له انساني اړتیاوو څخه

[4]- deductive
[5] - J. L. Hansen, A Textbook of Economics, PP . 3 – 17.

هغو کالیو او خدماتو ته د مصرف کوونکي تمایل دی، چې هغه ته ډېر رضایت وربخښي. دغه تمایل په هېڅ صورت کې ممکن نه دی چې په کامله توګه رفع شي.

دوهمه مسئله دا ده، چې اقتصادي منابع د ټولنې په لاس کې محدودې یا کمیابه دي. زمونږ موخه له اقتصادي منابعو څخه هغه پدیدې دي، چې له هغې څخه په ګټې اخیستنې سره کولای شو کالي او خدمات تولید کړو.

اوس پورتنیو دوه مسئلو ته په کتو، کولای شو د اقتصاد علم تعریف کړو. اقتصاد د ټولنیزو علومو برخه ده چې د ټولنې د زیاتو مادي او معنوي اړتیاوو او د هغوی د رفع کولو لپاره د محدودو منابعو له مسئلې سره سروکار لري. یا په بله وینا، زمونږ مسئله د اقتصاد په علم کې د محدودو منابعو سمه او مؤثره کارونه ده[6].

**الف. اقتصادي منابع**: د ټولنې په لاس کې اقتصادي منابع په څلورو برخو وېشل کېږي: طبیعي منابع، بشري منابع (کاري ځواک)، پانګه او ټکنالوژي یا فني پوهه.

د امتعې تولید چې د ټولنې اړتیاوې رفع کوي، نهایتاً له څلورو پورتنیو منابعو څخه په ګټې اخیستنې ممکن ګرځي.

الف. طبیعي منابع: دغه منابع په تولید کې په ټولو پکار وړل شویو پدیدو پورې شاملې دي کوم چې طبیعت مونږ ته په واک کې راکړي دي. د دغو منابعو اندازه ثابته او د بشر په کنترول کې نه ده.

**ب. انساني منابع**: انساني منابع له نفوس یا وګړو څخه جوړېږي. خو د نفوس شمېر او د هغوی ترکیب د انساني ځواک اندازه نه ټاکي. د انساني ځواک له لیدلوري د نفوس جوړښت ډېر زیات اهمیت لري د مثال په توګه، که چېرته په دوه ټولنو کې د نفوس اندازه یو برابر وي، خو په لومړنۍ ټولنه کې د ماشومانو او له 60 کالو څخه د زیات عمر کسانو فیصدي زیاته وي، په دې صورت کې به په دوهمه ټولنه کې کاري ځواک له لومړنۍ څخه زیات وي. نو زمونږ د پام وړ کاري ځواک فعال نفوس، له 16 نه نیولې تر 60 کالو پورې کسان دي. دوهم، د کاري ځواک له پلوه، د نفوس د خوراک او روغتیا وضعیت هم د ډېر اهمیت وړ دی. که چېرته د ټولنې وګړي په خوار ځواکۍ (سوء تغذي) او بېلابېلو ناروغیو اخته وي، نو په هغې ټولنه کې به د کار کولو قدرت په کراتو کراتو له بلې ټولنې څخه لږ وي، په کوم کې چې نفوس یې له خوار ځواکۍ او ناروغیو څخه نه ځورېږي. له بلې

---

[6] - C. R. Mc Connell, Economics, Mc Graw Hill, 1978. Ch. 1.

خوا، د افرادو د عمر اوسط هم د اهمیت وړ دی. په کومه ټولنه کې چې د افرادو متوسط عمر يې 25 کاله دی، نو د دغې ټولنې افراد نږدې 15 کاله د کار له اجراء پرته له اقتصادي منابعو څخه استفاده کوي او د خپل عمر يوازې لس کاله د کار په ترسره کولو تېروي. په دغې ټولنه کې د کار مؤثريت نظر هغې ټولنې ته چې هلته د افرادو متوسط عمر 60 کاله دی، په کراتو ټيټ وي.

د ټولنې په واک کې د منابعو اندازه کولای شي په بېلابېلو طريقو زياتوالی ومومي. څرګند مثال يې د نويو زېږېدلو ماشومانو د شمېر يا د زېږون د نرخ زياتوالی دی. پرته له دې د ټولنې د خوراک او روغتيا وضعيت ښه والی د ټولنې د انساني ځواک مؤثريت زياتوي. له دې ور اخوا، د انساني ځواک د مؤلديت او زده کړې ترمنځ ډېرې نژدې اړيکې وجود لري. پر دې اساس، له اقتصادي منابعو څخه د افرادو په ژوند کې استفاده هم د انساني ځواک مؤثريت زياتوي.

**ج. پانګه:** د يوې ټولنې پانګه په هر وخت کې د ماشين آلاتو، ابزارو او وسايلو، ودانيو، سړکونو او د هغې ټولنې د حمل و نقل د وسايلو موجودي ده. پانګه د مؤلدو ځواکونو په واسطه د طبيعي او انساني ځواکونو د مؤثريت يا د ارزښت د زياتوالي لپاره د کاليو او مصرفي خدماتو د استفادې په ترڅ کې رامنځ ته کېږي. هغه فعاليت چې د پانګې د ايجاد يا د پانګې د زياتوالي لپاره ترسره کېږي د پانګونې په نامه يادېږي. د دغې اقتصادي منبع ځانګړنه دا ده چې له دې څخه استفاده د دغې منبع د له منځه تلو باعث کېږي او له دې پرته، د وخت په تېرېدو سره خپل مؤلد ځواک له لاسه ورکوي. د پانګې د ارزښت کلني کمښت ته استهلاک وايو. نو د دې لپاره چې د ټولنې د پانګې موجودي راکمه نه شي، نو اړينه ده د توليدي منابعو يوه برخه د پانګې يا پانګه ييزو توکو په توليد ولګول شي. لکه څنګه چې مخکې مو ورته شاره وکړه، د دغو منابعو د کارونې حاصل ته پانګه اچونه وايو، نو دغه پانګه اچونه نا خالصه ده. نا خالصه پانګه اچونه په دوه برخو وېشل کېږي: تعويضي پانګه اچونه او خالصه پانګه اچونه.

تعويضي پانګه اچونه د پانګې اچونې هغه برخه ده چې د پانګې موجودي له لاسه تللی ارزښت جبرانوي، او خالصه پانګه اچونه د پانګونې هغه ډول دی چې د اقتصاد توليدي قدرت زياتوي.

خالصه پانګه اچونه په خپل وار سره په دوه برخو وېشل شوې ده. يعنې د پانګې موجودي، په دوه طريقو زياتولای شو. يوه يې د پانګه ييزو توکو په زياتولو سره او بله يې د پانګه ييزو کاليو د کارائي په زياتولو سره.

**د - فني زده کړه يا ټکنالوژي:** ټکنالوژي يا فني زده کړه د پانګې د حاصل يو ډول دی او هغو اطلاعاتو ته ويل کېږي کوم چې د پخوانيو کسانو له تجربو څخه ټولنې ته راپاتې وي. که څه هم د ټولنې افراد بايد دغه پوهه ترلاسه کړي، خو د هغه مجدد توليد ته اړتيا نه پېښېږي. د هغه د زده کړې وخت په کراتو کراتو د هغه د پر مخ بيولو او راسپړلو له وخت نه چټک دی او موجودي يې هم په کارولو او ګټه اخيستلو سره نه کمېږي. د فني پوهې توليد د څېړنو د ترسره کولو له لارې ممکن ګرځي. د اقتصادي منابعو په هکله به په وروستيو څپرکو کې، ډېرې خبرې وکړو.

## اقتصادي واحد:

هغه افراد چې په يوه ټولنه کې په اقتصادي چارو لاس پورې کوي په دوه برخو وېشل کېږي. مصرفوونکي واحدونه چې په ټولنه کې د توليد شويو کاليو او خدماتو د مصرفوونکو په توګه پېژندل کېږي او توليدي واحدونه، او دا هغو افرادو ته ويل کېږي کوم چې د کاليو او خدماتو په توليد لاس پورې کوي. واضح ده چې ډېری اقتصادي واحدونه هم مصرفوونکي او هم توليدونکي يا د هغوی يوه برخه وي، چې په اصطلاح کې مصرفوونکي اقتصادي واحدونه د کورنيو په نوم يادوو او توليدونکي واحدونه چې شرکتونه، کارخانې او توليدي موسسات دي، د اقتصادي تصدی په نامه يادوو.

## کوچنی او لوی اقتصاد:

کوچنی اقتصاد د اقتصاد د علم هغه څانګه ده، چې د اقتصادي واحدونو رويه په انفرادي ډول په اقتصادي سيستم کې څېړي. په لوی اقتصاد کې مونږ د يوې ډلې رفتار يا د اقتصادي واحدونو مجموعي کړنې په اقتصادي سيستم کې څېړو. د مثال په ډول، کله چې د کوچني اقتصاد په محدوده کې د توليد په هکله خبرې کوو، نو زمونږ مطلب د يوې اقتصادي تصدی توليد دی. په داسې حال کې چې د لوی اقتصاد په محدوده کې زمونږ مطلب د هغو کاليو او خدماتو له توليد څخه دی، چې په هېواد کې د ټولو اقتصادي موسسو له خوا توليد شوی وي.

په دې کتاب کې، مونږ لومړی کلي مسائل او بيا د کوچني اقتصاد مسائل تجزيه او تحليل او هغه وخت بيا د لوی اقتصاد د مسائلو په څېړلو بحث کوو([7]).

---

[7]- S. C. Sturmey, D.W. Pearce, Economic Analysis, MC Graw Hill, 1966, ch, 2.

## دوهم څپرکی

### تولید او د تولید هدف

د تولید هدف د خلکو د اړتیاوو رفع کول دي. هغه وخت کې چې کورنۍ دې ته اړ شوې وه، ترڅو خپلې اړتیاوې او غوښتنې په خپلو هڅو سره رفع کړي، نو د غوښتنو اندازې او شدت، د افرادو د یوې ډلې فعالیتونه ټاکل. د بشر تر ټولو لومړنۍ او عمده اړتیا خوراکي توکي، پوښاک او سر پناه وه او په پخواني دور کې د دغې اړتیا حداقل اندازې رفع کولو د افرادو ټول وخت او انرژي ځان ته ځانګړې کړې وه. د تمدن په پراختیا سره، د خلکو اړتیاوې او غوښتنې زیاتې شوې او د خلکو افراد نور نو د خپلو اړتیاوو رفع کولو ته په مستقیم ډول اړ نه دي. له پیسو څخه ګټه اخیستنه د اړتیا وړ کالیو پېرودنه ممکن ګرځوي.

په اوسنیو اقتصادي شرایطو کې، د کالیو بېلابېل ډولونه تولید او هره ورځ نوي کالي بازار ته عرضه کېږي. کوم افراد چې د کالیو په تولید بوخت دي، هم د خپلو اړتیاوو او هم د نورو کسانو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره کوښښ کوي. دغه ډله هم تولیدوونکي او هم د کالیو مصرفوونکې ده.

**د تولید مفهوم:**

د اقتصاد له نظره تولید د کالیو جوړولو یا د خدماتو د وړاندې کولو په مفهوم پېژندل کېږي. د ډاکټرانو، ښوونکو، خیاطګرو او نورو کسانو خدمات هم له اقتصادي پلوه د خدماتو وړاندې کول، کالي شمېرل کېږي. ځکه د ټولو یادو شویو افرادو هدف د نورو خلکو د افرادو د اړتیاوو رفع کول دي. له دې ور اخوا، هغه کسان چې د توزیع په شبکه کې بوخت دي لکه عمده پلورونکي، پرچون پلورونکي او هغه واحدونه چې د کالیو په حمل و نقل یا د مسافرو په بیولو رابیولو بوخت دي، هغوی هم د تولید د شبکې یوه برخه شمېرل کېږي. ځکه د کالیو تولید تر هغه وخته پورې نه تکمیلېږي، ترڅو کالي د مصرف کوونکي لاس ته ونه لوېږي. لکه چې په راتلونې کې به یې وګورو، په هغه صورت کې چې د خلکو افراد د یوه کار په ترسره کولو کې تخصص پیدا کړي، تولید زیاتوالی مومي، خو دغه مسئله په خپل ذات کې د کالیو تبادله ضروري کوي او سربېره پر دې، د حمل و نقل اضافي مصرف ایجادوي. پر دې اساس، تولید د یوې پدیدې یا جغرافیوي موقعیت د شکل د تغییر یا د یو خدمت د وړاندې کولو په معنا دی.

## د تولید اندازه او اقتصادي رفاه:

د تولید هدف د بشري افرادو د اړتیاوو او غوښتنو رفع کول او په پای کې د هغوی د اقتصادي رفاه زیاتوالی دی. په اقتصاد کې داسې فرضوو چې د هر څومره زیاتو اړتیاوو او غوښتنو رفع کول د اقتصادي رفاه د زیاتوالي سبب ګرځي. پر دې اساس، اقتصادي رفاه په لومړي سر کې د تولید په اندازې پورې تړلې ده او د تولید زیاتوالی په عام شکل د خلکو د ژوند د معیار په لوړولو سره، د هغوی اقتصادي رفاه زیاتوي. په دې توګه د تولید د اندازې زیاتوالی د اقتصادي سیاستونو له مهمو اهدافو څخه دی. که څه هم د تولید د اندازې زیاتوالی د اقتصادي رفاه د زیاتوالي لپاره لازم شرط دی، خو کافي نه دی، ځکه امکان لري چې اضافي تولید یوازې د ټولنې د ځینو افرادو ترمنځ و وېشل شي، نو په دوهم پړاو کې د اقتصادي رفاه د زیاتوالي لپاره لازم شرط د انساني افرادو ترمنځ د تولید شویو کالیو عادلانه او مناسب وېش  دی. نو د دغه کافي شرط پر بناء، هر څومره چې د کالیو او خدماتو وېش د افرادو ترمنځ په عادلانه ډول ترسره شي، د ټولنې اقتصادي رفاه به زیاته شي.

## ثروت:

د تولید هدف، د کالیو جوړول او د خدماتو وړاندې کوي دي. ځینې کالي بادوامه وي د مثال په توګه، کارخانه یا د کور ودانۍ، ځینې شیان خلک د فوري مصرف لپاره غواړي لکه خوراکي توکي او بله برخه یې هغه کالي دي، چې د دغو دوه پورتنیو ډولونو ترمنځ راځي لکه راډیو، او ځینې نور د خدماتو په ډله کې طبقه بندي کېږي، لکه د ډاکټرانو، حسابدارانو، ښوونکو په مرسته د خدماتو ترسره کېدل. په یوه زماني نقطه کې، په یوه ټولنه کې د کالیو او خدماتو ټاکلي ډولونه موجود دي. د کالیو دغه موجودي په یوه زماني نقطه کې د ټولنې د ثروت په نامه یادېږي.

د اقتصاد له نظره، ثروت په یوه زماني نقطه کې د کالیو او خدماتوموجودي ته ویل کېږي، په هغه شرط چې دغه کالي او خدمات د څلورو ځانګړنو لرونکي وي:

1- مطلوبیت وړاندې کړي، یعنې د خلکو د اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو توان ولري.

2- پولي ارزښت ولري.
3- عرضه یې محدوه وي.
4- د چا په ملکیت کې وي.

## د ثروت مالکیت:

کولای شو چې د ثروت درې ډوله مالکیت له یو بل څخه تفکیک کړو:

1- **شخصي ثروت:** شخصي ثروت هغو پدیدو ته شاملېږي، چې د یو چا په تملک کې وي. لکه کالي، ساعت، قیمتي فلزات، کتاب، کمپیوټر، ګاډی، د کور سامان او د کور ودانۍ. دغه وسایل د خپل مالک اړتیاوې رفع کوي، ځکه چې له دې پرته به نه پېرودل کېدلې، ټول یې پولي ارزښت لري، د هغوی عرضه محدوده ده او ملکیت یې له یو فرد نه بل فرد ته د انتقال وړ دی.

2- **د موسساتو ثروت:** د موسساتو ملکیت دی او هغو پدیدو ته شامل دی چې د یوې موسسې د کارونو د ترسره کولو لپاره ترې کار اخیستل کېږي لکه د کار خانې ودانۍ، ماشین آلات، خام مواد او نور. دغه کالي هم د څلورو ځانګړنو لرونکي دي. یوازې باید دغې مسئلې ته پام وشي ترڅو دغه کالي په مستقیم ډول یوه غوښتنه او اړتیا نه رفع کوي (لومړی ځانګړنه) او له دې پلوه پېرودل کېږي چې دوی کولای شي هغه کالي تولید کړي، ترڅو د افرادو غوښتنې پرې وپېري. د ثروت له دغه ډول څخه د تولید د عامل په توګه کار اخیستل کېږي او اقتصادپوهانو دغه ډول ثروت د ثروت له نورو ډولونو څخه بېل کړی دی او هغه ته ځمکه او پانګه وایي.

3- **ټولنیز ثروت:** ټولنیز ثروت هغو پدیدو ته شامل دی چې د ټولنې په ملکیت کې وي او په دولت او ښاروالیو پورې ټول اړوند کالي لکه ښوونځي، عمومي کتابتونونه، پارکونه، ننداړتونونه، برېښنا، د ګازو او اوبو د خدماتو د وړاندې کولو موسسات دي. په ایران کې، ټولې ملي شوې صنایع د ټولنیز ملکیت یوه برخه ده.

## د ثروت مالکیت او اقتصادي نظامونه:

د موسساتو ثروت کېدای شي د افرادو یا د دولت په ملکیت کې راشي. په لاندې شکل کې مونږ د ثروت ډولونه درښیو:



په آزاد یا پانګوال اقتصادي نظام کې ډېرى ثروت د افرادو په ملکیت کې وي او ډېره لړه فیصدي یې د ټولنیز ملکیت لرونکې وي. په پلان شوي یا سوسیالستي اقتصاد کې د ډېرو ثروتونو مالکیت د افرادو لپاره منع دی او افراد کولای شي یوازې د ځینو کالیو مالک واوسي. خو مهمه مسئله دا ده چې د موسساتو د پانګې یا د موسساتو ثروت دی، چې د ټولنې د سیاسي او اقتصادي نظام شکل ټاکي. هغوی چې د پانګوال سیاسي او اقتصادي نظام ملاتړ کوي، په دې باوري دي چې د موسساتو پانګه باید د افرادو په ملکیت کې وي، په داسې حال کې، چې هغه کسان چې د سوسیالستي یا جمعي اقتصادي نظام ملاتړ کوي، په دې باوري دي، چې د موسساتو پانګه باید د دولت په ملکیت کې وي.

## فقر، ثروت او عاید:

فقر د ثروت د کموالي یا د عاید نا کافي والي په توګه تعریفولی شو. پر دې اساس، هغه افراد یا هېوادونه فقیر ګڼل کېږي، چې د لږ ثروت او یا هم د ناکافي عاید لرونکي وي. پر دې اساس، فقر دوه مسئلو ته اشاره کوي: د کالیو موجودي (ثروت) او عاید. له عاید څخه زمونږ مطلب د ثروت د موجودي اضافه کېدل دي. یا په بله وینا، فقر د غوښتنو او اړتیاوو د رفع کولو د قدرت کموالی دی.

## د کار وېش:

که یو کس خپله د پسانو په روزنه بوخت وي، او د خپلو پسانو وړۍ په خپله پاکوي او ګمنځوي، تارونه ترې چوړوي، په ټوکر یې بدلوي او د خپلې کورنۍ لپاره یې آماده کوي. په دې صورت کې به د کار وېش موجود نه وي. خو که یوکس پسان وساتي، بل کس دغه وړۍ پاکې او ګمنځ کړي، دریيم کس یې په تارونو بدلې کړي، څلورم یې په ټوکر بدلې کړي، پنځم کس رنګ ورکړي او شپږم کس ترې کار واخلي. نو وایو چې د کار وېش منځ ته راغلی. د کار وېش هغه پروسه ده چې په هغه کې فرد یوازې د کار یوه کوچنۍ برخه ترسره کوي او د کار په دغې کوچنۍ برخه کې تخصص پیدا کوي.

حتی په ډېرو ابتدائي ټولنو کې هم د کار وېش موجود دی، غالباً د کور نارینه، د کار، دفاع او ښکار دنده او ښځینه د کور د ادارې او د ماشومانو د ساتنې دنده په غاړه لري. کله چې کرنه دودیزه شي، د ځمکې د مخ کار ښځینه وو ته پرېښودل کېږي او نارینه یوازې د کور د دفاع دنده په غاړه اخلي. د ټولنو پراختیا او د کلیو بانډو ژوند، د کار وېش ته پراختیا ورکوي او په کلیو بانډو کې یو کس د غلو دانو د اوړه کولو دنده، بل کس آهنګرۍ دنده او بل کس د ترکاڼۍ دنده ترسره کوله.

په منځنیو پېړیو کې د ډله ییزو اتحادیو موجودیت په ټولنو کې د کار د وېش د اندازې څرګندوی دی.

د کارخانه یي صنایعو پراختیا د کار د وېش د اندازې او د پانګوالۍ د زیاتوالي لامل وګرځېد. د کار د وېش هدف د تولید د اندازې زیاتوالی دی.

آدم سمېت د کار د وېش له امله د تولید د زیاتوالي مسئلې تر سختې اغېزې لاندې راغلی او د خپل مشهور کتاب «د ملتونو د ثروت د څرنګوالي او د دلایلو بررسي».[8] لومړی څپرکی یې دغې مسئلې ته ځانګړی کړی دی. آدم سمېت په یوه تولیدي کار خانه کې د خپلې مشاهدې پر بنسټ، داسې نتیجه اخلي، چې د کار وېش د تولید مقدار ته د پام وړ زیاتوالی وربخښي.

په دې وروستیو کې د کار د وېش اغېزه د تولید د مقدار په زیاتوالي د موټرو تولید په ښه توګه څرګندونه کوي. مخکې له دې چې هنري فورډ د موټر د مونتاژ کار په 84 ساده برخو باندې و وېشي، د مونتاژ (بسته بندی) ټول کار د یو کاریګر له خوا ترسره کېده. هنري فورډ په خپله کارخانه کې د کار د وېش په مرسته چې هره برخه یې د جلا کاریګر په مرسته ترسره کېدله. د کار خانې د تولید مقدار یې درې برابره زیات کړ. د کار څه ډول وېش د تولید مقدار زیاتولی شي؟ د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره د آدم سمېت له نظریاتو څخه کار اخلو. د آدم سمېت په باور په لاندې دلایلو باندې د کار وېش د تولید د زیاتوالي لامل کېږي:

1- **د کاریګر ښه مهارت:** د کار وېش د کاریګر د مهارت د زیاتوالي لامل ګرځي، که یو کاریګر د څو کارونو ترسره کولو پر ځای په ټول وخت کې یو ساده کار ترسره کوي، د هغه کار په ترسره کولو کې ډېر مهارت پیدا کوي. د مثال په توګه، که د اقتصاد استاد چې د اقتصاد ټول مضامین تدریسوي، یوازې د لوی اقتصاد په تدریس لاس پورې کړي، د پخوا په پرتله به د لوی اقتصاد په تدریس کې د هغه د کار مهارت ډېر زیاتوالی ومومي. په دې اړه، لاندیني فارسي متل ته اشاره ډېره پر ځای ده:

«کار نیکو کردن از پر کردن»

2- **د وخت صرفه (پاسره):** غالباً کله چې یو کاریګر څو کارونه ترسره کوي، د لومړي کار درول او د دوهم کار پیلول د کاریګر ډېر وخت ضایع کوي. د یو کار ترسره کول د وخت دغه ضیاع له

[8] - The Inquiry into the Nature and Causes of the wealth of Nations.

منځه وړي، او له دې سره په خوا کې د یوه کار د ترسره کولو وخت د ځو کارونو د ترسره کولو له وخت څخه ځو برابره لږ دی.

3- **د متخصص استخدام:** د یوه کار ترسره کول د هغه کار د وړو برخو ترسره کولو ته اړتیا لري چې هره برخه یې د ځانګړي مهارت غوښتنه کوي. نو پر دې اساس، د کار وېش هر کاریګر ته د دې امکان ورکوي ترڅو د کار په هغه برخه کې چې تر ټولو زیاته وړتیا لري، تخصص تر لاسه کړي.

4- **له ماشین آلاتو څخه کار اخیستل:** آدم سمېت د کار د وېش ګټو ته په اشارې سره، له ماشین آلاتو څخه په زیاتې ګټې اخیستنې باندې ټینګار کوي. پر دې اساس، د هغه په باور، د کار د وېش تر ټولو مهمه ګټه له ماشین آلاتو څخه ګټه اخیستنه ده. د دغه کار ترسره کول د ماشین په مرسته ممکن دي.

5- **لږه ستړیا:** غالباً د دې ادعا کېږي، کله چې کاریګر د کار یوه ساده برخه وار په وار تکراروي، له فزیکي پلوه لږ ستړی کېږي. خو کله چې د کار وېش منځ ته راشي، نو لازمه ده ترڅو هر کاریګر د کار په ترسره کولو کې ځانګړی سرعت وساتي.

**د کار د وېش تاوانونه:**

که څه هم د کار وېش د تولید د مقدار د زیاتېدو لامل ګرځي، خو دغه ښېګڼه یوازې د مصارفو په منلو ترلاسه کېږي. ځینې دغه مصارف، یا د کار د وېش نیمګړتیاوې په لاندې ډول دي:

1- **په دوامداره ډول د یوه کار ترسره کېدل:** د کار وېش د دې لامل کېږي، ترڅو هر کاریګر یوازې د کار یوه کوچنۍ برخه سرته ورسوي. پر دې اساس، امکان لري چې کاریګر د کار دغه برخه د ورځې 100 ځله ترسره کړي، په دې توګه د هغه کار تکرارېدونکی ګرځي او امکان لري، چې کاریګر له رواني پلوه له ځینو ستونزو سره مخ شي.

2- **د حرفه يي مهارت کمېدل:** د کار وېش او د ماشین آلاتو کارول د دې لامل ګرځي، چې نور نو کاریګر حرفه يي کاریګر نه وي او یوازې د ماشین په څارونکي بدلېږي.

3- **د وزګارتیا د زیاتوالي خطر:** لږ و ډېر، د کار وېش د کاریګر د متخصص کېدو باعث ګرځي. هر څومره چې کاریګر متخصص شي، د وزګارتیا په حالت کې په سختۍ سره خپل ځان ته کار پیدا کولای شي.

**د کار وېش او د تبادلې اړتیا:**

کله چې کورنۍ د خپلو اړتیاوو د رفع کولو لپاره، په خپله هڅه کوي، په ځان پوره متکي ده او له اقتصادي پلوه نظر نورو کورنیو ته مستقله ده. کله چې د کار وېش رامنځ ته کېږي، کورنۍ له یو بل سره د کالیو تبادلې ته اړ وځي. پر دې اساس، تبادله د کار له وېش څخه رامنځ ته کېږي. ترکانې چې یوازې د لرګیو محصولات تولیدوي باید د تولید شویو محصولاتو یوه برخه له نورو کالیو سره، چې ورته اړتیا لري او د نورو په مرسته تولیدېږي، تبادله کړي.

کله چې کالي له کالیو سره تبادله کېږي دېته باتري تبادله Commodity Exchange وایي. چې د تبادلې لږه مؤثره طریقه ده او هغه وخت دود وه، کله چې پیسې د تبادلې د وسیلې په توګه نه کارول کېدلې[9].

هر څومره چې د کار وېش زیاتېږي، تبادله هم ورسره زیاتېږي او په پایله کې یې ډېرې خلک د خدماتو په چارو باندې بوختېږي. پر دې اساس، تر یوه حده پورې د کار د وېش له امله د تولید زیاتوالی د تبادلې په برخه کې ختنی کېږي.

**د بازار په مرسته د کار د وېش محدودیت:**

د کار د وېش لمن کالیو او خدماتو ته د تقاضا په مرسته ټاکل کېږي. د کار وېش د تولید د زیاتوالي لامل ګرځي. او دغه مسئله په خپله د کار وېش زیاتوي او په خپل وار سره د تولید د لا زیاتوالي باعث ګرځي. پر دې اساس د کار وېش د هغو محصولاتو په تولید کې چې د هغو د تولید لګښت د کار د وېش به مرسته کموالی مومي او د هغو لپاره پراخ بازار موجود دی، غالباً ډېر زور اخلي. د ځینو کالیو لپاره د کالیو د تولید د لګښت کموالي او د قېمت په نتیجه کې، تقاضا دومره نه زیاتوي. پر دې اساس په هماغه ډول چې آدم سمېت اشاره کوي، د کار وېش د تقاضا په وسیله محدودېږي. په دې توګه د ارتباطي شبکو پراختیا چې د بازار د پراختیا باعث ګرځي، د کار د وېش اندازه زیاتولی شي[10] .

9- لا تر اوسه هم د هېوادونو ترمنځ بارتر تبادله موجوده ده.

10 - J. L. Hansen, A Textbook of Economics. pp, 21-32.

## درېيم څپرکی

## د تولید عوامل

تر ټولو مهم عامل چې د یو هېواد د تولید اندازه تر اغېزې لاندې راولي، د هغه هېواد د تولیدي منابعو ځمکې، کار او پانګې کمیت او کیفیت دي، دغه منابع ځینې وخت د تولید د عواملو او ځینې وخت یې د زېرمو په نامه یادوو.

په ځمکه کې ټولې طبیعي منابع لکه کرنیزې ځمکې، کانونه او هغه اوبه شاملې دي، چې په هغو کې کب نیونه امکان ولري. پانګه هم د منابعو پراخ طیف رانغاړي لکه کار خانه، وسایل، ماشین آلات، خام مواد، نیم کاره کالي او د حمل و نقل وسایل دي، چې ټول یې د یوې ګډې ځانګړتیا لرونکي دي. دغه ځانګړنه دا ده چې دغه کالي د هغوی لپاره نه غواړو بلکې د دې لپاره یې غواړو چې د نورو کالیو په تولید کې له مونږ سره مرسته وکړي. که څه هم ځمکه د هغو ټولنو منابع رانغاړي چې طبعیت یې مونږ ته په واک کې راکوي، خو پانګه د بشري افرادو د تېرو هڅو د حاصل تجمع ده او پر دې اساس آلفرډ مارشال، پانګه د تولید عامل نه ګڼي او په دې عقیده دي، چې د تولید عوامل کار او طبعیت (ځمکه) دي. له کار څخه زمونږ هدف، د امتعې د تولید لپاره بشري هڅې دي.

حتی د کالیو د تولید په ابتدائي شکلونو کې دغو درې عواملو ته اړتیا موجوده ده. حتي د تیرو د توږلو په دور کې ساده وسایل جوړول چې له هغوی سره په کار کې مرسته وکړي. ځینې مېوې دانې په وحشي ډول زرغونېږي، خو د ټولو لپاره یې کاري ځواک او د حمل و نقل لپاره یې پانګې ته اړتیا لرو.

د کرنې او استخراجي صنعت په برخه کې که څه هم ځمکه د تولید تر ټولو مهم عامل دی خو تراوسه پورې هم له پانګې او کاري ځواک پرته تولید ناممکن دی.

### کاروباري مهارت:

د نولسمې پېړۍ تر لومړیو پورې اقتصادپوهانو عقیده لرله، چې د تولید عوامل ځمکه، کار او پانګه دي. آلفرډ مارشال اداره هم د تولید د یو عامل په توګه وپېژني او له هغه وروسته، کاروباري مهارت هم د تولید د یوه عامل په توګه وپېژندل شو. د تولید د دغه عامل دندې په لاندې ډول دي:

1- **له عدم اطمینان سره مقابله:** تولید له یو لړ خطراتو سره مخ دی، له دغو خطراتو څخه ځینې لکه اور لګېدنه، په نقل او انتقالاتو کې د کالیو له منځه تلل او نور کولای شو چې د بیمې له

شرکتونو سره بیمه کړو. په دغو حالاتو کې تولیدي واحدونه ددغو خطراتو د منلو مسئولیت د بیمې د شرکتونو په غاړه ور اچوي. دوهم ډول هغه خطرات دی چې د بیمې وړ نه دی او د بیمې شرکتونه د دې لپاره چې د شمېرو د نه لرلو په دلیل ددغو پېښو د واقع کېدو د احتمال په محاسبه کولو قادر نه دی، تولیدي واحدونه ددغو پېښو په مقابل کې نه بیمه کوي. د خطراتو دغه ډولونه د «عدم اطمینان» په نامه یادېږي. په هغو حالاتو کې چې تولیدي واحد د «عدم اطمینان» له وضعیت سره مخ وي د ښه سیاست غوره کول او له هغه سره مقابله د متصدي له تر ټولو مهمو دندو څخه ده.

2- **د دغو حالاتو کنترول**: د کلي تضميناتو د ترلاسه کولو مسئولیت د تولیدي واحدونو په رابطه له مدیر سره دی. هغه باید لاس لاندې کسانو ته د واک پر وېش قادر وي، او وشي کولای په تولیدي واحدکې تر ټولو وړ افراد د کار لپاره وګوماري. پر دې سربېره، تولیدي واحد باید د کار کوونکو افرادو په کنترولولو باندې قادر وي.

3- **د متصدي نورې دندې:** د تولید د اندازې، د تولید د روش، د تولید له عواملو څخه د کار اخیستنې د پرېکړې تصمیم هم باید د مدیر په مرسته ونیول شي.

**ځمکه:**

پخوا به اقتصادپوهانو د تولید عوامل په ډلو باندې وېشل، په دقیقه او طبقه بندي شوي توګه به یې تعریفول او عوامل به یې یو له بل نه تفکیک کول. ریکارډو او د هغه پلویان پر دې باور وو، چې په لاندې دلایلو ځمکه د تولید له نورو عواملو سره تفکیک کېږي:

1- دوی باور درلود چې ځمکه الهي تحفه ده او بشر د هغه د رامنځ ته کولو لپاره کوم کار نه دی ترسره کړی. په داسې حال کې چې پانګه د هغو کالیو د حاصل تجمع ده چې له پخوا نه د بشر په لاس تولید شوې ده.

2- د نورو عواملو پر خلاف، د ځمکې عرضه محدوده ده او حتی په اوږده موده کې هم د ځمکې عرضه نه شي زیاتېدلی.

3- په هغو صنایعو کې چې تولید په زیاته توګه په ځمکې پورې تړاو لري، د حاصل د نزولي قانون یا د حاصل د کمېدو قانون عمل کوي. خو په لږ ژور فکر کولو سره موندل کېږي، چې یاد

دلایل له واقعیت سره دومره سمون نه خوري. د مثال په توګه، سمه ده چې بشر د ډېرو سکرو د ایجاد لپاره کوم کار نه دی ترسره کړی، خو که چېرته د کاري ځواک کوښښ نه وي، د ډېرو سکاره به د ځمکې له تل څخه راونه وځي او په هماغه ځای کې بې استفادې پاتې کېږي. د ځمکې موقعیت او د ځمکې د ځای نیولو سیمه د بشر له کنټرول څخه وتلې خبره ده. پر دې سربېره، که څه هم د ځمکې د کُرې ټول مقدار نه شو زیاتولی، خو نه شو ویلی، چې د ځمکې عرضه ثابته ده. د مثال په توګه په هالنډ کې د ټکنالوژي په مرسته د سیند یوه څه سطحه په کرنیزه ځمکه بدله شوې ده. په نورو هېوادونو کې هم اوبه د ډنډونو او زیمونو په وچولو سره په کرنیزو ځمکو بدلې شوې دي.

## د نزولي حاصل قانون:

دغه قانون د دې مسئلې ښکارندوی دی، چې د تولید په یوه سطحه کې، د ځمکې په یوه ټاکلې اندازه کې د تولید د عواملو د دوامداره استعمالولو په زیاتېدو سره، د حاصل اندازه د تولید د عواملو د زیاتوالي په پرتله، په لږه اندازه زیاتېږي. په مطلب د ښه پوهېدو لپاره لاندې ساده مثال ته پاملرنه وکړئ.

داسې فرض کوو چې یوه ټوټه ځمکه لرو، چې په یوه کس پورې تړاو لري او له هغه ځایه چې د ځمکې ظرفیت د هغه له وس نه زیات دی هر کال د ځمکې د مخ کار لپاره یو کاریګر استخداموي، پرته له دې چې مخکینی کاریګر له کاره ګوښه کړي او د کاریګر د زیاتېدو په تناسب، خپله پانګه هم ورزیاتوي، په دوهم کال کې کېدای شي د تولید مقدار له لومړي کال نه زیات وي او په درېیم کال کې ممکن د تولید اندازه له دوهم کال نه زیاته وي. خو داسې وخت را رسېږي چې د محصول زیاتوالی به په یوه کال کې نظر تېر کال ته کم وي. په دغه پړاو کې د نزولي حاصل قانون عمل کوي. په راتلونکي جدول په داسې حال کې چې یوه ټاکلې ځمکه کرل کېږي، په دې کې د نزولي حاصل قانون څرګندونه کوي.

1- 3 جدول

| د ځمکې اندازه | د انساني قوې شمېر | د محصول مقدار | اضافي محصول | د هر کاریگر متوسط محصول |
|---|---|---|---|---|
| 1 | 1 | 100 | 100 | 100 |
| 1 | 2 | 210 | 110 | 105 |
| 1 | 3 | 420 | 120 | 110 |
| 1 | 4 | 460 | 130 | 115 |
| 1 | 5 | 600 | 140 | 120 |
| 1 | 6 | 730 | 130 | 121,6 |
| 1 | 7 | 850 | 120 | 121,4 |
| 1 | 8 | 960 | 110 | 120 |
| 1 | 9 | 1060 | 100 | 118 |
| 1 | 10 | 1150 | 90 | 115 |
| 1 | 11 | 1230 | 80 | 112 |
| 1 | 12 | 1290 | 60 | 107 |
| 1 | 13 | 1305 | 15 | 100 |
| 1 | 14 | 1315 | 10 | 94 |

لکه څنګه چې جدول ښکاره کوي چې د پنځو کاریگرو په استخدام سره د اضافي تولید مقدار د عواملو په زیاتېدو سره اعظمي حد ته رسېږي، یعنې حاصل صعودي دی. له پنځه تنو څخه د کاریگرو په اضافه کېدو سره مجموعي تولید TP راکمېږي، یعنې حاصل نزولي شکل غوره کوي. 1-3 جدول کولای شو د لاندې شکل په مرسته وښیو:




«1- 3 شکل»

افقي محور د کارګرو شمېر او عمودي محور د یو واحد کارګر د زیاتوالي په ترڅ کې اضافه شوی محصول اندازه کوي. باید پورتني جدول او شکل لوستونکو ته د نزولي حاصل قانون په وضاحت سره څرګند کړی وي.

**کارګر:**

د اقتصادپوهانو د یوې ډلې په وینا کاري ځواک د تولید تر ټولو مهم عامل دی. د کارګر د عرضې اصطلاح لږه پېچلې ښکاري، چې دلته به یې د روښانه کولو لپاره هڅه وکړو. ځینې کسان به داسې فکر وکړي، چې د کارګر د عرضې مطلب د کار په عمر کې د سړیو، ښځو او ماشومانو د شمېر څرګندونه کوي. حتی د کار د سن اصطلاح هم دقیقه نه ده او لا مشخص تعریف ته اړتیا لري. ځینې کسان به د کار له عرضې نه د کاري ځواک په لاس کې د موجودو خدماتو مطلب واخلي، چې دغه تعریف ګټور او سم دی. د کاري ځواک د خدماتو عرضه د فعال نفوس د شمېر د بدلون او یا د ورځني کار د بدلېدو تر اغېزې لاندې دی. د یو هېواد په لاس کې د کارګر عرضه په لاندې عواملو پورې تړلې ده:

1- د هېواد د ټول نفوس شمېر.

2- د هغه نفوس فیصدي چې د کار د ترسره کولو وړتیا ولري.

3- په یوه ورځ کې د کار د ساعتونو شمېر.

1- **د هېواد د ټول نفوس شمېر:** په دې اړه به په راتلونکو څپرکو کې په مفصله توګه خبرې وکړو.

2- **د هغه نفوس شمېر چې د کار د ترسره کولو وړتیا ولري:** دغه فیصدي د صنعتي کېدو، کلتور، ټولنیزې ادارې او کار ته د خلکو په فکري لېوالتیا پورې تړلې ده.

په فقیرو هېوادونو کې ممکن د یوې کورنۍ ټول افراد د خپل معیشت د تأمین لپاره کار ته اړ وځي، په داسې حال کې چې په صنعتي هېوادونو کې د کورنۍ د یوه کس بوختیا ممکن د ټولې کورنۍ د معیشت د تأمین لپاره کافي وي. په ځینو هېوادونو کې له کلتوري او ټولنیز اړخه ښځو ته له کور نه د باندې کار مناسب نه دی او په ځینو نورو هېوادونو کې حتی په صنعتي کار خانو کې ښځې په کار بوختې دي. په یو شمېر هېوادونو کې تر 15 کلنۍ پورې زده کړه اجباري ده او په ځینو نورو کې دا ډول قانوني اجبار وجود نه لري. دغه ټول عوامل د کاري نفوس فیصدي تر اغېزې لاندې راولي.

3- **په یوه ورځ کې د کار ساعتونه:** ممکن په یوه هېواد کې ټولنیزه پراختیا په ورځ کې د کار د ساعتونو د کموالي باعث شي. شواهد د دې څرګندونه کوي، چې په تدریج سره د کار ساعتونه په اوونۍ کې د وخت په تېرېدو سره کم شوي دي. لکه په نولسمه پېړۍ کې په صنعتي هېوادونو کې په اوونۍ کې 70 ساعته کار، او اوس په اوونۍ کې 40 ساعتونو ته راکم شوی دی.

## د کاري ځواک کارآیي (ممثریت):

پورته مو ورته اشاره وکړه چې دوه عامله دي، چې د کاري ځواک د عرضې د کموالي باعث کېږي: د زده کړې ډېره اوږده دوره او په اوونۍ کې د کار د ساعتونو لنډېدل.

خو د دغو دوه عواملو اغېزه کېدای شي تر یوه حده پورې د کارګر د مؤثریت په زیاتوالي سره خنثی شي. زموږ مطلب د مؤثریت له زیاتوالي څخه د کار په کمو ساعتونو سره د تولید زیاتې اندازې ته لاسرسی دی، پرته له دې چې د محصول کیفیت راکم شي.

په یوه هېواد کې د کاري ځواک مؤثریت په لاندې شکلونو سره زیاتولای شو:

1- **ټولنیز خدمات:** د ښه خوراک، پوښاک او مناسب کور له لارې د افرادو د فزیکي رفاه ښه والی غالباً د روغتیا د کچې ښه والی د ناروغۍ له وجې د ضایع شویو کاري ساعتونو د شمېر د کموالي باعث ګرځي. د ټولنیزې بیمې پروګرامونه، وزګارو کسانو ته د مصارفو د مرستې ورکړه، د تقاعد مناسب حقوق، دغه ټول د کاري ځواک د فزیکي رفاه د زیاتوالي باعث ګرځي. د راتلونکې د تأمین لپاره د سپما اړتیا چې په اوس وخت کې د کالیو د مصرف د کموالي په معنا دی.

2- **د کار شرایط:** د کاري چاپېریال عمومي شرایط د محصول اندازه تر اغېزې لاندې راولي. پر دې اساس، په ډېرو هېوادونو کې په دې اړه ځینې قوانین منځ ته راغلي دي. د تعمیر او کارخانې په چاپېریال کې د تهویې د ستګاوو رامنځ ته کول د کارګرو لپاره خوړنځی، د سپورټ مناسب ځای او ښه تعمیر، دغه ټولې هڅې د کاري چاپېریال د ښه والي لپاره له شرایطو څخه دي.

3- **زده‌کړه:** زده کړه باید له درې اړخونو څخه په پام کې ونیول شي: عمومي زده کړه، فني زده کړه او د صنعت په داخل کې زده کړه. د عمومي زده کړې لوړه سطحه د کاري ځواک د عمومي پوهې لپاره ضروري ده. د عمومي زده کړې د مناسبې سطحې په موجودیت کې دی، چې کاري ځواک ته فني زده کړه ممکن ګرځي. فني زده کړه او د صنعت په داخل کې د زده کړو پروګرام غالباً د مدیرانو له خوا کارګرو ته په لاره اچول کېږي.

4- **د کار طاقت او نور عوامل**: په هغه صورت کې چې د تولید د نورو عواملو کیفیت لوړ وي، نو د کاریگر کاري طاقت هم ورسره زیاتیږي. بل عامل چې د کاري ځواک د طاقت د زیاتوالي باعث ګرځي، د کار وېش دی. هر څومره چې د کار وېش زیات شي، د کاري ځواک طاقت هم ورسره په هماغه اندازه زیاتوالی مومي.

5- **لوړ مزد:** کاري ځواک ته د لوړ مزد ورکړه د کاریګرو د ژوند د معیار او په پای کې د هغوی د ظرفیت د زیاتېدو باعث ګرځي. دغه مسئله د دې باعث شوې چې خپله مدیران کارګرو ته د لوړ مزد وړاندیز کوي. غالباً په هغو هېوادونو کې چې د مزد سطحه ټیټه وي، د کاري ځواک کاري ظرفیت هم ټیټ وي.

## د تولید د عواملو تحرک:

د تولید د عواملو له تحرک څخه زموږ مطلب، شغلي او جغرافیوي تحرک دی. له یو صنعت نه بل صنعت یا شغل ته د تولید د عامل لېږد ته شغلي تحرک او له یوې سیمې یا ناحیې نه بلې سیمې یا ناحیې ته د تولید د عامل انتقالولو ته جغرافیوي تحرک وایي. پر دې اساس، زموږ په آند تحرک له یوه شغل نه بل شغل یا له یوې ناحیې نه بلې ناحیې ته د تولید د عامل ساده ګی ته ویل کیږي.

1- **د کاري ځواک جغرافیوي تحرک**: ممکن داسې ګومان وکړئ، چې کاري ځواک له جغرافیوي لحاظه تر ټولو زیات د تولید متحرک عامل دی. د دغه کار دلیل د حمل و نقل د وسایلو پراختیا ده. خو په عمومي توګه له یوې ناحیې نه بلې ناحیې او له یوه هېواد څخه بل هېواد ته خلک دومره لېوالتیا نه ښیي. په ځانګړي ډول له یو هېواد نه د بل هېواد په ارتباط، توکمي، ژبني او د ژوند کولو طریقې دغې موضوع ته لمن وهي. ډېر خلک دغه کار غوره ګڼي چې په خپل ټاټوبي کې ژوند وکړي. غالباً سیاسي عوامل، نه اقتصادي عوامل له یوه هېواده بل هېواد ته د خلکو د مهاجرت باعث ګرځي. د مثال په توګه، له دوهمې نړیوالې جګړې نه مخکې ډېر کسان له آلمان څخه نورو هېوادونو ته کډه شول. د یوه هېواد په داخل کې هم له یوې ناحیې نه بلې ناحیې ته د هغې لېوالتیا لپاره چې خلک یې په هغې ناحیه کې چې کلونه کلونه یې هلته ژوند کړی لاس ته راوړي، دومره د پام وړ نه دی.

2- **د کاري ځواک شغلي تحرک**: له یوې بوختیا نه بلې بوختیا ته د کارګر انتقال عموماً په غیر مستقیم ډول ترسره کیږي. که څه هم دغه انتقال مثلاً د نساجیو د کارخانو کاریګر اداري بوختیاوو ته په مستقیم ډول ممکن نه دی، خو د دغو دوه ډلو ترمنځ د کار وېش په غیر مستقیم

ډول ممکن دی. تر ټولو ساده شکل یې، له یوې بوختیا نه بلې بوختیا ته د کار بازار ته د نوي انساني ځواک د راتلو له لارې، یعنې هغه افراد چې نوي فارغیږي، ممکن گرځي. هغه صنعت چې د له منځ تلو په حال کې وي د دغو افرادو لږ شمیر یې پکې جذبیږي، چې مخ په ښه کېدو وي. غالباً په لومړي صنعت کې د مزد نرخ ټیټ او په دوهم کې لوړ وي. په دې ډول د بوختیاوو ترمنځ د افرادو مجدد وېش ترسره کېږي. هغه مسئله چې باید پاملرنه ورته وشي، دا ده چې شغلي تحرک عموماً د غیر متخصصو کاریگرو لپاره ساده او متخصصو کاریگرو ته ستونزمن وي.

**پانگه:**

له اقتصادي پلوه پانگه د تولید یو عامل دی، او په تولید کې د نور ثروت د منځ ته راوړلو لپاره په کار وړل شوی ثروت دی. باید پام وشي چې پانگه یوازې د ثروت هغه برخه ده چې د کالیو او خدماتو په تولید کې په کار وړل کېږي. په پانگه باندې له بحث څخه مخکې باید مصرفي کالي او پانگه تعریف کړو.

**مصرفي کالي**: د هر تولید وروستۍ موخه د هغو کالیو او خدماتو تولید دی، چې د مصرف کوونکي د اړتیا وړ وي. دغو کالیو او خدماتو ته مصرفي کالي او نهایي محصولات وایي، لکه بوټونه، جامې، ډوډۍ، ساعت او نور.

**پانگه‌ییز کالي:** دغه کالي د مصرف کوونکي په وسیله نه مصرفیږي بلکې تولیدونکی له هغه نه د مصرفي کالیو د تولید لپاره کار اخلي. دغه کالي هم مرستندویه یا تولیدونکي کالي بلل کېږي لکه کار خانه، د پرس ماشین، خامې وړۍ، د حمل و نقل وسایل او نور. په دقیقه توگه نه شو کولای چې کالي په دوه ډلو؛ مصرفي او پانگه ییزو کالیو باندې و وېشو. د مثال په توگه، که چېرته ټوکر د خیاط په وسیله پېرودل شوی وی او د جامو د گنډلو لپاره ترې کار واخلي، پانگه ییز کالی دی او که چېرته د کور د مېرمنې له خوا د کور مصرف لپاره وپېرودل شي، بیا مصرفي کالی دی. یا موټر که چېرته د یوه کس په وسیله د شخصي مصرف (تگ راتگ) لپاره وپېرودل شي مصرفي کالی دی. خو که چېرته د یوه کس له خوا د مسافرو د لېږد او د عاید د ایجاد لپاره وپېرودل شي، پانگه ییز کالی دی.

ځيني اقتصادپوهان باور لري چې د مصرفي کاليو موجودي چې د توليدونکي، منځګړي او عمده پلورونکي له خوا ساتل کيږي هم په پانګه ييزو توکو کې راځي. دغه نظريه په دوه شکلونو سره توجيه کولای شو:

1- د حسابدارۍ له دود سره همغږی دی، ځکه په بيلانس پاڼه کې، مونږ د خرڅلاو نه پاتې کاليو د موجودي ارزښت د اقتصادي موسساتو د شتمنيو برخه ګڼو.

2- له اقتصادي پلوه هم تر هغه پورې چې کالي د مصرف کوونکي لاس ته ورنه شي، تر هغه وخته پورې د توليد کار بشپړېدای نه شي. پر دې اساس، کوم کالي چې د مصرف کوونکي لاس ته نه دي لوېدلي، لا تر اوسه پورې په بشپړه توګه توليد شوي نه دي او د تعريف له مخې پانګه ييز توکي دي، په خپل بحث کې مونږ د مصرفي کاليو موجودي د پانګې په کتار کې نه راولو.

بله مسئله چې بايد پام ورته وشي هغه دا ده، چې ځينې مصرفي کالي بادوامه وي او د پانګه ييزو توکو په څېر د وخت په اوږدو کې خپل مالک ته خدمت وړاندې کولی شي. د مثال په توګه تعمير له دغې ډلې څخه دی، مونږ دغه ډول کالي هم د پانګه ييزو کاليو په کتار کې نه راوړلو.

## پانګه عايد ايجادوي:

د پانګې له مهمو ځانګړنو څخه يوه دا ده، چې پانګه عايد ايجادوي. زمونږ هدف له عايد څخه په ثروت باندې اضافه شوی مقدار دی. د آدم سمېت په باور، د يوه کس پانګه د هغه د موجودی هغه برخه ده چې هغه ترې د عايد د ايجاد تمه لري. آلفرډ مارشال دغه تعريف د ځمکې په عدم شمول سره، نور هم دقيق کړی دی.

پانګه د توليد يو عامل دی او په يوه هېواد کې يې موجوديت، د هغه هېواد د توليد مقدار ټاکوونکی دی. مالک يې د هغه خدمت په مقابل کې، چې پانګه يې په توليد کې په کار اچوي، بدله ترلاسه کوي.

## پيسې د پانګې په توګه:

په نويو اقتصادونو کې پيسې د ثروت يا پانګې په کتار کې نه شو شمېرلی، ځکه چې د پيسو د حجم زياتوالی ټولنه له پخوا څخه شتمنه نه شي ګرځولی. که چېرته د کاليو او خدماتو توليد په ټولنه کې زياتوالی ونه مومي، نو د پيسو د حجم په زياتوالي سره قېمتونه لوړېږي او زياتې پيسې زيات مقدار کالي نه شي پېرودلی.

## د پانګې تراکم:

په یوه غیر پولي اقتصاد، یعنې په هغه اقتصاد کې چې په هغه کې پیسې نه کارول کېږي. د پانګې تراکم د مصرفي کالیو د تولید په راکمولو سره ممکن ګرځي. له هغه ځایه چې په یوه هېواد کې د تولید عوامل محدود دي، که چېرته دغه ټولې منابع د مصرفي کالیو په تولید ولګول شي، نو د پانګه ییزو کالیو د تولید لپاره به پانګه په لاس کې ونه لرو. پر دې اساس، په هره زماني نقطه کې د یو هېواد د پانګې موجودي، د پخوانیو خلکو د قربانیو ګټه ده او هر ډول زیاتوالی د پانګې په موجودي کې یوازې او یوازې په اوس وخت کې له ځینو اړتیاوو څخه د تېرېدلو په صورت کې ممکن ګرځي. د دې لپاره چې د پانګې موجودي زیاته شي باید په هره دوره کې د مصرف شویو کالیو مقدار د تولید شویو کالیو له ټول مقدار څخه لږ وي:

مصرف – تولید = د پانګې تراکم

که چېرته په یوه هېواد کې د اقتصادي منابعو کیفیت ډېر نامطلوب وي او د دغو ټولو منابعو استعمال په هغه هېواد کې د افرادو د لومړنیو اړتیاوو د رفع کولو لپاره ضروري شي، څرګنده ده چې په دغه هېواد کې د پانګې تراکم وجود نه لري او د پانګې تراکم به په کراره او ډېر زیار سره ترسره شي. په ډېرو هېوادونو کې په لومړیو کې، د پانګې تراکم ورو وي او د لږې پانګې له راټولېدو وروسته به دغه جریان ګړندی شي.

## د پانګې تراکم په سپما پورې تړاو لري:

غالباً پیسې د اقتصادي ځواکونو واقعي کړنې پټوي، خو حتی په پولي اقتصادونو کې هم د پانګې تراکم په پورته ډول ترسره کېږي. له مصرف نه ډډه کول، د پانګه ییزو کالیو تولید ممکن ګرځوي. له مصرف نه دا ډول ډډه کولو ته په اقتصاد کې «سپما» وایي. په نویو اقتصادونو کې چې په هغو کې له پیسو څخه کار اخیستل کېږي، سپما له پیسو نه د مصرفي کالیو د پېرودلو لپاره د پیسو دعدم استفادې په معنا ده. که چېرته مصرفونکی خپل ټول عاید د مصرفي کالیو په پېرودلو ولګوي، نو د پانګه ییزو کالیو تراکم ممکن نه ګرځي. ځکه له ټولو تولیدي منابعو، یعنې ځمکې، کار او پانګې څخه به د مصرف کوونکو دغوښتنو لپاره کار واخیستل شي. خو که چېرته مصرف کوونکی د خپل عاید یوه برخه سپما کړي، په دې صورت کې به د اقتصاد ځینې منابع د پانګه ییزو کالیو په تولید مصرف شي. لاندې شکل دغه مسئله واضح کوي:




پر دې اساس، د پانګه ییزو توکو تولید په سپما پورې تړاو لري. اقتصادپوهان د «پانګونې» له اصطلاح څخه د واقعي پانګه ییزو کالیو پر ځای کار اخلي. پر دې اساس، ویلی شو چې پانګونه په سپما پورې تړاو لري. سپما مصرفي کالیو ته تقاضا راکموي او د پانګه ییزو کالیو د تولید لپاره منابع آزادوي.

## د پانګې ساتنه:

ځینې پانګه ییز کالي ماهیتاً له نورو پانګه ییزو کالیو څخه ډېر بادوامه وي. خام او نیم کاره مواد د پانګې هغه شکلونه دي، چې باید په مصرفي کالیو تبدیل شي. د هغوی د موجودي د ساتلو لپاره، باید په دایمي ډول د هغوی موجودي اضافه کړی شي. حتی دوامداره پانګه ییز توکي هم ورو ورو استهلاک کېږي. پر دې اساس، هر کال په اقتصاد کې یوه اندازه پانګه ییز کالي له منځه ځي او باید پر ځای یې نور کالي نصب شي. پر دې اساس، د یوه اقتصاد د تولید یو مقدار باید هر کال د مستهلکو پانګه ییزو کالیو د بیا نصبولو لپاره بېل شي.

آیا زاړه شوي د استفادې وړ پانګه ییز کالي باید ایسته کړي؟ د دغې پوښتنې ځواب دومره ساده نه دی. ځینې کسان د هغو کالیو لرې کول د منابعو ضایع کول بولي چې لا هم ترې کار اخیستل کېږي. د بلې ډلې نظر دا دی، چې په هغه صورت کې چې ورته نوي ماشین آلات په ډېر ظرفیت سره په واک کې وي، نو په زړو ماشین آلاتو باندې به د کار دوام بې ګټې وي. پر دې اساس، باید نوموړي ماشین آلات په هغو ماشین آلاتو باندې بدل شي، چې ډېر ظرفیت لرونکي وي.

## د پانګې مصرف:

که چېرته د یو هېواد د پانګې موجودي زیاتوالی ونه مومي، نو د هغه هېواد اقتصادي وده درېږي. که چېرته کوم هېواد استهلاک شوي یا زاړه پانګه ییز توکي بدل نه کړي، نو تولیدي قدرت

یې راکمېږي. اصطلاحاً وایو، چې دغه هېواد خپله پانګه مصرفوي. د پانګې استهلاک په دوه شکلونو ترسره کېږي:

1- د ماشین آلاتو له منځه تلل.

2- له موجودي څخه ګټه اخیستنه.

که چېرته د اقتصاد د تولید د عواملو لویه فیصدي د مصرفي کالیو په تولید کې ولګول شي، امکان لري چې اقتصاد د پانګې مصرف ته اړ شي. په داسې حالت کې به د اقتصاد موجوده پانګه ورو ورو راکمه او هېواد به ورځ تر بلې فقیر شي. ځکه د هغوی پانګه ییز توکي ورو ورو له منځه ځي او نوې پانګه یې ځای نیسي.

# څلورم څپرکی

## د نفوس مسئله

په تېرو 150 کلونو کې اقتصادپوهانو د نفوس له مسئلې سره علاقه مندي ښودلې ده. د نفوس مسئله په بېلابېلو زماني او مکاني شرایطو کې، په بېلابېلو شکلونو سره ښکاره شوې ده. ممکن په یوه وخت کې د نومورو افرادو د زیاتېدو موخه د جګړې د وخت د بیارغونې لپاره وي او په بل وخت کې ممکن د نفوس زیاتوالی په دا ډول راښکاره شي، چې داسې نه چې د نفوس دغه زیاتوالی، د خوراکي توکو له زیاتېدو څخه ډېر وي.

له دغې مسئلې سره یو ځای، د نفوس لپاره د خوراکي توکو تولید، د بشر له لومړنیو مسائلو څخه ګڼل شوې ده. که چېرته یو هېواد لږ نفوس ولري، خلک به یې فقیر وي. ځکه نه شي کولای، چې د ګڼ تولید له ښېګڼو څخه برخمن شي. که چېرته یو هېواد (البته د ځمکې او پانګې په پرتله) ډېر زیات نفوس لرونکی وي، بیا به یې هم خلک فقیر وي. ځکه چې سړي سر تولید به راکم شي.

### په نولسمه پېړۍ کې د نفوس د زیاتوالي علت:

ولې د نړۍ د ځینو هېوادونو نفوس د اتلسمې او نولسمې پېړۍ په وروستیو کې ډېره چټکه وده وکړه؟ اصلي لامل یې د مړینې او ناورغۍ د چټک نرخ کموالی و. په دغې دوره کې د تولد او تناسل نرخ دومره تغییر نه درلود. په پخوانیو پېړیو کې ساري ناروغیو د اروپا په لویه وچه کې ډېری خلک له منځه یووړل. د طبي علومو پرمختګ، د روغتونونو پرانستلو او سمو روغتیایي خدماتو ساري ناوغۍ راکمې کړې او ډېری هغه ناروغۍ چې د نفوس په راکمولو کې یې بنسټیز رول درلود، لکه د ټیفوس د ناروغۍ جرړې له منځه ولاړې. د مړینې او ناروغۍ د کچې دغه کموالی په اروپا کې له کرنیز او صنعتي انقلاب سره مل و. د زیاتو محصولاتو په کرلو سره چې په ژمي کې د اهلي حیواناتو او څارویو په مړولو کې ترې کار اخیستل کېده، په ژمي کې د څارویو د حلالولو پر ځاي د هغوی د ساتنې امکان برابر شو. دا په دې معنا و چې سروکال به تازه شیدو او غوښتې ته لاسرسی ممکن و. د حمل و نقل د وسایلو د وضعیت ښه کېدل هم ښارونو ته د تازه سبو عرضه زیاته کړه. پر دې اساس، د روغتیا او خوراک په ښه کېدو سره د مړینې او ناروغۍ کچې کموالی وموند.

که څه هم د مړینې او ناروغۍ د کچې کموالی د نفوس د زیاتوالي اصلي عامل دی، خو په دغې دوره کې د تولد او تناسل نرخ هم زیاتوالی موندلی دی. ځوانان په ټیټ عمر کې واده کوي او

په صنعتي سيمو کې د نويو کارگرو تقاضا هم د ځوانانو د واده قدرت لوړ کړ. د تقاضا دغه زياتوالی د دې باعث شو، چې حتی ښځې هم وکولای شي په کارخانو کې کار وکړي او عايد لاس ته راوړي.

## مالتوز:

که څه هم له هغه نه مخکنيو اقتصادپوهانو هم دغې مسئلې ته اشاره کړې ده، خو مالتوس 1834-1766 ز لومړنی اقتصاد پوه دی، چې د نفوس مسئله يې په جدي ډول تر بحث لاندې نيولې. مالتوس باور درلود، چې د بشري افرادو شمېر د خوراکي توکو له زياتوالي څخه په ډېره زياته اندازه لوړېږي. د هغه په آند، د هرې پېړۍ په ربع (25 کلونو) کې نفوس دوه برابره کېږي. نفوس په يوه هندسي تصاعد سره زياتوالی مومي په داسې حال کې چې خوراکي توکي د حسابي تصاعد په حساب زياتوالی مومي او که چېرته نفوس د ناروغۍ او يا قحطۍ او جگړې له امله کم نه شي، د نړۍ خلک به له لوږې سره مخ شي.

دوه اساسي مسائلو د مالتوس تفکرات تر اغېزې لاندې راوستي دي:

1- په بريتانيا کې د نفوس چټکه وده.

2- په هېواد کې د خوراکي توکو په توليد کې د نزولي حاصل د قانون عمل کول.

د هغه په باور د نفوس زياتوالی له کم حاصله ځمکو څخه د گټې اخيستنې امکان برابروي، چې د خوراکي توکو توليد پکې ډېر ټيټ دی. پر دې اساس، د خوراکي توکو د توليد پرمختگ د نفوس د زياتوالي د نرخ له برابرولو سره امکان نه لري. او که چېرته په بريتانيا کې د نفوس زياتوالی کنترول نه شي، د خلکو د ژوند معيار راټيټېږي. مالتوس د محصول د کرلو د روشونو له ښه والي څخه خبر و، چې د زياتو خوراکي توکو توليد يې ممکن گرځولی، خو داسې يې انگېرله چې دغه ښه والی مؤقتي دی او په نهايت کې توليد شوي خوراکي توکي به د بشري افرادو د غوښتنو د پوره کولو لپاره کفايت ونه کړي.

## آيا تاريخ د مالتوز نظريه رد کړې ده؟

د ډېر اوږد وخت لپاره ويل کېده، چې نهايتاً د نولسمې پېړۍ تاريخ د مالتوز نظريه رده کړې ده. ويل کېده چې که چېرته د بريتانيا نفوس له پخوا نه چټکه وده کړې وه خو خلک په دغې پېړۍ کې د ژوند له لوړو معيارونو څخه برخمن وو. د دغې مسئلې علت يې لاندې عوامل په گوته کړي دي:

الف- د امریکا، استرالیا، نوي زیلاند، جنوبي افریقا او د مرکزي امریکا د ځینو هېوادونو په څېر د نویو سیمو پراختیا.

ب- د حمل و نقل د وسایلو ښه والی، چې له نوې نړۍ څخه یې بریتانیا ته د خوراکي توکو انتقال ممکن گرځاوه.

په هغه وخت کې ډېری نوي هېوادونه د خوراکي توکو او خامو موادو تولیدونکي وو، دغه مواد یې بریتانیا ته لېږل او دغه هېواد یې په دې برلاسی کاوه، ترڅو خپل ځواک په مصنوع تولید کې متمرکز کړي. پر دې اساس، بریتانیا په دې برلاسې کېده چې خوراکي توکي د ډېرو زیاتو وگړو لپاره له هغو وگړو څخه چې په هېواد کې د تولید شویو خوراکي توکو په تغذیې برلاسي وو، تأمین کړي. په دې توگه بریتانیا په صنعتي هېواد بدل شو، چې د اړتیا وړ ځینو خوراکي توکو لپاره یې په نوې نړۍ پورې تړاو درلود او دغه خوراکي توکي یې د پخو (مصنوع) توکو په صادرولو لاس ته راوړل.

مالتوز نه شو کولاس چې د نوې نړۍ فوق العاده اقتصادي پرمختگ اټکل کړي، خو آیا دغه پرمختگ د مالتوس بحث بې باوره کوي؟ په هماغه ډول چې د مالتوز په نظر، د کرنیز انقلاب اغېزه مؤقتي وه او په نهایت کې به لوږه په نړۍ کې خوره شي، داسې استدلال کولای شو چې د نوې نړۍ پرمختگ هم مؤقتي دی او د مالتوز د پام وړ بحران نهایتاً رامنځ ته کېږي.

**د نفوس نوي مسائل:**

کولای شو د شلمې پېړۍ د نفوس مسائل د یوه هېواد یا نړۍ له نقطه نظره تر بحث لاندې ونیسو. په شلمه پېړۍ کې د مالتوس د نفوس د مازاد مسئله د نفوس د کموالي په خیال او وېرې بدله شوې ده.

تر 1870 ز کاله پورې په بریتانیا کې ډېرو کورنیو له 5 نه نیولې تر 6 پورې بچیان درلودل. خو له دغې نېټې وروسته د د تولد او تناسل نرخ راکم شو او دغه کموالی لا همدا راز دوام لري.

د 1801 -1841 ز کلونو په 40 منځنیو کلونو کې د دغه هېواد نفوس 76 فیصده زیاتوالی وموند، په داسې حال کې چې د 1901 -1941 ز کلونو د 40 کلونو په منځ کې د نفوس د زیاتوالي نرخ 26 فیصده و. د هرې کورنۍ د بچیانو متوسط شمېر له 5,5 نه په 1850 ز کال کې 2,2 فیصدو ته په 1930 ز کال کې راټیټ شو. د 1930 ز له لسیزې وروسته د د تولد او تناسل د نرخ کموالی ډېر گړندی نه و، خو له 1945 ز وروسته یې زیاتوالی موندلی دی. د تولد او تناسل د نرخ د کموالي په

ټوله دوره کې، دغه کموالی د مړينې او ناروغۍ په کمېدو سره جبران شوی دی. په 1870 ز کال کې د نارينه وو لپاره د ژوند تمه 41 او د ښځينه وو لپاره 45 کاله وه. په داسې حال کې چې په 1965 ز کال کې دغه شمېرې 68 او 74 کلونو ته زياتوالی موندلی دی.

د کورنيو د اندازې د کموالي اصلي عامل څه دی؟ د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د مالتوس د نظريې تر اغېزې لاندې د تولد او تناسل د نرخ د کنټرول لپاره ډېر زيات تبليغات کېدل ترڅو په نهايت کې يې په کموالي منتج شو. لاندې جدول دغه مسئله تائيدوي.

«4-1 جدول د بريتانيا د تولد او تناسل نرخ د هر 1000 کسه وګړو لپاره»

| کال | نرخ | کال | نرخ |
|---|---|---|---|
| 1880 | 34,2 | 1925 | 18,3 |
| 1885 | 32,9 | 1930 | 16,3 |
| 1890 | 30,2 | 1935 | 15,2 |
| 1895 | 30,3 | 1940 | 14,7 |
| 1900 | 28,7 | 1945 | 16,3 |
| 1905 | 27,3 | 1950 | 15,2 |
| 1910 | 25,1 | 1955 | 15,4 |
| 1915 | 21,9 | 1960 | 16,2 |
| 1920 | 25,5 | 1965 | 18,6 |

خو کوچنيو کورنيو ته د خلکو د لېواليتا اصلي عامل بايد په دغې دوره کې اقتصادي او ټولنيز بدلونونه وګڼو. د صنعتي انقلاب په لومړيو کلونو کې ماشومانو په کارخانو کې په کار کولو سره مزد ترلاسه کاوه او نور يې نو د مخارجو د کورنيو په غاړه لوېده. په انګلستان کې قانون، د عمر حداقل اندازه د هغو ماشومانو لپاره وټاکله چې په کار خانو کې يې کار کاوه او د شلمې پېړۍ په وروستيو کې نور نو ماشومانو نه شو کولای، چې د خپلې کورنۍ لپاره عايد لاس ته راوړي. په دغې دوره کې، ټولو خلکو د ژوند د معيار د لوړولو لېوالتيا پيدا کړه او د ژوند معيار لوړول د کورنيو لپاره ستونزمن وو. دغه مسئله د واده د سن د لوړېدو باعث شوه او په خپل وار سره يې د کورنيو د غړو د شمېر اندازه راکمه کړه. له بلې خوا، صنعتي ژوند له عدم اطمينان سره يو ځای و او د وزګارتيا پر مهال به لويو کورنيو ډېرې ستونزې منځ ته راوړلې. د ميندو او پلرونو لېوالتيا به هم ورځ تر بلې دېته زياتېدله، ترڅو د خپلو بچيانو لپاره د زده کړو ښه فرصتونه برابر کړي، چې دغې مسئلې هم د بچيانو د

لرلو مصرف لوړ کړ. پر دې اساس، دغه ټول عوامل د کورنيو د اندازې د کموالي باعث شول. 2-4 جدول په بېلابېلو هېوادونو کې د کورنيو د بچيانو متوسط شمېر ښکاره کوي.

«2- 4 جدول په کورنۍ کې د بچيانو متوسط شمېر»

| هېواد | د بچيانو متوسط شمېر | هېواد | د بچيانو متوسط شمېر | هېواد | د بچيانو متوسط شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| اتريش | 2 | امريکا | 3,3 | پاکستان | 3,9 |
| لوېديځ آلمان | 2,2 | کاناډا | 4,2 | چلي | 4,1 |
| انګلستان | 2,8 | ترکيه | 3,2 | هندوستان | 4 |
| فرانسه | 2,8 | جاپان | 2,8 | اندونيزيا | 4,3 |
| سويس | 2,9 | سريلانکا | 3,2 | کوريا | 4,4 |
| اېټاليا | 3.1 | جامائيکا | 3,8 | ګانا | 5,1 |
| ناروې | 3,1 | ټايوان | 3,9 | فيليپين | 5 |
| هالنډ | 3,3 | ټايلنډ | 3,8 | | |

## د نفوس انفجار:

که څه هم د لوېديځې اروپا ځينې هېوادونه د نفوس د کموالي له مسئلې سره مخ دي، لا تر اوسه د نړۍ د خوراکي توکو د توليد د زياتوالي څرنګوالی د هغه نفوس لپاره چې په ګړندۍ توګه زياتوالی مومي، مهمه مسئله ده. پر دې اساس، ممکن اوس د مالتوس نظريه سمه وي. د مالتوس په نظريه کې اصلي ټکی د خوراکي توکو او د نفوس د زياتوالي نسبت دی، چې دوهم يې له لومړنۍ نه په زياته اندازه ده. تر 1965 ز کاله پورې د نړۍ نفوس د زياتوالي کچه ورو ورو زياتېده. له هغه تاريخ نه وروسته د نفوس زياتوالی ډېر ګړندی شوی دی. په 1965 ز کال کې د ټولې نړۍ نفوس د 3250 ميليونو ترمنځ و، چې د امريکا نفوس له 140 نه 194 ميليونه کسانو ته او د هند نفوس 2000 ز کال کې د نړۍ نفوس 6 ميلیارده و.

په آسيا کې د نفوس فوق العاده زياتوالی په دغه براعظم کې د مړينې د نرخ د کمېدو له کبله دی. په هند کې د ژوند تمه له 32 کلونو څخه په 1945 ز کې 54 کلونو ته په 1965 ز کال کې لوړ شوی دی. د نړيوالې روغتيا ادارې هڅې هم په آسيا کې د مړينې او ناروغۍ د کمولو عامل دی. د مثال په توګه، د مړينې او ناروغۍ نرخ له 40,4 څخه په هرو زرو کسانو کې په 1925 ز کال کې

16,3 ته په هرو زرو کسانو کې په 1965 ز کال کې راټيټ شوی دی. په داسې کال کې چې د تولد او تناسل نرخ يوازې له 50,8 څخه په هرو زور کسانو کې 39,4 ته په هرو زرو کسانو کې راکم شوی دی او لکه څنگه چې گورو په 1965 ز کال کې د تولد او تناسل نرخ د مړينې د نرخ دوه برابره دی.

د نړۍ مخ په زياتېدونکي نفوس ته د خوراکي توکو د رسولو لپاره اړينه ده، ترڅو د خوراکي توکو توليد په هرو پنځوسو کلونو کې دوه برابره شي. اوس د نړۍ ډېرى خلک د غربي معيارونو په پرتله د خوراکي توکو له کموالي سره مله دي او که چېرته نفوس زيات هم نه شي، د خوراکي توکو زياتوالى مطلوب دى. د نورو لويو وچو (بر اعظمونو) خلک هم غواړي ترڅو د ژوند لوړ معيارونه ولري. د مثال په توگه، د هند په څېر هېوادونه چې پخوا يې خوراکي توکي صادرول اوس د دغو توکو واردونکى دى او دغه مسئله هم خوراکي توکو ته د تقاضا د زياتوالي باعث شوې ده. په شلمه پېړۍ کې د نړۍ د نفوس ودې، د مالتوس وېره له بحران څخه د پام وړ گرځولې ده.

**د نړۍ د نفوس د مازاد مسئله:**

په وروستيو 50- 60 کلونو کې ډېرى مسائل د ځمکې د خرابېدو په هکله، چې د ناسمې کرنې له وجې منځ ته راغلي مطرح شوي، چې دغې مسئلې هم خلک د مالتوس نظريې ته زيات متوجه کړي دي. خو که څه هم د 1939 ز، 1952 ز کلونو ترمنځ د نړۍ نفوس د 9 فيصدو په اندازه زياتوالى وموند، د 1955 ز، 1965 ز کلونو ترمنځ د خوراکي توکو توليد د 14 فيصدو په اندازه او نفوس د 9 فيصدو په اندازه زياتوالى موندلى دى.

لا تر اوسه په نړۍ کې ډېرى ځمکې شتون لري، چې له کرکيلې پاتې دي او د زياتو ځمکو د زېمونو او اوبو په وچولو سره نور هم کولاى شي تر کرکيلې لاندې راشي. د کېمياوي سرې پرمختگ هم د خوراکي توکو د توليد د زياتوالي بل عامل و او دى. په هر حال په ټولو ځمکو کې د خوراکي توکو د توليد زياتوالي ته په پراخ ليد لوري سره، که چېرته د نفوس زياتوالى کنترول نه شي، امکان لري چې نړۍ نفوس له مازاد سره مخ شي.

که څه هم په اوس وخت کې په لاتينه امريکا کې د نفوس د زياتوالي نرخ ډېر زيات دی، خو په جنوب ختيځه آسيا کې د نفوس مسئله سارى نه لري. په 1965 ز کال کې د آسيا نفوس 1845 ميليونه و، چې 720 ميليونو يې په چين کې ژوند کاوه. په آسيا کې بايد د تل لپاره د نفوس د زيات شمېر خلکو لپاره بايد خوراکي توکي برابر شي. خو، توليد شوي توکي په نړۍ کې په مساوي اندازې سره د خلکو ترمنځ وېشل شوي نه دي. د غربي اروپا او شمالي امريکا په پرمختللو هېوادونو کې په

کافي اندازه خوراکي توکي موجود دي، خو په ډېرو هېوادونو کې سړي سر خوراکي توکي د افرادو د لازمي تغذيې له اندازې څخه کم دي. چين او بل هر هېواد د زيات نفوس په تراکم سره د خوراکي توکو له کمبود سره مخ دي. احتمالاً په چين کې د تولد او تناسل نرخ په دغه هېواد کې د صنعتي پرمختګ له کبله کم شوی او ستونزه تر يوه حده پورې له منځه يوسي. د هند او جاپان دولتونو هم د نفوس د کنترول لپاره مناسب سياستونه په پام کې نيولي دي.

## د نفوس مطلوب حد:

يوازې د نفوس مقدار د دې څرګندونه نه کوي چې يو هېواد د نفوس له مازاد يا کمبود سره مخ دی. د نفوس د تراکم ټاکلې اندازه (د نفوس شمېر مثلاً په يوه کيلو متر مربع کې) ممکن د يوه هېواد لپاره ډېر لوړ او د بل هېواد لپاره ډېر ټيټ وي. د کاليو يا هر خدمت توليد د توليد ډېرو عواملو ته اړتيا لري، چې انساني ځواک له هغو څخه يو عامل دی او بايد په خاص نسبت سره د محصول د اعظمي حد د لاس ته راوړلو لپاره له نورو عواملو سره ترکيب شي.

د کارګر هغه اندازه چې له نورو عواملو سره د ترکيب په صورت کې، ترې تر ټولو لوړ يا حداکثر محصول ترلاسه کېږي، د يوه هېواد لپاره د نفوس مطلوب حد دی. پر دې اساس، د هر هېواد لپاره د نفوس مطلوب حد د هغه هېواد په طبيعي منابعو او د پانګې په موجودي پورې تړاو لري. په لاندې شکل کې د A توری د يوه هېواد لپاره د نفوس د مطلوب حد څرګندوی دی.




«1- 4 شکل»

(oc د نفوس زياتوالى څرګندوي او od د نفوس د کمبود څرګندوى دى) که چېرته د يوه هېواد د نفوس اندازه له مطلوب حد oa نه لږه وي، هغه هېواد د نفوس له کمبود او که چېرته له مطلوب حد نه زيات وي، د نفوس له مازاد سره مخ دى. پر دې اساس، په هغه هېواد کې چې د طبيعي منابعو له پلوه فقير وي، ممکنه ده چې حتى د لږ نفوس په لرلو سره، د نفوس مازاد ولري او برعکس. د نفوس د مطلوب حد مقدار ثابت نه وي او د وخت په تېرېدو سره بدلون مومي. که چېرته د نورو عواملو عرضه زياته شي، د نفوس د مطلوب حد مقدار هم زياتېږي.[11]

## د نفوس سني وېش:

د نفوس سني وېش د هغه په مقدار سربېره د اهميت وړ دى. د نفوس سني وېش بدلون هم د تقاضا جوړښت ته تغيير ورکوي. له 60 کلونو څخه د زيات عمر کسانو د شمېر زياتېدل او له 20 کلونو څخه د کم عمر کسانو زياتېدل د پاخه عمر کسانو د اړتيا وړ کاليو د تقاضا د زياتېدو او د ځوانو افرادو د اړتيا وړ شيانو د تقاضا د کموالي سبب کېږي. د لاندينى جدول د بريتانيا د نفوس سني وېش تغيير د دوه کلونو (1891 ز او 1965 ز) لپاره ښکاره کوي.

| سن | فيصدي 1891 | فيصدي 1965 |
|---|---|---|
| 0-19 | 45 | 30 |
| 20-49 | 31 | 27 |
| 40-59 | 17 | 25 |
| 60او زيات | 7 | 17 |

«3-4 جدول»

د صنايعو (توليد دغه مسئله د پاخه عمر کسانو لپاره د کاليو توليدنکي زياتوي او د دې باعث کېږي، ترڅو د توليد ډېر عوامل په دغو صنايعو کې جذب شي او برعکس د ځوانانو لپاره د کاليو د توليد صنايع کموي او په دغو صنايعو کې په کار بوختې صنايع وزګاره کوي. په تقاضا کې له دغه تغيير څخه رامنځ ته کېدونکې وزګارتيا د «ساختماني وزګارتيا» په نامه يادېږي.

## د راتلونکي انځور:

کوم اطلاعات چې په اوس وخت کې د نړۍ په هکله په واک ې لرو، هغه اټکلونه دي، چې د بېلابېلو هېوادونو د نفوس پېژندونکو، احصائيه پېژندونکو او د ملګرو ملتونو ادارې د نفوس

[11] -J. L. Hansen, A Textbook of Economics pp. 69 -91.

پېژندنې له خوا وړاندې شوي دي. که څه هم دغه اټکلونه احصائيوي تېروتنې لري، خو له هغه ځايه چې دغه تېروتنې بايد د حقيقي مقاديرو په دواړو خواوو کې خورې شوې وي، تر يوه حده پورې يو بل خنثی کوي او زمونږ احصائيه د نړۍ د نفوس په اړوند تر يوه حده پوره دقيقه ده.

هغه احصائيې چې په راتلونکي کې د نړۍ د نفوس د شمېر په هکله وړاندې کېږي، اټکل نه دی، بلکې دغه محاسبې د ځانګړو فرضياتو پر بنسټ د تولد او تناسل او مړينې په هکله ترسره شوې دي او دغه اطلاعات ترې لاس ته راځي. نو د وړاندې شويو احصائيو دقت زمونږ د فرضياتو په صحت پورې تړاو لري. له 1950 ز کال نه مخکې ترسره شوي اټکلونه د نړۍ د نفوس په هکله له 1950 ز کال نه وروسته اټکلونه له واقعيت څخه کم وو. د دغه کار علت په 1950 ز لسيزه کې د نړۍ د نفوس انفجار و.

د نړۍ د نفوس د راتلونکي انځور د نړۍ له نفوس څخه د ملګرو ملتونو د ادارې د اټکل بررسي په 1960-2000 ز کلونو کې ممکن شوه. دغه بررسي د يادو شويو کلونو لپاره د نړۍ د نفوس اټکل په لاندې شکل وړاندې کوي:

«4 -4 نفوس په ميليارد – د ملګرو ملتونو اټکل 1960-2000»

| | | د تولد او تناسل د نرخ په ثابت فرضولو سره | | د لوړ حد اټکل | |
|---|---|---|---|---|---|
| | 1960 | 1980 | 2000 | 1980 | 2000 |
| نړۍ | 3 | 4,5 | 7,5 | 4,6 | 7 |
| پرمختللي هېوادونه | 1 | 1,2 | 1,6 | 1,2 | 1,6 |
| پرمختيايي هېوادونه | 2 | 3,3 | 5,9 | 3,3 | 5,4 |
| | د متوسط حد اټکل | | | د ټيټ حد اټکل | |
| | 1960 | 1980 | 2000 | 1980 | 2000 |
| نړۍ | 3 | 4,3 | 6,1 | 4,1 | 5,5 |
| پرمختللي هېوادونه | 1 | 1,2 | 1,4 | 1,2 | 1,3 |
| پرمختيايي هېوادونه | 2 | 3,1 | 4,7 | 3 | 4,2 |

د نفوس د نرخ زیاتوالی د پام وړ دوره کې له ځانګړي اهمیت څخه برخمن دی. ځکه دغه نرخ د تولد او تناسل او مړینې د نرخ ترمنځ د توپیر حاصل دی. د تولد او تناسل د نرخ په ثابت فرضولو سره، د نفوس د ودې نرخ په تدریج سره زیاتیږي او د شلمې پیړۍ په پای کې 2,8 فیصدو ته رسیږي. په پرمختللو هېوادونو او سیمو کې دغه نرخ د 3 فیصدو په شاوخوا کې دی، خو په افریقا او لاتینه امریکا کې، 3,5 فیصدو ته هم رسیږي. 5-4 جدول د 4 - 4 جدول اطلاعات د لویې وچې او د نړۍ د مختلفو سیمو پر اساس ښکاره کوي.

«5- 4 جدول د نړۍ نفوس په میلیون 2000 -1960 ز کلونو کې»[12]

| | | د تولد او تناسل په ثابت نرخ سره | | د لوړ حد اټکل | | متوسط حد اټکل | | په ټیټ حد سره اټکل | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | 1960 | 1980 | 2000 | 1980 | 2000 | 1980 | 2000 | 1980 | 2000 |
| ټوله نړۍ | 2998 | 4519 | 7522 | 4551 | 6994 | 4330 | 6130 | 4147 | 5449 |
| پرمختللې سیمې: | | | | | | | | | |
| اروپا | 425 | 496 | 571 | 492 | 563 | 280 | 527 | 467 | 491 |
| روسیه | 214 | 295 | 402 | 296 | 403 | 278 | 353 | 269 | 316 |
| شمالي امریکا | 199 | 272 | 388 | 275 | 376 | 262 | 354 | 248 | 294 |
| اقیانوسه | 16 | 22 | 33 | 23 | 35 | 23 | 32 | 22 | 28 |
| جاپان | 93 | 114 | 127 | 117 | 139 | 111 | 122 | 108 | 115 |
| وروسته پاتې سیمې: | | | | | | | | | |
| چین | 654 | 942 | 1811 | 971 | 1345 | 850 | 1045 | 782 | 893 |
| د ختیځې آسیا نور هېوادونه | 47 | 87 | 175 | 83 | 139 | 80 | 120 | 76 | 110 |
| جنوبي آسیا | 865 | 1446 | 2702 | 1448 | 2444 | 1420 | 2270 | 1378 | 1984 |
| افریقا | 273 | 468 | 560 | 463 | 864 | 449 | 768 | 434 | 684 |
| لاتینه امریکا | 212 | 387 | 736 | 383 | 686 | 378 | 638 | 362 | 532 |

[12] -.G. Ohlin, population control and Economic Development pp. 16- 23

# پنځم څپرکی

## مطلوبیت او تقاضا

د يوې امتعې تقاضا د امتعې د هغه مقدار په معنا ده، چې مصرفونكي يې پېري. عموماً فكري لېوالتيا، دود دستور، موډ او نور عوامل د يوې امتعې د پېرودلو تصميم تر اغېزې لاندې راولي. دغه مسئله چې څه ډول مصرفونكي د يوې امتعې د پېرودلو په اړه تصميم نيسي، پېچلې مسئله ده او توضېح يې د اروا‌پوهنې، ټولنپوهنې، او رفتاري علومو په هكله پوهې ته اړتيا لري. اقتصادپوهانو كار ساده كړی او له هڅې پرته د افرادو د سليقې د په پام كې نيولو لپاره، له ځانه پوښتي د يو مصرف كوونكي د مشخصو رحجاناتو او غوښتنو په پام كې نيولو سره، مصرف كوونكی په څه ډول خپله بودجه د بېلابېلو امتعو ترمنځ وېشي او څه ډول د قېمتونو او د مصرف كوونكو د عوايدو تغيير د بوديجې دغه وېش تر اغېزې لاندې راولي. په دې توګه اقتصادپوهان د مصرف كوونكي د تصميم نيونې د پروسې ډېرى اړخونه له ياده وباسي.

### د دوه امتعو تر منځ ټاكنه، د مطلوبيت اعظمي كول:

خپل بحث له يوې ساده پوښتنې څخه پيلوو. فرض كړئ چې د مصرف كوونكي د عايد مقدار ثابت دی. هغه څه ډول خپل عايد د بېلابېلو امتعو ترمنځ وېشي، ترڅو ډېر رضايت ترلاسه كړي؟

د دغې پوښتنې د ځواب لپاره لانديني مثال ته پام وكړئ. د كور يوه مېرمن په مياشتني ډول 5000 پولي واحده د خوراكي توكو د پېرودلو لپاره په واک كې لري. ددغو پيسو څومره اندازه كولای شي د غوښې (د هر كيلو غوښې قېمت 100 پولي واحده دی) د پېرودلو لپاره او كومه اندازه يې كولای شي په نورو خوراكي توكو (د هرې كيلو متوسط قېمت 40 پولي واحده دی) مصرف كړي. پام وكړئ چې د كور د دغې مېرمنې بودجه (5000 پولي واحده ده) او د دوه امتعو قېمت (100 پولي واحده او 40 پولي واحده دی) د دې د انتخاب لمن محدوده وي. هغه كولای شي چې خپله ټوله بودجه په نورو خوراكي توكو مصرف كړي (له نورو خوراكي توكو څخه 125 كيلو وپېري) يا ټوله بودجه د غوښې په پېرودلو مصرف كړي (50 كيلو غوښه وپېري). البته احتمالاً هغه به له پورتنيو كارونو څخه هېڅ يو هم ونه كړي او د دواړو امتعو تركيب به وپېري. فرض كړئ چې د پېرودل شوې غوښې مقدار X ګرامه او د نورو پېرودل شويو خوراكي توكو مقدار Y كيلو ګرامه وي. لاندې معادله، د دوه امتعو پېرودل شوی مقدار عايد او د دوه امتعو ثابتو قېمتونو ته په پام سره ښكاره كوي:

$$5000=100X+40Y$$

دغه معادله په 1-5 شکل کې ښودل کېږي:

په کلي ډول، که چېرته د مصرف کوونکي عاید B، د لومړي ډول امتعې قېمت P1 او دوهم ډول امتعې قېمت P2 فرض شي، پورتنۍ معادله به په دې ډول وي:

$$B=P1X+P2Y$$




«1 - 5 شکل»

د مصرف کوونکي د بودجې کرښه چې په 1-5 شکل کې ښول شوې، د X او Y د ټولو ترکیباتو څرگندوی ده، چې مصرف کوونکی یې په ثابت عاید سره پېري.

## د بې تفاوتۍ منحني گانې:

مونږ چې د مصرف کوونکي د انتخاب مسئله په دوه برخو وېشو. د مسئلې لومړۍ برخه د بودجې د کرښې په رسمولو سره حل کېږي. دغه کرښه د مصرف کوونکي لپاره د ممکن انتخاب لمنه مشخص کوي. د مسئلې دوهمه برخه دا ده چې دغه خبره مشخص کړو چې له ټاکلو ترکیبونو څخه کوم یو د بودجې د کرښې په مرسته انتخابوي. اوس دغې پوښتنې ته د ځواب ویلو لپاره هڅه کوو.

داسې فرض کړئ، چې تېره میاشت زمونږ د پام وړ د کور یوې مېرمنې له نورو خوراکي توکو څخه 50 کیلو او 30 کیلو غوښه پېرودلې ده (د A نقطه د 2-5 شکل پر مخ) او فرض کړئ چې د میاشتې له پای ته رسېدو مخکې د غوښې له کمبود سره مخ شوې ده.

پر دې اساس، د تېرې مياشتې تجربې ته په کتو، د کور مېرمنې لپاره د پېرودل شويو کاليو ترکيب د A د نقطې په مرسته ښودل کېږي، د نورو ترکيباتو په پرتله چې په هغه کې د پېرودل شوې غوښې مقدار زيات دی، ډېر لږ غوره والی (ارجحيت) لري. د مثال په توګه، له نورو خوراکي توکو څخه د 45 کيلو ګرامه او 32 کيلو غوښه (چې مشابه مصرف د A د نقطې په مرسته د مشخص شوي ترکيب مصرف لري). د دغې مصرف کوونکې له نظره په مخکنې ترکيب باندې ترجيح ورکول کېږي. که د دوه پېرودل شويو امتعو ترکيب چې د A د نقطې په مرسته مشخص کېږي، په پام کې ونيسو، د دوه نورو امتعو پېرودل شوي ترکيبات کولای شي د A له نقطې سره درې ډوله رابطې ولري:




« 2 – 5 شکل»

1– هغه ترکيبات چې د A د نقطې په مرسته ټاکل شوي ترکيب باندې ترجيح ورکول کېږي.

2– هغه ترکيبات چې د A د نقطې په مرسته ټاکل شوي ترکيب باندې ترجيح نه ورکول کېږي.

3– هغه ترکيبات چې د A د نقطې په مرسته د ټاکل شوي ترکيب په اندازه مصرف کوونکي ته رضايت وربخښي.

پام مو وي که چېرته په يو ترکيب کې د کاليو شامل مقدار له يو دوه وو څخه زيات او د نورو امتعو برابر مقدار، نسبت مشخص شوي ترکيب ته د A د نقطې په مرسته وي، حتماً به د A د نقطې په مرسته مشخص شوي ترکيب ته ترجيح ورکړل شي. په دې ترتيب، د B نقطې په مرسته

مشخص شوی ترکیب (30 کیلو غوښه، 70 کیلو نور خوراکي توکي) او د C د نقطې په وسیله مشخص شوی ترکیب (35 کیلو غوښه، 50 کیلو نور خوراکي توکي د A د نقطې په وسیله دواړه مشخص شوي ترکیبونه (30 کیلو غوښې، 50 کیلو نورو خوراکي توکو) ترجیح ورکول کېږي. په همدې استدلال، د D د نقطې په مرسته مشخص شوی ترکیب (25 کیلو غوښه، 50 کیلو نور خوراکي توکي) په مشخص شوي ترکیب سره د A د نقطې په وسیله ترجیح نه ورکول کېږي. همدغه مسئله د E د نقطې (30 کیلو غوښې، 25 کیلو نورو خوراکي توکو لپاره هم صدق کوي. په پورتني بحث کې، فرض مو کړه چې عموماً مصرفونکی د امتعې زیات مقدار ته په کم باندې ترجیح ورکوي او په دې توګه که مصرف کوونکی وکولای شي له دوه امتعو څخه زیات مقدار ولري، پرته له دې چې د نورو امتعو مقدار راکم شي، زیات رضایت به ترلاسه کړي. یو ځل بیا د D د نقطې په مرسته مشخص شوی ترکیب په پام کې ونیسئ، چې د A د نقطې په وسیله د مشخص شوي ترکیب په وسیله، د لږ مقدار غوښې لرونکی دی. او که چېرته له نورو خوراکي توکو څخه لږ مقدار مصرف کوونکي ته ورکړو، مصرف کوونکی به د D له نقطې څخه د شمال په لور حرکت وکړي. که چېرته اوس هم دغه نوي ترکیب ته هم چې د A د نقطې په وسیله مشخص شوی ترجیح ورنه کړل شي، کولای شو له نورو خوراکي توکو څخه زیات مقدار د مصرف کوونکي ته په واک کې ورکړو، نهایتاً د نورو وړاندې شویو خوراکي توکو په اضافه کولو سره، مصرف کوونکي ته، مصرف کوونکی د 'A نقطې ته رسېږي. فرضوو چې مصرف کوونکي د 'A په نقطه کې د A د نقطې په څېر ترلاسه کېدونکی رضایت ترلاسه کوي.

پورتنی بحث، بل فرض موږ ته مشخص کوي. د دوه امتعو د تعویض فرض. پر دې اساس، که چېرته د امتعې لږ مقدار له یو ترکیب څخه لرې کړو، د دغو امتعو د مصرف د کموالي نه په رضایت کې رامنځ ته کېدونکی کموالی د نورو امتعو د مصرف په زیاتوالي سره جبران کېدلی شي. پر دې اساس، د D له نقطې څخه تېرېدونکې عمودي نقطه وجود لري چې د A په اندازه مصرف کوونکي ته رضایت ورکوي، دا هماغه د 'A نقطه ده.

پورتنی بحث کولای شو چې د C د نقطې په وسیله وړاندې کړو. یاد شوی ترکیب د A د نقطې په مرسته د مشخص شوي ترکیب په پرتله د زیاتې غوښتې لرونکی دی. پر دې اساس، که د C نقطې ښکته خوا ته حرکت وکړو، ترڅو د "A په څېر نقطې ته ورسېږو. د "A په نقطه کې د A د

نقطې له ترکیب نه مونږ 5 کیلو زیاته غوښه او د A د نقطې د ترکیب په پرتله د نورو خواکي توکو مقدار کم دی او د A د نقطې په هماغه ترکیب سره د مصرف کوونکي د رضایت سبب کیږي.

د C او D نقاط هیڅ ډول ځانګړنه نه لري. که چیرته خپل بحث له بلې هرې نقطې نه د افقي خط پر مخ چې د A له نقطې نه تیریږي پیل کړو، کولای شو چې په ښکته یا پورته حرکت سره د A' او A'' په څیر نقاط چې د A نقطې په اندازه مصرف کوونکو ته رضایت ورکوي، لاس ته راوړو. که چیرته دغه کار څو ځله ترسره کړو او لاس ته راغلي نقاط سره وصل کړو، داسې منحني به چې د A، A' او A'' نه تیریږي لاس ته راوړو، چې د هغه پر مخ هره نقطه د دوه امتعو د ترکیب څرګندوی دی، چې مصرف یې سم مصرف کوونکي ته د دوه کالیو په اندازه په داسې ډول چې د A په نقطه کې مشخص شوی، رضایت ورکوي. دغې منحني ته د مصرف کوونکي د بې تفاوتۍ منحني وایو. پر دې اساس، د بې تفاوتۍ هره منحني د دوه مختلفو امتعو د ترکیباتو څرګندوی وي، چې مصرف کوونکي ته مشابه مقدار رضایت وړاندې کوي.

د مصرف کوونکي بودجې ته په نه کتو، کولای شو، د هغه لپاره د ډیرې د بې تفاوتۍ منحني ګانې رسم کړو. په 3 -5 شکل کې د بې تفاوتۍ درې منحنې ګانې ښودل شوي دي. لومړۍ منحني یې د B له نقطې، دوهمه منحني یې د A له نقطې او دریمه منحني یې د E له نقطې نه تیریږي.




« 3 – 5 شکل »

زمونږ د فرضيې پر اساس، کوم رضايت چې هر ترکيب يې د بې تفاوتۍ د منحني پر مخ چې له B نقطې څخه تېرېږي، مصرف کوونکي ته ورکوي، د هغو ترکيباتو له رضايت څخه زيات دی چې د بې تفاوتۍ منحني د هغه په وسيله چې د A له نقطې څخه تېرېږي.

کومې مسئلې ته چې بايد دلته پام وکړو، هغه دا ده چې هر څومره چې مصرف کوونکی امتعه زياته مصرف کړي، اهميت يې راټيټېږي، يعنې هرڅومره چې د يوې امتعې مصرف زيات شي، کوم رضايت چې د امتعې د يو اضافي واحد مصرف يې وړاندې کوي، کموالی مومي.

دغه مسئله د نزولي نهايي مطلوبيت د (رضايت د قانون) په نامه پېژندل کېږي. اوس د بې تفاوتۍ د منحني ګانو موجود اطلاعات د بودجې د خط له موجودو اطلاعاتو سره ترکيبوو. 4- 5 شکل په پام کې ونيسئ. په دغه شکل کې، د بودجې کرښه د بې تفاوتۍ له څلورو منحني ګانو سره ښودل شوې ده.




«4 -5 شکل»

زمونږ د پام وړ د کور مېرمن نه شي کولای د دوه امتعو ترکيبات، چې دغه شمېرې د بې تفاوتۍ د منحني په مرسته معرفي کېږي، خريداري کړي. ځکه چې د دغه منحني ټول نقاط د بودجې د کرښې له پاسه راځي. خو هغه کولای شي د 2 منحني مشخص شوي ترکيب په وسيله او نور ترکيبات چې د 3 او 4 منحني ګانو په وسيله مشخص کېږي وپېري. خو د دې لپاره چې تر ټولو

زيات رضايت لاس ته راوړي، داسې یو ترکیب انتخابوي چې د بې تفاوتی له ټولو منحني ګانو څخه لوړ وي. د کور د مېرمنې انتخاب شوی ترکیب د C د نقطې په مرسته مشخص کېږي (26 کیلو غوښه، 60 نور خوراکي توکي).

پورتني بحث ته په کتو، د مصرف کوونکي د انتخاب مسئله د مشخصې بودجې، ثابتو قیمتونو او د مصرف کوونکي د سليقې په پام کې نیولو سره واضح شول.

هغه مسئله چې باید پام ورته وشي، هغه دا ده چې د C په نقطه کې د مصرف کوونکي د بودجې له خط سره مماس ګرځي. او په دغه ټکي کې ده چې مصرف کوونکی خپلې بودجې ته په کتو ډېر رضایت یا مطلوبیت لاس ته راوړي. پر دې اساس، ویلای شو چې؛ مصرف کوونکی د دوه امتعو هغه ترکیب انتخابوي چې په هغه کې د ده د بې تفاوتی منحني د هغه د بودجې له کرښې سره مماس ګرځي[13].

**تقاضا:**

د مصرف کوونکي د انتخاب له بحث نه وروسته اوس غواړو، د تقاضا د مسئلې نظریه وڅېړو. زموږ هدف دا دی ترڅو دا ومومو، چې کوم عوامل د هغې امتعې مقدار تر اغېزې لاندې راولي، چې مصرف کوونکی یې پېري.

په کلي توګه د هرې امتعې مقدار چې مصرف کوونکی یې پېري په درې عواملو؛ د امتعې په قیمت، د نورو امتعو په قیمت او د مصرف کوونکي په عاید (بودجې) پورې تړاو لري.

د دې لپاره چې د هر یو پورتني متغیر تغییرات د مصرف کوونکي د تقاضا په مقدار وڅېړو، په لومړي سر کې د متغیراتو دوه ډلې ثابتې فرضوو او بیا وروسته د دریيمې ډلې د تغییراتو اغېزه د تقاضا وړ مقدار باندې څېړو.

**الف- د امتعې قیمت**[14]: د یوې امتعې قیمت، د پیسو هغه ورکړه ده چې په مقابل کې یې امتعه ورکول کېږي. که چېرته د مصرف کوونکي عاید او د نورو امتعو قیمت ثابت په پام کې ونیسو د

[13] - R. Dorfan. Prices and markets, pp . 69 -84.

14- مهدي تقوی، مقدمه اي بر تجزیه و تحلیل اقتصاد میکرو، 188- 89 مخونه .

امتعې پېرودل شوی مقدار یوازې د هغه په قېمت پورې تړاو پیدا کوي. له هغه ځایه چې عموماً د امتعې د قېمت زیاتوالی د تقاضا د کموالي او د قېمت کموالی د تقاضا د زیاتوالي باعث ګرځي نو داسې به وي، چې:

$$\frac{\text{د مقدار تغییرات}}{\text{د قېمت تغییرات}} < 0$$




«5 – 5 شکل»

د تېرې نامعادلې پر اساس، د تقاضا د منحني میلان منفي دی. پر دې اساس، د قېمت او پېرودل شویو امتعو د مقدار رابطه کولای شو د 5 - 5 شکل په مرسته وښیو.

د مصرف کوونکي د غبرګون د عکس العمل شدت د امتعې د پېرودلو پر مهال د قېمت د تغییراتو پر وړاندې، په اقتصاد کې د تقاضا د قېمتي ارتجاعیت په معیار باندې اندازه کوو. د تقاضا قېمتي ارتجاعیت مساوي دی له، د تقاضا وړ مقدار نسبي تغییرات چې د امتعې د قېمت په نسبي تغییراتو و وېشل شي:

$$EP = \frac{\text{د مقدارد د تغییراتو فیصدي}}{\text{د جهت د تغییراتو فیصدي}} = \frac{\frac{\Delta Q \times 100}{Q}}{\frac{\Delta P \times 100}{P}} = \frac{\Delta Q}{\Delta P} \times \frac{P}{Q}$$

بېلابېلې امتعې د قیمت د ارتجاعیت له پلوه په درې کټګوریو وېشل کېږي:

1- **غیر ارتجاعي امتعه:** دا هغه امتعه وي، چې د هغوی لپاره EP=0 یعنې د امتعې د قیمت تغییرات د مصرف کوونکي د پام وړ امتعې د تقاضا په مقدار کې تغییر نه رامنځ ته کوي. غیر ارتجاعي امتعې د تقاضا منحني داسې دی چې په 6 – 5 شکل کې رسم شوی دی.




«6 – 5 شکل»

لکه څنګه چې ګورئ په بېلابېلو قیمتونو کې د مصرف کوونکي تقاضا ثابته او له Q0 سره برابره ده.

2- **فوق العاده ارتجاعي:** دا هغه امتعه ده چې د هغې لپاره EP=∞ وي، یا په بله وینا، د دا ډول امتعې د قیمت تغییر، په مصرف کوونکي کې ډېر شدید عکس العمل ایجادوي. د کالیو د دغه ډول لپاره د تقاضا منحني په 7 – 5 شکل کې ښودل شوی دی. کله چې د امتعې قیمت له P0 نه P1ته راټیټ شي، د مصرف کوونکي تقاضا په فوق العاده زیاتې اندازې سره زیاتوالی مومي.




«7- 5 شکل»

3- **ارتجاعي امتعه:** د دغې امتعې لپاره 0>EP>∞- وي. د دغه ډول امتعې د تقاضا منحني په 8 – 5 شکل کې ښودل شوی دی.




«8 - 5 شکل»

**ب- د نورو امتعو قیمت:** د نورو امتعو قیمت، د متغیراتو په دوهمه کټګورۍ کې راځي کوم چې د مصرف کوونکي د تقاضا مقدار تر اغیزې لاندې راولي. د مصرف کوونکي په تقاضا باندې د نورو امتعو د قیمت د تغییر اغیزې د تشخیص لپاره (Pi) د امتعې خپل قیمت او د مصرف کوونکي عاید (Y) ثابت فرضوو. په دې صورت کې د امتعې پېرودل شوی مقدار یوازې د نورو امتعو په قیمت پورې تړاو پیدا کوي. دوه ډوله امتعه لکه X او Y کولای شي له یو بل سره دوه ډوله رابطې ولري. دغه

دوه کالي یا د یو بل مکمل او یا هم له یو بل سره تعویضي وي. دوه امتعې هغه وخت د یو بل د مکمل په توګه پېژندل کېږي چې د دغو دواړو مصرف د یو بل له مصرف نه پرته امکان ونه لري، د مثال په توګه، موټر او تېل. دوه امتعې X او Y هغه وخت د یو بل تعویضي امتعې بلل کېږي چې د یوه نه مصرف د بل په مصرفولو سره جبران شي. د مثال په توګه، بوره او قند یا ګوړه او چاکلېټ. کله چې دوه امتعې د یو بل مکمل وي، لرو چې:

$$\frac{\text{د مقدار تغییرات}}{\text{د قیمت تغییرات}} = \frac{\Delta Qx}{\Delta Py} < 0$$

یعنې په دغه حالت کې به د تقاضا د منحني میلان منفي وي. 9– 5 شکل د دا ډول تقاضا منحني ښکاره کوي.




«9- 5 شکل»

لکه څنګه چې په 9- 5 شکل کې ښودل شوي دي، د تېلو د قیمت په زیاتوالي سره به موټر ته د مصرف کوونکي تقاضا راکمه شي، په هغه صورت کې چې دوه امتعې X او Y د یو بل تعویضي وي، لرو چې $\frac{\Delta Qx}{\Delta Py} > 0$ یعنې د تقاضا د منحني میلان به مثبت وي 10 – 5 شکل دغه مسئله ښکاره کوي.




«10 – 5 شکل»

يعنې د بورې Py د قېمت زياتوالی قند Qx ته تقاضا زياتوي. د X د امتعې د پېرودلو پر وخت د مصرف کوونکي عکس العمل د (Py) د نورو امتعو د قېمت د تغيير په مقابل کې د تقاضا ضربدري ارتجاعيت په مرسته اندازه کوو.

$$EC = \frac{\text{د مقدار د تغييراتو فيصدي X}}{\text{د قېمت د تغييراتو فيصدي Y}} = \frac{\Delta Qx}{\Delta Py}\frac{Py}{Qx}$$

واضح ده که چېرته X او Y د يو بل مکمل وي $Ec=<0$

او که چېرته X او Y تعويضي وي: $EC>0$

**ج- د مصرف کوونکي عايد:** دريم متغيير چې د يوې امتعې لپاره د مصرف کوونکي تقاضا تر اغېزې لاندې راولي، د مصرف کوونکي عايد (Y) دي. په دې برخه کې، د امتعې قېمت او د نورو امتعو قېمت ثابت فرض کېږي. پر دې اساس، د امتعې پېرودل شوی مقدار يوازې د مصرف کوونکي په عايد پورې تړاو لري.

امتعه د پېرودل شوي مقدار او د عايد له نظره په دوه برخو باندې وېشو؛ ادنی او معمولي امتعه.

**ادنی امتعه:** هغه امتعه ده چې د مصرف کوونکي د عاید په زیاتوالي سره تقاضا ورته کموالی مومي، د مثال په توگه ډوډۍ.

**معمولي امتعه:** هغه امتعه ده، چې د مصرف کوونکي د عاید په زیاتېدو سره تقاضا ورته زیاته شي. لکه غوښه. په هغه صورت کې چې ادنی امتعه وي، لرو چې:

$$\frac{\Delta Qx}{\Delta y} < 0$$

پر دې اساس، د تقاضا د منحني میلان به په دغه حالت کې منفي وي. 11– 5 شکل دغه مسئله ښکاره کوي.




«11 – 5 شکل»

یعنې د مصرف کوونکي د عاید کموالی، د ادنی امتعې د تقاضا د زیاتوالي باعث گرځي. په هغه صورت کې چې X، معمولي امتعه وي، لرو چې:

$$\frac{\Delta Qx}{\Delta y} > 0$$

یعنې د تقاضا د منحني میلان مثبت دی. 12– 5 شکل دغه مسئله ښکاره کوي.




«12 – 5 شکل»

يعنې د مصرف کوونکي د عايد زياتوالی، معمولي امتعې ته د هغه د تقاضا د زياتوالي باعث گرځي.

د مصرف کوونکي د عکس العمل شدت د عايد د تغييراتو پر وړاندې، د تقاضا عايدي ارتجاعيت په نامه يادېږي او په دې ډول دی:

$$EY = \frac{\text{د مقدار د تغييراتو فيصدي}}{\text{د عايد د تغييراتو فيصدي}} = \frac{\Delta Qx}{\Delta Y} \times \frac{Y}{Qx}$$

په هغه صورت کې چې X ادني امتعه وي. Ey<0

او په هغه صورت کې چې X معمولي امتعه وي. EY>0

## شپږم څپرکی

### تولید، مصرف او عرضه

د شرکتونو یا تولیدي واحدونو هدف، چې په اقتصاد کې ورته اقتصادي موسسه وایو، د ګټې اعظمي کول دي. نو موسسه د تولید له عواملو (کار، ځمکې، پانګې او اداري) څخه په ګټې اخیستنې سره امتعه تولیدوي او هڅه کوي ترڅو په بازار کې د هغو په پلورلو سره ګټه لاس ته راوړي. د اقتصادي موسسې دنده په امتعې باندې د خامو موادو د شکل بدلول او په بازار کې د خرڅلاو وړ خدماتو باندې د تولید د عواملو د شکل بدلول دي.

هغه مهمه مسئله چې د تولید په ارتباط باید په پام کې ونیول شي، د نزولي حاصل قانون دی. په لومړیو کې اقتصادپوهانو باور درلود چې دغه قانون یوازې د ځمکې د تولید عامل په برخه کې صدق کوي، خو اوس د دغه قانون تطبیق یوازې په ځمکې پورې محدود نه دی پاتې شوی او دغه قانون د تولید د نورو عواملو په هکله هم صدق کوي.

د نزولي حاصل قانون د دغې مسئلې څرګندوی دی، چې که چېرته د تولید یو یا څو عوامل ثابت پاتې شي، د تولید د یو یا څو عواملو زیاتوالی د دې باعث ګرځي، چې اوسط تولید د تولید د عامل یا عواملو په رابطه تغییر وکړي او په تولید باندې زیاتېدونکی مقدار په تریجي ډول کموالی ومومي. که چېرته دغه قانون صدق نه کاوه، نو هېڅ محدودیت به په ځمکه کې د محصول د تولید د اندازې لکه د یو هکتار ځمکې په پراخوالي سره موجود نه و.

د مثال په توګه، داسې فرض کړئ چې یوه ټوټه تولیدي ځمکه او پانګه ثابته او کوم کارګر چې د ځمکې او پانګې پر دغه ثابت مقدار کار کوي، بدلون مومي. دغه مسئله په 1- 6 جدول کې ښودل شوې ده. متوسط حاصل یا په تولید باندې اضافه شوی مقدار، لکه چې جدول یې ښکاره کوي د 4 کارګر تر استخدامولو پورې زیاتوالی مومي او له هغه نه وروسته متوسط او اضافي تولید ښکاره کوي. 1- 6 شکل د هر کاریګر اضافي تولید ښکاره کوي.

«1- 6 جدول، د تولید په متغییر عامل کارگر سره نزولي حاصل»

| د کارگرو شمېر | د ځمکې ثابت مقدار | د پانگې ثابت مقدار | د تولید مقدار | د هر کارگر لپاره متوسط تولید | د هر کارگر لپاره اضافي تولید |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | 2 | 8 | 10 | 10 | 10 |
| 2 | 2 | 8 | 20 | 15 | 20 |
| 3 | 2 | 8 | 60 | 20 | 30 |
| 4 | 2 | 8 | 100 | 25 | 40 |
| 5 | 2 | 8 | 120 | 24 | 20 |
| 6 | 2 | 8 | 132 | 22 | 12 |
| 7 | 2 | 8 | 140 | 20 | 8 |
| 8 | 2 | 8 | 146 | 18 | 6 |




«1- 6 شکل»

لکه څنگه چې يې 1- 6 شکل ښکاره کوي، د توليد په لومړيو مراحلو کې د توليد د متغيير عامل په زياتوالي سره اضافي توليد[15] زياتوالی مومي، خو په وروستيو مراحلو کې د نزولي حاصل قانون په عمل پيل کوي او د توليد د متغيير عامل په زياتېدو سره اضافي توليد کموالی مومي.

## مقياس ته ورگرځېدل:

که چېرته د توليد عوامل ځمکه، کار، او پانگه د امتعې د توليد لپاره په ثابت نسبت باندې له يو بل سره ترکيب شي، مدير به د نسبتونو له مسئلې سره مخ نه شي. خو تر اوسه هم بايد د توليد د مقياس په اړه تصميم نيونه وکړي، ځکه د توليد عوامل کېدای شي په ثابت نسبت له يو بل سره ترکيب شي، خو د توليد بېلابېلې سطحې به وړاندې کړي. د مثال په توگه په 2- 6 جدول کې د توليد د عواملو په کار وړل شوی مقدار د درېيو اقتصادي واحدونو په واسطه په متفاوتو مقدارونو سره ښودل شوی دی.

| تصدي | د ځمکې اندازه | د کارگرو شمېر | د پانگې مقدار |
|---|---|---|---|
| الف | 1 | 20 | 8 |
| ب | 5 | 100 | 40 |
| ج | 10 | 200 | 80 |

«2- 6 جدول»

درې اقتصادي موسسې الف، ب او ج د توليد عوامل په ورته نسبتونو سره له يو بل سره ترکيبوي، خو ب موسسه له الف نه او ج له ب موسسې څخه لويه ده. امکان لري د موسسې پراختيا يا د اندازې زياتوالی له الف څخه ب ته د نهايي توليد (متوسط توليد) د زياتوالي باعث شي. په دغه وخت کې وايو چې د توليد د اندازې زياتوالی له ب نه د ج اندازې ته کمېدونکی دی. په هغه صورت کې چې د موسسې لپاره زيات ظرفيت ولري او په دغې اندازه کې د مصرف متوسطه اندازه د

15- دلته له اضافي توليد څخه نهايي توليد Marginal produt هدف دی.

موسسې لپاره په اصغري حد کې وي. خو د اقتصادي موسسې ظرفیت په کومو عواملو پورې تړاو لري؟ د اقتصادي موسسې د مطلوبې اندازې برداشت ته کولای شو په حاصل پورې اړوندو قوانینو سره ارتباط ورکړو. پر دې اساس، د اقتصادي موسسې د مطلوبې اندازې مسئلې ته له دوه اړخونو څخه گورو:

1- کومه موسسه چې مطلوبه اندازه لري، باید د تولید عوامل په غوره نسبت له یو بل سره ترکیب شي.

2- موسسه باید دومره مقدار تولید کړي، چې د تولید هغې سطحې ته له رسېدو وړاندې د زیاتېدونکي مقیاس د راگرځېدو لرونکې وي.

پر دې اساس، د موسسې پراختیا هغه مهال چې د تولید د عواملو حاصل نزولي شي یا کله چې مقیاص ته راگرځېدل کمېدونکي شي، باید ودرېږي (متوقف شي). د تولید د اندازې په دغې نقطه کې د مطلوبې اندازې لرونکې ده.

د اقتصادي موسسې پراختیا او مطلوبې اندازې ته رسېدل د 3- 6 جدول په ډول ترسره کېږي. فرض کړئ، چې Y د تولید د متغییر عامل مصرف او X د تولید د ثابتو عواملو مصرف څرگندوی دی. د تولید په لومړیو پړاوونو کې، موسسه د مطلوبې اندازې پر لور حرکت کوي، د Y زیات مقدار د X له ثابت مقدار سره ترکیب کېږي.

«3- 6 جدول»

| د تولید عوامل | | | ټول تولید | د هر واحد لپاره متوسط تولید | |
|---|---|---|---|---|---|
| | X | Y | | | |
| | 5 | 1 | 20 | 10 | د زیاتېدونکي او صعودي حاصل مقیاس ته راګرځېدل |
| | 5 | 2 | 24 | 12 | |
| | 5 | 3 | 39 | 13 | |
| مطلوبه اندازه | 5 | 4 | 52 | 13 | |
| | 5 | 5 | 63 | 12,6 | د کمېدونکي او نزولي حاصل مقیاس ته راګرځېدنه |
| | 5 | 6 | 74 | 12,3 | |
| | 5 | 7 | 82 | 11,2 | |

د تولید د عواملو د 5X+4Y په ترکیب سره، د Y متوسط تولید اعظمي حد ته رسېږي. پر دې اساس، دغه ترکیب، د تولید د عواملو د تر ټولو غوره ترکیب ښکارندوی دی.

دوهم پړاو، د اقتصادي موسسې په پراختیا کې د موسسې د اندازې وده ده. 4- 6 جدول د تولید په مختلفو مقیاسونو کې د تولید د عواملو تر ټولو غوره ترکیب ښکاره کوي.

د تولید د عواملو د دوه یا درې برابره کولو په لومړي پړاو کې د تولید د هر عامل اندازه د تولید په اندازه کې د متناسب زیاتوالي باعث ګرځي. پر دې اساس، مقیاس ته راګرځېدل ثابت دي Constant return to scale. که چېرته د تولید مقیاس زیاتوالی ومومي (نسبت د عواملو ترکیب ته ثابت پاتې شي) د 30X+24Y تر ترکیبه پورې مقیاس ته راګرځېدل زیاتېدونکي دي او وروسته له هغه مقیاس ته راګرځېدل کمېدونکي ګرځي. دغه ترکیب د موسسې د مطلوبې اندازې سره په ارتباط کې د عواملو د نسبت د ترکیب او د تولید د مقیاس ښکارندوی دی.

«4- 6 جدول»

| د تولید عوامل | | | ټول تولید | د Y د هر واحد لپاره متوسط تولید | |
|---|---|---|---|---|---|
| | X | Y | | | |
| | 5 | 4 | 52 | 13 | ثابت مقیاس ته راګرځېدل |
| | 10 | 8 | 104 | 13 | |
| | 15 | 12 | 156 | 13 | |
| د تر ټولو غوره تولید اندازه | 30 | 24 | 320 | 13,6 | زیاتېدونکي مقیاس ته راګرځېدل |
| | 60 | 48 | 600 | 12,5 | کمېدونکي مقیاس ته راګرځېدل |

تر هغه وخته پورې چې موسسه د تولید دغې سطحې ته ونه رسېږي، مقیاس ته د زیاتېدونکي راګرځېدو په شرایطو کې به عمل وکړي او که چېرته اقتصادي موسسې ته له دې نه زیاته پراختیا ورکړو، حاصل نزولي کېږي او مقیاس ته راګرځېدل به کمېدونکي شي. په همدې ترتیب، د تولید په سطح کې هر ډول کموالی د صعودي او زیاتېدونکي اندازې ته د ورګرځېدو باعث ګرځي.

5- 6 جدول په پام کې ونیسئ. د تولید زیاتوالی تر 100 واحدو پورې له صعودي حاصل سره یو ځای او مقیاس ته راګرځېدل زیاتېدونکي وي او په هغه صورت کې چې حاصل له 100 واحدو څخه زیات او یا له هغه څخه لږ شي، د حاصل د ورکړې اندازه به کموالی ومومي (دلته د حاصل د ورکړې له اندازې څخه هدف د هر عامل متوسط تولید یا د اضافي تولیدي عامل د استخدام لپاره اضافي تولید دی[16]).

[16] -J. L. Hansen. A. Textbook of Economics pp. 116 – 126.

«5- 6 جدول»

| | د کارگرو شمېر (د ځمکې او پانګې اندازه ثابته ده) | د تولید شمېر | د هر کارگر متوسط تولید |
|---|---|---|---|
| | 1 | 10 | 10 |
| | 2 | 30 | 15 |
| | 3 | 60 | 20 |
| مطلوبه اندازه | 4 | 100 | 25 |
| | 5 | 120 | 24 |
| | 6 | 132 | 22 |
| | 7 | 140 | 20 |
| | 8 | 146 | 18 |

د 5- 6 جدول په وسیله وړاندې شوي اطلاعات کولای شو د 2- 6 شکل په مرسته وښیو.




«2- 6 شکل»

## مصرف:

د یوې اقتصادي موسسې د اړتیا وړ خدماتو ته د تولید د عواملو د لاسته راوړلو لپاره د ورکړل شویو پیسو په توگه پېژندل کېږي. د هرې اقتصادي موسسې مصرف په دوه برخو؛ ثابتو او

متغییرو مصارفو باندې وېشل کېږي. ثابت مصارف د تولید شوې امتعې هغه برخه ده، چې مقدار یې د تولید شوې امتعې اندازې ته له پامنیوي پرته ثابت پاتې کېږي. د مثال په توګه، د کار خانې د تعمیر د بیمې مصارف، د ښاروالۍ عوارض او نور دې خبرې ته له پاملرنې پرته چې موسسه په کومه اندازه امتعه تولیدوي، ثابت وي او په میاشتني ډول ورکول کېږي. د عامل مدیر د حقوقو مصارف هم د ثابتو مصارفو په توګه په پام کې نیولای شو.

متغیر مصارف د موسسې د مصارفو هغه برخه ده چې مقدار یې د موسسې د تولید په اندازې پورې تړاو لري. د مثال په توګه، د کارګرو مزد، د خامو موادو د پېرودلو مصارف او هغوی ته ورته متغیر مصارف دي. ځکه، که چېرته موسسه امتعه تولید نه کړي د دغو اقلامو مصارف د موسسې لپاره له صفر سره برابر دی او د تولید د اندازې په زیاتوالي سره، دغه مصارف زیاتوالی مومي.

کله چې یوه اقتصادي موسسه د خپل تولید اندازه زیاتوي، طبعیتاً د موسسې متغیر مصارف تغییر کوي. خو د مصارفو د تغییر طریقه په هغو عواملو پورې تړاو لري چې د موسسې ظرفیت تر اغېزې لاندې راولي او په خپله د موسسې ظرفیت هم د تولید د اندازې تر اغېزې لاندې دی. غالباً موسسې د تولید په ډېرو لوړو سطحو کې له عدم ظرفیت سره مخ کېږي، د دغه کار علت او په مصارفو باندې د هغه د اغېزې څرنګوالی کولای شو چې د مثال په وړاندې کولو سره واضح کړو.

6- 6 جدول د تولید د اندازې له کبله د مصارف د تغییر څرنګوالی ښکاره کوي. لومړی کالم په یوه میاشت کې د یوې موسسې د تولید د اندازې ښکاره کوونکې ده. دوهم کالم د میاشتې د ثابتو مصارفو اندازه چې د تولید د ټولو سطحو لپاره 1000 پولي واحده دی، ښکاره کوي. درېیم کالم د تولید د هرې سطحې لپاره متغیر مصارف مشخص کوي. څلورم کالم د ثابتو او متغیرو مصارفو مجموعه یا کلي مصارف ښکاره کوي. پنځم کالم د څلورم کالم د تقسیم حاصل په لومړي کالم (ټول تولید/ټول مصرف) دی او په اصطلاح کې د متوسط تولید په نامه یادېږي. شپږم کالم د یوې اضافي تولیدي امتعې مصارف چې په اقتصاد کې د نهایي مصارف په نامه یادېږي، مشخص کوي. د مثال په توګه، د 7 پولي واحدو شمېره د دوهم ردیف وروستي کالم کې په لاندې شکل کې لاسته راغلي دي:

$$2600 - 1900 = 700$$

د 100 اضافي واحدو د تولید مصارف = د 100 واحدو مصارف – د 2000 واحدو د تولید مصارف، نو.

$$\text{نهايي مصرف } 7 = \frac{\text{د } 100 \text{ واحده اضافي توليد مصرف } 700}{\text{د اضافي واحدونو شمېر } 100}$$

«6- 6 جدول»

| مياشنى توليد | ثابت مياشتنى توليد | متغير توليد | مجموعي مصارف | متوسط مصارف | نهايي مصارف |
|---|---|---|---|---|---|
| 100 | 1000 | 900 | 1900 | 19 | - |
| 200 | 1000 | 1600 | 2600 | 13 | 7 |
| 200 | 1000 | 2200 | 3200 | 10,67 | 6 |
| 400 | 1000 | 2800 | 3800 | 9,5 | 6 |
| 500 | 1000 | 3400 | 4400 | 8,8 | 6 |
| 600 | 1000 | 4050 | 5050 | 8,42 | 6,5 |
| 700 | 1000 | 4750 | 5750 | 8,21 | 7 |
| 800 | 1000 | 5550 | 6550 | 8,19 | 8 |
| 900 | 1000 | 6500 | 7500 | 8,33 | 9,5 |
| 1000 | 1000 | 7650 | 8650 | 8,65 | 11,5 |
| 1100 | 100 | 9050 | 10050 | 9,14 | 14 |

لکه څنګه چې ګورئ د 100 واحده توليد په سطحه کې مياشتني متغير مصارف 900 پولي واحده او ټول مصارف 1900 پولي واحده دي. په دې توګه د هر واحد د توليد مصارف 19 پولي واحده دي. اوس که چېرته د توليد اندازه په مياشت کې 200 ته ورسوو، ثابت مصارف به تغيير ونه کړي، خو متغير مصارف به په مياشت کې 1600 پولي واحده زيات شي او په پاي کې به مجموعي مصارف 2600 واحده شي.

په مطلب باندې د ښه پوهېدو لپاره يو ځل بيا د مصارفو درې برداشته چې زمونږ په وروستي بحث کې ډېر اهميت لري، تعريفوو:

1- مجموعي مصارف د توليد د هرې اندازې لپاره د توليد د هماغې اندازې لپاره د ټولو ثابتو او متغيرو مصارفو مجموعه ده.

2- متوسط مصارف د توليد د هرې اندازې لپاره د توليد په مقدار باندې د مجموعي مصارفو د تقسيم حاصل دی.

3- نهايي مصارف په مجموعي مصارفو کې د توليد د مقدار د زياتوالي له کبله د اضافي واحد مصارف دي.

په مجموعي مصارفو کې د مصارفو مهمه برخه، له متوسطو او نهايي مصارفو څخه متغير مصارف دي. د 6- 6 جدول پر اساس، د 100واحده توليد لپاره دغه مصارف 900 پولي واحده او د 100 نورو واحدونو لپاره 700 پولي واحده دي. خو د دوهم 100 واحدو لپاره کار ترسره کېږي، يوه اندازه کار د 100 واحده دوهمو توليداتو ته هم ترسره کېږي، د مثال په توګه، د خامو موادو د پېرودلو سپارښتنه بايد بيا تکرار نه شي. د 200 توليدي واحدو متوسط مصرف 13 پولي واحده دی.

که چېرته توليد د 100 واحدو په اندازه نور هم زيات کړو، يوازې 600 پولي واحده په متغيرو او مجموعي مصارفو اضافه کېږي او متوسط مصارف 10,67 پولي واحده کموالی مومي او د توليد نهايي مصارف د 6 افغانيو په اندازه کموالی مومي. د متوسطو او نهايي مصارفو کموالی تر 600 توليدي واحدونو پورې دوام مومي خو له هغې نه وروسته نهايي مصارف په زياتوالي پيل کوي.

لکه څنګه چې 6- 6 جدول يې ښکاره کوي، له 500 توليدي واحدونو نه وروسته نهايي مصارف زياتوالي مومي او د متغيرو مصارفو په زياتوالي سره، مجموعي مصارف زياتوالي او د متوسطو مصارفو د کموالي نرخ ټيټېږي. دغه مسئله په 3- 6 شکل کې ښودل کېږي[17].




«3- 6 شکل»

[17] - R. Dorfan, price and Markets, pp. 27 -32.

دغه شکل د تولید د سطحې، د متوسطو او نهایي مصارفو رابطه ښکاره کوي. لکه څنګه چې یې ګورئ، د تولید په ټیټو سطحو کې د دوه منحني ګانو حرکت نزولي و او له څه وخت وروسته یې صعودي حرکت پیل کړ.

**عرضه:**

عرضه د هغې امتعې په معنا ده، چې تولیدونکي یا پلورونکي یې په مختلفو قېمتونو سره بازار ته وړاندې کوي. دوه مهم عوامل چې بازار ته د امتعې عرضه تر اغېزې لاندې راولي، په بازار کې د امتعې قېمت او د امتعې نهایي مصرف دی. د دغو دوه عواملو ترمنځ څه رابطه وجود لري. فرض کړئ چې په بازار کې د امتعې قېمت 100 پولي واحده او د تولید نهایي مصارف یې 95 پولي واحده دي. له هغه ځایه چې قېمت د تولید له مصارفو څخه لوړ دی، د تولید زیاتوالی د تولیدونکي ګټه زیاتوي. پر دې اساس، تولیدونکی د جاري تولید په اندازه کې خپله ګټه نه اعظمي کوي. اوس که چېرته په بازار کې د امتعې قېمت 100 پولي واحده او نهایي مصارف یې 105 پولي واحده وي، دا چې د تولید مصرف له قېمت نه زیات دی، د تولید کموالی د تولیدونکي ګټه زیاتوي. نو د تولید په جاري سطحه کې هم تولیدونکي ګټه نه اعظمي کوي. پر دې اساس، داسې نتیجه اخیستلی شو چې د تولیدونکي ګټه هغه وخت اعظمي کېږي چې د هغه لپاره د امتعې د خرڅلاو قېمت له نهایي مصرف سره برابر وي. دغه برابري د ګټې د اعظمې کولو لپاره لازم شرط دی.

له هغه ځایه چې مونږ فرضوو، چې د اقتصادي موسساتو نهایي هدف د ګټې اعظمي کول دي، نو هره موسسه د دغه هدف لپاره هڅه کوي.




«4- 6 شکل»

لکه څنګه چې یې په شکل کې ګورئ، که چېرته د امتعې قېمت P0 وي، دا چې دغه قېمت د تولید له متوسط مصرف سره مساوي دی، په دغه قېمت کې ټول قېمت له ټول مصرف سره برابر شوی دی او د تولیدونکي ګټه صفر ده.

$$P = AC$$

د رابطې دواړه خواوې د تولید له مقدار (Q) سره ضربوو، نو لرو چې:

$$PQ = AC \times Q$$ یا (مصرف – عاید)

نو د دې لپاره چې تولیدونکی ګټه نه شي ترلاسه کولای، نو بازار ته امتعه نه عرضه کوي. له P0 نه په کم قېمت کې دا چې قېمت د تولید له متوسط قېمت څخه کم دی، د امتعې خرڅلاو او تولید، تولیدونکی زیانمنوي. پر دې اساس، له P0 څخه په ټیټو قېمتونو هم تولیدونکی امتعه نه تولیدوي او بازار ته به څه عرضه نه کړي. که چېرته قېمت له P0 څخه زیات وي، د مثال په توګه P1، P2، P3 تولیدونکی به ګټه لاسته راوړي. په دې صورت کې به امتعه تولید او بازار ته وړاندې شي. خو څومره مقدار امتعه به په دغو قېمتونو کې عرضه شي، که چېرته قېمت P1 وی، بازار ته عرضه شوی مقدار به QQ1، که چېرته قېمت P2 وي بازار ته عرضه شوی مقدار به QQ2 او که چېرته قېمت P3 وي، بازار ته عرضه شوی مقدار به QQ3 وي. پر دې اساس، د نهایي تولید مصرف د منحني هغه برخه چې د تولید د متوسط مصرف د منحني له پاسه راځي، بازار ته په مختلفو قېمتونو باندې د عرضه شوې امتعې مقدار مشخص کوي. د نهایي مصرف د منحني دغه برخه په 6- 5 شکل کې ښودل شوې ده.




«5- 6 شکل»

لکه څنګه چې يې ګورئ، د عرضې د منحني ميلان مثبت دی، يعنې د عرضه شوي مقدار رابطه له قيمت سره مستقيمه ده. هر څومره چې قيمت زيات شي، د نورو عواملو په ثابت پاتې کېدو سره، بازار ته عرضه شوی مقدار زياتوالی مومي. 7- 6 جدول د فرضي امتعې، مثلاً ب امتعې لپاره د دغې رابطې ښکارندوی دی:

7- 6 جدول ته د عرضې جدول وايو. له هغه ځايه چې بازار ته عرضه شوی مقدار په قيمت پورې تړاو لري، کولای شو د عرضې تابع په دې بڼه وليکو. $S = F(P)$

| بازار ته د ب عرضه شوې امتعې مقدار | د ب امتعې قيمت |
|---|---|
| 100 | 10 |
| 150 | 12 |
| 200 | 15 |
| 300 | 20 |

« 7- 6 جدول »

## په عرضه کې تغيير:

لکه څنګه چې مو پورته ووېل، د عرضې منحني د نهايي مصارفو منحني يوه برخه ده، چې د متوسطو مصارفو له منحني څخه پورته راځي. که چېرته د توليد نهايي مصارف راکم شي، د نهايي مصارفو منحني به پورته خوا ته حرکت وکړي. پر دې اساس، د توليد د نهايي مصارفو زياتوالی، د عرضې SS منحني S1S1 عرضې منحني ته او کموالی به يې د عرضې منحني د S2S2 د عرضې منحني ته بدل کړي. دغه مسئله په 6- 6 شکل کې ښودل کېږي.




« 6- 6 شکل »

نو د عرضې د منحني د ځای بدلېدل د تولید د مصارفو یا دتولید د عواملو له تغییر څخه منځته راځي.

## د عرضې قېمتي ارتجاعیت:

د تقاضا د نظریې په څېر، د عرضې په نظریه کې هم مونږ د دې مینه وال یو، چې د تولیدونکي د عکس العمل شدت د قېمت د تغییراتو پر وړاندې اندازه ګېري کړو. د مثال په توګه، که چېرته قېمتونه 50 فیصده زیات یا کم شي، تولیدونکی به څه ډول عکس العمل ښکاره کړي، او په کومه اندازه د تولید او عرضې مقدار کموي یا زیاتوي. دلته هم د تولیدونکي د عکس العمل شدت د عرضې د قېمت له ارتجاعیت یا حساسیت سره سنجول کېږي. د عرضې قېمتي ارتجاعیت عبارت دی له:

$$Es = \frac{\Delta Q}{\Delta P} \times \frac{P}{Q}$$

$$Es = \frac{\text{د مقدار تغییر فیصدي}}{\text{د قېمت د تغییراتو فیصدي}}$$

له هغه ځایه چې د عرضې د منحني میلان مثبت دی (او یا د عرضه شوي مقدار او قېمت ترمنځ رابطه مستقیمه ده) Es مثبت دی او مقدار یې هم د صفر او بې نهایت (لایتناهي) ترمنځ قرار لري:

$$0 \leq Es \leq \infty$$

د عرضې د ارتجاعیت له پلوه امتعه په درې برخو وېشو:

**الف- غیر ارتجاعي امتعه:** د دغې امتعې لپاره، د عرضې ارتجاعیت له صفر سره مساوي دی. یعنې (Es =0) یعنې د قېمت تغییرات په تولیدونکي یا پلورونکي کې هېڅ ډول عکس العمل نه رامنځته کېږي. پلورونکي د قېمت د تغییر په نتیجه کې عرضه شوی مقدار نه تغییروي. د دا ډول امتعې عرضه په 7- 6 شکل کې ښودل شوې ده.




«7 – 6 شکل»

لکه څنګه چې ګورئ په ټولو قېمتونو P1، P2 او P3 کې پلورونکی QQ ثابت مقدار بازار ته عرضه کوي او توليدونکی د قېمت د تغييراتو په مقابل کې کوم عکس العمل نه ښکاره کوي.

**ب- فوق العاده ارتجاعي امتعه:** د دغې امتعې لپاره، د تقاضا د قېمت ارتجاعيت لايتناهي خوا ته (Es ⟶ ∞) ميلان کوي. د قېمت تغيير په پلورونکي کې شديد عکس العمل رامنځته کوي. د دا ډول امتعې د عرضې منحني په 8- 6 شکل کې ښودل شوی دی:




«8 -6 شکل»

**ج- ارتجاعي امتعه:** د دا ډول امعتې لپاره د عرضې د قېمت ارتجاعيت د صفر او لايتناهي ترمنځ ($0 < Ep < \infty$) قرار لري. په دې حالت کې د توليدونکي عکس العمل د قېمت د تغييراتو په مقابل کې عادي دی. د دا ډول امتعې د عرضې منحني په 9- 6 شکل کې ښودل شوی دی.




«9- 6 شکل»

## اووم څپرکی

## بازار او تعادل

د امتعې په هکله تر ټولو مهم اطلاعات، تولید شوی مقدار او د هغو قېمت دی. دغه دواړه متحولین په یو وخت کې په بازار کې د تقاضا او عرضې د ځواکونو د کړو وړو په وسیله ټاکل کېږي.

په دې څپرکي کې، لومړی د بازار جوړښت او بیا په کامل رقابتي بازار کې د تعادل د بر قرارولو څرنګوالی توضیح کېږي.

### د بازار جوړښت:

کمیابه منابع او نامحدوده غوښتنې او اړتیاوې د اقتصاد د علم اساس تشکیلوي.  د ډېرو اقتصادي نظامونو هدف له کمیابه منابعو څخه مناسبه ګټه اخیستنه ده.

څرنګه کولای شو، ترڅو دغه منابع په غوره توګه د اجناسو او خدماتو تولید ته تخصیص کړو؟ په پانګوالو اقتصادونو کې د منابعو د مطلوب تخصیص لپاره د قېمتونو په میکانیزم متکي یو. پر دې اساس، په اقتصاد کې زمونږ اصلي بحث پر قېمتونو او د قېمتونو پر نظام دی، دغه کار د مختلفو بازارونو په چوکاټ کې ترسره کوي.

### د بازار اصلي ماډل:

د متوسط صنعت یا بېلګې په نامه کومه پدیده وجود نه لري. د اقتصادي موسساتو د وضعیت پراخه څېړنه څرګندوي، چې د بازار بېلابېل ډولونه وجود لري. هېڅ دوه صنعتونه په ټولیزه توګه له یو بل سره مشابه نه دي. کله یو تولیدونکی هر یو د بازار  وړاندې شوې امتعې کوچنۍ برخه تولیدوي د دغه طیف په داخل کې د بازار ډولونه او شکلونه وجود لري.

په ښکاره ډول د هر ځانګړي صنعت څېړنه غیر ممکن کار دی، ځکه ډېرې بې شمېره صنایع وجود لري. پر دې اساس، یو رښتینی هدف تعقیبوو او خپل کار د اصلي بازارونو د جوړښت په تعریفولو او مشخص کولو تعقیبوو.

**کامل رقابت:**

د کامل رقابت بازار یو څو ځانګړتیاوې لري، چې هغه له نورو بازارونو څخه بېلوي.

1- د دغه بازار یوه مهمه ځانګړنه له یو بل څخه د زیات شمېر مستقلو پلورونکو شمېر دی. چې خپله امتعه ډېر سازمان یافته بازار ته وړاندې کوي.

2- هغه موسسات چې د کامل رقابت په یوه بازار کې فعالیت کوي، ټول یې یو شان تولید ترسره کوي. پر دې اساس، که چېرته د امتعې قېمت مشخص وي، مصرفوونکي ته دا توپیر نه لري، چې له کوم پلورونکي څخه امتعه وپېري. د کامل رقابت په بازار کې د هرې موسسې امتعه د بلې موسسې د امتعې لپاره کاملاً تعویضېدونکي دي.

3- په کامل رقابتي بازار کې یوه اقتصادي موسسه په یوازېتوب سره نه شي کولای چې د امتعې په قېمت باندې د پام وړ کنترول ولري. ځکه چې هره موسسه بازار ته د وړاندې شوي تولید ډېره کمه فیصدي تولیدوي او د هغه د تولید په کموالي او زیاتوالي سره په بازار باندې دومره اغېزه نه شي غورځولی.

په لنډه توګه هره موسسه چې د کامل رقابت په بازار کې عمل کوي «قېمت منونکې» ده او نه شي کولای، چې د بازار په قېمت کې تغییر راولي. پر دې اساس، د موسسې لپاره قېمت ثابت دی. که چېرته له دغه قېمت څخه د لوړ قېمت غوښتنه وکړي، څوک د هغه امتعه نه پېري او که چېرته د بازار له قېمت نه د ټیټ قېمت غوښتنه وکړي، یوازې خپله ګټه به راکمه کړي.

4- په کامل رقابتي بازار کې، نوې اقتصادي موسسې کولای شي چې له کومې ستونزې پرته واردې شي او هغوی چې په بازار کې دي له ستونزو پرته په آزادۍ سره کولای شي بازار پرېږدي. هېڅ ډول قانوني، فني، مالي او بل ډول محدودیت بازار ته د نویو موسساتو د راتلو لپاره وجود نه لري.

5- د دې لپاره چې کومې موسسې چې د کامل رقابت په بازار کې عمل کوي، مشابه محصولات تولیدوي، په دغه بازار کې غیر قېمتي رقابت، یعنې د محصول د کیفیت توپیر، تبلیغاتو یا بازار موندنې ته په کتو کوم رقابت شتون نه لري. د تعریف له مخې ټولې موسسې په بازار کې یو بل ته مشابه امتعه تولیدوي.

**کامل انحصار:**

کامل انحصاري بازار څلور ځانګړنې لري:

1- په کامل انحصاري بازار کې، صنعت یوازې له یوې اقتصادي موسسې څخه جوړ شوی دی. یوازې یوه اقتصادي موسسه د محصول تولیدونکې یا په بازار کې د خدمت عرضه کوونکې ده. پر دې اساس، نوموړی صنعت او اقتصادي موسسه په واقعیت کې یو دي.

2- کومه امتعه چې انحصارګره اقتصادي موسسه یې تولیدوي د هغه لپاره مناسب تعویضي امتعه وجود نه لري. د پېرودونکي له نظره د ا په دې معنا ده، چې له بل هېڅ پلورونکي څخه نه شي کولای چې د پام وړ امتعه وپېري. هغه باید یا له انحصارګرې موسسې څخه امتعه وپېري او یا دې د هغه له پېرودلو څخه بالکل ډډه وکړي.

3- اشاره مو وکړه چې اقتصادي موسسه چې د کامل رقابت په حالت کې عمل کوي، د امتعې په قېمت باندې اغېزه نه شي کولای، ځکه چې موسسه د صنعت د ټول تولید ډېره لږه فیصدي تولیدوي. د دې پر خلاف دغه انحصارګر «د قېمت ټاکوونکی» دی او په قېمت باندې فوق العاده زیات کنترول لري، علت یې واضح او ښکاره دي. هغه د صنعت ټول تولید په کنترول کې لري. که چېرته د تقاضا منحني د کوم محصول لپاره چې تولیدوي یې منفي میلان ولري، انحصارګر د تولید د مقدار په تغییر سره کولای شي، د امتعې قېمت ته تغییر ورکړي.

4- که چېرته د تعریف پر اساس، انحصارګر رقیب نه لري، باید د دغې مسئلې لپاره دلیل وجود ولري. علت دا دی، چې انحصارګر بازار ته د راتلو د محدودیت په خاطر منځته راځي. دغه اقتصادي، قانوني، فني یا نور محدودیتونه دي، چې بازار ته د نویو رقیبانو د راتګ مخنیوی کوي.

5- د محصول د ډول په اړوند انحصارګر کولای شي، چې د خپلې امتعې په اړوند پراخ تبلیغات ترسره کړي. خو د هغې موسسې لپاره چې په کامل انحصاري بازار کې عمل کوي، د دغو تبلیغاتو طبعیت له هغو تبلیغاتو سره توپیر لري، کوم چې د کامل رقابت په حالت کې عمل کوي.

**انحصاري رقابت:**

د انحصاري رقابت بازار د هغه بازار ستاینه کوي کوم چې د کامل رقابت او کامل انحصاري بازار ترمنځ قرار لري او تقریباً د دواړو بازارونو د ځانګړتیاوو لرونکی دی، خو د کامل رقابت بازار ته ډېر نږدې دی:

1- د کامل رقابت بازار په څېر د انحصاري رقابت بازار د پام وړ پېرودونکو د شمېر لرونکی دی، چې په مستقله توګه عمل کوي. ممکن په دغه بازار کې 30، 40 او یا د 100 موسسو په حدودو کې شتون ولري، مهمه مسئله دا ده چې هره موسسه د بازار د ټول تولید ډېره کمه فیصدي تولیدوي.

2- د کامل رقابت د بازار د وضعیت پر خلاف چې په هغه کې مشابه امتعه وجود لري، د موسسو په مرسته د تولید شویو امتعو تفاوت یا توپیر د انحصاري رقابت د بازار مهمه ځانګړنه ده. د امتعې توپیر یا فزیکي تفاوت په بسته بندی، د اعتباري خرڅلاو امکان، په تبلیغاتو او نورو کې دی. نتیجه دا ده، چې که څه هم ټولې موسسې په کلي توګه مشابه امتعه تولیدوي، د هرې موسسې محصول له بلې موسسې سره لږ توپیر لري. په بله وینا، د انحصاري رقابت په بازار کې د اقتصادي موسسو محصولات که څه هم له یو بل سره نږدې تعویضېدونکي نه دي. که څه هم د موسسو زیات مقدار دغه بازار د کامل رقابت بازار ځخه لرې کوي.

3- کوم تولیدونکي چې د انحصاري رقابت په بازار کې عمل کوي، د امتعې د قیمت ټاکلو باندې ډېر کنترول لري. د کنترول اندازه له یو بل سره د محصولاتو د توپیر له اندازې او د رقیبانو په شمېر او نږدې والي پورې تړاو لري. کومه موسسه چې په انحصاري رقابت بازار کې عمل کوي. کولای شي چې د خپلې امتعې قیمت پرته له دې نه چې د تولید شوي محصول تقاضا صفر لور ته میلان وکړي، زیاتوالی ورکړي. علت دا دی، چې د پېرودونکو له نظره د یوې موسسې په مرسته تولید شوې امتعه له نورو موسسو سره توپیر لري. که چېرته امتعه له یو بل سره تفاوت ولري، نو شونې ده چې مصرف کوونکی د یوې موسسې په مرسته تولید شویو امتعو ته د نورو موسساتو تولیدو شویو امتعو ته غوره والی ورکړي. پر دې اساس، د قیمت لږ زیاتوالی مصرف کوونکی یا پېرودونکی د امتعې د تعویضي جنس پیدا کولو ته هڅوي. عموماً هر څومره چې د رقیبو موسسو شمېر او له جغرافیوي پلوه یو له بل سره نږدې وي، په هماغه اندازه د موسسې واک د قیمت په ټاکلو باندې کم وي.

4- داسې بازار ته داخلېدل چې په هغه کې انحصاري رقابت وجود ولري، نسبتاً ساده دی. چې علت يې د توليد شويو امتعو توپير دی. يوه نوې موسسه نه يوازې دا چې بايد لازمه پانگه په واک کې ولري، بلکې له نورو موسسو نه هم چې په بازار کې فعاليت کوي، جذب کړي. په بازار کې ونډه ترلاسه کول غالباً د زياتې څېړنې غوښتنه کوي، ترڅو موسسه په دې وتوانېږي چې نظر نورو توليدونکو ته د امتعې جلا سورت بازار ته وړاندې کړي. پر دې سربېره، شونې ده چې موسسه د تبليغاتو لپاره فوق العاده زيات مصارف وگالي، ترڅو چې مصرف کوونکي د امتعې له موجوديت څخه خبر او مصرف کوونکي په دې قانع کړي چې د نورو امتعو پر ځای، د همدغې موسسې امتعه وپېري.

5- د امتعې د توپير لپاره، د هغو صنايعو ځانگړتيا چې په هغه کې د انحصاري رقابت وضعيت وجود لري، له قېمت څخه پرته د نورو وسايلو په مرسته شديداً رقابت ترسره کېږي.

اقتصادي رقابت کېدلای شي د امتعې د کيفيت، تبليغاتو او د امتعې له خرڅلاو څخه وروسته د خدماتو په څېر وسايلو په مرسته ترسره شي.

## اوليگوپولي:

هغه بازار چې په هغه کې اليگوپولي وضعيت وجود لري. د پورتنيو دريو بازارونو په څېر د اقتصادپوهانو له خوا نه دی تعريف شوی. دغه مسئله، دوه دلايل لري. له يوې خوا اليگوپولي بازار له پورتنيو دريو بازارونو څخه د پراخ طيف لرونکی دی، په حقيقت کې اليگوپولي د ټولو نورو حالاتو لرونکی دی، چې د نوموړو دريو بازارونو په جوړښت کې نه طبقه بندي کېږي. له بلې خوا، اليگوپولي د داسې ځانگړتياوو لرونکی دی چې غالباً د موسسو د کړو وړو وړاندوينه په دغه حالت کې سختوي. دغه ځانگړنې په دې ډول دي:

1- د اليگوپولي تر ټولو مهمه ځانگړنه په صنعت کې د کم شمېر موسسو شتون دی. هرکله چې څو موسسې د يو خاص محصول بازار په خپل واک کې ولري، وايو چې په هغه صورت کې اليگوپولي وضعيت شتون لري.

کله چې يوازې څو موسسې يو خاص صنعت تر خپل کنترول لاندې راولي، هر يو له بازار څخه د پام وړ ونډه په واک ولري او د هر بل يو سياستونه او عمليات به د نورو موسسو پر وضعيت اغېزه وکړي. د دې لپاره چې هره موسسه له ټول صنعت څخه د پام وړ فيصدي توليدوي، د هرې موسسې عمل له بازار څخه د خپلې ونډې له زياتوالي څخه فوراً او په مستقيم ډول خپل رقيبان تر

اغېزې لاندې راولي. پر دې اساس، هره موسسه باید د محصول د قېمت د تغییر، تبلیغاتو، د امتعې په کیفیت او نورو مسائلو کې باید د رقیبانو عکس العمل په پام کې ونیسي. په یوه صنعت کې د اقتصادي موسسو ترمنځ همدغه متقابله رابطه د الیګوپولي ځانګړنه ده.

2- کومې موسسې چې په الیګوپولیستي بازارونو کې فعالیت کوي، امکان لري چې مشابه امتعه تولید کړي او یا هم له یو بل څخه جلا ډول امتعه تولید کړي. غالباً کومې موسسې چې د خامو موادو یا نیم کاره محصولاتو تولیدونکي دي، بازار ته مشابه اجناس عرضه کوي. له بلې خوا، کومې موسسې چې د مصرفي امتعې په تولید بوختې دي، بازار ته غیر مشابه اجناس عرضه کوي. د دا ډول تولید مثالونه په دې ډول دي؛ د موټر جوړولو صنایع، لاستیک، صابون، الوتکو، یخچالونو، راډیو ګانو او نورو تصدي ګانې.

3- د محصول په قېمت باندې د هرې موسسې کنترول چې په الیګوپولیستي بازار کې فعالیت کوي په صنعت کې د موجودو موسسو په متقابلې تړلتیا پورې تړاو لري. د مثال په توګه، که چېرته یوه موسسه د خپل محصول قېمت راکم کړي، په لومړي سر کې به دده د خرڅلاو اندازه د قېمت د ټیټوالي له کبله د رقیبانو په پرتله زیاته شي. خو رقیبان هم د موسسې د دغه کار په نتیجه کې عکس العمل ښکاره کوي او د خپل کالیو قېمتونه به راټیټ کړي. د دغه کار حاصل به د متقابلو قېمتونو کموالی او د ټولو اقتصادي موسساتو افلاس وي، کومې چې په نوموړي صنعت کې فعالیت کوي. د دې پرعکس که چېرته یوه موسسه د خپل محصول قېمت زیات کړي، نورې موسسې به د خپل د محصول قېمت په نه تغییرولو سره زیاته ګټه لاسته راوړي. په پورتنیو دلایلو، کومې موسسې چې په الیګوپولیستي بازار کې فعالیت کوي، غالباً د خپل محصول قېمت ډېر لږ تغییروي. غالباً د دې لپاره چې د موسسو ترمنځ د قېمتونو جګړه د دوی د ډېرو په زیان ده، نو موسسې په الیګوپولیستي وضعیت کې یو له بل سره جوړ جاړی کوي. او غالباً په ډله ییزه توګه د صنعت د یو محصول قېمت کموي او زیاتوي. په دغه حالت کې، د موسسو یوه ډله کولای شي د یو انحصارګر په توګه قېمت په خپل کنترول کې ولري.

4- د الیګوپولي یوه بله ځانګړنه داده چې صنعت ته په داخلېدو هم ځینې ستونزې وجود لري. د تولید د امتیاز مالکیت او د ستراتیژیکو لومړنیو موادو تولید د موجودو موسسو په مرسته کېدای شي د نویو موسسو له داخلېدو څخه مخنیوی وکړي. له دې ور اخوا، په ثقیله صنایعو کې د ټکنالوژۍ وضعیت ممکن یوازې د څو اقتصادي موسسو یا تصدیو په مرسته تولید ګټور کړي.

5- غالباً هغه موسسې چې په اولیګوپولي بازار کې فعالیت کوي، د خپلو منابعو زیاته برخه په تبلیغاتو لګوي. د هرې موسسې د تبلیغاتو مصرف په صنعت کې د ټولو موسسو په مرسته د یو ډول او یا بېلابېلو امتعو په تولید پورې تړاو لري. غالباً د تبلیغاتو مصرف د هغې تصدي لپاره زیات دي، چې بېلابېل او توپیري تولیدات ترسره کوي.

## د پېرودونکي له نظره د بازار جوښت:

د بازار څلور اصلي جوړښتونه چې مخکې پرې بحث وشو، بازار د تولیدونکي یا پلورونکي له پلوه طبقه بندي کوي. د مصرف کوونکي او تقاضا کوونکي له نظره هم بازار مختلف جوړښتونه لرلی شي. د مثال په توګه، که چېرته د پېرودونکو شمېر ډېر زیات وي، نو بازار د پېرودونکو له اړخه کامل رقابتي بازار دی. د پېرودلو انحصار د داسې حالت ښکارندوی دی چې په بازار کې یوازې یو پېرودونکی شتون لري. کله چې څو پېرودونکي بازار تر خپلې ولکې لاندې راولي، نو د پېرودلو په بازار کې الیګوپولي شکل وجود لري. د پېرودونکي انحصاري رقابت هم د داسې بازار ښکارندوی دی چې په هغه کې د پېرودونکو شمېر نسبتاً زیات دی. لاندینی شکل، د عرضې او تقاضا په اړخونو کې د بازار ترکیبات ښکاره کوي.




د بازار جوړښت د عرضې او تقاضا له نظره کولای شي چې مختلف حالات ولري. لکه څنګه چې یې پورتنی شکل ښکاره کوي 16($2^4$) د بازار د وضعیت ترکیب د عرضې او تقاضا له نظره وجود لرلی شي، چې په لاندې توګه به یو څو بازارونو ته اشاره وکړو:

د پېرودلو انحصار او کامل (د تولیدونکي) رقابت، د (تقاضا) کامل رقابت او کامل انحصار (تولیدونکی) الیګوپولي او د (پېرودونکي) رقابت.

**د بازار د جوړښت ټاکونکي عوامل:**

کوم عوامل د یوه بازار جوړښت ټاکي؟ په کلي توګه دغه عوامل په لاندې ډول دي:

1- د دولت قوانین، مقررات او سیاست.

2- د اقتصادي موسساتو دودونه او سیاستونه.

3- ټکنالوژیکي مسایل.

4- د پانګوال نظام نهادونه او ځانګړتیاوې.

1- **د دولت قوانین، مقررات او سیاستونه:** غالباً دولتي مقررات، قوانین او دولتي سیاستونه کولای شي تولیدونکو ته انحصاري حالات رامنځته کړي. د مثال په توګه، ګمرکي قوانین کولای شي چې د یوه ځانګړي صنعت په ملاتړ، د هغه د قدرت په زیاتولو سره، تولیدي موسسې ته انحصاري واک وکړي. ځینې وخت دولت هم، د خپلې ټکنالوژۍ د تشویق د پراختیا لپاره په صنایعو کې انحصار رامنځته کوي. ځینې وخت دولتي سیاسي ملاحظات هم دولت د یوه صنعت انحصار ته مجبوروي. په ایران کې د برېښنا د تولید انحصار د دولت په لاس کې دی، د دولت په لاس د وسلو د تولید انحصار او داسې نور شیان د انحصار بېلګې دي.

2- **د اقتصادي موسسو دودونه او سیاستونه:** د اقتصادي موسسو له خوا د سیاستونو او دودونو پیروي هم د بازار د جوړښت ټاکونکی عامل دی. په ځینو صنایعو کې د اقتصادي موسسو ترکیب یا مدغم کېدل، اولیګوپولي یا انحصاري وضعیت رامنځته کوي. ځینې وخت موسسو له صنعت څخه د رقیبانو د وېستلو لپاره چې دغه هڅه د ستراتیژیکو لومړنیو موادو د مالکیت د لاس ته راوړلو لپاره هڅه کړې ده.

3- **ټکنالوژي:** د بازار په جوړښت کې ټکنالوژي هم له مهمو عواملو څخه ده. په ځینو صنایعو کې ټکنالوژي تر دې حده پرمختللې ده چې تولید په مناسب ظرفیت سره د پرمختللې ټکنالوژۍ او په صنعت کې د تولیدي مصارفو د کمښت غوښتنه کوي. ټکنالوژي د ګڼ تولید د ایجاد باعث شوې چې دغه کار یوازې د لویو اقتصادي موسسو په وس پوره دی. دا په دې معنا چې په لوړ ظرفیت سره تولید ترسره کول د څو لویو اقتصادي موسسو د شتون غوښتنه کوي. پر دې اساس، د ټکنالوژي پرمختګ د دې باعث شوی، چې د بازار جوړښت په ډېرو ثقیلو صنایعو لکه موټر جوړولو، المونیم او پولاد جوړولو کې بازار الیګوپولي شکل ته ورګرځوي.

4- **پانګوال بنسټونه:** باید پام وشي چې پانګوال اقتصادي بنسټونه د اقتصادي قدرت تمرکز ته میلان زیاتوي. آزاد اقتصاد او د فردي ګټو اعظمي کول د رقابت د له منځه وړلو او د انحصار او الیګوپول د ایجاد لپاره مناسبه زمینه رامنځته کوي[18].

## عرضه، تقاضا او قیمت:

کېدای شي دغه جمله مخکې هم تاسې لوستې او اورېدلې وي. «که طوطي ته عرضه او تقاضا ورزده کړو، طوطي به اقتصاد پوه شي.» د عرضې او تقاضا اهمیت په دې کې دی، چې دغه دواړه په اقتصاد کې د امتعې قیمتونه ټاکي او قیمت د کمیابو منابعو د تخصیص کولو له نظره د بېلابېلو مصارفو ترمنځ فوق العاده اهمیت لري.

په تېر شویو څپرکو کې مو په عرضې او تقاضا باندې په مؤثرو عواملو بحث وکړ. په دې څپرکي کې دا څېړو چې عرضه او تقاضا څنګه قیمت ټاکي. د دغه مطلب لپاره، لومړی له بازار څخه پیل کوو. بازار هغه ځای دی چې د امتعې پلورونکي او پېرودونکي پکې له یو بل سره تماس نیسي. د تحلیل د آسانتیا لپاره داسې فرضوو چې زمونږ د پام وړ بازار کامل رقابتي بازار دی. غالباً د کامل رقابت د ځانګړتیاوو په علت د امتعې قیمت یو وي او پلورونکي امتعه په دغه قیمت چې هغه ته د بازار قیمت ویل کېږي، پېردونکو ته په واک کې ورکوي.

اوس د دې لپاره چې مشخص یې کړو چې په کامل رقابتي بازار کې قیمت څنګه ټاکل کېږي، څېړو چې د بازار د عرضې او تقاضا منحني ګانې کومې دي؟ فرضاً د الف امتعې بازار زمونږ د پام وړ دی. د تقاضا کومه منحني چې دغه بازار ورسره مخ دی، د پېرودونکو د تقاضا د منحني ګانو مجموعه ده، چې دغه بازار ته مراجعه کوي. د بحث د آسانتیا لپاره فرض کړئ چې یوازې دوه پېرودونکي، ښاغلی کابلی او ښاغلی ننګرهاری دغه بازار ته رجوع کوي او د دغو دواړو منحني ګانې په لاندې ډول دي:

---

[18] - C. R. Mcconnell- Economics- 4 th Edition, 1969 pp. 400 -410.

| قیمت | مقدار |
|---|---|
| 20 | 10 |
| 15 | 20 |
| 10 | 30 |




«1- 7 شکل د کابلي د تقاضا منحني او جدول»

| قیمت | مقدار |
|---|---|
| 20 | 15 |
| 15 | 30 |
| 10 | 45 |




«د ننگرهاري د تقاضا منحني او جدول»

د 20 پولي واحدو په قیمت کې، ښاغلی کابلی او ننگرهاری مجموعاً 15 واحده، د 15 پولي واحدو په قیمت سره دغه دواړه مجموعاً 30 واحده او د 10 پولي واحدو په قیمت کې دوی دواړه مجموعاً د الف امتعې 45 واحده پیري. د بازار کوم جدول او د تقاضا منحني چې بازار ورسره مخ دی، باید پورتني اطلاعات مونږ ته وړاندې کړي. دغه جدول او منحني د راتلونکي مخ په شکل دي.

| مقدار | قېمت |
|---|---|
| 25 | 20 |
| 50 | 15 |
| 75 | 10 |




«2- 7 شکل»

د بازار د تقاضا منحني، د کابلي او ننګرهاري د تقاضا د منحني ګانو افقي مجموعه ده. اوس که چېرته په بازار کې د پېرودونکو شمېر له دوه کسانو څخه زيات وي، د تقاضا منحني او جدول په همدې شکل لاسته راځي.

د بازار د عرضې منحني هم د ټولو پلورونکو، کوم چې بازار ته واردېږي د هغو د عرضې د منحني افقي جمع ده او د تقاضا د منحني په څېر لاس ته راځي. دغه منحني ښکاره کوي چې په يوه ځانګړي قېمت کې، ټول پلورونکي څومره مقدار امتعه بازار ته عرضه کوي.

په دې برخه کې، فرضوو چې عرضه او تقاضا په الف بازار کې د امتعې په قېمت پورې تړاو لري. په دې توګه د بازار د عرضې او تقاضا تابع په لاندې توګه ليکلی شو:

D الف =F (P الف)

هغه وخت به بازار د تعادل حالت ته راشي، چې لاندې رابطه پکې بر قراره شي:

D الف =S الف

تعادل په 3 – 7 شکل کې ښودل کېږي.




«3- 7 شکل»

د E نقطې ته د تعادل نقطه وایو. د تعادل نقطه دوه مهم متغیر مشخص کوي. دغه متغیر د تعادل قیمت او د تعادل مقدار دی، چې د تعادل قیمت د بازار هماغه قیمت دی. نو د الف په څېر د هرې امتعې قیمت، په بازار کې د عرضې او تقاضا د تعادل په وسیله مشخص کیږي.

د جولا د تار قضیه- یو بازار څرنګه د تعادل حالت ته رسیږي؟ فرض کړئ د الف امتعې بازار د تعادل په حالت کې نه دی او د امتعې قیمت په بازار کې P1 دی او P1>PE دی. څه به پیش شي؟ کله چې $P_1>P_E$ قیمت په بازار کې حاکم دی. په دغه قیمت کې، د $P_1A$ امتعې تقاضا او د $P_1B$ امتعې عرضه مساوي ده. یعنې په بازار کې د AB په اندازه مازاد وجود لري. دا په دې معنا ده چې د عرضه شویو امتعو د مقدار لپاره په بازار کې پېرودونکي وجود نه لري. که په بازار کې د عرضې مازاد وجود ولري، قیمت راکمیږي، په 4- 7 شکل کې د AB په اندازه د عرضې مازاد د BC په اندازه د قیمت د کموالی باعث کیږي. په P2 قیمت کې د تقاضا مقدار P2C او د عرضې مقدار P2D دی. یعنې په دغه قیمت کې د CD په اندازه د تقاضا مقدار وجود لري. د تقاضا مازاد په دې معنا چې د DC په مقدار سره مصرف کوونکی غواړي د الف امتعه وپیري، خو په بازار کې امتعه وجود نه لري.




«4- 7 شکل»

دغه مسئله په بازار کې د قیمت د زیاتوالي سبب ګرځي. د امتعې د قیمت کموالی یو ځل بیا د عرضې مازاد رامنځته کوي او قیمت کمېږي، د قیمت کموالی د تقاضا مازاد منځته راوړي او قیمت زیاتوالی مومي، دغه لړۍ دوام مومي ترڅو چې اقتصاد E نقطې یا تعادل وضعیت ته ورسیږي[19].

## د عرضې او تقاضا تغییرات:

په پورتني بحث کې مو فرض کړه چې د الف امتعې عرضه او تقاضا یوازې د همدغو امتعو په قیمت پورې تړاو لري. په تېرو بحثونو کې مو په ګوته کړه، چې عرضه او تقاضا د همدغو امتعو په قیمت سربېره په نورو عواملو پورې هم تړاو لري. غواړو دلته مشخص کړو چې د نورو عواملو تغییر د تعادل پر وضعیت څه اغېزه کوي. په ځانګړې توګه په دې برخه کې د عاید د تغییر په وجه د تقاضا د منحني أثرات او د عرضې په منحني باندې د مصرف تغییراتو ته لېوال یو. په لومړي سر کې خپل بحث د تقاضا په منحني باندې له عاید څخه رامنځته کېدونکو أثراتو څخه پیل کوو. که فرض کړو چې په لومړي سر کې د تقاضا هغه منحني چې بازار ورسره مخ دی DD او د بازار د عرضې منحني SS، دی. د نورو عواملو په ثابت فرضولو سره، که چېرته د پېرودونکو عاید زیات شي، د تقاضا

19ـ مهدي تقوی- مقدمه ای بر تجزیه و تحلیل اقتصاد میکرو- مؤسسهء علوم سیاسي 1354، فصل 6.

منحني D1D1 ته او که چېرته کموالی ومومي D2D2 ته تغییر کوي. دغه مسئله په 5- 7 شکل کې ښودل شوې ده.




«5- 7 شکل»

له DD نه د D1D1 ته د تقاضا د منحني تغییر د دې باعث کېږي، چې د تعادل نقطه له E1 څخه E2 ته تغییر وکړي. چې دغه مسئله (له P1 نه P2 ته) د تعادلي قیمت د زیاتوالي او له Q1 نه Q2 ته د تعادل د مقدار د زیاتوالي باعث گرځي.

اوس به وگورو چې د تولید د نهایي مصرف زیاتوالی یا کموالی د عرضې په منحني او په نهایت کې د تعادل پر وضعیت څه أثر کوي. که چېرته د تولید نهایي مصرف کموالی ومومي د عرضې منحني S1S1 ته تبدیلېږي او د زیاتوالي په صورت کې یې S2S2 ته تبدیلېږي. دغه مسئله په 6- 7 شکل کې ښودل شوې ده.




«6- 7 شکل»

لکه څنګه چې یې په شکل کې ګورئ، د عرضې د منحني د ځای تغییر له SS نه S1S1 ته له E1 نه E4 ته د تعادل د نقطې د تغییر باعث شوی او تعادلي قیمت له P1 نه P4 ته راکم او د تعادل مقدار له Q1 نه Q4 ته زیاتوي. د دې پرعکس د عرضې د منحني د ځای تغییر له SS نه S2S2 ته د E1 نقطې نه E5 نقطې ته د تعادل د نقطې د تغییر باعث کیږي او تعادلي قیمت له P1 نه P5 ته زیاتوي او تعادلي مقدار له Q1 نه Q5 ته راکموي.

اوس داسې فرض کړئ چې عاید زیات او د تولید مصرف کموالی ومومي. دغه مسئله له DD نه D1D1 ته د تقاضا د منحني د تغییر باعث ګرځي او له SS نه S1S1 ته د عرضې د منحني د تغییر باعث ګرځي. په ورته وخت کې د ځای تغییر د عرضې او تقاضا په دوه منحني ګانو په 7- 7 شکل کې ښودل شوی دی.

لکه څنګه چې یې ګورئ د تقاضا د منحني تغییر D1D1 ته او د عرضې د منحني تغییر S1S1 ته د تعادل نقطه له E1 نه E2 ته د تعادل د نقطې د تغییر باعث ګرځي. د قیمت او د تعادل د مقدار تغییرات د دوه منحني ګانو د تغییر په اندازې پورې تړاو لري. په 7- 7 شکل کې د دوه منحني

ګانو تغییر قیمت نه تغییروي، خو له Q1 نه Q2 ته د تعادل د مقدار د زیاتوالي باعث ګرځي. د نورو حالاتو څېړنه د کورنۍ دندې په توګه لوستونکو ته پرېښودل کیږي.




«7-7 شکل»

## اتم څپرکی

## ملي عايد او ملي محصول

له دې څپرکي نه وروسته، د لوی اقتصاد په مسائلو بحث کوو.

لوی اقتصاد د اقتصادي فعاليتونو له مجموعې سره سروکار لري. په بله وينا، د مجموعو اقتصاد دی. په کوچني اقتصاد کې د فرد رفتار، د اقتصادي واحد فرد تجزيه او تحليل شو. په لوی اقتصاد کې د اقتصادي واحدونو يا ډلو ډله ييز رفتار (افرادو او اقتصادي موسساتو رفتار) د هېواد د پولو په داخل يا په يوه ټولنه کې تجزيه او تحليل کېږي.

په کلي توگه په لوی اقتصاد کې د وزگارتيا، اقتصادي بې تعادلي، انفلاسيون او په اقتصادي ودې پورې اړوند مسائلو په څېر مسائل تر څېړنې لاندې نيسو.

### د لوی اقتصاد متحولين:

د لوی اقتصاد متحولين په دوه ډلو؛ ثابتو او جاري متحولينو باندې وېشل کېږي. ثابت متحولين هغه متحولين دي چې زماني بُعد نه لري، جاري متحولين زماني بُعد لري. د مثال په توگه، د يوه موټر وزن يو ثابت متحول او د موټر سرعت جاري متحول دی. د جاري متحولينو کميت يا اندازه د تل لپاره د زماني واحد پر اساس په ډاگه کېږي، لکه د موټر سرعت په ساعت کې X کيلو متره. په لوی اقتصاد کې عايد، پانگونه او سپما جاري متحولين دي، ځکه چې د تل لپاره د زماني واحد پر اساس يا د يوې ټاکلې دورې يا مشخصې زماني فاصلې لپاره تعريفېږي. لکه د يو مصرف کوونکي عايد په مياشت يا کال کې د K پولي واحد 7 برابره دی. د ثروت او پانگې په څېر متحولين ثابت متحولين دي. ځکه چې زماني اړخ نه لري او د تل لپاره د يوې ټاکلې زماني نقطې لپاره تعريفېږي. لکه د يوه فرد ثروت په يوه مشخصه زماني نقطه کې له M پولي واحدو سره برابر دی.

### اقتصادي ماډلونه:

يو اقتصادي ماډل د اقتصادي متحولينو ترمنځ د تابع روابطو ډلې ته شامل دی چې هره رابطه حداقل په يوه متحول کې، چې په بله رابطه کې هم وجود لري، شامله وي: د مثال په توگه، په کوچني اقتصاد کې د عرضې او تقاضا ترکيب په بازار کې د يوې مشخصې امتعې د قيمت د ټاکلو او تبادله شوي مقدار لپاره يو اقتصادي ماډل دی.

$$D = F(P)$$

$$S = F(P)$$

$$D = S$$

د دې لپاره چې يو ماډل د استفادې وړ وي، بايد کامل وي. د رياضي له پلوه دا په دې معنا ده چې د معلومو متحولينو په اندازه، په ماډل کې معادله يا رابطه وجود ولري.

## ملي عايد او ملي محصول[20]:

د لوی اقتصاد په تجزيه او تحليل کې ملي عايد او ملي محصول دوه فوق العاده مهم متحولين دي. دغه دوه متحولين د يوې ټولنې اقتصادي وضعيت له بل هر متحول نه ښه اندازه او مشخص کوي.

## ملي عايد:

په اقتصاد کې د هر فرد عايد هغه لاس ته راوړنه ده، چې هغه يې د توليدي خدماتو د وړاندې کولو په درشل کې د خپل ځان يا خپلو شتمنيو په وسيله د توليد د يو عامل په توگه لاس ته راوړي. له هغه ځايه چې عايد يو جاري متحول دی، بايد د مشخصې زماني فاصلې لپاره تعريف شي. نو ملي عايد په ټاکلې زماني فاصله کې د يوې ټولنې هېواد د افرادو د ټولو عوايدو مجموعه ده.

د عايد د تعريف پر اساس، کوم عايد چې په يوه دوره کې گټل شوی خو لا ترلاسه شوی نه وي، نو دغه عايد په هغې دورې پورې تړاو لري، چې په کومه دوره کې گټل شوی دی. ممکن په يوه دوره کې پولي لاس ته راوړنې له عوايدو نه زياتې وي. امکان لري دغه مسئله، د هغو لاس ته راوړنو په خاطر وي چې په تېره دوره کې گټل شوې، او په دې دوره کې ترلاسه شوې وي. له بلې خوا عايد بايد د شتمنيو له لېږد رالېږد څخه متمايز شي. د يوې شتمنۍ خرڅلاو که څه هم د پيسو د لاس ته راوړنې باعث گرځي، بلکې دا يوازې د يوې شتمنۍ يا ثروت انتقال دی. په دغه حالت کې په غير پولي شتمنۍ يا ثروت باندې بدلېږي.

د يوې شتمنۍ د پېرودلو د ارزښت او د شتمنۍ د خرڅلاو د ارزښت ترمنځ اختلاف چې اضافه شوی ارزښت بلل کېږي، د عايد تعريف ته په پام سره، په عايد کې نه راځي. په تيوري کې د عايد د محاسبې لپاره بايد هغه ټول مصارف چې مو د عايد د گټلو لپاره پرې کړي وي، له تحصيل شوي ناخالص عايد څخه وباسو. هغه څه ته په پامنيوي چې پورته مو وويل، د يوې ټولنې ملي عايد:

---
[20] - National Income and National Product.

الف- د کاليو او خدماتو د توليدي واحدونو د کار کوونکو په وسيله ټولې لاس ته راوړنې، مزدونه، حقوق، کميسونونه او ترلاسه شوې بدلې دي.

ب- د حق الامتياز او اجارې له درکه ټول ترلاسه شوي عوايد.

ج- ټولې ترلاسه شوې ګټې.

د- د مالياتو له ورکړې وړاندې د امتعې او خدماتو د توليدي واحدونو ټولنې ګټې مجموعه ده.

## ملي محصول يا توليد:

ملي محصول يا توليد د هغو ټولو امتعو کلي او پولي ارزښت دی، چې د يوې ټاکلې دورې په اوږدو کې د اقتصادي موسساتو له خوا په ټولنه کې توليدېږي.

## د تړلي بازار اقتصاد کې ملي عايد او ملي محصول:

په دې برخه کې مونږ فرضوو چې:

1- توليد په صنعتي او سوداګريزو موسساتو کې ترسره کېږي.

2- صنعتي يا توليدي موسسات په يوه فرد يا څو شريکانو پورې تړاو لري. پر دې اساس، د توليدي موسسې عايد د موسسې د مالکانو عايد دی.

3- توليدي موسسات چې څه توليدوي پلوري يې. پر دې اساس، د ګودام د موجودۍ تغييرات په پام کې نه نيول کېږي.

4- دولت وجود نه لري. دولتي مخارج، ماليات او نور مصارف چې په دولت پورې تړاو لري وجود نه لري.

5- اقتصاد له باندنيو هېوادونو سره سوداګريزې او تجارتي اړيکې نه لري.

ټول اقتصاد په دوه برخو وېشلی شو:

**الف- د توليد برخه:** چې ټولو اقتصادي واحدونو ته شامله ده، چې د عواملو په ترکيب (ثابتو، متغيرو نهادونو) سره د امتعې په توليد بوخته ده.

**ب- د مصرف برخه:** چې هغو ټولو افرادو او کورنیو ته شامله ده، چې د امتعې په مصرف بوختې دي.

امتعه د تولید د برخې په وسیله تولیدیږي او د مصرف د برخې، یعنې د افرادو او کورنیو په وسیله مصرفیږي.




«1- 8 شکل»

د دې لپاره چې د تولید برخه وکولای شي امتعه تولید کړي، نو د تولید عواملو ته اړتیا لري. د تولید عوامل د تولیدي خدماتو په شکل د افرادو په وسیله یا د افرادو او کورنیو د شتمنیو په شکل د تولیدي واحدونو او یا اقتصادي موسسو ته په واک کې ورکول کیږي. (په 1- 8 شکل کې لومړی جریان) اقتصادي موسساتو د تولیدي خدماتو په درشل کې، چې د مصرف برخه یې دوی ته په واک کې ورکوي، د امتعې او د عاید له تحصیل وروسته، له تولید نه ترلاسه شوی عاید د مزدونو، اجارې د ګټې او سود په ډول افرادو او کورنیو ته ورکوي. په پله وینا، اقتصادي موسسې د تولیدي خدماتو له ترلاسه کولو وروسته، اجناس او خدمات تولیدوي. د اجناسو او خدماتو د تولید د نه ترلاسه شوي حاصل د تولیدي خدمت په درشل کې د مصرف کوونکې برخې، یعنې افرادو او کورنیو ته په واک کې ورکوي، ((2) جریان 1- 8 شکل) ټول اجناس او خدمات چې په اقتصادي موسسو یا د تولید په برخه کې تولیدیږي، د تعریف پر اساس، ناخالصه تولید یا ملي محصول دی. د ناخالص ملي محصول د پولي ارزښت په اندازه عاید د (2) جریان له لارې د مصرف له برخې یا کورنیو ته رسیږي.

دغه عاید په دې علت، چې اقتصادي موسسې د هغو د تحصیل لپاره کوم مصارف ګاللي وي، له هغه څخه نه دي بېل شوي، د اقتصاد ناخالص ملي محصول دی. په هغه صورت کې چې ناخالص ملي محصول په GNP او ناخالص ملي عاید په GNI سره وښیو، لرو چې:

$$GNI = GNP. \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots (1)$$

کوم عايد چې د اجناسو او خدماتو له توليد څخه رامنځته کېږي، ټول يې د مصرف برخې او يا افرادو او کورنيو ته انتقال مومي. خو ټول اجناس او خدمات چې د توليد په برخه کې توليدېږي د (4) جريان له لارې د مصرف برخې ته په واک کې نه ورکول کېږي.

کله چې اقتصادي موسسې اجناس توليدوي، د اجناسو او خدماتو د توليد لپاره د اجناسو له هغې ډلې څخه استفاده کوي، چې په تېرو دورو کې توليد شوې دي. د مثال په توگه، د ټوکر (رخت) جوړولو يوه کار خانه په پام کې ونيسئ. دغه کارخانه اوس د ټوکر د توليد لپاره د ټوکر جوړولو له تېر کلن ماشين څخه کار اخلي. له ماشين څخه استفاده د ماشين د استهلاک لامل گرځي. د دې لپاره چې د ټوکر جوړولو کارخانه د ټوکر جوړولو ته دوام ورکړي، بايد کوم ماشينونه چې استهلاک کېږي او نور د توليد وس نه لري بايد تعويض کړی شي.

له هغو اجناسو څخه استفاده کول چې په تېرو دورو کې توليد شوي دي، په هره دوره کې د اجناسو د توليد لپاره، د تېرې دورې توليد شوي اجناس استهلاک کوي. د دې لپاره چې توليدي واحدونه د خپلو اجناسو توليدي قدرت له لاسه ورنه کړي، نو بايد استهلاک شوي اجناس تعويض کړي. کوم اجناس چې د نورو اجناسو د توليد لپاره د توليدي واحدونو له خوا کارول کېږي، د پانگه ييزو اجناسو په نامه يادېږي. نو پر دې اساس، د دې لپاره چې د اقتصادي موسسو توليدي قدرت راکم نه شي، د کومو موسسو پانگه ييز توکي چې استهلاک کېږي بايد له توليدونکو اقتصادي موسسو څخه پانگه ييز توکي د کاليو د تعويض لپاره وپېري.

کوم اجناس چې د توليد د برخې په وسيله توليد او د افرادو او کورنيو ته په واک کې ورکول کېږي، د مصرفي اجناسو په نامه يادېږي. اوس داسې فرض کړئ، چې د A مصرفي کاليو ته تقاضا چې X توليدي واحد يې توليدوي، زياته شي. کله چې X توليدي واحد د A اجناسو د زياتولو پرېکړه وکړي، د A اجناسو زيات توليد لپاره ډېرو پانگه ييزو اجناسو ته اړتيا لري، چې له هغو توليدي واحدونو څخه چې پانگه ييز توکي توليدوي وپېري.

په کلي توگه کوم مقدار اجناس او خدمات چې د توليد په برخه کې توليدېږي، د توليد د برخې د توليدي واحدونو ترمنځ تبادله کېږي او د (4) جريان له لارې د مصرف برخې ته نه انتقالېږي. د اجناسو او خدماتو دغه برخه چې د پانگه ييزو توکو په نامه يادېږي په اقتصاد کې د ناخالصې پانگونې په توگه پېژندل کېږي او په GI باندې ښودل کېږي. ناخالصه پانگونه لکه چې پورته مو ورته اشاره وکړه، په دوه برخو وېشل کېږي:

الف- د مستهلک د پانګه ییزو اجناسو د تعویض لپاره د تولیدي واحدونو ترمنځ تبادله، چې د تعویضي پانګې په نامه یادیږي او په D توري بانديې ښودل کیږي.

ب- د پانګه ییزو توکو د حجم د زیاتوالي لپاره د تولیدي واحدونو او یا د اقتصادي موسسو ترمنځ د اجناسو تبادله، چې د ناخالصې پانګې په نامه یادیږي او د I په توري باندې ښودل کیږي.

نو (2)$GI = I + D$..............................................

د اجناسو او خدماتو هغه برخه چې د تولید په برخه کې تولید او د (4) جریان له لارې د مصرف برخې، یعنې افرادو او کورنیو ته انتقالیږي، د اقتصاد مصرف دی او په C توري باندې ښودل کیږي.

نو ناخالص ملي تولیدبه له مصرف سره برابر پر ناخالصې پانګونې اضافه وي.

$GNP = C+GI$..........................................(3)

لکه څنګه چې مو پورته ورته اشاره وکړه:

$$GI = I+D$$

D د تولید هغه مقدار دی، چې د پانګه ییزو اجناسو د له لاسه تللي ارزښت د تعویض لپاره په کار وړل کیږي. د D پانګه ییزو اجناسو په تولیدي واحد کې پر دې علت چې د تولید په تېره دوره کې د له لاسه تللو اجناسو له ارزښت سره سم د GNP لپاره دی، په اقتصاد کې یې اضافه ارزښت نه دی ایجاد کړی. که چېرته له GNP نه D واېستل شي، کوم څه چې پاتې کیږي، هغه اجناس او خدمات دي، چې په هره دوره کې تولید شوي او اضافي ارزښت یې ایجاد کړی دی. دغه مقدار په اقتصاد کې تولید له ناخالص ملي محصول سره یادیږي او په NNP سره ښودل کیږي:

$GNP - D = NNP$...........................................(4)

د GNP پر ځای د هغه برابر مقدار، یعنې C +GI په څلورمه رابطه کې وضع کوو:

$$NNP = C + GI - D$$

$NNP = C + I$............................................(5)

کله چې د GI پر ځای هم د هغه برابر مقدار، یعنې I+D په پورتنۍ معادله کې وضع کړو، نو لرو چې:

$$C+I+D-D=NNP$$

او یا

$$NNP = C + I$$

محصول له ناخالص ملي تولید سره په دوه برخو وېشل کېږي؛ یوه برخه یې د کورنیو او افرادو په وسیله مصرفېږي او پاتې برخه یې د خالصې پانګونې او یا د پانګه ییزو اجناسو د حجم په زیاتوالي کې مصرفېږي.

ناخالص عاید چې د تولید له برخې څخه افرادو او کورنیو ته چې د (2) جریان له لارې انتقال مومي دا هم په دوه برخو وېشل کېږي؛ د هغه یوه برخه، کله چې افراد او کورنۍ د تولید له برخې نه د اجناسو د قیمت د ورکړې په جریان کې مصرفېږي، د (3) جریان په وسیله بېرته تولیدي برخې نه انتقالېږي) چې دغه برخه افرادو او کورنیو ته د تولید له برخې څخه د اجناسو او خدماتو له پولي ارزښت سره برابرېږي، یعنې د C په اندازه ده. دوهمه برخه، په اقتصاد کې د ناخالص ملي عاید او مصرف ترمنځ توپیر ته ناخالصه سپما یا GS وایي.

نو $$GNI = C + GS \text{.................................................} (6)$$

د مصرف په برخه کې ناخالصه سپما د پانګې د تولید د عامل په توګه د (1) جریان له لارې د اقتصادي موسسو یا تولیدي برخې ته لاس ته ورځي. د دغې پانګې یوه برخه د مستهلک، یعنې D د پانګه ییزو کالیو د خرید په جریان کې به په مصرف ورسول شي، پاتې پانګه د پانګه ییزو کالیو له تولیدي واحدو څخه د نویو پانګه ییزو کالیو د پېرودلو لپاره مصرفېږي، دغه برخه په اقتصاد کې د خالصې سپما په نامه یادېږي او په S باندې ښودل کېږي.

$$GS = S + D \text{..........................................} (7)$$

ناخالص ملي عاید د ناخالصې سپما له منفي کولو څخه وروسته د خالص ملي عاید په نامه یادېږي. په حقیقت کې ناخالصه ملي سپما د هغه مقدار کالیو او خدماتو له حاصل څخه مجازي

عاید دی، چې په تېرو تولیدي دورو کې تولید شوې د هغو د له لاسه تللو کالیو له ارزښت سره برابره ده.

$$NNI = C + GS - D \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(8)$$

په پورتنۍ معادله کې، د GNI پر ځای د هغه مقدار، یعنې C + GS وضع کوو:

$$NNI = C + GS - D$$

له هغه ځایه چې GS - D له S سره مساوي ده، نو:

$$NNI = C + S \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(9)$$

د (9) معادلې پر اساس، ناخالص ملي عاید د مصرف په برخه کې په دوه برخو باندې وېشل کېږي، یو مقدار یې د افرادو او کورنیو له خوا د مصرفي کالیو او خدماتو په پېرودلو مصرفېږي او بله یې سپما کېږي.

$$NNI = NNP$$

مساوي ده له، نو: $C + S = C + I$

یا $S = I \ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(10)$

یعنې خالصه سپما له خالصې پانګونې سره برابره ده.

له پورتنیو لسو (10) معادلو څخه په راتلونکي کې له 5، 9 او 10 معادلې نه نسبت نورو معادلو ته زیاته استفاده کوو. عموماً خالص ملي عاید په NNI او محصول یا خالص ملي تولید په NNP یا په Y باندې ښودل کېږي. نو (5) او (9) معادله لاندې شکل غوره کوي:

$$Y = C + S$$

$$Y = C + I$$

اوس داسې فرضوو چې د دولت نشتوالی ایسته پرېږدو. دولت د ورسپارل شویو دندو د سرته رسولو لپاره، مصرف ته اړ دی. فرضوو چې د دولت مصرف G دی. د دې لپاره چې د مصرف

کولو جوگه وي. دولت باید عاید ایجاد کړي. داسې فرضوو، چې د دولت عواید یوازې له افرادو څخه د مالیاتو اخیستل تشکیلوي. نو پر دې اساس، به د عاید معادله په لاندې ډول وي:

$$Y = C + S + T$$

که فرض کړو چې دولت د بودجې مازاد او د بودجې کسر نه لري او بودجه یې متعادله ده، یعنې:

$$G = T$$

د تولید معادله به په لاندې ډول شي:

$$Y = C + I + G$$

دغه دوه معادلې څرگندوي، چې دولت د افرادو د عاید یو مقدار په اقتصادي سیستم کې لاس ته راوړي او د کالیو او خدماتو په پېرودلو یې مصرفوي. په دې حالت کې د تعادل شرط لاندې معادله ده:

$$G + I = S + T$$

او د اقتصاد تړلتیا یوې خوا ته پرېږدو. یعنې داسې فرضوو، چې اوس اقتصاد له نورو باندنیو هېوادونو سره کالي تبادله کوي، نورو هېوادونو ته لېږل شوي کالي د صادراتو (X) او له نورو هېوادونو نه راوړل شوي کالي په (M) باندې ښیو.

په دې توگه، د ملي محصول یا ملي تولید معادله به په دې ډول وي:

$$Y = C + I + G\,(x - m)$$

او اقتصادي تعادل په لاندې معادلې باندې مشخص کیږي:

$$I + G + X = S + T + M$$

یا

$$I + G + (X - M) = S + T$$

که چېرته $X = M$ سره وي او یا $X = 0$ وي، وایو چې د اقتصاد د خارجي تادیاتو بیلانس د تعادل په حال کې دی. له دې پرته، به دغه بیلانس متعادل نه وي.

اضافه شوی ارزښت– غالباً مونږ د GNP د لاس ته راوړلو لپاره په ټولنه کې د ټولو اقتصادي واحدونو مجموعي تولید له یو بل سره نه جمع کوو، ځکه چې دغه کار د ځینو تولیدي برخو د تولید د برخې د مضاعفې محاسبې باعث گرځي. په مسئلې باندې د ښه پوهېدو لپاره، لاندیني مثال ته پام وکړئ.

فرض کړئ، چې په اقتصاد کې پنځه تولیدي واحدونه لرو، چې د بوټانو، مېخونو (موږیو)، ټوکر، سریښو او چرم په تولید بوخت دي. د بوټانو تولیدي واحد د کالیو د تولید لپاره له څلورو نورو تولیدي واحدونو څخه مېخونه، چرم، ټوکر او سریښ ترلاسه کوي. که د GNP د لاس ته راوړلو لپاره د دغو واحدونو په وسیله ټول تولید شوي کالي له یو بل سره جمع کړو، د څلور تولیدي واحدونو په تولید او یو ځل بیا د بوټانو په تولید کې د دغه تولیدي واحد په تولیدي برخه کې محاسبه کېږي، چې دغه د تولید شویو کالیو مضاعفه محاسبه ده. د مضاعفې محاسبې د مخنیوي لپاره غالباً مونږ د بوټانو ارزښت د نورو واحدونو د تولیداتو له ارزښت سره، د GNP د موندلو لپاره له یو بل سره نه جمع کوو، بلکې د هغه پر ځای د بوټانو ارزښت د مېخونو، ټوکر، سریښو او له نورو واحدونو څخه له اخیستل شوي چرم پرته، د تولید شویو بوټانو په ارزښت کې شمېرو. دغه ارزښت ته اضافه شوی ارزښت وایو او له نورو واحدونو څخه اخیستل شوی چرم، مېخونه، ټوکر او د سریښو ارزښت د واسطه مصارفو په نوم یادوو. پر دې اساس، لرو چې:

واسطه مصارف – د کالیو ارزښت = اضافه شوی ارزښت

# نهم څپرکی

## د کلاسیکو اقتصادپوهانو نظریات

د اقتصاد د علماوو د هغې ډلې نظریات چې په اته لسمه، نولسمه او د شلمې پېړۍ په لومړیو کې یې ژوند کاوه، د کلاسیکو د عقایدو په نامه یاد شوي دي. په دې برخه کې هڅه کېږي، ترڅو د امکان تر حده د دوی عقاید په لنډه توګه واضح شي.

**د سي قانون(21):**

جان. باتیست. سي باور درلود چې عرضه په خپله، د ځان لپاره تقاضا پیدا کوي. یعنې په هره اندازه چې کالي تولید شي د اضافي عاید له لارې چې د کالیو تولید یې په ټولنه کې پیدا کوي، د خرید د قدرت په لوړولو سره، د اړتیا وړ تقاضا به په بازار کې د اضافي تولید د جذب لپاره رامنځته کړي.

له هغه ځایه چې عرضه کولای شي ځان ته تقاضا رامنځته کړي او له هغه ځایه چې په ټولنه کې د تولید د عواملو وزګار پاته کېدل مطلوب نه دي، د تل لپاره به د تولید کچه په هغه اندازه وي، چې په اقتصاد کې ټول د تولید موجوده عوامل په کار یوسي. د سي په باور، کله چې په اقتصاد کې د تولید د عواملو اشتغال ناقص وي، تولید به تر هغه وخته پورې زیاتوالی ومومي، ترڅو چې کامل استخدام رامنځته شي. د غه مسئله د دې اصل لامل ګرځي، چې په اقتصاد کې د تولید د عواملو استخدام د تل لپاره کامل وي.

**د پیسو مقداري نظریه(22):**

کلاسیکان په دې باور وو، چې انساني افراد هېڅ ډول علاقه د پیسو له ساتلو سره، چې یوازې او یوازې د پیسو لپاره وي، نه لري. هغوی پیسې یوازې د راکړو ورکړو (د کالیو او خدماتو پېر او پلور) لپاره غواړي. که چېرته د یوې ټولنې د تادیاتو عادت ثابت پاته شي او قېمتونه په دواړو خواوو کې د انعطاف وړ وي. د تعادل په حالت کې به: M = LPY وي.

P = د قېمتونو عمومي سطحه، M = په جریان کې د پیسو مقدار، L د پیسو د دوران سرعت، Y = تولید یا ناخالص ملي محصول. د PY د ضرب حاصل د ټولو هغو کالیو او خدماتو له ارزښت سره

---

21 - Say's Law.

22 - quantity theory of Money.

برابر دی، چې په یوې ټولنه کې تولید او تبادله کېږي. په هغه صورت کې چې په دواړو دورو کې د پیسو هر واحد یوازې یو ځل معامله ترسره کړی شي په اقتصاد کې به د معاملاتو د ترسره کولو لپاره د اړتیا وړ پیسو مقدار د تبادلې وړ کالیو او خدماتو له پولي ارزښت سره مساوي شي.

که داسې فرض کړو، چې په یوه دوره کې د پیسو دوران $M = 1 \times PY$ سرعت یو 1 وي، $Y = 1000$ او $P = 10$ وي نو په ټولنه کې به د اړتیا وړ پیسو مقدار: $M = LPY$ او یا $M = 1 \times 10 \times 1000$ وي. خو د هرې دورې په اوږدو (په یوه کال) کې په هر پولي واحد باندې له یوې معاملې نه زیاتې ترسره کولای شو. فرض کړئ چې د ډالرو یو 100 سلګون مو په جېب کې پروت دی، سګرټ پلورونکي ته ورځئ او په دغه (100) سلګون باندې څلور قوطیه سګرټ پېرئ، د غه سلګون ستاسې له جېب نه سګرټ پلورنکي ته ورځي. امکان لري دغه سګرټ پلورونکی له دغه سلګون څخه مثلاً د غوښې د پېرودلو لپاره کار واخلي. دغه سلګون به د سګرټ پلورونکي له جېبه د قصاب جېب ته لاره پیدا کړي او د هغه له لوري به په نورو معاملاتو کې وکارول شي. دغه په پیسو باندې په یوه اقتصادي دوره کې د توکو د اخیستلو او خرڅولو دفعاتو ته، د پیسو د دوران سرعت وایي. په دې علت چې عموماً د پیسو د دوران سرعت له یو څخه زیات وي، د معاملاتو د ترسره کولو لپاره، یوه ټولنه نسبت د کالیو او خدماتو پولي ارزښت ته لږ مقدار پیسو ته اړتیا لري. که د پیسو د دوران سرعت 100 وي، یعنې د یو پولي واحد په مرسته په یوه دوره کې سل 100 معاملې ترسره شي، د معاملې د ترسره کولو لپاره کله چې $P = 10$ او $Y = 1000$ دی، یوازې 100 واحده پیسو ته به اړتیا وي.

## مزد- قېمت- استخدام او تولید:

کلاسیک اقتصادپوهان پردې باور وو، چې کارګري تولیدي ځواک د تولید تر ټولو مؤثر عامل، او په اقتصادونو کې د اضافي ارزښت مؤلد دی. پردې دلیل، کوم مقدار توکي چې په اقتصاد کې تولیدېږي، د کارګر د کار په اندازې او مقدار پورې تړاو لري.

د تولید تابع $$Y = F(N)....................(1)$$

په کار باندې د بوختو کسانو شمېر = $N$ ملي تولید = $Y$

د کلاسیکانو د قیمت نظریه څرګندوي، چې په کار باندې د بوختو کسانو شمېر او په پای کې د تولید مقدار د قېمت او تولید د مصرف په رابطې پورې تړاو لري. د هر تولیدونکي تصمیم د کارګر د استخدام او د کالیو د تولید په هکله د کالیو د خرڅلاو په قېمت او د کالیو هغه مصرف دی،

چې هغه يې د توليد لپاره ترسره کوي. د کلاسيکانو د قېمت د نظريې تجزيه او تحليل په لاندې دوه فرضيو کې ساده کوو:

1- فرض کړئ چې په ټولو صنايعو کې کامل رقابت شتون لري.

2- پلورنکی او پېرودونکی د ګټې د اعظمي کولو هڅه کوي او هر صنعت کارګر او لومړني مواد د نهايي محصول د توليد لپاره په کار وړي، په کومو صنايعو کې چې کامل رقابت وجود لري، د ګټې اعظمي کول د توليد له نهايي مصرف سره د قېمت د برابرولو په نتيجه کې امکان لري. هر توليدونکی تر هغه وخته پورې په خپل توليد کې زياتوالی راولي ترڅو قېمت، له نهايي مصرف سره برابر شي. د مزد او نهايي مصرف ترمنځ کومه رابطه وجود لري؟ په هغه صورت کې چې فرض کړو چې کارګر د توليد يوازينی متغير عامل دی. د توليد نهايي مصرف يعنې د توليد د يو واحد د زياتوالي په مرسته چې په مصرف کې کوم تغيير راځي. له پولي (مثلاً د يوه ساعت لپاره) د مزد د نرخ په اندازه د کارګرو د نهايي فزيکي حاصل (مثلاً په يوه ساعت کې د توليد شويو کاليو مقدار) له وېش سره برابر وي. په هغه صورت کې چې د ګټې د اعظمي کولو شرط نهايي مصرف = قېمت وي او له هغه ځايه چې W/MPL نهايي مصرف دی (MPL = د کارګر نهايي فزيکي حاصل، MC = نهايي مصرف او W پولي مزد = P قېمت):

نو P = W/MPL او يا (2) به MPL = W/P سره وي.

دوهمه (2) معادله په حقيقت کې هماغه د سود د اعظمي کولو شرط دی، يعنې د قېمت او نهايي مصرف برابري ده او دا خبره ښکاره کوي چې توليد تر هغه وخته پورې زياتېږي او پراخوالی مومي تر هغه چې د کارګر نهايي حاصل له حقيقي (3) مزد سره برابر شي.

3- حقيقي مزد او يا د کارګرو د خريد واقعي قدرت له پولي مزد، د قېمتونو په عمومي سطحې له تقسيم سره برابر دی. نو که چېرته قېمتونه زياتوالي ومومي، حقيقي مزد به کموالي او د قمېتونو د کموالي په دې کې، حقيقي مزد زياتوالی مومي. دوهمه (2) معادله په يوه اقتصاد کې د استخدام د کچې ټاکوونکې ده. په حقيقت کې د قېمتونو په عمومي سطحې باندې د پولي مزدونو نسبت دی، چې د استخدام د سطحې ټاکوونکی او په نتيجه کې د هر ملي اقتصاد د ملي توليد د اندازې ټاکوونکی دی. که مزدونه او د قېمتونو عمومي سطحه په يوه نسبت تغيير وکړي، نو د توليد او استخدام په سطحه کې به کوم تغيير رانه شي. په هغه صورت کې چې پولي مزد له

قېمت څخه یو څه ډېر زیات شي، دوهمه رابطه به د MPL =W/P شکل غوره کړي او په کار باندې د بوختو کسانو شمېر به بدلون ومومي.

په هغه صورت کې چې قېمتونه له پولي مزد څخه ډېر زیاتوالی ومومي، دوهمه رابطه به په MPL> W/P شکل واوړي، په دې صورت کې به د اقتصاد د صنایعو لپاره د کارګرو د زیات شمېر کسانو استخدام ښه او ګټور وي، بوختیا او په پای کې به په اقتصاد کې تولید زیاتوالی ومومي.

دوهمه (2) معادله په حقیقت کې د کارګرو لپاره د یوه اقتصاد تابع ده، چې د MPL په ثابت پاته کېدو سره به د W/P زیاتوالی کارګرو ته د تقاضا د کموالي باعث شي او د W/P کموالی به کارګرانو ته د تقاضا د زیاتوالي سبب شي. د کلاسیکانو په باور په اقتصاد کې د کارګرو عرضه د حقیقي مزد یوه تابع ده.

N = F (W/P)......................(3)

په لوړو حقیقي مزدونو کې به زیات شمېر کارګر او په لږ حقیقي مزد کې به لږ شمېر کارګران کار ته آماده وي (4). د عرضې او تقاضا تعادل، یعنې د کار د بازار تعادل (د استخدام سطحه) به د تعادل په حالت کې د حقیقي مزد، د تعادل حالت او په کار باندې د بوختو کسانو ټاکوونکی وي.

فرض کړئ چې د یوه ټاکلي تولیدي واحد (که چېرته د پانګې او طبیعي سرچینو بنسټونه ثابت فرض شي) نهایي مصرف هم د تولید په زیاتوالي سره زیاتوالی مومي.

4- په اوږد مهال کې استدلال کولای شو، چې د حقیقي مزد زیاتوالی W = W/P د کارګرانو د خرید د قدرت په زیاتېدو سره د روغتیا او تغذیې د وضعې د ښه والي او له بلې خوا د هغوی د کورنیو د تشکیل د وس د زیاتېدو باعث ګرځي، او په دغې ټولنیزه ډله کې د تولد او تناسل د نرخ د زیاتوالي او د مرګ او مړینې د نرخ د کموالي سبب ګرځي. پردې اساس، د کارګرې طبقې د زیاتوالي سبب ګرځي. له بلې خوا د حقیقي مزد کموالی د کارګرانو د خرید د قدرت له کموالي سره د روغتیا او تغذیې د وضعې د خرابېدو او د دوی د کورنیو د تشکیل د وس د کمېدو لامل ګرځي. په دغې ټولنیزه ډله کې د مرګ او مړینې د نرخ د زیاتوالي او پردې اساس، د کارګرې طبقې د کموالي لامل ګرځي.

له هغه ځایه چې د یو اقتصاد ټول تولید د بېلابېلو تولیدي واحدونو له مجموعې څخه ترلاسه کېږي، د کارګرانو د زیاتوالي په فرضولو سره به د ټول اقتصاد تولید اضافه شي. په هغه صورت کې چې زیات مصرف د تولید د سطحې له زیاتوالي څخه رامنځته شوی وي، د کارګري قواوو نهایي حاصل کموالی مومي.

فرض کړئ چې په یوه ټاکلي پولي مزد (ثابتو قېمتونو) نرخ سره کار فرمایانو ته ورګرځول کېږي، چې د کارګرو لږ شمېر نظر هغه ته چې په دغه حقیقي مزد باندې دغه کار ته حاضر دي، استخدام کړي (د عرضې مازاد وجود لري). که چېرته آزاد او کامل رقابت وجود ولري، نو کارګران به په لږ قېمت باندې خپل خدمات بازار ته وړاندې کړي (پولي مزد کموالی مومي).

د استخدام او تولید په سطحې باندې د پولي مزد د کموالي اغېزه په قېمت پورې تړاو لري. که چېرته د قېمتونو عمومي سطحه د پولي مزد او نسبت په اندازه کموالی ومومي، له هغه ځایه چې حقیقي مزد تغییر نه کوي، کارفرمایان به د کارګرانو او د تولید د سطحې د زیاتوالي هېڅ انګېزه او شوق ونه لري. که قېمتونه د پولي مزد په نسبت ډېر زیاتوالی ومومي، کارفرمایان به یو شمېر په کار بوخت کسان له کاره وباسي. په هغه صورت کې چې د قېمتونو کموالی د پولي مزد له کموالي څخه نسبتاً لږ وي، نو د تولید زیاتوالی او د یو شمېر وزګارو خلکو جذب به تولیدونکو ته ګټه ورسوي.

په لنډه توګه د پیسو مقداري نظریې ته په کتو، د کار بازار نوسان به اقتصاد په لاندې بحث کې د دغې شرحې او توضیح په څېر تر اغېزې لاندې راولي.

د کارګرو د عرضې مازاد او یا وزګارتیا، په هغه صورت کې چې په بازار کې کامل رقابت وجود ولري، د پولي مزد د کموالي لامل به شي. که قېمتونه ثابت پاته شي، دغه مسئله به تولیدونکي د استخدام پراختیا او تولید ته وهڅوي. خو ډېر تولید یوازې په ټیټه بیه پلورل کېدای شي (عرضه او تقاضا). د پیسو د مقداري نظریې پر اساس، په هغه صورت کې چې M او L ثابت وي، د Y زیاتوالی به د P کموالی لامل شي. خو د قېمتونو کموالی به د پولي مزد له کموالي څخه لږ وي. که څه هم قېمتونه د پولي مزد په اندازه کموالی ومومي، تولیدونکي به د تولید د پراختیا لپاره سوچ ونه لري او د قېمت د کموالي لپاره به کوم دلیل شتون ونه لري. په هغه صورت کې چې د قېمت کموالی د تولید له پراختیا سره یوځای نه وي بناء پر $M = LPY$ یوه اندازه وزګاره پیسې به په جریان کې باقي پاته شي، چې بیا به د دوهم ځل لپاره د قېمتونو د زیاتوالي لامل شي. خو که چېرته قېمتونه له مزدونو نه لږ راټیټ شي، نو تولیدونکي به هم د تولیداتو د زیاتوالي فکر ولري او هم به د کارګرانو د استخدام د زیاتوالي فکر ولري، د وزګارو پیسو د شتون په علت به بازار وجود ولري. که د پولي مزد لومړنی کموالی (چې له کموالي سره یوځای نسبتاً قېمتونه له عمومي سطحې نه کم وي) په اقتصاد

کې د موجودې وزګارتیا د کموالي لپاره کفایت ونه کړي، پولي مزدونه به ډېر کموالی وموميي او قېمتونه به هم د پولي مزد په مجدد کموالي سره راکم شي (په لړ نسبت).

دغه کموالی به تر هغه وخته پورې چې اقتصاد کامل استخدام او د اعظمي تولید حد ته ورسېږي، دوام ومومي. په دغې نقطه کې به مزدونه، قېمتونه او د تولید سطحه متعادله او ثبات لرونکې وي.

په مطلب باندې د ښه پوهېدو لپاره د یو عددي مثال په وړاندې کولو پیل کوو. فرض کړئ: چې M = 50 ، L = 1,2 ، PY = 100 ، 1 – 9 جدول د P او Y ممکنه ترکیبات مشخص کوي، خو کله چې د M مقدار ثابت وي.

| P | Y | PY |
|---|---|---|
| 2 | 50 | 100 |
| 1,2 | 83 | 100 |
| 1 | 100 | 100 |
| 0,93 | 107,5 | 100 |
| 0,833 | 120 | 100 |
| 0,667 | 150 | 100 |
| 0,5 | 200 | 100 |

«1 – 9 جدول»

د تولید هره ممکنه سطحه (Y) په 1- 9 جدول کې ټاکلې اندازې کاري ځواک ته اړتیا لري، چې په 2- 9 جدول کې مشخص شوي دي.

| د تولید سطحه | کارګر | د کارګر نهایي حاصل |
|---|---|---|
| 50 | 18,5 | 2,7 |
| 83,3 | 32,4 | 2,4 |
| 100 | 40 | 2,2 |
| 107,5 | 43,5 | 2,15 |
| 120 | 50 | 2 |
| 150 | 67,6 | 1,7 |
| 200 | 107,6 | 1,25 |

«2- 9 جدول»

فرض کړئ چې د قېمتونو سطحه په یوې ټاکلې نقطه کې له یو پولي واحد سره برابره او پولي مزد 2,2 واحده وي. په دغه قېمت او مزد کې د تولید تر ټولو ګټوره سطحه د 1 او 2 جدول پر اساس به له 100 واحدو سره مساوي وي، چې 40 واحده کاري ځواک به یعنې N ته به اړتیا ولري.

(پام وکړئ چې د تولید په دغه سطحه کې حقیقي مزد د کارګر له نهایي حاصل سره مساوي دی). جدول ته په کتو سره ګورو چې 100 واحده تولید شوي توکي به په یوه پولي واحد قېمت سره د M له ورکړل شوي مقدار او د ورکړل شویو پیسو د دوران له سرعت سره وپلورل شي او یا په بله وینا، د دغه ځانګړي ترکیب W، P، Y او N په هکله د ګټې د اعظمي کولو او د پیسو مقداري نظریه یعنې دواړه صدق کوي.

اوس فرض کړئ چې د کارګرو عرضه هغوی ته له تقاضا (یعنې له 40 واحدو) نه زیاته ده. په دې ترتیب د عرضې او تقاضا له قانون سره سم پولي مزد مثلاً د رقابت په علت دوه پولي واحدو ته راټیټېږي. که قېمتونه راټیټ نه شي، حقیقي مزد به 2 واحدو ته راټیټ شي او کومه نقطه چې ګټه اعظمي کوي، د تولید سطحه به 120 واحده وي، چې 50 واحده کاري ځواک ته اړتیا لري. خو دا ممکنه نه ده، ځکه د تولید یا حاصل (Y) زیات مقدار به په هماغه پخواني قېمت سره د خرڅلاو وړ نه وي. پردې اساس، قېمتونه باید د تولید په زیاتوالي سره کموالی ومومي. که فرض کړو، کله چې پولي مزد 2 واحده وي، قېمتونه 0,93 ته کموالي مومي، حاصل او یا اعظمي کوونکې ګټه به 107,5 واحده وي. اوس به حقیقي مزد له 2,15 واحده وي چې د تولیدوونکي د هڅولو لپاره د 107,5 واحده کالیو د تولید او 43,5 کارګرو د استخدام لپاره به کافي وي، تولید شوي کالي به د 0,93 پولي واحدو په قېمت وپلورل شي. او د W، P، N، Y یو بل ترکیب لرو چې د هغه په هکله د پیسو د مقداري نظریې او د ګټې د اعظمي کېدو شرایط صادق دی.

که فرض کړو چې په کار پسې ګرځېدونکي کسان له 43,5 نه زیات دي، مزدونه به بیا هم ښه راولوېږي. فرض کړئ چې د کارګر د عرضې تابع د هغو ارقامو په وسیله مشخص کېږي چې په 9 – 3 جدول کې ښودل شوي دي.

| د کارگر عرضه | پولي د لاس مزد |
|---|---|
| 56 | 2,4 |
| 53 | 2,2 |
| 52 | 2,15 |
| 50 | 2 |
| 46 | 1,70 |
| 40 | 1, 25 |

«3 – 9 جدول»

که دغه جدول له 2 – 9 جدول سره پرتله کړو، گورو چې کامل استخدام 120 واحده کالیو ته اړتیا لري. یوازې د تولید په دغه سطحه کې به د کارگر عرضه او تقاضا سره برابره او حقیقي مزد به له 2 سره برابر وي. د 1 – 9 جدول له مخې محاسبه کولای شو چې د دې لپاره چې دغه تعادل ته ورسیږو، پولي مزد باید تر کومه حده پورې راټیټ شي. گورو چې په کوم قیمت چې 120 واحده وپلورل شي له 0,833 پولي واحدو سره برابر دی. که وغواړو چې حقیقي مزد 2 واحده وي، چې تولیدونکي د دغه مقدار کالیو لپاره هڅوي، پولي مزد باید تر 1,667 واحدو پورې راټیټ شي. که د وزگارو کارگرانو ترمنځ رقابت وشي کولای چې دغه مزد تر دې حده راټیټ کړي، نو وزگارتیا به له منځه ولاړه شي. په دغې نقطه کې، نه یوازې د W، P، N، او Y مقادیرو په هکله د سود د اعظمي کېدو شرایط او مقداري نظریه دواړه صادقې دي، بلکې د پولي مزد ثبات یعنې د عرضې او تقاضا لپاره هم صادقه ده. لکه څنگه چې مو ولیدل، په پولي مزد کې 25 واحده کموالی، د 9 فیصدو په اندازې سره د پولي مزد راټیټولو لپاره هم لازمه شوه. پردې اساس، د استخدام او تولید اندازه د پولي مزد او قیمتونو په رابطې پورې تړاو لري. د حقیقي مزد د ټیټوالي لپاره لازمه ده، ترڅو پولي مزد مطلقه سطحه راټیټه کړو. په لومړی مرحله کې د وزگارو کارگرو ترمنځ رقابت د پولي مزد د کموالي باعث کیږي، او بیا د پولي مزد کموالی د حقیقي مزد او د مزد د سطحې او د قیمتونو د کموالي سبب گرځي.

## سپما او پانگه اچونه:

د پیسو د مقداري نظریې عمده نقص په دې کې دی، چې سپما ته پام نه کوي. خلک په اتوماتیک ډول ورسره شته پیسې د کالیو او خدماتو په پیرودلو نه لگوي. ډیری وخت مونږ د ترلاسه

شوي مقدار یوه برخه صرفه یا له ځان سره ساتو. زموږ سپما (کله چې له عاید نه مصرف وایستل شي)، پیسو ساتلو ته زموږ د علاقه مندۍ نښه ده، له دې اړخه، زموږ سپما د عمر د بیمې په اخیستلو، د شرکتونو د ونډو د اخیستلو، نورو ته د پور د ورکړې او یا په بانکونو کې د امانت په شکل بدلیږي. کله چې د پورته شکل په ورکولو سره زموږ سپما ګټه لاسته راوړی شي، نو ولې باید د پیسو اضافي مقدار، چې زموږ د اړتیاوو معاملو د ترسره کولو لپاره اړینې نه دي، نو ولې یې د نقدو پیسو په توګه له ځان سره وساتو؟ خو آیا سپما له جریان څخه د پیسو د وېستلو سبب کېدای شي؟ د کلاسیکو یوې ډلې داسې باور درلود، چې سپما پیسې له جریان څخه نه باسي. د هر فرد د مستقیم او غیر مستقیم عاید او مصرف توپیر له لاندینیو شکلونو څخه په یو شکل راتلی شي:

الف- د نقدو پیسو په توګه ساتل کېږي.

ب- د پانګه ییزو کالیو په خریدارۍ باندې مصرفېږي، یا مستقیماً د سپما کوونکي شخص له خوا او یا هم د بانکونو د پورونو او یا هغه موسسې چې د سپما کوونکو سپما ترلاسه کوي، د تولیدي واحدونو د کارفرمایانو په مرسته د دې خبرې په فرضولو سره چې سپما کوونکي منطقي دي، پردې علت چې په دوهم شکل باندې د بدلولو په صورت کې هغه ته ګټه رامنځته کوي، نو هېڅکله خپله سپما په لومړني شکل له ځان سره نه ساتي. ځکه که چېرته د نوموړي شخص د مصرف او عاید توپیر هغه ته ګټه ورسولای شي، دغه زیات شوی عاید، به د صفر له مطلوبیت څخه زیات (په نقده شکل د سپما په ساتلو) سره به هغه ته زیاته ګټه ورسوي. په هغه صورت کې چې یو سپما کوونکی په خپله کارفرما او یا تولیدونکی مشخص ونه اوسي، نو د هغه سپما به یا د ارزښت لرونکو ونډو د خرید په صورت او یا به مثلاً د بانکونو له لارې هغه د تولیدونکي لاس ته ور ورسېږي، چې دې ته حاضر دی ترڅو د سپما کوونکي سپما ته یوه اندازه ګټه ورکړي او هغه د زیات حاصل د ترلاسه کولو لپاره په تولیدي چارو کې مصرف کړي. که چېرته فرض کړو چې سپما د تولیدي واحدونو د ونډو د خریدارۍ له لارې د سپما کوونکي له خوا د تولیدونکو لاس ته ورځي، په دې صورت کې به بورس یا د ونډو د پېر و پلور بازار ابزاري وي، چې د سپما کوونکو اضافي عاید د کارفرمایانو د عاید په مخکیني مصرف باندې بدل کړي. د کلاسیکانو نظریه دا خبره بیانوي چې پورتنی بازار د نورو په څېر دی، چې د پور ورکولو او یا د ونډو د خرید (سپما) او پورول او یا د ونډو پلور (پانګونه) تعادل رامنځته کوي. د سپما تمایل او د مثبت حاصل د ترلاسه شوي پور د ګټې له نرخ څخه د تولید زیات حاصل په بازار کې د پیسو د تقاضا لامل کېږي. د پور اخیستلو او پور ورکولو (عرضې او تقاضا) ترمنځ تعادل د بازار د ګټې د نرخ د بدلون او نوساناتو له لارې ټاکل کېږي. د دې لپاره چې د بازار د ګټې

نرخ د پور د عرضې او تقاضا ترمنځ وشي کولای او پردې اساس، د پانگونې او سپما ترمنځ تعادل رامنځته کړي، نو باید په بازار کې رقابت وجود ولري. له دې وراخوا اړینه ده چې:

الف- یا دې سپما کوونکی د گټې په زیاتو نرخونو سره سپما ډېره کړي او یا دا چې پانگوال په ډېرو ټیټو نرخونو سره پورونه ترلاسه کړي.

ب- او یا دا چې د گټې له صفر څخه زیات نرخ دې شتون ولري، چې په هغه کې د سپما شویو او سرمایه گذاري شویو مقادیرو ترمنځ تعادل راولي.

عموماً کلاسیکو اقتصادپوهانو داسې فرض کړې ده، چې سپما او پانگه د گټې د نرخ په پرتله ارتجاعي ده او دغه مسئله چې امکان دې ولري چې د (ب) شرط دې صادق نه وي، د هغوی مغز ته هېڅکله نه ده ورلوېدلې. د پانگې بازار د لاندې شکل په مرسته ښودلای شو.




ترلاسه شوي پورونه د مصرف کوونکو له خوا د دوی د مصرفي اړتیاوو لپاره د پور له ټولې تقاضا څخه راکمېږي او پور ته خالصه تقاضا یوازې د تقاضا کوونکو پور د پانگه ییزو اړتیاوو لپاره د دوی له عوایدو څخه زیات پېژندل کېږي. نو اساساً خالص پورونه هغه ته وایي چې یوازې د پانگونې په موخه ترلاسه کېږي.

د پور اخیستلو د جوړښت اساسي عامل د پانگې نهایي حاصل دی. که چېرته دغه حاصل مثبت وي، نو کارفرمایان هم د پور د ترلاسه کولو او د پانگه ییزو کالیو په خریدارۍ اقدام کوي. له هغه ځایه چې د ترلاسه شوي پور گټه باید د پانگې له حاصل څخه ورکړل شي او دېته په پامنیوي

سره، چې پانګونه د کمېدونکې نهايي ګټې د قانون تابع ده، د ګټې په ټیټو نرخونو کې د پانګوال د ورکړې وس زيات دی. له هغه ځايه چې سپما له مصرف نه يو ډول ډډه کول دي او له مصرف نه ډډه کول مطلوب نه دي. پردې اساس، د دې لپاره چې سپما شتون ولري، نو بايد د ګټې نرخ مثبت وي. له مصرف نه د ځان ساتنې د زياتوالي اندازه هم د ګټې د نرخ د زياتوالي په مرسته تشويقېږي.

د سپما او پانګونې ترمنځ تعادل، يعنې د پانګې د بازار تعادل، د پانګوال او سپما کوونکو د رقابت د شتون په علت منځته راځي.

د تعادل په حالت کې د ګټې د نرخ سطحه د دوه منحني ګانو په ميلان پورې تړاو لري. که چېرته نور عوامل ثابت فرض کړو نو هر څومره چې مصرف ته د يوې ټولنې د افرادو ميلان کم وي، د تعادل نرخ به هماغومره پورته وي. د تعادل په حالت کې به د ګټې نرخ د پانګې له نهايي نرخ سره برابر وي او د عدم مطلوبيت نرخ به له مصرف څخه ډډه کول وګرځي(23).

[23] - G. Ackley, Macroeconomics Theory Ch, 5, 6, 7 and & D. C. Rowan, Output Inflation and Growth Ch. 6, 7 and 8.

## لسم څپرکی

### استخدام

په هر اقتصاد کې د ملي تولید یا کالیو او خدماتو د تولید د زیاتوالي لپاره، باید ډېر کاري ځواک، ماشین آلات او له لومړنیو موادو څخه کار واخلو او یا هم له پرمختللو تولیدي طریقو نه ګټې اخیستنې (پرمختللې ټکنالوژي) د تولید د عواملو ظرفیت (یا هغه عوامل) چې په کار بوخت دي باید مقدار یې ورزیات کړو.

عموماً د ټکنالوژۍ استعمال یا له پرمختللې ټکنالوژۍ څخه د تولید په برخه کې کار اخیستل په اختراعاتو او اکتشافاتو پورې اړه لري. د اختراعاتو او اکتشافاتو په واک کې لرلو سره په تولیدي واحدونو کې د اختراع او اکتشاف د تطبیق لپاره اوږدې مودې ته اړتیا لیدل کیږي، د ملي تولید زیاتوالی یوازې په اوږده موده کې د تولید د عواملو د مؤثریت زیاتوالی دی. په هغه صورت کې چې په لنډه موده کې د ملي تولید زیاتوالی په پام کې وي، دغه زیاتوالی یوازې د تولید د عواملو او یا منابعو په مرسته ممکن کېدای شي.

د ماشین آلاتو (پانګې) د موجودي زیاتوالی هم په عام شکل، په لنډ وخت کې پردې علت چې د ماشین آلاتو تولید وخت ته اړتیا لري، یوازې په ډېر لږ مقدار سره امکان درلودلای شي. له دې کبله په لنډ مهاله تجزیې او تحلیلونو کې د ماشیني منابعو مقدار هم د ټکنالوژۍ یا د تولید د طریقې په څېر ثابت فرض کېږي. یوازې هغه منبع چې د ملي تولید د زیاتوالي پر مهال د چټک او لنډ مهاله زیاتوالي وړ دی، یوازې د انساني منابعو ځواک دی. که چېرته یو تولیدي واحد د تولید د سطحې د زیاتوالي پرېکړه وکړي یا کولای شي چې په لنډ وخت کې ډېر کارګر استخدام کړي او یا له بوختو کارګرو څخه د دې غوښتنه وکړي، ترڅو د ورځنیو کاري ساعتونو موده پسې زیاته کړي او که چېرته همدغه تولیدي واحد د تولید د کمولو پرېکړه وکړي، دلته هم دوه طریقې دي یا به کارګر له کاره ګوښه کوي او یا به هم د کارګرو ورځني کاري ساعتونه راکموي. په لنډ مهال کې چې د تولید طریقه او پانګه د تغییر وړ نه ده، د حاصل یا د تولید د سطحې زیاتوالی د کاري منبع د متحول په بدلون او یا هم د استخدام د سطحې په مرسته امکان منونکې ده.

له دې کبله، په لنډ مهال کې ملي تولید یوازې د انساني ځواک د متحول او یا هم په اقتصاد کې د استخدام په سطحې پورې تړاو لري.

**کامل استخدام:**

که چېرته کارګران، چې د کار ترسره کولو مینه وال وي او د اړتیا وړ تخصص هم ولري او د کار په بازار کې له شغلي او جغرافیایي پلوه کامل تحرک (د کارګرو انتقال له یوې بوختیا څخه بلې بوختیا او له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د شغلي او جغرافیایي تحرک په نامه یادېږي)، او که کامل رقابت شتون ولري، نو کولای شو چې کامل استخدام د کارګرو هغه مقدار ته ویلی شو چې د کار په بازار کې تعادل رامنځته کوي (د کار په بازار کې د تعادل مقدار) لکه چې په تېر څپرکي کې مو ورته اشاره وکړه، د کارګر عرضه د حقیقي مزد تابع ده. د قېمتونو د عمومي سطحې په ثابت فرضولو سره د کارګر عرضه او تقاضا د پولي مزد تابع کېدلای شي. 2- 10 شکل د کار بازار او د کامل استخدام سطحه مشخص کوي.




«10 – 1 شکل»




«2 – 10 شکل»

په هغه صورت کې چې په اقتصاد کې د پولي مزد سطحه W0 وي، د N0 په اندازه به کارګر په کار بوخت وي. دغه مقدار به له هغو ټولو کارګرو سره برابر وي، چې په اقتصاد کې د W0 مزد په سطحې کار کولو ته تیار وي، یا په بله وینا، د کار په بازار کې د خدماتو د وړاندې کولو مینه وال وي. په هغه صورت کې چې د پولي مزد سطح W1 وي، د کارګرو تقاضا به 0N1 او د کارګرو د عرضې مقدار به 0N2 وي. په دې صورت کې د کار په بازار کې عدم تعادل شتون لري او د N1 N2 په اندازه هغه کارګر چې د W1 پولي مزد په بدل کې کار کولو ته زړه ښه کوي، وزګار به پاته شي. یعنې د N1 N2 د کارګرو د وزګار پاته کېدو په علت به په اقتصاد کې ناقص استخدام وجود ولري. په هماغه ډول چې مو په نهم څپرکي کې ورته اشاره وکړه، د سي د بازارونو د قانون پر اساس، کلاسیک اقتصادپوهان تل په دې باور وو، چې د دې مسئلې علت چې عرضه په اتومات ډول ځان ته تقاضا پیدا کوي اقتصاد به د تل لپاره په تعادل کې وي او استخدام به هم کامل وي. جان مینارد کېنز انګلیسي اقتصاد پوه د کلاسیکو اقتصادپوهانو دغه نظریه نه مني. په لاندینۍ برخه کې به د کامل استخدام په هکله د کېنز د نظریاتو په څېړلو لاس پورې کړو.

## د کامل استخدام پر وړاندې ستونزې

### د نقدینه ارجحیت- پیسو ته د سفته بازۍ تقاضا:

کلاسیکو (د مقداري نظریې) اقتصادپوهانو باور درلود چې خلک پیسې یوازې د معاملو د ترسره کولو، یعنې د کالیو او خدماتو د خریدارۍ لپاره له ځان سره ساتي. د پیسو تقاضا یوازې پیسو ته د معاملو د ترسره کولو لپاره ده. کېنز وړاندیز وکړ چې د خلکو د افرادو تمې د پیسو د ساتلو په هکله د افرادو په تصمیم کې د راتلونکي اقتصادي وضعیت وړاندوینه مؤثره ده.

فرض کړئ چې بنا پر کوم علت په بازار کې د کالیو تقاضا کمیږي، د تقاضا د کمېدو په علت تولید هم راټیټیږي، نو نوې پانګونه نه ترسره کېږي. د پورونو د تقاضاوو کموالی د ګټې نرخ راټیټوي (M ثابت په پام کې نیول کېږي) هغه ډله چې په خپلو مصرفي اړتیاوو سربېره نقدي مازاد لري، د پورتني بدلون په ترڅ کې اوس که خپلې پیسې د بانګې په بازار کې تولیدي واحدونو ته پور ورکړي، نو لږه ګټه به ترلاسه کړي. په دې فکر چې اوسنی اقتصادي وضعیت مؤقتي دی او په نږدې راتلونکي کې اقتصاد د ښه کېدو مرحلې ته رسېږي، تولید زیاتوالی مومي او د پورونو تقاضا د پانګونې په موخه زیاته او د ګټې د نرخ د زیاتوالي لامل ګرځي، یعنې په راتلونکي کې د ګټې د نرخ په اټکل سره یې خپله سپما د پانګې بازار ته نه ده لېږدولې او په راتلونکي کې یې د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو لپاره نقدې پیسې له ځان سره ساتلې دي. په حقیقت کې د پور ورکولو په مقابل کې د نقدو پیسو ارجحیت د دې لامل کېږي چې د زیاتې استفادې لپاره د پیسو مقدار د راتلونکي لپاره په نقده شکل وساتل شي. دغه د نقدو پیسو په شکل د پیسو دغه مقدار د ګټې په نرخ پورې تړاو لري او د پیسو د سفته بازۍ په نامه یادیږي.

### سفته بازۍ ته په پامنیوې سره د پیسو عرضه او تقاضا:

کله چې داسې فرض کړو چې هر سپما کوونکی د ګټې یو نرخ مطلوب او طبیعي ګڼي، د سپما کوونکو د نقدو پیسو مقدار ته په کتو داسې یو شکل رسمولای شو چې د هغو پیسو مقدار چې هر سپما کوونکی یې په راتلونکي کې د زیاتې ګټې د ترلاسه کولو لپاره ساتي، (د پیسو د سفته بازۍ تقاضا) د ګټې په هر نرخ کې ټاکي. که د ګټې نرخ په اوس وخت کې ښه لوړ وي، په دې علت چې د هغه د نور زیاتېدو تمه نوره نه کېږي، نو ساتل شوی نقده مقدار د سفته بازۍ لپاره کم دی. په هغه

وخت کې چې د ګټې نرخ ټيټ دی، په دې علت چې په راتلونکي کې يې د پورته کېدو احتمال زيات دی، نو د نقده مقدار ساتل شوې اندازه د سفته بازۍ لپاره زياتوالی مومي.

کېنز پورته ويل شوې خبرې د 3- 10 شکل په شکل ښودلې دي.




«3 – 10 شکل»

د پيسو د سفته بازۍ تقاضا په حقيقت کې پيسو ته د يو ډول شتمنۍ په توګه تقاضا ده، يعنې د پيسو تقاضا غير فعاله ده. د پيسو په مقداري نظريه کې پيسو ته د معاملاتو د ترسره کولو لپاره د تقاضا په نامه نادېږي، نو فعالو پيسو ته د تقاضا ښکاره کوونکی دی:

1- د معاملاتو د ترسره کولو لپاره د پيسو تقاضا (فعالو پيسو ته).
2- د پيسو د سفته بازۍ تقاضا (غير فعالو پيسو ته).

لومړۍ برخه يې د ملي توليد د پولي سطحې او يا له مالي عايد سره متناسبه ده او د وهمه برخه يې د ګټې د نرخ تابع ده. $Md = LPY + F(r)$ د پيسو عرضې ته په کتو (د پيسو مقدار او په جريان کې لوېدلي اعتبارات Md) د عرضې او تقاضا تعادل په دوه متحولينو PY او r پورې تړاو لري. د دغو دواړو متحولينو ډېر زيات ترکيبات د عرضې او تقاضا د تعادل باعث ګرځي.

د تعادل په حالت کې $Md = Md$ سره دی. په هغه صورت کې چې د PY مقدار ټيټ وي، د پيسو معاملوي تقاضا ټيټه ده. د معاملو د تقاضا ټيټوالی به د ګټې د نرخ په مرسته جبران شي، چې د پيسو د سفته بازۍ د تقاضا د زياتوالي لامل ګرځي. په هغه صورت کې چې PY لوړ وي، د ګټې د

نرخ پورته والي چې د سفته بازۍ د تقاضا د کموالي لامل گرځي، د پیسو د عرضې او تقاضا ترمنځ به تعادل راولي.

کله چې په جریان کې د پیسو حجم (عرضه) زیاتوالی ومومي، دغه زیاتوالی به یا د PY په زیاتوالي یا د r په کموالي او یا به د دغو دواړو د ترکیب به مرسته ضرب شي.

مونږ کولای شو چې د تقاضا د دغو دواړو متحولینو د یوه متحول په ثابت فرضولو سره خپله تجزیه او تحلیل پیل کړو. فرض کړئ چې د پیسو معاملوي تقاضا، یعنې M = PLY ثابت دی او د تقاضا تغییرات د گټې د نرخ r د تغییراتو په مرسته ترسره کیږي. د غه مسئله د شکل په مرسته د بل مخ د شکل په مرسته وښیو:

اوس گورو چې د پیسو د عرضې تغییر د پیسو د معاملې د تقاضا په ثابت ساتلو سره کومې اغېزې لري. وروسته له دې نه چې MS تغییر کوي، د دې لپاره چې تعادل رامنځته شي نو د گټې نرخ باید تغییر وکړي. د مثال په توگه، که د پیسو عرضه MS2 ته کموالی ومومي، کله چې Mt ثابت پاته شي، د گټې نرخ به د تعادل په حالت کې r2 ته زیاتوالی ومومي او د پیسو د عرضې په زیاتوالي سره به Ms1 د عرضې نرخ r0 ته کموالی ومومي.

کله چې کېنز د عمومي نظریې کتاب ولیکه، داسې یې انگیرله چې د پیسو د عرضې تغییرات د پیسو په معاملوي تقاضا باندې مستقیمه او یا غیر مستقیمه اغېزه لري. هغه به د گټې نرخ یوه خالصه پولي ښکارنده (پدیده) انگېرله چې یوازې د پیسو په عرضې او د خلکو په وړاندوینې له هغه نه په لاندینیو نرخونو پورې تړلې ده.




«4 – 10 شکل»

### د نقدېدو دام (تلک)([24]):

کېنز باور لري چې په خپل یو شدید شکل کې یې، د پیسو د سفته بازۍ تقاضا ممکن په اتوماتیک شکل کامل استخدام ناشونی کړي. حتی که چېرته مزدونه او قېمتونه کاملاً انعطاف پذیره وي، کېنز بحث کوي چې امکان لري یو وخت، چې د تقاضا سفته بازۍ ته له حده ډېره حساسه شي. فرض کړئ چې د پیسو سفته بازۍ تقاضا بې نهایته شي، له بلې خوا امکان لري چې د ګټې دغه نرخ د پانګونې لپاره ډېر لوړ وي، یعنې د پور تقاضا له عرضې نه ډېره کمه وي. پردې اساس، د سود 2 فیصده نرخ هم د کامل استخدام لپاره ډېر لوړ دی. ټوله غیر کافي تقاضا د وزګارتیا، مزدونو او قېمتونو د کموالي په معنا ده. د Mt = LPY پر اساس، دغه مسئله د دې لامل کېږي چې د پیسو د معاملاتو د تقاضا مقدار آزاد شي. د آزاد شویو پیسو مقدار د عرضې د زیاتوالي لامل ګرځي او باید د ګټې نرخ راښکته او کامل استخدام ممکن کړي، خو د سود د نرخ په هکله د سفته بازانو تمې په راتلونکي کې سفته بازۍ ته ددغو پیسو د جذب لامل او د ګټې نرخ به په هماغه پخواني حد پاته شي. د قېمت د کموالي هېڅ نرخ نه شي کولای چې معاملاتو ته د اړینو پیسو د مقدار په آزادولو سره د ګټې نرخ له 2 فیصدو نه راټیټ کړي، له بلې خوا نه د ګټې 2 فیصده نرخ د کامل استخدام لپاره ډېر لوړ دی. په بله وینا، یو دام (تلک) رامنځته شوی او اقتصاد پکې لوېدلی. لکه څنګه چې یې 5- 10 شکل ښکاره کوي، د پیسو د عرضې مقدار هم چې طبیعي حالت کې یې د ګټې نرخ راکموي، په دې حالت کې بې اثره دی.

[24] - Liquidity Trap.




«5- 10 شکل»

**د سپما او پانگونې ترمنځ د همغږۍ نشتوالی:**

اوس د يوې بلې ستونزې په اړه خپل بحث پیلوو. داسې فرض کړئ چې د پیسو د سفته بازۍ تقاضا فوق العاده حساسه نه ده، یعنې امکان لري چې د کافي مقدار انفلاسیون ضد قېمت یا د ($M^S$) د کافي مقدار د زیاتوالي په جریان کې د پیسو حجم د گټې نرخ تر صفره پورې راښکته کړي. خو هېڅکله د قېمت د ضد په انفلاسیون سره، د $M^S$ زیاتوالی په هر بل سیاست سره د دې امکان نشته چې د گټې نرخ منفي شي. امکان لري چې په یو حالت کې، د سپما او پانگونې منحني گانې چې غیر ارتجاعي دي د مختصاتو (د محور په لومړۍ برخه کې له یو بل سره ټکر ونه کړي. لایتناهي حتی د گټې په صفري نرخ کې، امکان لري چې د سپما کوونکو میلان سپما ته نظر د پانگوالو د میلان له پانگونې څخه زیات وي. په داسې یو حالت کې د پیسو د سفته بازۍ تقاضا ته په نه پاملرنې کامل استخدام ناممکن گرځي. په دې صورت کې، کامل استخدام ته د رسېدو عدم امکان په راتلونکي کې د گټې د نرخ په هکله د خلکو له انتظاراتو څخه نه دی رامنځته شوی، بلکې د گټې په مثبت نرخ کې د سپما او پانگونې له نه همغږۍ څخه رامنځته کېږي.




«6- 10 شکل»

په دغه حالت کې مونږ يوازې غواړو چې د سپما او پانگونې د منحني گانو نسبي عدم ارتجاعيت د گټې د نرخ په پرتله وښيو. که دغه دواړه منحني گانې غير ارتجاعي وي، د هغو دواړو په ځايونو کې ملايم تغيير د گټې په نرخ کې د تغييراتو لامل گرځي چې د I او S د برابرۍ لامل به شي. دا په دې معنا ده چې کله چې د سپما او پانگونې منحني گانې ارتجاعي نه وي نو د اقتصادي فعاليتونو د همغږي کولو د هڅې بار به د مزدونو او قېمتونو په غاړه وي. د دې لپاره چې د گټې نرخ تغيير شي، بايد د پيسو د معاملې په تقاضا کې د پام وړ تغيير رامنځته شي چې د قېمتونو د بې نهايته انفلاسيون غوښتونکي دي.

پردې اساس، امکان لري چې داسې يو حالت رامنځته شي چې د گټې د نرخ کموالی د کامل استخدام د ساتلو لپاره ممکن نه وي.

## اتوماتيک کامل استخدام:

په دې برخه کې مو هڅه وکړه چې د کامل استخدام د اتوماتيک ميکانيزم ستونزې چې د کلاسيکانو د ماډل په مرسته وړاندې شوې وې وښيو. دغه ستونزې په لاندې ډول دي:

1- د سپما او پانگونې د منحني گانو عدم ارتجاعيت په داسې شکل چې حتی په ځينو حالاتو کې دغه دواړه منحني گانې د مختصاتو په مثبت محور کې يو بل قطع نه کړي. که وغواړو چې د ټولنې په مجموعي تقاضا کې ډېر بدلونونه رامنځته نه شي بايد د گټې نرخ په زيات مقدار سره تغيير وکړي.

2- د سفته بازۍ تمایل د خلکو د انتظاراتو په ترخ کې له دې چې د ګټې نرخ به څومره وي د دې لامل ګرځي چې د ګټې د نرخ نوسانات ونه شي کړی د تل لپاره د مجموعي تقاضا ثبات تضمین کړي.

3- د مجموعي تقاضا په ثبات کې د ګټې د نرخ شکست په دې معنا دي، چې انفلاسیون او یا د قیمت د انفلاسیون ضد د ګټې د نرخ د هڅولو لپاره د پیسو د معاملې د تقاضا له لارې په نوسان کې د اړتیا وړ ده. هر څومره چې د ګټې په نرخ کې د اړتیا وړ تغییرات زیات او د پیسو د تقاضا منحني د سفته بازۍ لپاره ډېره ارتجاعي وي، د مزدونو او قیمتونو د اړتیا وړ مقدار تغییرات زیات دي. که چېرته د سپما او پانګونې ترمنځ د مختصاتو د مثبت محور په ناحیه کې همغږي وجود ونه لري او د پیسو د سفته بازۍ د تقاضا منحني بې نهایته ارتجاعي وي، (د ګټې په لوړ نرخ کې) د قیمت د انفلاسیون د ضد هېڅ مقدار نه شي کولای چې کامل استخدام تضمین کړي.

که پورتني فوق العاده افراطي حالات په پام کې ونیسو، نو لا هم زمونږ شک د قیمتونو او مزدونو انعطاف اغېزه په یو پرمختللي اقتصاد کې د کامل استخدام په سطح کې د تولید او عاید د ثبات د تضمین لپاره د یوې وسیلې په توګه د پام وړ دي ([25]).

د دې هر څېرکي په دوام، وزګارتیا او د هغه د شتون دلایل او هغه مسائل چې ممکن ده کامل استخدام یې په اقتصاد کې رامنځته کړي تر بحث لاندې نیسو.

## د وزګارتیا ډولونه او د لایل یې:

وزګارتیا یا ناقص استخدام بېلابېل ډولونه لري، چې په لاندې بحث کې وزګارتیا او رامنځته کوونکي عوامل یې تر بحث لاندې نیسو:

1- **ګڼه وزګارتیا:** دغه وزګارتیا چې د اداري وزګارتیا په نامه هم یادېږي، دا هغه وزګارتیا ده چې د اقتصادي رکود پر مهال رامنځته کېږي او رامنځته کېدونکی عامل یې د تقاضا کمبود دی. دا ډول وزګارتیا، نږدې ټولې صنایع په مشابه شکل تر اغېزې لاندې راولي او په ټول اقتصاد کې د انساني ځواک ناقص استخدام رامنځته کوي. چټکتیا یې په دې اندازه ده چې د اقتصادي رکود پر مهال د 10 فیصدو په حدودو کې انساني ځواک وزګارېږي. د دا ډول وزګارتیا یوه وروستۍ بېلګه د دوه نړیوالو جګړو ترمنځ د لوېدیځ په صنعتي هېوادونو کې رامنځته شوه.

[25] - F. S. Brooman, Macroeconomics, Ch. 4 G. Ackley, Macroeconomics Theory.

2- **اصطکاکي وزګارتیا:** په یوه هېواد کې اقتصادي پراختیا غالباً له یوه صنعت څخه بل صنعت ته د تولید د عواملو انتقال رامنځته کوي. په ځینو صنایعو کې د هغوی محصول ته د کالیو د تقاضا د زیاتوالي پر علت، کارګرو ته د تقاضا د زیاتوالي لامل کېږي. سره له دې چې ځینې صنایع کارګرو ته اړتیا لري، یوه ډله کارګر د بېلابېلو علتونو له مخې د یو وخت لپاره وزګار پاته کېږي. په لنډ ډول د اصطکاکي وزګارتیا د پېښدو دلایل په دې ډول دي:

**الف- د تقاضا تغییر:** لاندینی ساده مثال په پام کې ونیسئ. د برېښنا د شبکې له پراختیا نه مخکې، ډېرو کورنیو له تېلي څراغونو څخه کار اخیست. دا چې دغو څراغونو ته تقاضا شتون درلود، یو شمېر تولیدي واحدونه د څراغونو په تولید کې بوخت وو او یو شمېر کارګرو هم په دې صنعت کې کار کاوه. د برېښنا د شبکې پراختیا ددغو څراغونو تقاضا راکمه او یا یې له منځه وړې ده، چې په نتیجه کې په دغه صنعت کې د تولید د کموالي او د کارګرو د وزګارتیا لامل ګرځېدلی دی. په ورته وخت کې، د برېښنا د شبکې د پراختیا د برېښنا په صنعت کې د کارګرو تقاضا زیاته کړه. دا چې د یو څه وخت لپاره هغو کارګرو چې د څراغونو د تولید په برخه کې یې کار کاوه د تخصص د نه شتون له امله یې د برېښنا په صنعت کې کار نه شو کولای، نو کارګرو ته د تقاضا په موجودیت کې هم، یو شمېر کارګر وزګار پاته کېږي.

د مصرف کوونکو د تقاضا د تغییر لپاره ډېر مثالونه شتون لري. نو پردې اساس، په هره دوره کې به یوه اندازه صنایع په پراختیا او نورې به د رکود په حال کې وي. د یوه کالي د تقاضا کموالی او د نورو کالیو د تقاضا زیاتوالی په یوه صنعت کې د کارګرو د تقاضا د کموالي او په بل صنعت کې کارګرو ته د تقاضا د زیاتوالي لامل کېږي. که کارګر په آسانۍ سره له یوه صنعت څخه بل صنعت ته انتقال شي، وزګارتیا به رامنځته نه شي. او که کارګر له یوه صنعت نه بل صنعت ته انتقال نه شي، وزګارتیا به رامنځته شي. او که کارګر له یوه صنعت نه بل صنعت ته د پوره تحرک وړتیا ونه لري نو پردې اساس اصطکاکي وزګارتیا رامنځته کېږي.

د تقاضا له تغییر څخه رامنځته کېدونکې وزګارتیا ته «ساختماني وزګارتیا» ویل کېږي. ځکه چې د هېواد د ساختماني بدلون په ترڅ کې رامنځته شوې ده. دغه ډول تغییر د تولید د عواملو د عدم تحرک[26] لپاره وزګارتیا رامنځته کوي.

---

26- د انساني ځواک لپاره دغه عدم تحرک په دوه ډولونو؛ د استخدامي او جغرافیایي عدم تحرک په ډول رامنځته کېږي. استخدامي عدم تحرک له یو کسب نه بل کسب ته د کارګر عدم انتقال ښکاره کوي او جغرافیایي عدم تحرک، له یوې سیمې یا ښار څخه بلې سیمې یا ښار ته د کارګر عدم انتقال ښکاره کوي.

ب- د ټکنالوژۍ پرمختګ: امکان لري چې اصطکاکي وزګارتیا د نویو ماشین آلاتو له اختراع نه رامنځته شوې وي، چې د کارګرو د تقاضا د کموالي لامل ګرځي. د مثال په توګه، د ماشین آلاتو اختراع، د لیکنې ماشین، کمپیوټر او نور دفتري کارګرو ته د تقاضا د کموالي لامل شوي دي. له دې سره سره، په اوږد مهال کې د ماشین آلاتو د کارونې د زیاتوالي په علت، وزګاره شوي کارګران په نورو صنایعو کې جذبیږي.

3- موسمي (فصلي) وزګارتیا: په ځینو صنایعو لکه په ساختماني چارو کې د دوی کار د ناسم جوي حالت په شرایطو کې ناممکن دی او غالباً نامناسب جوي شرایط د کار د ودریدو باعث ګرځي. پردې اساس، په ځینو کې بوختیاوو کې یوازې د کال په ځانګړو فصلونو کې کارګرو ته تقاضا وجود لري. په کومو فصلونو کې چې کارګرو ته تقاضا شتون نه لري، کوم کارګر چې په دغو بوختیاوو کې په کار لګیا دي، وزګاریږي. دې ډول وزګارتیا ته موسمي وزګارتیا وایي.

## له کامل استخدام څخه رامنځته کېدونکې ستونزې:

تجربو ښودلې ده چې په اقتصاد کې د کامل استخدام ساتنه ځینې ستونزې رامنځته کوي:

1- د انفلاسیون د واقع کېدو د خطر زیاتوالی، چې دغه مسئله دوه علتونه لري:

الف- کله چې کامل استخدام وجود ولري له حده زیاته پانګونه ترسره کیږي. د استخدام کاملولو د زیاتې هڅې او شوق په خاطر، امکان لري چې دولت له حده زیاته پانګونه وکړي، په دغه حالت کې په اقتصاد کې انفلاسیون رامنځته کیږي، کارګرو ته تقاضا د هغوی له عرضې څخه ډیریږي، چې په صنایعو کې د مزد په زیاتوالي سره انفلاسیون تشدیدوي.

ب- کله چې استخدام کامل شي، کارګر د زیات مزد غوښتنه کوي چې دا کار په خپل ذات کې د انفلاسیون (د مصرف انفلاسیون) د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

2- د کار د کیفیت راکمېدل: امکان لري چې دغه مسئله په دریو دلایلو واقع شي.

الف-امکان لري چې کارګرو ته زیاته تقاضا په ډېر لږ مؤثریت سره د کارګرو د استخدام باعث شي.

ب- د وزګارتیا د ویرې د له منځه وړلو لپاره، امکان لري چې کارګر خپل اعظمي کوښښ په کار وانه چوي.

ج- امکان لري چې کارګرو ته د تقاضا زیاتوالی د دې لامل شي چې د کارګرو په ډېر تناوب بدلېدو رابدلېدو سره خپله بوختیا بدله کړي[27].

27 -J. L. Hansen, A Textbook of Economics, PP. 528-535.

## یوولسم څپرکی

### مصرف

په اتم څپرکي کې مو اشاره وکړه چې که چېرته مجموعي تقاضا له مجموعي عرضې او یا د اقتصاد له ملي تولید سره مساوي وي، نو اقتصاد د تعادل په حال کې دی یعنې که چېرته د مصرف کوونکي پېرودنې یا (C) د اقتصاد د موسساتو د پېرودنې سربېره (I) د دولت د مخارجو سربېره د صادراتو او وارداتو جمع او تفاضل پر زیاتوالي له ملي تولید سره مساوي شي، اقتصادي تعادل رامنځته کېږي. که تعادل شتون ونه لري، نو د تولید په مقدار او قېمتونو دواړو کې تغییرات رامنځته کېږي، تر هغو چې اقتصاد تعادل کش کړي.

د ملي تولید په یوې ځانګړې سطح کې د اقتصادي تعادل د ستاینې لپاره، اړینه ده چې په لومړي سر کې د مجموعي تقاضا اجزاوې تر څېړنې لاندې ونیسو. له دغو اجزاوو څخه یو هم په اقتصاد کې مجموعي مصرف دی. د دغه متحول د څېړنې لپاره باید د مصرف تابع او یا هم د مصر ف او عاید ترمنځ رابطه مطالعه شي. په هماغه ډول چې د تقاضا منحني په مختلفو قېمتونو کې پېرودل شوی مقدار مشخص کوي، نو د مصرف تابع هم د عاید په مختلفو کچو کې د مصرف کوونکو مصرف مشخص کوي. په 1- 11 شکل کې د مصرف تابع په CC خط باندې ښودل شوې ده.

لکه څنګه چې یې ګورئ، د 1- 11 شکل پر اساس، که د اقتصاد ملي عاید OA او په اقتصاد کې د مصرف مقدار OL وي او که OB وي، د مصرف مقدار به OM وي. د عاید د ټولو سطحو لپاره د مصرف منحني د مصرف کوونکو د تقاضا مقدار ښکاره کوي. په هماغه ډول چې د مصرف منحني منحني د دې څرګندونه کوي، چې که چېرته د عاید مقدار له صفر سره مساوي وي. د مصرف کوونکو مصرف به OC وي، یعنې مصرف کوونکي به په صفر عاید کې یا له پخوانۍ سپما نه کار اخلي او یا به د خپلې شتمنۍ یوه برخه پلوري ترڅو وکولای شي د خپلې اړتیا وړ کالي او خدمات وپېري.




«1- 11 شکل»

لکه څنګه چې يې په 1- 11 شکل کې ګورئ، د مصرف تابع يا د CC منحني مستقيم خط دی. دا په دې معنا ده چې د عايد په زياتوالي سره د مصرف کوونکي تقاضا په ثابت نسبت سره له عايد سره په تړاو زياتوالی مومي.

## د مصرف د تابع ځانګړنې:

د مصرف تابع، په خپل ذات کې يوازې يو نظري مفهوم دی. د مصرف تابع پورې اړوند نور معلومات د هغه د ځانګړنو تر سرليک لاندې بررسي کوو:

1- د مصرف او عايد يا د مصرف تابع، د حقيقي مصرف او حقيقي عايد ترمنځ د رابطې ښکارندوی ده. يعنې په 1- 11 شکل کې د عايد او مصرف مقادير په ثابت قېمت باندې د مصرف او عايد مقدارونه دي، يعنې که چېرته عايد او قېمتونه ثابت پاته شي، نو حقيقي مصرف تغيير نه کوي.

2- په 1- 11 شکل کې ښودل شوې رابطه کولای شو چې د يوې خطي معادلې $C = a + by$ په مرسته وښيو. په دې معادله کې C د مصرف کوونکو مجموعي تقاضا، Y ملي عايد، a او b له سره مساوي دي او b د (c) خط له ميلان سره برابر دی. OC

3- ځينې وخت د مصرف او عايد د رابطې تعينول د دې مسئلې په اندازه چې مصرف کوونکی څنګه د عايد د تغييراتو پر وړاندې عکس العمل ښکاره کوي، دومره اهميت نه لري. دغه

عکس العمل مصرف ته له نهايي ميلان (MPC) سره څرګندوي. مصرف ته نهايي ميلان په دې ډول دی:

$$MPC = \frac{\text{د مصرف تغییر}}{\text{د عاید تغییر}}$$

او د مصرف د خط له ميلان يا b سره برابر دی.

4- د مصرف د تابع تر څنګ د سپما يوه تابع هم وجود لري. ځکه چې سپما هغه مقدار عايد دی چې نه مصرفېږي. له عايد $\frac{3}{4}$ د مصرف د تصميم په هکله له عايد $\frac{1}{4}$ برخې د سپما د تصميم په معنا ده. که پورتنی حکم چې سپما د عايد هغه برخه ده چې نه مصرفېږي ومنو، نو لرو چې:

$S = Y - C$

او که فرض کړو چې: $C = a + by$ نو لرو:

$S = y - a - by$

$S = -a(1 - b)y$

په پورتنۍ معادله کې، $1 - b$ ته د سپما نهايي ميلان وايو او مقدار يې برابر دی، له.

$$MPS = 1 - MPC = \frac{\text{د سپما تغییرات}}{\text{د عاید تغییر}}$$

5- د کېنز په باور، د مصرف نهايي ميلان له عايد سره معکوسه رابطه لري او د سپما نهايي ميلان له عايد سره مستقيمه رابطه لري. يعنې د عايد زياتېدل د مصرف د نهايي ميلان د کموالي او د سپما د نهايي ميلان د زياتوالي باعث کېږي او د عايد کمېدل د مصرف د نهايي ميلان د زياتوالي او د سپما د نهايي ميلان لامل ګرځي. پردې اساس، په ټولنو کې اقتصادي وده د مصرف نهايي ميلان د پرمختللو هېوادونو لپاره د وروسته پاتې هېوادونو د مصرف له نهايي ميلان څخه کم دی. پورتنۍ خبرې په لاندې بڼه هم راوړلای شو:

په پرمختللو هېوادونو کې د سپما نهايي ميلان د ورسته پاتې هېوادونو د سپما د نهايي ميلان په پرتله کم دی او کېدای شي چې په دغه دليل په وروسته پاتې هېوادونو کې د پانگې د تراکم په مخ کې لوی او عمده خنډو وي.

6- د کېنز له خوا دوه نور برداشتونه، د مصرف د متوسط ميلان او د سپما متوسط ميلان. د مصرف متوسط ميلان د مصرف پر عايد د تقسيم حاصل دی او د سپما متوسط ميلان د سپما پر عايد د تقسيم حاصل دی. يعنې:

$$\text{APC} - \text{د مصرف نهايي ميلان} = \frac{\text{مصرف}}{\text{عايد}}$$

$$\text{APS} - \text{د سپما متوسط ميلان} = \frac{\text{سپما}}{\text{عايد}}$$

د مصرف د نهايي ميلان او عايد ترمنځ معکوسه رابطه او د سپما د متوسط ميلان او عايد ترمنځ مستقيمه رابطه وجود لري، يعنې د عايد زياتوالی د متوسط مصرف د ميلان د کموالي او د عايد کموالی د متوسط مصرف د زياتوالي باعث گرځي. د عايد زياتوالی د سپما متوسط ميلان زيات او کموالی يې د سپما متوسط ميلان کموي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې د مصرف نهايي ميلان د پرمختللو هېوادونو په پرتله زيات زيات دی. د ملي عايد زياتوالی او يا اقتصادي پرمختيا د مصرف د متوسط ميلان د کموالي او د سپما متوسط مصرف د مصرف د زياتوالي لامل کېږي. 1 – 11 جدول په دې اړه هغه معلومات او شمېر شمېرنې ښکاره کوي، چې د نفوس شمېر پکې په 1978 ز کال کې له 25 ميليونو څخه زيات دی.

1 – 11 جدول

| د هېواد نوم | مصرف ته نهايي میلان | سپما ته نهايي میلان | سړي سر عايد 1978 | د ودې نرخ 1970 – 78 (په فیصد) |
|---|---|---|---|---|
| بنگله دیش | 1 | 0 | 90 | 2,9 |
| ایتوپیا | 0,94 | 0,06 | 120 | 1,8 |
| هند | 0,8 | 0,2 | 180 | 3,7 |
| پاکستان | 0,93 | 0,07 | 230 | 4,4 |
| اندونیزیا | 0,78 | 0,22 | 360 | 7,8 |
| تایلند | 0,78 | 0,22 | 490 | 7,6 |
| فیلیپین | 0,76 | 0,24 | 510 | 6,3 |
| کوریا | 0,72 | 0,28 | 1160 | 9,7 |
| ترکیه | 0,83 | 0,17 | 1200 | 7,1 |
| برازیل | 0,79 | 0,21 | 1570 | 9,2 |
| اېران | 0,61 | 0,39 | 2160 | 7,4 |
| هسیانیا | 0,79 | 0,21 | 3470 | 4,4 |
| انگلستان | 0,79 | 0,21 | 5030 | 2,1 |
| جاپان | 0,68 | 0,32 | 7280 | 5 |
| فرانسه | 0,76 | 0,24 | 8260 | 3,7 |
| لوېدیځ المان | 0,75 | 0,25 | 9580 | 2,4 |
| امریکا | 0,82 | 0,18 | 9590 | 3 |

2- 11 جدول د نړۍ د مختلفو هېوادونو د ډلو لپاره د 1- 1 1جدول معلومات څرگندوي (28).

لکه څنگه چې جدول ښکاره کوي، کوم هېوادونه چې لوړ مصرف ته د متوسط او یا نهایي میلان لرونکي وي، د پانگې د تراکم ستونزه لري او په پای کې نه شي کولای چې د اقتصادي ودې له لوړ نرخ څخه برخمن شي.

[28] - Edwin Charle, Macroeconomics of Developing countries, pp. 73 – 74.

«2- 11 د 1978 ز کال لپاره اطلاعات»

| د هېوادونو ډله | مصرف ته نهايي ميلان | سپما ته نهايي ميلان | سړي سر عايد | د پرمختيا نرخ – 1970 80 (په فيصدي) |
|---|---|---|---|---|
| کم عايد لرونکي هېوادونه | 0,85 | 0,15 | 200 | 3,6 |
| متوسط عايد لرونکي هېوادونه | 0,78 | 0,22 | 1250 | 5,7 |
| صنعتي هېوادونه | 0,78 | 0,22 | 8070 | 3,2 |
| د نفتو صادرونکي هېوادونه | 0,53 | 0,45 | 3340 | 6 |

**د نفتو صادرونکي هېوادونه:**

د يو مصرف کوونکي مصارف د مصرفي کاليو په برخه کې تر يوه حده پورې د مصرف کوونکي پر مجموعي مالي منابعو پورې تړاو لري. که د مصرف کوونکي مالي منابع زياتې شي، مصرف يې هم زياتېږي. خو د مصرف د زياتوالي نسبت د ملي منابعو د زياتوالي له نسبت څخه زيات دی. د مصرف تابع دغه رابطه نه ښکاره کوي ځکه چې د مصرف تابع، د عايد او مصرف د رابطې ښکاره کوونکې ده او عايد او مالي منابع د يو بل په ورته لاسرسي کې نه دي. پر عوابدو سربېره امکان لري چې مصرف کوونکی د يو اندازه وجوه لرونکی وي او يا يې نور کسان پورړوي او يا هم د غير پولي شتمنيو خاوندان وي، مثلاً کېدای شي د اوسېدو تعمير ولري چې کولای شي د هغو په پلورلو سره نقده پيسې ده ته په واک کې ورکړي او له دغو نقدو پيسو څخه د مصرفي کاليو د پېرودلو لپاره کار واخلي. که د داسې شتمنيو خرڅلاو اړين شي، د هغوی قېمت به په بازار کې له فوق العاده اهميت څخه برخمن وي. که د دغو شتمنيو  قېمت د هغوی له تمام شد قېمت څخه کم وي، امکان لري چې مصرف کوونکی د هغه پلورلو ته حاضر نه شي. امکان لري چې ځينې نورې غير پولي شتمنۍ په ټاکلي وخت کې د پلورل کېدو وړ نه وي. پردې اساس بدلول يې په نقدو پيسو او په نقدو تأمين شويو پيسو باندې د مصرفي کاليو پېرودل ممکن نه گرځي. پردې اساس، د مصرف کوونکي تصميم د مصرفي کاليو د پېرودلو په هکله نظر ټولو شتمنيو ته د شتمنۍ په هغې برخې پورې تړاو لري چې د نقدېدو وړ دي. د فرد د شتمنيو په مقابل کې د هغه پورونه وجود لري. امکان لري چې هغه پخوا پور ترلاسه کړی وي او يا يې موټر او د اوسېدو تعمير په قسط باندې پېرودلی

وي، نو هر څومره چې دده پورونه زيات وي، نو د مالي منابعو اندازه چې په مصرفي کاليو لګول کېږي، کمېږي.

که د مصرف کوونکي پورونه دده له شتمنيو نه کم کړو، نو حاصل به يې د مصرف کوونکي «خالصه شتمنۍ» او يا ۸ځانګړی ارزښت» وي. دغه متحول د تل لپاره د مصرف کوونکي له عايد سره د مصرفي کاليو د پېرودلو لپاره د هغه په واک کې ده. سربېره پردې، دغه مقدار مصرف کوونکي کولای شي چې د مصرفي کاليو د پېرودلو لپاره د وام (پور اخيستلو) د زياتوالي لامل شي، د هغه د مصرف قدرت لوړوي. پردې اساس، له مصرف کوونکي سره په لاس کې موجودې مالي منابع په لاندې ډول دي:

خالصې شتمنۍ او يا د مصرف کوونکي ځانګړي ارزښتونه چې د هغه پر عايد سربېره د مصرف کوونکي له خوا د ورکړې وړ مالياتو پرته، په هغه صورت کې چې د لاسرسي وړ ټولې مالي منابع زياتې شي، مصرف زياتوالی مومي او په کمېدو سره يې مصرف کموالی مومي. په 2- 11 شکل کې د مصرف کوونکي ټولې مالي منابع په افقي محور او مصرف د عمودي محور په مرسته اندازه شوې دي. د مالي منابعو او مصرف ترمنځ رابطه د OC1, C2C4 د خط په مرسته ټاکل کېږي او دغه خط څرګندوي چې د حداقل مصرف له تأمين څخه وروسته، د مالي منابعو په زياتوالي سره مصرف ددغو منابعو د زياتوالي په نسبت لږ زياتوالی مومي. که OA1 د مصرف کوونکي خالصې شتمنۍ چې د پور اخيستلو پر قدرت سربېره او عايد يې A1Y1 وي، مصرف به يې له L1Y1 سره برابر وي.




«2 – 11 شکل»

د مصرف په تابع کې، مونږ فرضوو چې عاید د مصرف د اندازې ټاکوونکی عامل دی. دا په دې معنا ده چې مونږ فرض کړې ده، چې له عاید پرته د نورو متحولینو تغییر په مصرف باندې ډېر ناچیزه دی او یا دا چې دغه متحولین تغییر نه کوي. د مثال په توګه د انګلستان په هکله احصائیوي شواهدو څرګنده کړې ده، چې د مصرف کوونکي د خالصو شتمنیو اغېزه په مصرف باندې ډېره ناچیزه او دومره د اهمیت وړ نه ده. د مصرف کوونکو هغې کوچنۍ ډلې ته چې د پام وړ خالصو شتمنیو مالکان دي، ددغو شتمنیو د ارزښت د تغییر او د دوی د نقدېدو د چټکوالي مصرف تر اغېزې لاندې راولي.

## د قېمتونو تغییر:

د مصرف تابع د عاید او حقیقي مصرف څرګندوی ده، نه ددغو دوه متحولینو پولي ارزښتونه، د قېمتونو ددغو تغییراتو پر اساس، دغه رابطه تر اغېزې لاندې نه راولي. له هغه ځایه چې ملي تولید یا ملي محصول له ملي عاید سره مساوي دی، نو د قېمتونو زیاتوالی باید دغه دوه متحولین په یوه نسبت زیات کړي. پردې اساس، د قېمتونو په سطح کې 10 فیصده زیاتوالی د مصرف کوونکو د پولي عوایدو د 10 فیصده زیاتوالی او مصرف به یې هم په همدې اندازه زیاتېږي. پردې اساس، مصرف کوونکو ته د هغوی مصرف د پخوا په څېر د هغوی له عاید سره متناسب دی او د حقیقي متحولینو له پلوه وضعیت تغییر نه کوي. سره له دې د قېمتونو تغییرات د مصرف کوونکو تصامیم په بېلابېلو بڼو تر اغېزې لاندې راولي.

کومې مسئلې ته چې باید پام وشي، دا ده چې د قېمتونو د عمومي سطحې تغییر احتمالاً د ټولو کالیو په قېمت کې د برابر نسبت د تغییر په معنا دی. د مثال په توګه امکان لري چې د خوراکي توکو قېمتونه د 5% په اندازه او د جامو قېمت د 15% په اندازه تغییر وکړي. په دې صورت کې، که مصرف کوونکي لږې جامې وپېري (د قېمت د نسبي زیاتوالي په علت)، خو د پېرودل شویو خوراکي توکو مقدار تغییر نه کړي، ټول حقیقي مصرف کموالي مومي.

دوهمه مسئله دا ده چې د ملي عاید تغییر هرومر د مصررف وړ عاید (له ورکړل شویو مالیاتو څخه پاته) له تغییر سره برابر نه دی. کله چې قېمتونه زیاتېږي، اقتصادي موسسې د کالیو د خرڅلاو په مقابل کې ډېرې زیاتې پیسې ترلاسه کوي او امکان لري چې دغه اضافي عاید د سود د ذخیرې په شکل وساتي، عاید مصرف کوونکي لاس ته نه ورځي. حتی که دغه ټول عاید مصرف کوونکو ته په واک کې ورکړل شي. له هغه ځایه چې د مصرف کوونکي ورکول کېدونکي مالیات (که پر عوایدو باندې د مالیاتو نظام تصاعدي یا زیاتېدونکی شکل ولري) زیاتوالي ومومي. نو د

مصرف وړ عاید له ملي عاید څخه په کم نسبت سره زیاتوالی مومي. د قیمتونو د کموالي په ترځ کې د دغې مسئلې پرعکس ده.

بله مسئله دا ده، چې د عمومي قیمتونو د سطحې تغییر د داسې ښکارندو (پدیدو) د روښانه کېدو لامل ګرځي، چې د پیګو (29) د أثر په نامه یادېږي. کوم افراد چې د پولي موجودیو مالکان وي، د قیمتونو د لوړوالي پر وخت ځان په ډېر بد وضعیت او د قیمتونو د کموالي پر وخت ځان په ښه وضعیت کې تصور کوي. ځکه چې د قیمت تغییرات د هغوی د پیسو حقیقي ارزښت تغییروي. کله چې قیمتونه لوړېږي، دغه کموالی د دوی د نقدو موجودیو زیاتوالي ته ورته (د قیمتونو د ثابت پاته کېدو په صورت کې) ورته اغېزه لري. د موجودو مالي منابعو په زیاتوالي سره به اوس مصرف کوونکي د خپلو عوایدو زیات نسب به د کالیو او خدماتو مصرف ته ځانګړې کړي. د پیګو أثر اندازه په ټولو مالي منابعو کې د نقدو په ونډې پورې تړاو لري.

یوه مسئله چې نهایتاً اشاره ورته ډېره اړینه برېښي، هغه دا ده چې امکان لري چې د قیمتونو تغییر په مصرف کوونکو کې دغه تصور رامنځته کړي، چې قیمتونه به په هماغه جهت دوام ومومي. د مثال په توګه، د قیمت کموالی، ممکن په مصرف کوونکو کې د قیمت د لا ډېر زیاتوالي تصور پیدا کړي او له دې ځایه به مصرف کوونکي په راتلونکي کې خپل خرید په ټیټ قیمت سره د کالیو په پېرودلو سره وځنډوي. په همدې ترتیب، امکان لري چې د قیمت زیاتوالي په مصرف کوونکو کې په راتلونکي کې د قیمت د ډېرو زیاتوالي تصور رامنځته کړي او د دې له وېرې چې په راتلونکي کې قیمتونه نور هم پورته نه شي نو د کالیو او خدماتو پېرودلو ته ادامه ورکوي.

### د ګټې د نرخ اغېزه:

د ګټې د نرخ زیاتوالی د پورونو ورکړه لا صرفه کوي. که دغه مسئله د دې لامل شي چې مصرف کوونکي د خپل عاید زیاته برخه سپما کړي، مصرف به کموالی ومومي. د دې پرعکس، د ګټې د نرخ کموالی، سپما او د پور ورکړه کموي او د مصرف د زیاتوالي لامل ګرځي. خو آیا مصرف کوونکي د ګټې د نرخ د تغییر پر وخت دا ډول عکس العمل ښیي؟ که مصرف کوونکي د دې خبرې تمایل ولري چې په راتلونکي کې عاید ولري، د ګټې د نرخ زیاتوالی د لږ پور په ورانډې

[29] - Pigou Effect.

کولو سره به په راتلونکي کې نوموړی عاید هغه ته تضمین کړي. په دې صورت کې به د عاید هغه برخه زیاته شي، چې مصرفېږي. پردې اساس، په کلي توګه د دې ډلې د مصرف زیاتوالی، امکان لري چې د هغې ډلې مصارف چې د ګټې د نرخ په زیاتوالي سره خپل مصرف راکموي، جبران کړي. په دې صورت کې به د اقتصاد مجموعي مصرف تغییر ونه کړي.

په مجموعي توګه، د ګټې د نرخ د تغییراتو اغېزه به د مصرف په تابع او یا د مصرف او عاید ترمنځ احتمالاً ډېره لږه وي ([30]).

## د زیاتوالي او یا یو بل ته زیاتونکي ضریب ([31]) :

د هغو مخارجو تغییر چې د عاید تابع نه دي، یعنې هغه مخارج چې د هغوی اندازه د عاید له تغییر سره تغییر نه خوري په ملي عاید څه اغېزه کوي؟ د دغې پوښتنې ځواب دلته «د زیاتوالي ضریب» راکوي. د دولت مصارف د عاید تابع نه دي. فرض کړئ چې د دولت په بودجه کې نسبت تېر کال ته د دولت مخارج د 100 پولي واحدو په اندازه زیاتوالی مومي او د اقتصاد د مصرف نهایي میلان 0,8 دی. کله چې دولت خپل مخارج د 100 پولي واحدو په اندازه زیاتوي. د مخارجو دغه زیاتوالی په اقتصاد کې د یوې ډلې افرادو عواید زیاتوي. که مصرف ته نهایي میلان 0,8 وي، نو دغې ډلې د خپل اضافي عاید 80 واحده مصرف کړي او 20 واحده یې سپما کوي. د دغې ډلې 80 واحده اضافي مخارج د بلې ډلې لپاره په اقتصاد کې اضافي عاید رامنځته کوي، چې دغه ډله هم د خپل اضافي عاید 51,8 واحده لګوي او 12,2 واحده سپما کوي. 3- 11 جدول د عاید، مصرف او سپما د زیاتېدو جریان د بېلابېلو ډلو لپاره ښکاره کوي. پردې اساس، د دولت د مخارجو زیاتوالی په مجموع کې د لومړي کالم د میزان د جمع په اندازه د ټولنې د عاید د زیاتوالي لامل ګرځي. د عاید زیاتوالی د دوهم کالم د مجموعې په اندازه او د سپما د زیاتوالي اندازه د 3 کالم د مجموعې په اندازه کېږي. د پورتنیو دریو کالمونو مجموعه کولای شو، چې د نزولي هندسي تصاعد د حدودو د مجموعې د فرمول په مرسته لاسته راوړو. دغه فرمول په لاندې ډول دي:

$$S = \frac{a}{1-q}$$

[30] - F. S. Brooman, Macroeconomics, pp. 96 – 114.

[31] - Multiplier.

| (1)<br>د عاید تغییرات | (2)<br>د مصرف تغییرات | (3)<br>د سپما تغییرات |
|---|---|---|
| 100 | 80 | 20 |
| 80 | 64 | 16 |
| 64 | 51,8 | 12,2 |
| 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 |
| 0 | 0 | 0 |
| ΔY | ΔC | ΔS |

«3 -11 جدول»

S د تصاعد د مجموعي حدودو د جمع حاصل دی، a لومړی حد یا جمله او q د هندسي تصاعد د قدرت نسبت دی. که وغواړو چې د لومړي کالم مجموعه د دغه فرمول په مرسته محاسبه کړو، لرو چې:

$$\Delta Y = \frac{100}{1 - 0{,}8} = 500$$

یعنې د دولت د مصارفو زیاتوالي د 100واحدو په اندازه، نهایتاً او په اوږد مهال کې د اقتصاد ملي عاید 500 واحدو ته رسوي. په اقتصاد کې چې کله د عاید تغییرات په هغو مخارجو ووېشو چې د عاید تابع نه دي، د زیاتوالي ضریب ترې لاس ته راځي. د پورته مثال په توګه، د زیاتوالي ضریب په لاندې ډول دی.

$$\frac{500}{100} = 5$$

اوس له هغو معلوماتو څخه په ګټې اخیستنې چې په اتم څپرکي کې مو لاس ته راوړل، د زیاتوالي ضریب لاس ته راوړو. لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه، چې په تړلي او له دولت څخه پرته اقتصاد کې به ملي تولید له Y = C + I سره برابر وي:

خو په همدې څپرکي کې مو اشاره وکړه چې: C = a + by

په لومړۍ معادله کې يې په وضع کولو سره لرو چې. $Y = a + by + I$

کولای شو چې دغه معادله په لاندې شکل راوړو:

$$Y - by = a + I$$

$$Y(1 - b) = a + 1$$

له هغه ځایه، چې $a + 1$ ثابت مقدار دی، کولای شو چې د هغه پر ځای د A ثابت مقدار وضع کړو، چې:

$$Y(1 - b) = A$$

$$Y = \frac{A}{(1 - b)} \text{ يا } \frac{1}{(1 - b)} A$$

که پورتنۍ رابطه صدق وکړي، نو د تغییراتو روابط به يې هم صدق وکړي: $\frac{1}{(1-b)}$ هماغه د زیاتوالي ضریب دی. له هغه ځایه چې $Y = \frac{1}{(1-b)} \Delta A$ د مصرف نهايي ميلان او د سپما نهايي ميلان له 1 سره برابر دی، $1 - b$ د سپما له نهايي ميلان سره برابر دی.

$$\text{د زیاتوالي ضریب} = \frac{\mathbf{1}}{\mathbf{1} - \text{د مصرف نهايي ميلان}} \quad \frac{\mathbf{1}}{\text{د سپما نهايي ميلان}}$$

زمونږ مخکيني مثال ته چې د مصرف نهايي ميلان يې 0,8 او د سپما نهايي ميلان يې 0,2 د زیاتوالي ضریب يې په لاندې ډول دی:

$$\text{د زیاتوالي ضریب} = \frac{1}{1 - 0{,}8} = \frac{1}{0{,}2} = 5$$

## دوولسم څپرکی

## د پانګې اچونې تیوري

په دوه سکتوري اقتصاد کې چې یوازې مصرف کوونکي او اقتصادي موسسات پکې شامل دي، کالیو او خدماتو ته مجموعي تقاضا د مصرف کوونکو تقاضا او د اقتصادي موسساتو تقاضا او یا د شخصي مصرف مجموعه او د پانګه اچونې مصارف دي. له هغه ځایه چې د مصرف تغییر د عاید د تغییر حاصل او عامل دی، په مجموعي تقاضا او عاید کې تغییر د پانګونو د مصارفو له تغییراتو څخه رامنځته کیږي. نو په اقتصاد کې سپما فوق العاده اهمیت لري، د دې لپاره چې ځان پوه کړو، چې عاید څنګه او ولې تغییر کوي. باید د پانګونې د تغییر په علتونو ځان پوه کړو.

د پانګې اچونې د علتونو د تغییر لپاره اقتصادپوهانو د پانګونې د وړاندې کولو لپاره یو ساده تابع وړاندې کړې ده. پوهیږو چې پانګونه د ګټې د حصول په موخه ترسره کیږي. د هرې زماني دورې لپاره، هر څومره چې د پانګې اچونې د طرحې تمه زیاته وي، د نورو عواملو په ثابت فرضولو سره د پانګونې اندازه به زیاته وي، خو د پانګې اچونې حاصل او له دې څخه د ترلاسه کېدونکي سود تمه د کومو عواملو تر اغېزې لاندې ده.

د دې مسئلې په اړه تر بحث مخکې به ښه دا وي، چې د پانګه ییزو توکو د حاصل د نرخ مفهوم او کومه رابطه چې د پانګې د موجودۍ او د پانګې اچونې د نرخ ترمنځ وجود لري پردې باندې لږ بحث وکړو.

### د پانګې مفهوم:

د ملي عاید په تحلیلونو کې پانګه د یو اقتصاد د تولید هغه برخه ده، چې نه مصرفیږي. پانګه اچونه یو جاري متحول دی. له بلې خوا پانګه چې یو ثابت متحول دی، د اقتصادي موسسو د پانګه ییزو توکو د موجودۍ په معنا ده. که په یوه دوره کې ناخالصه پانګونه په هماغه دوره کې د مصرف شوې پانګې له مقدار سره برابر وي، نو د پانګې موجودي تغییر نه کوي او په هماغه دوره کې به خالصه پانګونه په هماغه دوره کې مصرف شوې پانګه له مقدار سره برابره وي. نو د پانګې موجودي تغییر نه کوي او په هماغه دوره کې به خالصه پانګونه باندې د مصرف شوې پانګې له مقدار څخه زیاته وي. نو په هغې دوره کې به د پانګې موجودي زیاتوالی ومومي او د خالصې پانګې

اچونې مقدار به مثبت شي. که چېرته ناخالصه پانګونه له مصرف شوې پانګې څخه کمه وي، نو په اقتصاد کې د پانګې موجودي په یوه دوره کې کموالی مومي او خالصه پانګونه به منفي شي.

پردې اساس، تعریف ته په کتو، ناخالصه پانګه اچونه د پانګې په موجودۍ باندې اضافه شوی مقدار ده. د نورو عواملو په ثابت فرضولو سره، د پانګې د موجودۍ زیاتوالی په اقتصاد کې د تولیدي قدرت زیاتوالی دی.

## د پانګې اچونې تصمیم؛ درې مهم عوامل:

له هر ډول پانګې اچونې څخه د یوې اقتصادي موسسې د ګټې او ضرر اټکل د درې عواملو له روابطو څخه رامنځته کېږي:

1- د پام وړ پانګه ییزو توکو څخه د ترلاسه کېدونکې ګټې او ضرر تمه.
2- د پانګه ییزو توکو د خرید قېمت.
3- د بازار د ګټې نرخ.

له هغه ځایه چې د نامطمینې راتلونکې اټکل د منل کېدو وړ نه دی، نو د هرې پانګې اچونې د راتلونکې ګټې په ارزیابي کې تر ټولو مهم عامل د ګټې ورکولو په وخت کې د پانګه ییزو توکو ترلاسه شوي عواید دي. نه یوازې د دغه جریان په هکله عدم اطمینان وجود لري، بلکې د پانګه ییزو توکو عمر یا د ګټې ورکولو موده هم له عدم اطمینان سره مخ ده. که فرض کړو چې عدم اطمینان وجود نه لري، د دې په فرضولو سره چې د یوې موسسې مدیر داسې اټکل کوي چې یو ډول پانګه ییز کالي کولای شي چې د پنځو کلونو لپاره ترې کار واخیستل شي او د پنځم کال په پای کې یې د کباړ شویو سامانونو ارزښت صفر دی. د دغه ماشین فزیکي ګټورتیا د دغه ماشین په زیاتېدو سره د پانګې په موجودۍ باندې د اضافه شوي تولید مقدار دی. که چېرته د هر کال فزیکي ګټورتیا د هر واحد تولید شوي کالي له نهایي عاید سره ضرب شي، له نوموړو پانګه ییزو توکو څخه به د ناخالص عاید جریان ترلاسه شي. د دغه اضافي محصول د تولید او خرڅلاو لپاره، لومړنیو موادو، د سون موادو، تبلیغاتو او اضافي کارګر ته اړتیا ده. کله چې په هر کال کې د اړتیا وړ موسساتو مجموعي مصارف له خالص عاید څخه منفي شي، نو د هر کال لپاره به متوقعه خالص عاید ترلاسه شي. د متوقعه خالص عاید د محاسبې لپاره هغه مصارف چې د ماشین آلاتو او د کالیو د خرڅلاو لپاره ترې کار اخیستل شوی، پرته له دوه استثناآتو څخه چې له ناخاص عاید څخه بېلېږي، دغه دوه استثناوې په لاندې ډول دي:

1- د ماشین کلنی استهلاک چې د مستقیم او یا خطي میتود په مرسته د ماشین د خرید د قېمت د یو پنځمې برخې په اندازه دی.
2- د کلنی ګټې مصارف چې د ماشین د پاتې شتمنۍ او د بازار د ګټې د نرخ له ضرب څخه ترلاسه کېږي.

که په لومړي کال کې د ماشین د مصرف یو پنځمه برخه د ماشین د خرید د قېمت د یو پنځمې برخې په ساتلو سره بېله شي، نو د دوهم کال مصرف به د ماشین د شتمنۍ د څلور پنځمې برخې ضرب د بازار د ګټې له نرخ سره دی. که چېرته کلنی خالص محصول Ri فرض کړو، نو د پنځو کلونو لپاره د خالص عاید جریان د لاندې ردیف په وسیله ټاکل کېږي.

R1, R2, R3, R4, R5

فرض کړئ چې د دغه ردیف مجموعه $\sum_{i=1}^{5} \mathrm{Ri}$ د پانګه ییزو توکو له قېمت څخه زیاتېږي. آیا کولای شو، چې دغه تفاضل په پنځو کلونو کې د پانګه ییزو توکو له حاصل شوي سود څخه په پام کې ونیسو؟ آیا کولای شو چې دغه رقم په پنځو تقسیم او د هر کال لپاره متوسط سود لاس ته راوړو؟ آیا کولای شو چې دغه متوسط سود د ماشین د خرید پر قېمت ووېشو او حاصل یې د پانګونې د محصول د نرخ په توګه په پام کې ونیسو؟

د پورتنیو ټولو پوښتنو ځواب منفي دی. ټول تفاضل د خالص عاید او د خرید د قېمت ترمنځ سود نه دی. ځکه چې مونږ دغه مسئله په پام کې نه ده نیولې چې په داسې حال کې چې د خرید قېمت د لومړي کال په سر کې تادیه کوو، او عاید د پنځو کلونو په اوږدو کې ترلاسه کېږي. د عاید د ترلاسه کېدو د وخت تفاوت ته نه پاملرنه د ماشین د قیمت له تادیې سره، په دې معنا ده چې د دغو پنځو کلونو په اوږدو کې په تدریج سره لاس ته راځي. د ماشین د خرید له قېمت سره د عاید د ترلاسه کېدو د وخت په نه پامنیوي سره په دې معنا دی، چې د پیسو ارزښت په دغو ټولو پنځو کلونو کې ثابت پاته کېږي. که پیسې وکولای شي ګټه ترلاسه کړي، د یو پولي واحد ارزښت چې په راتلونکي کې مونږ ته رارسېږي، په راتلونکي کې به د هماغه پولي واحد له فعلي ارزښت څخه کم وي. له ترلاسه شویو پیسو سره د ورکړل شویو پیسو د منطقي مقایسې لپاره مونږ باید په راتلونکي کې د اوسنیو پیسو ترلاسه کېدونکی ارزښت محاسبه کړو، یا په بله وینا کوم عاید چې په راتلونکي کې ترلاسه کوو، هغه باید تنزیل شي.که د سود نرخ 4% وي، نو هغه 100 پولي واحده چې په پنځو کلونو کې به لاس ته راشي، اوس به له 82,19 واحدو سره مساوي ارزښت ولري. که د ګټې نرخ 5% وي، د 100 پولي واحدو ترلاسه کېدونکی ارزښت به په پنځو راتلونکو کلونو کې 78,35 پولي واحده وي. د

تنزیل پروسه په دې معنا ده چې که چېرته د ګټې نرخ 4% فیصده وي او اوس مونږ 82,19 پولي واحده په دې نرخ په پور ورکړو، نو په پنځو نورو کلونو کې به 100 پولي واحده ترلاسه کړو. 1- 12 جدول، د عاید د جریان اوسنی ارزښت د تنزیل د بېلابېلو نرخونو لپاره ښکاره کوي.

| متوقعه عاید | 4% | د تنزیل نرخ 5% | 6% |
|---|---|---|---|
| 1=100 پولي واحده د لومړي کال په پای کې | 96,15 | 95,24 | 94,34 |
| 2=100پولي واحده د دوهم کال په پای کې | 92,46 | 90,70 | 89 |
| 3=100 پولي واحده د دریم کال په پای کې | 88,9 | 86,38 | 83,96 |
| 4=100پولي واحده د څلورم کال په پای کې | 85,48 | 82,27 | 79,21 |
| =100پولي واحده د پنځم کال په پای کې | 82,19 | 78,35 | 74,73 |
| د فعلي ارزښت مجموعه | 445,18 | 432,94 | 421,24 |

«1- 12 جدول»

فرض کړئ چې د هغه ماشین ارزښت چې د پورتني عاید جریان ښکاره کوي 432,94 پولي واحده دی. آیا د دغه ماشین خرید یوه ګټوره پانګونه ده؟

پوهېږو چې که ماشین په 432,94 قیمت وپېرو او هر کال به له ماشین څخه ترلاسه کېدونکی عاید د پنځو کلونو لپاره د 5 فیصدو په اندازه ګټه ورکړي. خو آیا د محصول دغه نرخ پانګونې ته د موسساتو د تشویق لپاره کافي دی؟ دلته ده چې د بازار د ګټې نرخ تر بحث لاندې نیول کېږي. که چېرته موسسې د ماشین د پېرودلو لپاره پور ترلاسه کړی وي او د پور د ګټې نرخ له 5 فیصدو څخه زیات وي، پانګونه به ګټوره نه وي او که چېرته اقتصادي موسسه مالي منابع په واک کې ولري او د پور ترلاسه کولو ته اړتیا ونه لري، کولای شي چې د خپلو پیسو په پور ورکولو سره له 5 فیصدو نه ډېر عاید ترلاسه کړي. نو پردې اساس، ده چې په بازار کې په حاکم نرخ باندې د پیسو پور ورکول به د ماشین له پېرودلو څخه منطقي او عقلاني وي. که د بازار حاکم نرخ له 5 فیصدو څخه لږ وي، نو دلته به د ماشین پېرودنه د پور ورکولو په پرتله عقلاني او ګټوره وي. د یوې کُلي قاعدې په توګه که چېرته متوقعه محصول د بازار له حاکم نرخ څخه زیات وي، په دې صورت کې پانګونه ګټوره ده.

**د پانګې اچونې معادلې:**

کوم څه چې پورته بیان شول کولای شو، چې د یوې معادلې په توګه د فعلي ارزښت لپاره د راتلونکي عاید جریان بیان کړو. داسې فرض کړئ چې د بازار د ګټې نرخ 5 فیصده دی، که مونږ 95,24 پولي واحده په 5 فیصده نرخ سره د یوه کال لپاره یو چا ته په پور ورکړو، د کال په پای کې به 100 پولي واحده ترلاسه کړو:

$$95{,}24 + (0{,}05 \times 95{,}24) = 95{,}24\ (1 + \ 0{,}05) = 100$$

په کُلي توګه هغه څه چې پور ورکوونکی یې د لومړي کال په پای کې لاس ته راوړي، په لاندې ډول دي:

$$P1 = P0\ (1 + i)$$

په دې معادله کې، i د ګټې نرخ او P0 په پور ورکړل شوی مبلغ دی. که P1 د دوهم کال لپاره په پور ورکړي، د دغه کال په پای کې به P2 پیدا کړي.

$$P2 = P1\ (1 + i) = P0(1 + i)(1 + i) = P0(1 + i)2$$

که P0 د t کلونو لپاره دوام ومومي، نو د t کال په پای کې به ترلاسه شوی مقدار په دې ډول وي:

$$Pt = P0(1 + i)t$$

له پورتني فورمول څخه په استفادې، کولای شو چې د راتلونکي عاید د جریان فعلي ارزښت لاس ته راوړو. د مثال په تو د 100 پولي واحدو ارزښت چې یو کال وروسته لاس ته راځي داسې چې د ګټې نرخ 5 فیصده دی، څومره به وي. یعنې P1 = 100 او i = 0,05 دی. له هغه ځایه چې:

$$P1 = P0(1 + i)t$$

$$P0 = \frac{P1}{1 + i} = \frac{100}{1 + 0{,}05} = 95{,}24$$

په دې ترتیب د Pt پولي واحدو ارزښت چې په نورو t کلونو کې لاس ته راځي، په لاندې ډول دی:

$$P = \frac{Pt}{(1+i)t}$$

په کلي توګه، کولای شو چې د راتلونکو عوایدو د هرې دورې فعلي ارزښت د لاندې فورمول په مرسته ترلاسه کړو.

V فعلي ارزښت او Rn . . . . R1, R2, د راتلونکو عوایدو ردیف دی.

$$V = \frac{R1}{(1+i)1} + \frac{R2}{(1+i)2} + \frac{R3}{(1+i)3} + . \quad . \quad . \quad . + \frac{Rm}{(1+i)n}$$

د پورتني فورمول په لرلو سره کولای شو چې د V او Ri په لرلو سره د ماشین د خرید نرخ د راتلونکو تنزیل شویو عوایدو له جریان سره برابر وي، لاس ته راوړو.

## د پانګې نهایي محصول:

د i لپاره د پورتنۍ معادلې په حل کولو سره د تنزیل هغه نرخ چې د عاید د جریان فعلي ارزښت د پانګه ییزو توکو د خرید له قیمت سره برابر وي لاس ته راوړو. کېنز دغه نرخ ته د پانګې نهایي محصول (MEC) وایي او د پانګې د شتمنۍ متوقعه محصول دی.

په دې ترتیب کولای شو چې د پانګې نهایي محصول (MEC) د خرید د قیمت او د متوقعه عاید جریان د هر پانګه ییز توکي لپاره محاسبه کړو. د پانګې د نهایي محصول او په بازار کې د ګټې د نرخ (r) په پرتله کولو سره کولای شو، چې دغه خبره مشخص کړو چې آیا یوه ځانګړې پانګونه ګټوره ده او که نه؟ له دې وراخوا کولای شو، چې د پانګې د نهایي حاصل او په بازار کې د ګټې کم نرخ د توپیر په محاسبې سره خالص حاصل لاس ته راوړو. پردې اساس، که چېرته د پانګې د نهایي محصول 6 فیصده او د ګټې نرخ (r) 4 فیصده وي، نو د پانګې خالص محصول به 2 فیصده وي.

## د عدم اطمینان عامل:

د پانګه ییزو کالیو د خرید د قدرت په لرلو سره او د هغه د انتظار وړ عاید اټکل، د پانګې د نهایي حاصل محاسبه ساده تر سترګو کېږي. خو هغه مهمه مسئله چې باید پام ورته وشي، دا ده چې د راتلونکي عاید د جریان اټکل د عدم اطمینان له مسئلې سره مخ ده.

د راتلونکي عايد د جريان په هکله د عدم اطمينان اندازه د مختلفو طرحو لپاره متفاوته ده. د ځينو طرحو لپاره د حاصل د نرخ اټکل او له اطمينان سره د عايد جريان ممکن دی. معمولاً انحصاري قدرت او ټاکل شوي قېمتونه، د مثال په توگه د عمومي خدماتو لکه برېښنا، اوبو، گازو او نورو لپاره د حاصل او راتلونکي عايد د جريان په هکله د عدم اطمينان د کموالي باعث گرځي. له بلې خوا په ځينو نورو طرحو کې د حاصل او د راتلونکي عايد د جريان د عدم اطمينان اندازه ډېره لوړه ده.

بله مسئله چې د راتلونکي عايد په هکله د عدم اطمينان باعث گرځي د پانگه ييزو کاليو د نايابۍ مسئله ده. د ټکنالوژۍ پرمختگ باعث گرځي چې ډېری پانگه ييز کالي مخکې له دې چې د گټې ورکولو قدرت يې کم شي، له اقتصادي پلوه نور ترې کار نه اخيستل کېږي.

په لنډه توگه د حاصل د نرخ او د پانگې د نهايي حاصل اټکل په قطعي ډول امکان نه لري او کارفرمايان موجودو اقتصادي شرايطو ته په کتو بايد د پانگې نهايي حاصل د خپلو طرحو لپاره اټکل کړي.

## د پانگې موجودي او د پانگونه اچونې نرخ:

په هره زماني نقطه کې اقتصادي موسسې د پانگونې له بېلابېلو طرحو سره مخ دي. پرته له هغو طرحو څخه چې ټکنالوژيکي بدلونونه په هغوی کې پانگونه اړينه گرځوي، يو شمېر نورې طرحې لکه د کارځای د ودانۍ پراختيا، د نوي کارځای ودانول، د نويو کاليو د توليد لپاره د پانگه ييزو کاليو پېرودنه او داسې نور هغه طرحې دي چې احتمالاً پانگونه پکې گټوره ده. که موسسه مالي منابع په واک کې ولري او يا هم وکولای شي چې لازمې مالي منابع له پور څخه تأمين کړي نو هرې طرحې ته د پانگونې د مصارفو ترسره کول د هغې طرحې د پانگې په نهايي محصول او په بازار کې په حاکم نرخ (r) پورې تړاو ولري. د هرې طرحې د پانگې د نهايي محصول (MEC) له اټکل څخه وروسته بايد موسسه د 1- 12 شکل په څېر يوه بڼه د ممکنې پانگونې د طرحو د ښودلو لپاره برابر کړي.




«1 – 12 شکل»

فرض کړئ چې په يو ټاکلي وخت کې د يوې موسسې د پانګې د موجودي ارزښت د استهلاک له بېلولو وروسته 500 پولي واحده دی. که د بازار د ګټې نرخ 6 فيصده وي، نو په 1- 12 شکل کې به دوه لومړنۍ طرحې ګټورې وي. دغه دواړه طرحې 125 ميليونه پولي واحده پانګونې ته اړتيا لري او د موسسې د پانګې موجودي 625 ميليونه پولي واحدو ته لوړوي. که د بازار د ګټې نرخ 3 فيصده وي درېيمه او څلورمه طرحه به هم ګټوره وي. ددغو دواړو طرحو د پانګونې مصرف 75 ميليونه پولي واحده دی او د موسسې د پانګې موجودي به 700 ميليونه پولي واحدو ته لوړه کړي. کله چې د پانګې موجودي دومره زياته شي چې په هغه کې د پانګې نهايي محصول د ګټې له نرخ سره په مطلوب حد کې د موسسې د پانګې موجودي، يعنې هغه مقدار دی، چې د موسسې ګټه اعظمي حدته رسوي. په دې صورت کې د پانګې موجودي تغيير نه کوي او د موسسې د خالصې پانګونې مقدار به په هره وروستۍ دوره کې صفر وي او پانګونه يوازې د مستهلک د پانګه ييزو کاليو د ځای بدلولو يا تعويض لپاره ترسره کېږي.

دغه مسئله د نورو اقتصادي موسساتو په هکله هم صدق کوي. د تل لپاره د موسساتو مديران د پانګونې د هغو فرصتونو په لټه کې دي چې د موسساتو ګټه لوړوي. که په 1- 12 شکل کې

ښودل شوي گرافونه د ټولو موسساتو لپاره سره راټول کړو، نو د پانگې د نهايي محصول گراف به لاس ته راوړو. دغه گراف په 1- 12 الف شکل کې ښودل شوی دی.

په هر وخت کې د اقتصادي موسساتو د پانگې د موجودي ټاکلی مقدار، د مثال په توگه د 800 میلیاردو په شاوخوا کې د یوې ټاکلې پانگې لرونکی وي. که په دې وخت کې r = 6 وي، نو څنگه چې يې 2- 12 شکل ښکاره کوي، د پانگې د موجودي زياتوالی به د 6 فيصده (د بازار د گټې له نرخ څخه) کم نرخ ولري. په دغو شرايطو کې موسسات د هغې اندازې پانگې د موجودي د اندازې لرونکي دي چې د دوی گټه اعظمي حد ته رسوي او د پانگونې د زياتوالي او کموالي لپاره به هيڅ دليل موجود نه وي.




«2 – 12 شکل»

ممکن د ځینو موسساتو لپاره خالصه پانګونه له صفر څخه زیاته وي، خو د ځینو نورو لپاره به خالصه پانګونه له صفر څخه کمه وي او په پای کې به خالصه مجموعي پانګونه له صفر سره مساوي شي. په دغو شرایطو کې یوازې په هغه صورت کې چې د ګټې نرخ کموالی وومومي او یا د پانګې د نهایي محصول منحني ښي خوا ته حرکت وکړي، کېدای شي چې خالصه پانګونه زیاته شي، نو دا ډول تغییرات په لاندې توګه څېړو.

## د ګټې د نرخ کموالی:

په پورتني مثال کې فرض مو کړه چې د شاوخوا 800 میلیارده پولي واحدو د پانګې په موجودۍ او د پانګې د نهایي محصول (MEC)، 6 فیصده دی. که د بازار د ګټې نرخ (r) هم 6 فیصده وي، نو خالصه پانګونه به له صفر سره مساوي شي. اوس فرض کړئ چې د ګټې په دغه نرخ کې د سود لوړې کچې ته د رسونکې پانګې په 2 – 12 شکل کې، د 880 میلیارده پولي واحدو په شاوخوا کې وي. د ا په دې معنا ده چې 80 میلیارده خالصې پانګونې ته اړتیا ده ترڅو د پانګې موجودي مطلوب حد (د ګټې لوړې کچې ته د رسېدو حد ته) ورسېږي. خو موسسې به په هره زماني فاصله کې څومره پانګونه وکړي او څومره وخت به وغواړي چې د پانګې موجودي 880 میلیارده پولي واحدو ته ورسېږي؟

ښکاره خبره ده چې د 80 میلیارده پولي واحده پانګې د موجودۍ زیاتوالی وخت ته اړتیا لري. د پانګې د موجودي د زیاتوالي لپاره باید پانګه ییز کالي ډېر تولید شي او ددغو کالیو د تولید نرخ د پانګه ییزو کالیو د تولید د موسساتو له خوا د تولید پراختیا ممکن د هغوی د نهایي مصارفو د زیاتوالي او په پای کې د هغوی د پانګه ییزو کالیو د قېمت د زیاتوالي لامل وګرځي. د قېمت زیاتوالی په خپل وار سره د پانګونې د نرخ د کموالي او د پانګې د موجودي د زیاتوالي د وخت د زیاتېدو لامل ګرځي. فرض کړئ چې د پانګه ییزو کالیو د تولیدونکو موسساتو تولیدي ظرفیت په کال کې 80 میلیارده پولي واحده دی او فرض کړئ چې په هر کال کې 1,5 (5 فیصده) پانګه ییز توکي استهلاکېږي او تعویضي پانګونه په کال کې شاوخوا 40 میلیارده پولي واحده ده. پردې اساس، د پانګه ییزو کالیو د تولید موسسات کولای شي چې په کال کې د 40 میلیاردو په اندازه د پانګه ییزو کالیو تقاضا ته ځواب ووایي. نو د 80 میلیارده پولي واحدو په اندازه د پانګې د موجودي د زیاتولو لپاره دوه کلونو ته اړتیا ده. آیا د خالصې پانګونې د نرخ زیاتوالی د پانګه ییزو کالیو د تولید د موسساتو د لوړولو لپاره کافي دی؟ د دې لپاره چې پوه شو چې په یوه کال کې د یوې موسسې د پانګونې مصرف څومره دی، نو 2 – 12 شکل ته ورګرځو.

د 2- 12 ب شکل د پانګونې د نهايي محصول منحني ښکاره کوي. دغه منحني په يوه کال کې د بازار د ګټې د هر نرخ لپاره د پانګونې نرخ مشخص کوي. د MEI هر منحني د پانګې د موجودي په ټاکلي مقدار پورې مربوطيږي. MEC منحني ته په کتو د 2- 12 الف شکل د بازار د ګټې په نرخ کې 6 فيصده (r) او د پانګې موجودي 800 ميليارده پولي واحده. دغه موجودي، د سود اعظمي کوونکې موجودي ده او خالصه موجودي به له صفر سره مساوي شي. پردې اساس، کوم منحني چې پانګونه د ګټې د نرخ په رابطه مشخص کوي بايد وښيي چې د ګټې په 6 فيصده نرخ کې خالصه پانګونه صفر ده. پردې اساس، په شکل کې د MEI منحني چې د ګټې په 6 فيصده نرخ کې خالصه پانګونه له صفر سره مساوي ښيي.

(د F نقطه) د پام وړ منحني دی. که چېرته د ګټې نرخ 3 فيصدو ته راکم شي، نو خالصه پانګونه به له صفر څخه زياته شي. د ګټې د نرخ د کموالي په لومړني کال کې به خالصه پانګونه 30 ميليارده پولي واحدو (ټوله پانګونه به 70 ميليارده پولي واحده) وي. خو د پانګه ييزو کاليو د توليدونکو موسساتو توليدي ظرفيت کولای شي چې په هر کال کې د 40 ميليارده پولي واحده نوې پانګونې تقاضا ته ځواب ووايي (په 80 ميليارده پولي واحده مجموعي پانګونې سره). خو دغه پانګونه د پانګه ييزو توکو د قېمت د زياتوالي لپاره پانګه ييزو توکو ته د اضافي تقاضا د ځوابوينې لپاره کنټروليږي. پردې اساس، د پانګه ييزو کاليو د عرضې د منحني مثبت ميلان د دې لامل ګرځي چې د MEI منحني ګانې منفي شکل ولري. له دې وراخوا هر څومره چې د پانګه ييزو کاليو د عرضې منحني مثبت ميلان ولري نو د MEI د منحني ګانو ميلان به هم ورسره زيات شي. مونږ په ښکاره توګه د F له نقطې نه G نقطې خوا ته په MEIa منحني کې دغه حرکت ګورو چې ولې خالصه پانګونه د G د کموالي په لومړۍ دوره کې 30 ميليارده پولي واحده ده. د K په نقطه کې MEI شاوخوا 5 فيصده دی ځکه چې په کال کې له صفر پولي واحد څخه 15 ميليارده پولي واحدو ته د خالصې پانګونې زياتوالی د پانګه ييزو کاليو قېمت او د پانګونې د محصول نرخ يې 5 فيصدو ته راټيټ کړی دی. د ګټې دغه نرخ اوس هم د ګټې له 3 فيصده نرخ څخه زيات دی. پردې اساس، بايد خالصه پانګونه نوره هم زياته شي. د H نقطه کې د پانګونې نهايي محصول MEI، 4 فيصده کموالی مومي. علت يې دا دی چې خالصې پانګونې زياتوالی موندلی دی (د 25 ميليارده پولي واحدو په اندازه) او دا د پانګه ييزو توکو د زياتوالي لامل شوی دی. لا اوس هم MEC د بازار د ګټې له نرخ څخه زيات دی. نو پردې اساس، بايد خالصه پانګونه زياتوالی ومومي. د J په نقطه کې MEI، 3 فيصده دی. (دغه کموالی د پانګه ييزو توکو د قېمت د زياتوالي له وجې هغه ته د تقاضا د زياتوالي له کبله رامنځته شوی دی). که چېرته خالصه پانګونه له 3 ميليارده پولي واحدو څخه ډېره

زیاته شي. MEI کموالی مومي او د ګټې له نرخ څخه 3% کمېږي. پردې اساس، د ګټې د نرخ د کمېدو له لومړنۍ دورې څخه به خالصه پانګونه 30 میلیارده پولي واحده (نه ډېره او نه کمه) وي.

له پیل نه د لومړي کال تر پایه پورې د کال په بهیر کې د 30 میلیارده پولي واحدو په خالصې پانګونې سره د پانګې موجودي 830 میلیارده پولي واحدو ته زیاتوالی مومي. لکه څنګه چې د 2 – 12 الف شکل په برخه کې ښودل شوې ده، په خالصه پانګونه کې دغه زیاتوالی، MEC ته د 5 فیصدو په شاوخوا کې کموالی ورکوي (4,87 فیصده). له هغه ځایه چې د ګټې نرخ 3 فیصده دی، باید د پانګې موجودي زیاتوالی وومي. په دوهم کال کې د خالصې پانګونې مقدار څومره دی؟ دغه مقدار د MEI په منحني پورې تړاو لري. په 5 فیصده MEI سره، مونږ پوهېږو چې د MEI نوی منحني له صفر سره برابر شي (د K نقطه) پردې اساس، د MEI منحني د پانګونې د نهایي محصول په 5 فیصده د MEIb منحني دی، چې د MEIa له منحني څخه ښکته راغلی، ځکه په لومړي کال کې د پانګې د موجودي په زیاتوالي سره، د MEI منحني ښکته خوا ته حرکت کوي.

د دوهم کال خالصې پانګونې نرخ په هماغه ډول ټاکل کېږي لکه څنګه چې په لومړي کال کې د پانګونې نرخ مشخص شو، خالصه پانګونه به په هغه اندازه وي چې پانګې نهایي محصول د ګټې تر نرخه پورې راټیټ کړي. د MEI منحني ښکاره کوي چې په دوهم کال کې د خالصې پانګونې نرخ 20 میلیارده پولي واحده دی (د L نقطې) ته پام وکړئ چې دغه مقدار د لومړي کال لپاره د 30 میلیارده خالصې پانګونې څخه کم دی. دې خبرې ته په پام سره چې د پانګه ییزو توکو ارزښت د هغو د تولید په زیاتېدو سره زیاتوالی مومي، د 20 میلیارده پولي واحدو د خالصې پانګونې په زیاتېدو سره، د پانګه ییزو توکو زیاتوالی د پانګونې نهایي محصول له 5 نه 3 فیصدو ته راکم او هغه د ګټې له(3 = r) فیصده نرخ سره برابروي. په دوهم کال کې د 20 میلیارده پولي واحدو په پانګونې سره د پانګونې موجودي 850 میلیارده پولي واحدو ته لوړوي. د پانګې موجودي MEC، 4 فیصدو (4,12 فیصدو) ته راکموي چې له MEI سره تړاو لري. په درېیم کال کې خالصه پانګونه چې د دغه منحني په مرسته مشخص کېږي، 10 میلیارده پولي واحده ده. دغه پانګونه د پانګې موجودي 860 میلیارده پولي واحدو ته لوړوي، چې دا هم د 4 فیصدو په اندازې سره د MEI د کمېدو لامل ګرځي او د MEI منحني ته ښکته خوا ته حرکت ورکوي او په MEId یې بدلوي. په څلورم کال کې د خالصې پانګونې نرخ 5 میلیارده پولي واحده کېږي. د MEI په منحني عدم تغییر او د ګټې د نرخ په نه تغییرېدو سره به خالصه پانګونه په هره دوره کې له مخکنۍ دورې څخه لږه وي او نهایتاً دغه پانګونې د پانګې موجودي 880 میلیارده پولي واحدو ته زیاتوي چې په دې دوره کې د MEC موجودي له r سره مساوي کېږي.

اوس د پانګې موجودي د 3 فیصدو په نرخ کې د اعظمي کوونکي سود په اندازه ده. د 880 میلیارده پولي واحدو په موجودي کې د MEI منحني د MEIn منحني دی، چې د دې څرګندونه کوي چې د پانګې موجودي په دغه مقدار کې خالصه پانګونه له صفر او مجموعي پانګونه له تعویضي پانګونې سره مساوي ده.

$$I = IR + In$$

$$In = 0$$

$$I = IR$$

په دې حالت کې مونږ د تعادل حالت ته رسېدلي یو، چې د MEC د منحني په ځای بدلېدو سره د بازار د ګټې د نرخ په تغییرېدو سره کېدای شي د ګډوډۍ لامل شي.

په لنډه توګه که د MEC په منحني کې د ځای بدلون رانه شي، نو د خالصې پانګونې مقدار به له صفر څخه لوی، د پانګې په موجودي او د ګټې د نرخ په اندازې پورې تړاو ولري.

د پانګې د موجودي په لرلو سره به مونږ MEC مقدار ولرو او د r په لرلو سره کولای شو، چې دا خبره تعین کړو چې کوم حالت صدق کوي:

$$MEC>r$$

$$MEC<r$$

$$MEC= r$$

د خالصې پانګونې لپاره لازم شرط MEC >r دی. که دغه شرط موجود وي، نو د پانګې موجودي به زیاته شي او دغه زیاتوالی د خالصې پانګونې له لارې ممکن ګرځي. هر کال د خالصې پانګونې اندازه د MEI د منحني په میلان او دا په خپل وار سره د پانګه ییزو کالیو د عرضې د منحني په میلان پورې تړاو لري.

په هر حال، د پانګې موجودي به د اعظمي کوونکي سود د موجودي تر اندازې پورې زیاتوالی ومومي. هر څومره چې د MEI میلان زیات وي، د زیاتوالي نرخ به کم وي.

### د MEC د منحني د ځای بدلېدل:

په هماغه ډول چې د سود د نرخ کموالی کولای شي چې د اعظمي کوونکې پانګې د سود موجودي زياته کړي، د MEC د منحني صعودي ځای بدلېدل هم (د ګټې د نرخ په ثابت پاته کېدلو سره) کولای شي چې همدغه نتيجه منځته راوړي. په 3- 12شکل کې د MECa منحني د 2- 12 شکل د پانګې د نهايي محصول هماغه منحني دی. په دواړو حالاتو کې، داسې فرض کړئ چې 800 ميلیارده پولي واحده د پانګې موجودي r =6 فیصده ده. دغه موجودي د اعظمي کوونکي سود موجودي ده او خالصه پانګونه له صفر سره برابره ده. که د پانګې د نهايي محصول منحني پورته خوا ته




«3 – 12 شکل»

خپل ځای بدل کړي او د MECb په منحني بدل شي، د اعظمي کوونکي سود د موجودی اندازه 880 ميلیارده پولي واحده کېږي. اوس خالصه پانګونه زياتوالی مومي، ځکه چې د واقعي

پانګې په موجودي کې 800 میلیارده پولي واحدو کې د پانګې نهایي محصول MEC کې 9 فیصده زیاتوالی راځي. یا په بله وینا، د متوقعه عاید د جریان د زیاتوالي لپاره چې د پانګه ییزو کالیو له درکه چې دلته د MEC د منحني د ځای د تغییرېدو علت فرض شوی، د نوې پانګې د متوقعه حاصل نرخ له 9 فیصدو سره مساوي کېږي. له هغه ځایه چې لا تراوسه د ګټې نرخ 6 فیصده دی MEC>r د 3 فیصدو په اندازه دی. د پانګې په موجودي کې د مطلوب زیاتوالي اندازه د MEC د منحني د ځای د تغییر په خاطر 80 میلیارده پولي واحده ده. په هر کال کې د پانګې او یا خالصې پانګونې د زیاتېدو اندازه د تېر مثال په څېر (د ګټې د نرخ د کمېدو حالت) دی.که د MEC منحني پورته خوا ته حرکت وکړي او د ګټې نرخ هم کموالی ومومي، نو د اعظمي کوونکي سود د پانګې موجودي به له 880 میلیارده پولي واحدو څخه زیاته وي.

که MEC منحني پورته خوا ته حرکت وکړي خو د ګټې نرخ زیاتوالی ومومي، امکان لري چې دغه دواړه یو بل خنثی کړي. په دې صورت کې به د پانګې موجودي تغییر ونه کړي. په همدې ترتیب امکان لري چې د ګټې د نرخ کموالی د MEC نزولي ځای بدلېدل جبران کړي.

## د پانګونې د تقاضا تغییرات:

د MEC د ځای د تغییر دلیل په څه کې دی؟ په لنډه توګه څلور لاملونه د منحني د ځای په تغییر کې رول لري. دغه څلور لاملونه په لاندې ډول دي:

1- د کار فرمایانو په توقعاتو کې تغییر راتلل.

2- د ټکنالوژي او اختراعاتو تغییرات.

3- د عاید سطح او تولید.

4- د عاید او تولید په سطح کې تغییر راتلل.

له دغو څلورو لاملونو څخه، 2 او 4 عامل له ټولو څخه ډېر اهمیت لري. البته دلته د مصارفو او دولتي مالیاتو رول په پام کې نه دی نیول شوی.

## د کار فرمایانو په توقعاتو کې تغییر:

دغې نقطې ته په پام سره چې د هرې اقتصادي موسسې هدف د ګټې اعظمي کول دي. هره پانګونه هغه وخت د یوې اقتصادي موسسې په مرسته ترسره کېږي چې اقتصادي موسسه له هغې

پانگونې څخه د ګټې تمه ولري. خو دغه توقعات د وخت په تېرېدو سره تغيير مومي. امکان لري هغه پانګونې چې پخوا ترې د ګټې تمه کېده، اوس ګټورې ونه ګڼل شي او یا هم د دې پرعکس، هغه پانګونې چې پخوا ګټورې نه ګڼل کېدې، اوس ګټورې وګڼل شي. خو کوم عوامل د کارفرمایانو د توقعاتو د تغيير لامل ګرځي؟ همدا د اقتصادي شرایطو تغيير دی چې د کارفرمایانو د توقعاتو د تغيير باعث ګرځي. د خرڅلاو د اندازې زیاتوالی، په بورس کې د دونډو زیاتوالی، د ترلاسه شویو سفارشاتو د مقدار زیاتوالی او نور ټول د کارفرمایانو د توقعاتو د ښه والي باعث ګرځي. دغه مسایل د دې باعث ګرځي چې کارفرما د راتلونکې په اړه ښه باور ولري.

### د اختراعاتو او ټکنالوژۍ تغییرات:

د ټکنالوژۍ تغییرات، غالباً د تولید په تابع کې د تغيير په توګه پېژندل کېږي. د ټکنالوژۍ د موجودیت په صورت کې د کالیو ټاکلی مقدار په لږو منابعو باندې تولیدېږي او یا دا چې د ټاکلو منابعو په مرسته ډېر کالي تولیدېږي. ټکنالوژیکي تغییرات د اختراعاتو او ابداعاتو یوه برخه جوړوي. ابداعات یا نوښتونه د فني تغییراتو هغه ډولونه دي چې د تولید د تابع د ځای د تغيير باعث ګرځي. خو داسې نور تغییرات لکه د نویو کالیو تولید، د کالیو د تولید د نویو طریقو پراختیا، د موجودو کالیو د کیفیت تغيير او داسې نور ټول ابداعات د صعودي ځای تغییرېدو باعث ګرځي، د پانګې د موجودي اندازه اعظمي کوونکی سود زیاتوي او د خالصې پانګه اچونې د زیاتوالي باعث ګرځي.
مونږ کولای شو ټکنالوژیکي تغییرات په څلور ډلو طبقه بندي کړو:

1- هغه چې ډېره پانګه او لږ کار غواړي (پانګه وړونکې او کار سپمونکې).
2- هغه لږه پانګه او ډېر کار غواړي (پانګه سپمونکې او کار وړونکې).
3- هغه چې لږه پانګه او لږ کار غواړي (پانګه سپمونکې او کار سپمونکې).
4- هغه چې هم ډېره پانګه او ډېر کار غواړي (پانګه وړونکې او کار وړونکې).

که داسې فرض کړو چې د تولید سطح تغيير نه کوي، هغه ټکنالوژیکي تغییرات چې ډېره پانګه او لږ کار غواړي د MEC منحني پورته خوا ته بیایي او د خالصې پانګونې د زیاتوالي باعث کېږي. کومه ډله چې یې لږه پانګه غواړي (که هغه لږ کار غواړي او یا لږه پانګه) د MEC منحني ښکته خوا ته تغییروي او د خالصې پانګونې د کموالي باعث ګرځي.

که فرض کړو چې د تولید سطحه تغییر نه کوي، کوم شی چې پورته راغلل په خالصه پانگونه باندې د پانگه غوښتونکې او کار سپموونکې ټکنالوژي به د تغییراتو عمومي اغېزې وي. خو امکان لري، پوښتنه وشي چې آیا ټکنالوژیکي تغییرات کولای شي چې د کالیو د تولید یوه ټاکلې اندازه د لږو پانگه ییزو منابعو په مرسته ممکن کړي؟ که ټکنالوژي تغییر ونه کړي، په کارگر باندې د پانگې د تغییراتو په صورت کې کولای شو، چې په لږې پانگې سره ټاکلې اندازه کالیو ته لاسرسي پیدا کړو. خو که چېرته ټکنالوژي تغییر وکړي آیا وبه کولای شو چې په کارگر باندې د پانگې په تعویضولو سره د کالیو یوه ټاکلې اندازه په لږ مصرف باندې تولید کړو؟ یو بل حالت داسې دی چې په هغه کې د ټکنالوژي په تغییر سره کولای شو د کالیو یو ټاکلی مقدار په لږې پانگې او کار سره تولید کړو.

په دودیز ډول اقتصادپوهانو د ټکنالوژي تغییر ته د پانگې د ډېرې کارونې او د کار د لږ استعمال د ځواک په توگه په تولید کې د ټاکلي مقدار کالیو د تولید لپاره کتلي او عموماً دغه مسئله چې ټکنالوژیکي تغییرات کولای شي چې د محصول په پرتله د پانگې د کموالي باعث شي او یا داسې چې د دواړو عواملو؛ کار او پانگې د کموالي باعث شي، خبره یې له یاده ویستې ده. سره له دې ټکنالوژیکي تغییرات چې په دودیزه توگه اقتصادپوهانو پرې ډېر ټینگار کړی دی، هغه تغییرات دي چې ډېر پېښ شوي دي او دغو تغییراتو د پانگې د محصول نسبت زیات کړی دی او یا په بله وینا ډېرې پانگې ته اړتیا لري. د دې خبرې بېلگه په اقتصادي موسساتو کې د حسابدارۍ په برخه کې د کمپیوټر استعمال دی.

## د پانگونې تقاضا او اختراع:

په اوږده موده کې ټکنالوژیکي پرمختگ کولای شي، چې پانگه سپموونکی ماهیت ولري، یعني په اوږده موده کې کېدای شي چې د کالیو د تولید وده له پانگه ییز عامل څخه زیاته شي. په دې دلیل ټکنالوژیکي پرمختگ د پانگه ییزو مصارفو د کموالي باعث گرځي، خو دغه مسئله د ابداعاتو په برخه کې صدق نه شي کولای. ډېری وخت ابداعات د پانگونې د مصارفو د زیاتوالي تر ټولو مهم عامل دی. د ټکنالوژیکي تغییراتو پرعکس، ابداعات نه یوازې د کالیو د ډېروالي، بلکې د پانگې او بشري ځواک د بوختیا سبب هم گرځېدلی شي.

ابداعات د نویو کالیو د تولید په شکل، حتی له ټکنالوژي سره د یو ځای والي په صورت کې، امکان لري د نویو کالیو د تولید لپاره په ډېرې پانګونې پای ته ورسېږي.

په ډېرې نږدې توګه له تاریخي پلوه په هر هېواد کې د پانګې د موجودي وده په ابداعاتو پورې تړاو لري د مثال په توګه، کولای شو چې د نولسمې پېړۍ په لومړیو کې د موټرو د اختراع مثال راوړو، چې نه یوازې د لارو د جوړولو په برخه کې د زیاتې پانګونې سبب شوه، بلکې د نفتو په صنعت کې هم د زیاتو پانګونو د ترسره کېدو سبب شوه.

## د MEC، عاید او تولید منحني:

په کومو متحولینو چې مو پورته بحث وکړ، د پانګونې نرخ او په پای کې د عاید او تولید کچه




«4- 12 شکل»

تر اغېزې لاندې راولي. اوس به وګورو چې څرنګه د ټکنالوژي، اختراعاتو او نورو تغییرات د عاید او د تولید سطح تر اغېزې لاندې راولي. که یو ځل بیا د 3 – 12 شکل په پام کې ونیسوو نو ویلی شو، چې د ټکنالوژي، اختراعاتو او د کارفرمایانو د توقعاتو تغییر او ښه والی MEC منحني پورته خوا ته بيايي. دا هم په خپل وار سره د 3 – 12 شکل د ب په برخه کې د MEC د منحني د صعودي تغییر لامل او پانګونه زیاتوي. د 4- 12 د شکل په ب برخه کې د پانګونې د تعادل او سپما منحني د 12 – 3 شکل د الف او پ له برخې څخه ترکیب شوی دی.

د 4 – 12 شکل په الف برخه کې، د MEC لومړنی منحني د MECa له منحني سره، ښودل شوی دی او داسې فرض شوې ده چې د ګټې نرخ 4 فیصده دی. د سود اعظمي کوونکی مقدار په دې حالت کې 500 میلیارده پولي واحده دی په داسې حال کې چې د پانګې واقعي مقدار 400 میلیارده پولي واحده ده. نو پردې اساس، په هر کال کې د خالصې پانګونې نرخ مثبت دی. په هر کال کې د پانګونې مقدار د ب شکل په برخه د MEIa منحني دی. دغه منحني ښيي چې د خالصې پانګونې مقدار 10 میلیارده پولي واحده دی او که په هغه باندې 20 میلیارده پولي واحده تعویضي پانګونه ورزیاته کړو، نو په هر کال کې به مجموعي پانګونه له 30 میلیارده پولي واحدو مبلغ سره د پ په برخه کې I یا د پانګونې تابع ښکاره کوي.

د سپما منحني د 250 میلیارده پولي واحدو په عوایدو کې د پانګونې له منحني سره لګېږي. دغه مبلغ د تعادلي عاید مقدار مبلغ د MECa له منحني سره د شکل په لومړی برخه کې همغږی دی. که منحني ګانې تغییر ونه کړي، د تعادلي عاید مقدار په لنډ مهال کې باثباته پاته کېږي. اوس داسې فرض کړئ چې اختراعات د نویو کالیو د تولید په شکل د نوې پانګونې محصول له MEC نه زیات د اوسنۍ پانګې د موجودي لپاره زیاتوي او له MECa نه MECb د منحني د صعودي ځای تغییر باعث ګرځي او نهایتاً له MEIa نه MEIb ته د صعودي تغییر باعث ګرځي. دغه د MEC او MEI د منحني ګانو د ځای تغییر مجموعي پانګونه له 30 میلیون پولي واحدو نه 40 میلیارده پولي واحدو او خالصه پانګونه له 10 میلیارده پولي واحدو نه 2 میلیارده پولي واحدو ته لوړوي. 40 میلیارده مجموعي پانګونه I یا د پانګونې منحني د پ شکل په برخه کې مشخص کوي. د پ په برخه کې د سپما نهايي میلان له 1,5 سره مساوي او سره زیاتېدونکې د زیاتوالي له ضریب 5 سره برابر دی. د پانګونې تغییر ΔI له 10 میلیارده پولي واحدو سره مساوي دی، نو پردې اساس لرو:

$$\frac{\Delta Y}{\Delta I} = 5$$

$$\frac{\Delta Y}{10\text{میلیارده}} = 5$$

$$\Delta Y = 50 \text{ میلیارده پولي واحده}$$

نو د نوي تعادل د عاید سطحه $Y + \Delta Y = 250 + 50 = 300$ میلیارده پولي واحده ده. هر عامل چې د MEC منحني د صعودي ځای تغییرېدو سبب وګرځي، نو د پورتنۍ موضوع په څېر أثر لري. د پانګونې هغه زیاتوالی چې د MEC د منحني د ځای د تغییرېدو له امله رامنځته کېږي. د ملي عاید د زیاتوالي باعث ګرځي، چې د دغه زیاتوالي مقدار په یو بل زیاتونکي او یا د زیاتوالي په ضریب پورې تړاو لري.

**د عاید سطح او تولید:**

یو بل عامل چې د پانګونې نرخ تر اغېزې لاندې راولي د عاید او تولید سطحه ده. خو په سختۍ سره د دې تمه لرلی شو، چې په هر کال کې د موسساتو پانګه ییز مصارف د رونق او یا په وده کې سره مشابه وي. له دې نه وروسته له دغه فرض کړی شوي مثال نه تېرېږو.

**مستقله او غیر مستقله پانګونه:**

د دې د ښکاره کولو لپاره چې څه ډول د دغې فرضیې مثال پرېښودل زمونږ پخوانۍ نتیجه ګیري تر اغېزې لاندې راولي، په 5 – 12 شکل کې، پانګونه د عاید په ټولو سطحو کې 10 میلیارده پولي واحده فرضوو. مونږ داسې فرض کوو چې پانګونه د عاید تر اغېزې لاندې نه راځي. په دغه حالت کې اقتصادپوهان پانګونې ته مستقیمه پانګونه وایي.

که داسې فرض کړو چې پانګونه په عاید پورې تړاو لري، نو باید دغه رابطه مشخص کړو. و یلی شو چې د عاید په زیاتوالي سره پانګونه زیاته او د عاید په کمېدو سره په پانګونه کې کموالی راځي. د الف شکل په برخه کې د پانګونې شکل د C د کرښې او د ټکي ټکي کرښې له فاصلې سره برابر دی. د عاید په زیاتوالي سره دغه فاصله زیاتوالی مومي، یعنې د پانګونې نرخ د عاید په زیاتوالي سره زیاتیږي.




«5– 12 شکل»

کومه پانګونه چې د عاید په سطحې پورې تړاو لري اقتصادپوهان ورته غیر مستقله پانګونه وايي. د 5- 12 شکل پر اساس، د عاید په هره سطحه کې د پانګونې تقاضا د مستقلې او غیر مستقلې

پانګونې له مجموعې سره برابره ده. که عايد 100 واحده او پانګونه 30 واحده، مستقله پانګونه 10 واحده او غير مستقله پانګونه 20 واحده وي. د 200 واحده عوايدو په سطحه کې مجموعي پانګونه 50 واحده، مستقله پانګونه 10 واحده او غير مستقله پانګونه به 40 واحده وي.

پام مو وي، اوس زمونږ د پانګونې تابع د لنډ مهاله مصرف تابع ته ورته شکل لري او د لاندې تابع په مرسته ښودل کيږي:

$$I = Ia + ey$$

چې په هغه کې Ia مستقله پانګونه او ey غير مستقله پانګونه ده. $\frac{\Delta I}{\Delta Y}$ هم MPI د پانګونې د نهايي ميلان په نامه يادېږي.

### د توليد او عايد د تعادل سطحه:

د توليد او عايد د تعادل د سطحې د موندلو لپاره په هغه ماډل کې چې غير مستقله پانګونې ته شامل دی، او په کار وړل شوي اصول هماغه دي چې د مستقلې پانګونې په حالت کې حاکم وو، د توليد او عايد د تعادل مقدار هغه دی چې په هغه کې مجموعي تقاضا له مجموعي عرضې او يا هم په هغه کې مجموعي تقاضا له مجموعي عرضې او يا هم په هغه کې پروګرام شوې پانګون له پلان شوې سپما سره مساوي کيږي. مخکې مو درلودل چې:

$$Y = C + I$$

$$C = a0 + by$$

$$I = Ia$$

پر دې اساس:

$$Y = a + by + Ia$$

که داسې فرض کړو چې پانګونه د عايد تابع ده، نو:

$$Y = C + I$$

$$C = a + by$$

$$I = Ia + ey$$

$$Y = a + by + Ia$$

که فرض کړو چې دد 5 – 12 شکل د مصرف تابع له $C = 20 + \frac{3}{5}y$ سره مساوي ده او د مصرف تابع $I = 10 + \frac{1}{5}y$ ده.

نو د عاید د تعادل سطحه به په دې ډول وي:

$$Y = 20 + \frac{3}{5}y + 10 + \frac{1}{5}y$$

$$\frac{1}{5}y = 30$$

$$y = 150$$

لکه څنګه چې یې د 5 – 12 الف شکل ښکاره کوي، که چېرته $y = 12$ وي، $C = 110$ نو $I = 40$ به وي. د عاید په دغه سطحه کې به مجموعي عرضه له مجموعي تقاضا سره مساوي شي.

**د یو بل زیاتوونکي او یا د زیاتوالي ضریب- د تعادل د مقدارونو تغییرات:**

په دې ماډل کې مجموعي تقاضا د مصرفي کالیو د تقاضا له مجموعې $C = a + by$ او د پانګونې له تقاضا $I = Ia + ey$ سره مساوي ده. که د مصرف نهایي میلان (MEC) یعنې b باثباته وي، نو د مجموعي تقاضا تغییر نه شي کولای چې له مصرف څخه وي، مګر دا چې a تغییر وکړي، چې دا د مصرف د تابع د ځای د تغییر په معنا دی. که e د پانګونې نهایي میلان باثباته وي، نو د مجموعي تقاضا تغییر له پانګونې څخه نه شي رامنځته کېدای، خو دا چې مستقله پانګونه تغییر وکړي، چې دا هم د پانګونې د تابع د ځای د بدلېدو په معنا ده.

**د پانګونې د تابع د ځای تغییر:**

له هغه ځایه چې د تعادل په حالت کې د مجموعي تقاضا تابع په دې ډول وه:

$$y = a + by + Ia + ey$$

د عاید د تعادل په سطحه کې هر تغییر یعنې $\Delta y$ باید د مجموعي تقاضا د تابع د اجزاوو د تغییراتو له مجموعې سره مساوي وي، یعنې:

$$\Delta y = \Delta a + b\Delta y + \Delta Ia + e\Delta$$

کولای شو چې دغه معادله په لاندې شکل ولیکو:

$$\Delta y = b\Delta y - e\Delta y = \Delta a + \Delta Ia$$

$$\Delta y(1 - b - e) = \Delta a + \Delta Ia$$

$$\Delta y = \frac{1}{1 - b - e}(\Delta a + Ia)$$

داسې فرض کړئ چې مستقله پانګونه (Ia) له 10 واحدو نه 20 واحدو ته زیاتوالی مومي، یعنې $\Delta Ia=10$، نو په دې صورت کې به د عاید تغییرات په لاندې ډول شي:

$$\Delta y = \frac{1}{1 - \frac{3}{5} - \frac{1}{5}}(0 + 10)$$

$$\Delta y = 50$$

نو د تعادلي عاید سطحه د مستقلې پانګونې له تغییراتو وړاندې $Y = 150$ وه. د $\Delta Y = 50$ په اندازه د عاید په زیاتېدو سره اوس به د تعادل په حالت کې د عاید سطحه 200 واحده وي. دغه نتایج په 6 – 12 شکل کې ښودل شوي دي.


C +I
240
220
200
180
160
140
120
100
80
60
40
20
0
20
40
60
80
100
120
140
160
180
200
220
240
Y
S = 60 =I
S = C =40 = I
C + Ia + ΔIa + eY
C + Ia + eY
C
C =110
C =140
45°
A
S.I
80
60
40
20
ΔIa
Ia
0
20
40
60
80
120
140
160
180
200
220
240
Y
Ia + ΔIa +eY
Ia + eY
S
S = 40 = I
S = 60 = I
B

«6 – 12 شکل»

په یو بل زیاتوونکي ماډل باندې د ey د غیر مستقلې پانګونې اضافه کول له $\frac{1}{1-b}$ نه $\frac{1}{1-b-e}$ ته په یو بل زیاتوونکي ماډل باندې یې تبدیل کړی دی. له هغه ځایه چې د پانګونې نهایي میلان مثبت دی (MPI =e >0) نو د یو بل زیاتوونکي مقدار د مستقلې پانګونې له اضافه کېدو وروسته ماډل ته زیاتوالی ومومي. په لومړني حالت کې یو بل زیاتوونکی $\frac{1}{1-\frac{3}{5}}$ =2,5 و. په داسې حال کې چې په دوهم حالت کې یو بل زیاتوونکی5= $\frac{1}{1-\ \frac{3}{5}-\ \frac{1}{5}}$ و. په لومړني حالت کې د 10 واحدو په اندازه د مستقلې پانګونې زیاتوالي عاید د 2,5 واحدو په اندازه زیاتوه، په داسې حال کې چې په دوهم حالت کې د عاید زیاتوالی د مستقلې پانګونې په ترخ کې د 10 واحدو په اندازه له 50 واحدو سره مساوي دی.

## د مصرف د تابع د ځای تغییر:

که د مصرف تابع د وخوره او مه مره مصرف د زیاتوالي او یا د $\Delta a = 10$ په اندازه مستقل مصرف د زیاتوالي لپاره پورته خوا ته تغییر وکړي، نو کومه نتیجه چې د مستقلې پانګونې زیاتوالي لاسته راوړه، ترې لاسته راځي. د 10 واحدو په اندازه وخوره او مه مره مصرف او یا مستقلې پانګونې کموالی به د پورتنۍ اغېزې برعکس اغېزه ولري، یعنې تعادلي عاید ته به د 50 واحدو په اندازه کموالی ورکړي. دغه مسئله د کېنز د عمومي نظریې په کتاب کې د خست[32]د تناقص د معما په نوم یاده شوې ده.

کېنز باور لري که چېرته مصرف کوونکي د خپل عاید زیاته برخه سپما کړي، د زیاتې سپما لپاره دغه هڅه ممکن د سپما د کموالي باعث وګرځي. ځکه ډېرې سپما ته د مصرف کوونکي میلان د لږ مصرف په معنا ده. دا د مصرف د تابع د نزولي ځای تغییرېدو او د سپما د تابع صعودي ځای تغییرېدو په معنا ده. که په 7- 12 شکل کې $S = 20 + \frac{2}{5}Y$ د لومړنۍ سپما تابع او $I = 10 + \frac{1}{5}Y$ د پانګونې د تابع په توګه فرض شي (په شکل کې د I او Y منحني ګانې) د عاید د تعادل سطح به Y = 150 وي.

---

[32] - The paradox of Thrift.




«7 – 12شکل»

اوس داسې فرض کړئ چې مصرف کوونکي له پخوا نه 10 واحده زياته سپما کوي، يعنې $\Delta Sa = 10$ په دې صورت کې، د مصرف منحني د 10 واحدو په اندازه پورته خوا حرکت کوي او په $S = -10 + \frac{2}{5}Y$ تبدیلیږي، په شکل کې د دغه نوي منحني تابع $S + \Delta Sa$ ده.

د سپما د تابع د دغه تغییر په نتیجه کې او د سپما د تابع د عدم تغییر په پام کې نیولو سره د عاید سطحه د تعادل په حال کې 100 واحده راټيټيږي. ځکه چې يوازې د عايد په دغه سطحه کې ده چې $S = -10 + \frac{2}{5}(100) = 30$ سپما له $I = 10 + \frac{1}{5}(100) = 30$ پانګونې سره مساوي کېږي. پردې اساس د سپما د زياتوالي لپاره د مصرف کوونکو هڅه عملاً د سپما د کموالي باعث ګرځي.

دغه نتیجه، حیرانوونکې نه ده. ځکه چې د سپما د تابع صعودي ځای بدلېدل د مصرف د تابع د نزولي ځای بدلېدو په معنا ده، چې د مجموعي تقاضا او په نتیجه کې د عاید د کموالي باعث ګرځي. د عاید کموالی نه یوازې غیر مستقل مصرف بلکې غیر مستقله پانګه هم راکموي.

## د تولید او عاید د سطحې تغییر:

د MEC منحني د عاید او تولید د سطحې په ترڅ کې چې د پانګه ییزو مصارفو له وجې رامنځته شوی، ممکن خپل ځای تغییر کړي. امکان لري چې پانګه ییز مصارف د کارفرمایانو د

توقعاتو او د ټکنالوژي او اختراعاتو د بدلون له وجې تغییر وومي. یا په بله وینا که چېرته د تعادل په حالت کې چې په هغه کې د عاید او تولید او د پانګونې سطحه باثباته وي، که چېرته مستقله سپما زیاتوالی وومي، نو د MEC منحني به پورته خوا حرکت وکړي. په دې برخه کې د عاید د سطحې او د پانګونې د سطحې د تغییر رابطه ده چې مونږ ورته پام کړی.

## د پانګې پر محصول نسبت:

په مخکني بحث کې مو د ټکنالوژۍ تغییراتو ته اشاره وکړه چې د پانګې پر محصول نسبت د وخت په اوږدو کې ثابت پاتې کېږي. دغه بېلګه مونږ ته د دې وس راکوي ترڅو د کالیو د هرې خاصې سطحې د تولید لپاره د اړتیا وړ پانګه وټاکو. فرض کړئ چې K د پانګې موجودي Y د تولید سطحه او W د پانګې پر محصول نسبت او یا د یو کالي د تولید لپاره د اړتیا وړ پانګې ډالري پولي ارزښت دی. په دې صورت کې لرو چې؛ که$W=3$ وي، د 100 ډالرو د کالیو د تولید لپاره مونږ د 300 افغانیو په اندازه پانګې ته اړتیا لرو. که W ثابت په پام کې ونیول شي، نو د اړتیا وړ پانګې موجودي به د تولید د مقدار په بدلېدو سره تغییر شي. فرض کړئ چې په $t-1$ وخت کې د پانګې د موجودي مقدار په دغه وخت کې د اړتیا وړ کالیو د تولید لپاره لازمه پانګه ده، یعنې که تولید له $Y_{t-1}$ نه $Y_t$ ته زیات شي، نو د اړتیا $K_{t-1}=Wy_{t-1}$ وړ پانګې موجودي به هم له $K_{t-1}$ نه $K_t$ ته زیاتوالی وومي.

د اړتیا وړ پانګه ییزو کالیو زیاتېدل $K_t - K_{t-1}$ همدې اندازې خالصې $K_t = wy$ پانګونې ته اړتیا لري. کولای شو چې د پانګونې پورتنۍ معادله په لاندې ډول وښیو:

$$I_t = wy_t - wy_{t-1} = w(Y_t - Y_{t-1})$$

دغه معادله د دې څرګندونه کوي چې په t وخت کې خالصه پانګونه په $t-1$ او t فاصله کې د تولید په تغییر چې د پانګې پر محصول w په ضربولو پورې تړاو لري. که چېرته $y_t > y_{t-1}$ وي، I مثبت او که چېرته $Y_t < Y_{t-1}$ وي، I به منفي وي.

## د شتاب (تعجیل) اصل:

د تولید د سطحې تغییر او د پانګونې د مقدار ترمنځ رابطه «د شتاب اصل» او د پانګې پر محصول نسبت w «د شتاب ورکوونکي» په نامه یادېږي. که $w>1$ وي، نو د تولید زیاتېدل په خالصه پانګونه کې د زیاتې اندازې د زیاتېدو باعث ګرځي. د شتاب د اصل د څرګوالي د ښودلو لپاره د

تولید تغییرات او مجموعي پانگونه په څو دورو کې په پام کې نیسو. په 2- 12 جدول کې، لومړی کالم، وخت، دوهم کالم د عاید سطحه او د هرې دورې تولید ښکاره کوي. که فرض کړو چې «شتاب ورکوونکی» یا د پانګې پر محصول نسبت ثابت او له درېیو سره مساوي دی، په درېیم کالم کې د اړتیا وړ پانګې موجودي، په هره دوره کې د تولید درې برابره چې په دوهم کالم کې ښودل شوی دی، دومره به وي. داسې په پام کې ده چې د پانګه ییزو کالیو د دوام وخت 10 زماني دورې دی او په هره دوره کې تعویضي پانګونه په t وخت کې د پانګې د موجودي $\frac{1}{10}$ برخې سره مساوي ده. تعویضي پانګونه په څلورم کالم کې ښودل شوې ده. په هره دوره کې خالصه پانګونه په پنځم کالم کې په هره دوره کې د تولید له تغییر سره مساوي ده او مجموعي پانګونه په شپږم کالم کې د څلورم او پنځم کالم مجموعه ده.

په مطلب باندې د ښه پوهېدو لپاره په t + 4 او t + 6 پورې اړوند محاسبات ترسره کوو. په t + 4 وخت کې کالیو ته د تقاضا له شتون سره سره عملاً د پانګه ییزو کالیو تقاضا کمېږي. علت په دې کې دD چې په t + 4 وخت کې د تقاضا اندازه یوازې 10 واحده زیاته شوې ده. په داسې حال کې چې د t + 3 پر مهال د تقاضا زیاتوالی 15 واحده دی.

د t +6 پر مهال د کالیو تقاضا د 5 واحدو په اندازه کمېږي. چې دا د 15 واحده پانګه ییزو کالیو د وزګارېدو باعث ګرځي. د دې کار نتیجه د 15 واحدو په اندازه د پانګه ییزو کالیو د تقاضا کموالی دی.

| (1)<br>وخت | (2)<br>تولید | (3)<br>د اړتیا وړ پانګه | (4)<br>تعویضي پانګونه | (5)<br>خالصه پانګونه | (6)<br>مجموعي پانګونه |
|---|---|---|---|---|---|
| | 100 | 300 | 30 | 0 | 30 |
| +1 | 100 | 300 | 30 | 0 | 30 |
| +2 | 110 | 330 | 30 | 30 | 60 |
| +3 | 125 | 375 | 30 | 45 | 75 |
| +4 | 135 | 405 | 30 | 30 | 60 |
| +5 | 140 | 420 | 30 | 15 | 45 |
| +6 | 135 | 405 | 30 | -15 | 15 |
| +7 | 125 | 375 | 30 | -30 | 0 |
| +8 | 120 | 360 | 30 | -15 | 15 |

«2 – 12 جدول د شتاب د اصل عمل»

12 -2 جدول په ساده توگه د شتاب د اصل میکانیزم ښکاره کوي. خو جدول د یو لړ فرضیاتو پر اساس جوړ شوی دی چې په لاندې توگه به ورته اشاره وکړو.

**د شتاب د اصل فرضیات:**

د شتاب د اصل یو فرضیه دا ده، چې د جاري پانگې له موجودي نه په پوره توگه گټه اخیستل کېږي. که اقتصادي موسسې وزگار ظرفیتونه ولري، کولای شي چې د کالیو د تقاضا زیاتوالي ته د پانگې د موجودي له زیاتوالي پرته ځواب ووایي. په دغه ترلي حالت کې د اضافي ظرفیت په اندازه کالیو ته د اضافي تقاضا له موجودیت سره سره امکان لري چې خالصه پانگونه له صفر سره مساوي وي. بله فرضیه دا ده چې کارفرمایان د تقاضا له زیاتېدو سره سم خالصه پانگونه زیاتوي. دغه مسئله په قاطع توگه صدق نه کوي، پانگونه یوازې هغه وخت زیاتوالی مومي چې کارفرمایان داسې و انگېري چې د تقاضا زیاتېدل دایمي دي، او که داسې وانگېري چې د تقاضا دغه زیاتېدل مؤقتي دي، نو کارفرمایان بیا د اضافي پانگه ییزو توکو په پېرودلو لاس پورې کوي.

بله فرضیه د پانگې پر محصول «شتاب ورکوونکي» w ثابت پاتې کېدل دي. دغه فرضیه هم تر یوه حده پورې غیر واقعي ده. بله فرضیه چې د شتاب په اصل کې ورته پام نه دی شوی، د مزد د کموالي اغېزه ده. که په اقتصاد کې مزدونه کم شي، امکان لري چې کارفرمایان اضافي تقاضا ته د زیاتو کارگرانو په گومارلو سره ځواب ووایي. په دې صورت کې هم د تقاضا په زیاتوالي سره سره، خالصه پانگونه زیاتوالي نه مومي.[33]

---

[33] - E. Shapiro, Macro economic Analysis, pp 237 – 290

G. Ackley, Macro economic Theory, pp 461 – 500.

## دیارلسم څپرکی

## پیسې

### د پیسو ماهیت:

پیسې د بشر تر ټولو مهمه اختراع ده، له یوې خوا نه دغې پدیدې هغه ستونزې له منځه یووړلې چې د کالیو یا اجناسو د تبادلې او یا هغه د Commodity exchange له امله رامنځته شوې وې او د پیسو اختراع د اقتصادي فعالیتونو د چټکتیا لامل شي. د پیسو استعمال د دې باعث شو چې د تولید عوامل په لا ډېرې آسانۍ سره راټول او په بازارونو کې تولید شوي اجناس د مصرف کوونکو ترمنځ په لږ وخت کې وویشل شي.

### پیسې څه شی دي؟

که څه هم پیسې تل زمونږ په فکر کې دي او زمونږ ډېری چارې تر اغېزې لاندې راولي، خو له دې سره سره مونږ د تل لپاره د دغې پدیدې په تعریف کې له ستونزو سره مخ کېږو. یوه ډله اقتصادپوهان په دې باور دي، چې پیسې باید یوازې د هغې پدیدې په توګه وپېژندل شي چې اقتصادي ارزښتونه پرې اندازه کېږي. ځینې نور بیا په دې باور دي چې پیسې د اقتصادي ارزښتونو د سنجش پر وسیلې سربېره د تبادلې وسیله هم ده. په دې کې مونږ هره پدیده چې عموماً خلکو ته د تبادلې د وسیلې په توګه د منلو وړ او کار ترې واخیستل شي او په ضمن کې د ارزښت د سنجش معیار وي، تعریفوو.

د پیسو د دا ډول تعریف په وړاندې کولو سره، هغه ټولې کاغذي پیسې چې د تبادلې د وسیلې په توګه په کار وړل کېږي او له هغو نه د اقتصادي ارزښتونو د سنجش لپاره کار اخیستل کېږي، هم د پیسو په توګه پېژندل کېږي. د بانکونو جاري حسابونه هم باید په پیسو کې وشمېرل شي، که څه هم جاري حساب او کاغذي پیسې خپله سکه یا پیسې نه دي، خو د بانک د سکو او کاغذي پیسو د ورکړې تعهد دی. کېدای شي چې دغه تعهد د افرادو ترمنځ د چک په توګه رد و بدل شي او د هغه په مرسته ډېر کالي او خدمات تبادله شي.

## د پیسو دندې:

د پیسو له دندو څخه زمونږ موخه په اقتصاد کې د پیسو استعمال دی. په پورتني وړاندې شوي تعریف کې د پیسو اصلي او عمده دندو ته اشاره وشوه. دغه دندې په لاندې ډول دي:

1- د تبادلې د وسیلې په توګه.
2- د ارزښت د سنجش د معیار په توګه.
3- پیسې د وروسته کړې شویو ورکړو د معیار په توګه.
4- پیسې د خرید د قدرت د ساتل کېدو وسیله.

د پیسو نورې دندې، دوهمه درجه دندې دي، چې د پیسو دغه دندې «د راتلونکو تادیاتو د ورکړې او د ارزښت د قدرت د ذخیرې» دندو ته شاملېږي.

## 1ـ پیسې د تبادلې د وسیلې په توګه:

د پیسو د دغې دندې اهمیت د کالیو او خدماتو د بارتري تبادلې ستونزو ته په کتو روښانه کېږي. بارتر او یا بارتري تبادله، د کالیو هغه مستقیمه تبادله ده چې پیسې پکې ونه کارول شي. خپله بارتر په څو ډوله دی:

مستقیمه بارتري تبادله، په دې تبادله کې اجناس له اجناسو سره تبادله کېږي خو د کالیو ارزښت په پیسو باندې سنجش ټاکل کېږي. په خالص بارتر کې، پیسې نه د ارزښت د معیار توګه او نه د تبادلې د وسیلې په توګه عمل کوي. په خالص بارتري تبادله کې چې کومه ستونزه منځته راځي هغه دا ده چې د تبادلې لپاره یو ځانګړی نسبت وټاکو. که په یوه بازار کې 10 ډوله کالي د تبادلې لپاره راړل شوي وي، نو اړینه ده چې ده چې الف کالیو ارزښت د ب کالیو له مخې د ب کالیو ارزښت د ج کالیو په پرتله د ج او نورو کالیو ارزښت د کالیو په پرتله د الف کالیو ارزښت په نسبت مشخص شي.

په کلي توګه د تبادلې د عمل د ترسره کولو لپاره باید د ارزښت 45 نسبتونه و ټاکل شي. په پولي اقتصاد کې ارزښت په پیسو سنجش کېږي. **د هر کالي پولي ارزښت ته قېمت ویل کېږي.** په دې حالت کې د دې لپاره چې تبادله ترسره شي، یوازې د 10 ډوله کالیو د ارزښت ټاکلو ته اړتیا ده او د نورو کالیو قېمت د کالیو د ارزښت پرتله ممکن ګرځوي.

په اوس وخت کې د نړۍ په اقتصادونو کې خالص بارتر ډېر لږ ترسره کېږي، خو مستقیم بارتر لا اوس هم دود دی. په دې چې په غیر مستقیم بارتر کې د کالیو ارزښت په پیسو ټاکل کېږي، دغه موجودې ستونزې په خالص بارتر کې وجود نه لري. هرکله چې پیسې د کالیو د تبادلې لپاره استعمالېږي. تبادله کېږي، تبادله په دوه برخو وېشل کېږي؛ په لومړي سر کې کالي په پیسو تبادله کېږي او بیا پیسې له نورو کالیو سره تبادله کېږي. د کالیو د پېر او پلور په بارتري اقتصادونو کې د مستقیم بارتر ځای نیسي. هغه کس چې د کالیو مازاد لري په دې معنا چې کالي یې له اړتیا نه ډېر وي او نورو کالیو ته اړتیا ولري، کولای شي چې خپل مازاد کالي له پیسو سره تبادله او بیا پیسې د خپل اړتیا وړ کالیو باندې بدلوي. په داسې حال کې چې هغه کالي له پیسو سره تبادله کوي په اصل کې خپل کالي د پېرودلو له قدرت سره تبادله کوي او د پېرودلو له دغه قدرت نه د خپل اړتیا وړ کالیو په لاسته راوړلو کې کار اخلي.

له پیسو نه د کالیو او خدماتو د تبادلې د وسیلې په توګه د یوې اقتصادي ټولنې ته د کالیو او خدماتو په تولید او توزیع کې ډېرې ګټې حاصلېږي. پیسې په خپل دغه رول کې د کالیو او خدماتو د تولید د عواملو تحرک زیات او اقتصادي ودې ته سرعت ورکوي.

### 2ـ پیسې د ارزښت د معیار په توګه:

د ارزښت د یو معیار په توګه کولای شو چې پیسې د اندازه کولو له نورو معیارونو سره پرتله کړو، پیسې د اقتصادي ارزښتونو د پرتلې او اندازه کولو لپاره استعمالېږي. په هماغه ډول چې له متر نه د اوږدوالي او له کیلو ګرام څخه د وزن د اندازه کولو لپاره کار اخیستل کېږي. اقتصادي ارزښت د نورو کالیو د تبادلې لپاره د یو کالي معرف دی، چې دغه ارزښتونه په اقتصاد کې د قیمتونو په مرسته په ډاګه کېږي. له پیسو نه په استفادې چې د ارزښت د معیار په توګه استعمالېږي، د مختلفو کالیو ترمنځ یوه رابطه مشخص کېږي.

د اندازه کولو د ګڼو معیارونو پر خلاف د اقتصادي ارزښتونو د اندازه کولو دغه معیار، یعنې پیسې کمی لري او پوره نه دی. د مثال په توګه، که د اوږدوالي د اندازه کولو معیار په پام کې ونیسو، د یوه متر اندازه به هر ځای او هر وخت ثابته وي. خو له هغه ځایه چې پیسې د قیمتونو له عمومي سطحې سره تړاو لري او قیمتونه هم د تل لپاره په نوسان کې وي، نو د اندازه کولو دغه معیار ثابت نه شي پاته کېدلی. د معیار په مقدار کې دغه عدم ثبات د دې لامل ګرځي چې پیسې ونه شي کولای چې خپل رول د اقتصادي ارزښتونو د معیار په توګه اداء کړي.

**پیسې د وروسته کړی شویو ورکړو د معیار په توګه:**

د پیسو اقتصادي رول د راتلونکو ورکړو د معیار په توګه به ډېر مشابه شکل چې پیسې د کالیو او خدماتو د تبادلې لپاره کوم رول اداء کوي ارتباط پیدا کوي. نه یوازې کالي او خدمات د پیسو د ترلاسه کولو په مقابل کې تبادله کیږي، بلکې په راتلونکي کې د پیسو د ورکړې د تعهد پر اساس هم بدلېدلی رابدلېدلی شي. لکه چې یو څوک کالي او یا خدمات په تأخیر او څنډ سره پېري، د دې تعهد کوي چې په راتلونکي کې کالي او خدمات نه بلکې د دغو کالیو او خدماتو پولي ارزښت به پلورونکي ته ورګرځوي. د نویو اقتصادي ټولنو یوه بارزه ځانګړنه د افرادو معتنابه پوروونه دي، چې یو بل ته یې ورکوي. بانکي حسابونه، د شرکتونو د پوروونو حساب، د دولتي او خصوصي برخې د قرضې پاڼې ټولې د ورکړې تعهدات او یا پوروونه دي. پرته له دې چې دې ته پام وشي چې کوم کالی پېرودل شوي او یا کوم شی په پور ورکړل شوی. دغه ټول تعهدات او پوروونه په پیسو بیان او ژباړل کیږي.

پیسې نه یوازې په خپل ظرفیت کې د ارزښت د معیار په سنجش کې کمبود لري، بلکې د راتلونکو ورکړو د معیار په توګه هم کاملې نه دي. دغه نیمګړتیا د دې لامل ګرځي، چې پور ورکوونکو او پور اخیستونکو ته ګڼ شمېر ستونزې پیدا شي. د مثال په توګه، که چېرته یو چا 500000 پولي واحده په پور ورکړې وي او د دې تعهد کوي چې پنځه کاله وروسته به د دغه پور په ارزښت کې د وخت له مخې کموالی راولي استهلاکوي، د هغه تعهد د پیسو د ورکړې لپاره ثابته پاته کیږي، که څه هم د پیسو د خرید قدرت تغییر کوي. که د پیسو د خرید قدرت زیاتوالی ومومي نو پور اخیستونکی به په غیر عادلانه ډول د اخیستونکي په پرتله د خرید زیات قدرت پور ورکوونکي ته انتقال کړي. که چېرته د پیسو د خرید قدرت راکم شي نو دائن به د پور د ورکولو نه بېرته د خرید لږ قدرت ترلاسه کړي. ځینو اقتصادپوهانو داسې وړاندیز کړی، چې پیسې باید د راتلونکو ورکړو د معیار په توګه انعطاف ولري. که دغه وړاندیز ومنل شي، پوروړي به دې ته اړ کړي چې د پور د بېرته اداء کولو پر وخت پور ورکوونکي بېرته هماغه اندازه د خرید قدرت انتقال کړي، که څه هم د دې اټکل شته چې د پیسو تبادله کېدونکی فزیکي مقدار به توپیر ولري.

**پیسې د خرید د قدرت د ساتل کېدو وسیله:**

کله چې له پیسو نه د تبادلې د معاملاتو د ترسره کولو د وسیلې په توګه کار اخیستل کیږي، کوم عمل چې پیسې ترسره کوي په دوه برخو باندې وېشل کیږي. لومړی کالي په پیسو پېرودل

کېږي، بیا ترلاسه شوې پیسې په نورو کالیو او خدماتو بدلېږي. نو تبادله په کلي توګه «بدلېدل» کالي له کالیو سره دي او ډېر لږ پیسې د خپل ځان لپاره یې غوښتل کېږي. له هغه ځایه چې امکان لري چې د تبادلې دوهمه برخه وروسته کولای شو، نو کولای شو د کالیو د پلورلو په مقابل کې ترلاسه شوې پیسې د یو څه وخت لپاره وساتو. په داسې حال کې پیسې په حقیقت کې د خرید د قدرت د ذخیره کېدو رول لوبوي.

## د پیسو د تحول بهیر

### پیسې- غیر فلزي کالي:

ښایي تر ټولو حیرانوونکی حقیقت چې یو کس یې د پیسو د اوږد تاریخ له لوستلو څخه ترلاسه کوي، هغه دا ده چې بشر له ډېرو کالیو نه د تبادلې د وسیلې او د اقتصادي ارزښت د سنجش د معیار په توګه کار اخیستی دی.

په یو شمېر تودو سیمو کې هغه وسایل استعمالېدل چې د کب نیونې، ښکار او یا تزئین لپاره ترې کار اخیستل کېده. دغه وسایل لکه د کب نیونې جال، غشی او لیندۍ، فیروزه، د کوسه[34]غاښ او د فیل عاج هم پکې راتلل. په سړو سیمو کې بیا پوښاک او د حیواناتو پوستکي استعمالېدل او له هغو څخه د پیسو په توګه کار اخیستل کېده.

د دامدارۍ[35]د پراختیا او د بشر له خوا د حیواناتو د ساتنې په پراختیا سره، غویان او پسونه د ارزښت د سنجش د معیار په توګه وټاکل شول. حتی له فلزي پیسو نه وروسته هم د یو څه وخت لپاره غویان د اقتصادي ارزښت د سنجش معیار ګڼل کېدل. د کرنې پرمختګ د دې لامل شو چې کرنیز محصولات لکه بوره، تنباکو، چای او کوپره هم د ارزښت د معیار او د تبادلې د وسیلې په توګه استعمال شي.

### فلزي پیسې:

د فلزاتو په کشفېدو او د هغه د ځانګړنو په پوهېدو سره نه یوازې بشر په ټکنالوژیکي پرمختګ لاسبری شو، بلکې د تبادلې له یوې نوې وسیلې نه هم برخمن شو. فلزات، روی[36]، مس،

34- قهوه یي کب چې څېرونکی دی.

35- د څارویو روزنه او فارمونه.

*36*- روي roy سپین رنګه، تور ته نږدې فلز دی چې د لوښو او ځینو نورو توکو د جوړولو لپاره ترې کار اخیستل کېږي د حرارت په 440 درجو کې ویلې کېږي، که له مس سره ترکیب شي برونز ترې لاسته راځي، کانونه یې په انګلستان او بلژیک کې ډېر دي (د حسن عمید فرهنګ).

سره زر او سپین زر په لومړیو کې په اکثرو ځایونو کې استعمالېدل، تر هغو پورې چې ددغو دواړو فلزاتو د پام وړ اندازه لاسته راشي، باید تر هغه وخته انتظار وباسي. د پخواني تمدن ډېری وسپنیزې پیسې د داسې وسایلو په توګه چې کار ترې اخیستل کېدای شوی لکه چاړه، تبر، غوري، ګلدانۍ، سیم او د کب نیونې جال. دغه ټول وسایل له وسپنې، مس او برونزو څخه جوړ شوي وو. کله چې دغه فلزي موارد او وسایل په خپل اصلي شکل استعمال شول، خپل پولي ارزښت یې له لاسه ورکړ. پیسې په اوس وخت کې یوازې د داسې شي په توګه چې پخوا ترې کار اخیستل کېده، پېژندل کېږي.

ویل کېږي چې سره زر (طلا) لومړنی فلز دی چې د بشر له خوا کشف شوی دی. په یوه قول له دغه فلز څخه په زیوراتو کې کار اخیستل 5000 کاله له میلاده مخکې په مصر کې دود و، له سپینو زرو نه هم د سرو زرو په څېر په ډېر پخوا زمانو کې کار اخیستل کېده. په پخواني مصر کې، د یو اوږد وخت لپاره د فلزي سپینو زرو ارزښت له سرو زرو څخه زیات و، خو له میلاد نه 1000 مخکې سپینو زرو د مصر په بازارونو کې د زیاتې عرضې پر بناء خپل ارزښت له لاسه ورکړ. د سپینو زرو د ډېرې عرضې دلیل د فنیقیانو له خوا د سپینو زرو استخراج او له هسپانیې څخه مصر ته د سپینو زرو راتګ و. کېدای شي چې لومړنۍ فلزي سکه 700 کاله مخکې له میلاده وهل شوې وي. په دغو سکو کې له سرو او سپینو زرو نه په ګډ شکل کار اخیستل کېده. د عمده پېر او پلور لپاره به یونانیانو له سپینو زرو نه کار اخیسته. د دې علت دا و چې د لاریوم له کانونو څخه سپین زر په کافي مقدار سره استخراج شوي وو او د لږو تبادلو لپاره په دغه هېواد کې له مسو نه کار اخیستل کېده، په رسمي توګه د مسو لومړۍ سکه 268 کاله له میلاده مخکې ووهل شوه. خو د دغې پېړۍ په ورستیو کې روم د پیسو په عرضه کې د کمښت له ستونزو سره مخ شو. د پېړۍ په ورستیو کې پر دې علت چې روم په کارتاژ لاسبرى شو او د هسپانیې د سپینو زرو کانونه هم لاسته ورغلي وو، نو دغه ستونزه یې له منځه ولاړه. په دغه وخت کې سره زر په روم کې ډېر لږ پیدا کېدل. د پېړۍ په وروستیو کې په روم کې په 206 کاله له میلاده مخکې کې ووهل شوه.

د روم د امپراطورۍ په راپرځېدو سره په غربي اروپا کې سرو زرو د پیسو په توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړ، که څه هم په همدې وخت کې د سرو زرو د استعمال دود په شرق او په ځانګړې توګه په غربي هېوادونو کې په خپل حال پاته شو، په غرب کې هغه دوره چې د «تورې دورې» په نامه وپېژندل شوه، سوداګري او پېر او پلور تقریباً ودرېده او له پیسو څخه د تبادلې د وسیلې په توګه کار اخیستل راکم شول. په دغه وخت کې سپینو زرو د پیسو دنده ترسره کوله. په دولسمه او دیارلسمه میلادي پېړۍ کې د وینز، جنوا، فلورانس او پیزا په څېر ښارونو په پراختیا سره

سوداګرۍ او پېر و پلور ددغو ښارونو ترمنځ پراختیا او چټکتیا ومونده. دغه پرمختګ پیسو ته د تبادلې د وسیلې په توګه ډېر ارزښت ور وباښه. دغو سوداګریزو مرکزونو د دې لپاره د پیسو په عرضه کولو او برابرولو لاس پورې کړی دی او په نوي شکل او طریقې سره د سرو زرو د سکو وهل په 1252 ز کال کې د فلورانس په وسیله پیل شول.

د امریکا د متحدو ایالاتو کشفېدل چې له دې سره هسپانیه پر مکزیک او پیرو باندې برلاسې شوه، د سپینو زور د غني کانونو د لاس ته ورتګ لامل شوه. تر هغه چې له امریکا نه اروپا ته د سپینو زرو کافي مقدار جریان ومومي. د درې پېړیو لپاره د امریکا کانونو د پام وړ مقدار سره د اروپایي پرمختیایي ملتونونو لپاره په سوداګرۍ کې د تبادلې د وسیلې په توګه رامنځته شوه. پر دې دلیل په دغې دوره کې، سپین زر د سرو زرو په نسبت زیات کشف شول او سپینو زرو خپل سلطنت د کالیو د تبادلې د وسیلې په توګه له لاسه ورکړ. په کلفورنیا کې د 1848 ز په لسیزه د سرو زرو د کانونو کشف، په 1851 ز کال کې په استرالیا او د 1848 ز په لسیزه کې په نیوزلنډ او د برېتانیا په کلمبیا کې په نړۍ کې د سرو زرو د عرضې د زیاتوالي لامل شو. په 1884 ز کال کې په جنوبي افریقا کې د سرو زرو د بډایه کانونو په کشفېدو سره د سرو زرو عرضه په هغه مقدار چې د پولي سیستم اړتیا یې پوره کوله، زیاته شوه.

**کاغذي پیسې:**

د تاریخ له مخې، کاغذ د لومړي ځل لپاره له میلاد مخکې دوهمه پېړۍ کې اختراع شو. خو په اروپا کې له څو پېړیو وروسته د کاغذ استعمال پیل شوی دی. خو د کاغذي پیسو په څېر پدیدې د کاغذ له اختراع کېدو نه دمخه دود و. په ځینو حالاتو کې به په سیمه ییزو ټولنو کې حتی د حیواناتو پوستکي د پیسو په توګه استعمالېدل لکه د افغانستان په نورستان ولایت کې چې د اوزې له پوستکي څخه د پیسو په توګه کار اخیستل کېده. یوه ټوټه د ټول پوستکي په استازیتوب په جریان کې لوېدله. کاغذي پیسو ته ورته پدیدې له میلاده مخکې د یونانیانو او رومیانو له خوا دود وې. په آتن کې مسي سکې دود شوې چې پولي ارزښت یې د سکې له فلزي ارزښت نه زیات و. چین د کاغذ د مخترع هېواد په توګه، د لومړي ځل لپاره له دغې پدیدې نه په پیسو کې کار واخیست. د پیسو تاریخ لیکوونکي په دې باور دي، چې کاغذي پیسې د لومړي ځل لپاره په اتمه میلادي پېړۍ کې د فلزي پیسو د انتقال د ستونزې په خاطر دود شوه. له اتمې پېړۍ نه د اووه لسمې پېړۍ تر نیمایي پورې پرته له ځینو لنډو زماني فاصلو څخه کاغذي پیسې د چین د امپراطوریو او بیا د مغولو د چنګیز

خان له حملو وروسته په زیاته اندازه خپرې شوې. د دغې دورې په لومړیو کې په اروپا کې د مصارفو د ورکړې لپاره یو ډول چرمي پیسې د بېلابېلو اروپايي حکامو له خوا هم دود شوي دي.

**بانکي پیسې:**

د کودوړو په شکل مالي وسایل د آشور د حکومت په دوران کې چې 9 پېړۍ له میلاده مخکې و، ترلاسه شوي دي. دغو وسایلو د نني عصر له بانکي پیسو سره ډېر ورته والی درلود. له دغو ختینو ټیکانو[37]نه هم د ارزښت لرونکو فلزاتو د ساتلو پر وخت د رسید په توگه او هم یې د سفارشاتو د انتقال او مالي حوالو د وسیلې په توگه د ننني چکونو په څېر کار اخیستی دی. په یونان کې لږ تر لږه تر میلاده مخکې په 6 مه او 7 پېړۍ کې د سکو د چټک جریان په خاطر د صرافانو له خوا د مختلفو سکو د ارزیابي کولو فوق العاده زیاته اړتیا رامنځته شوه. په همدې وخت کې دغو لومړنیو بانکدارانو د ارزښتناکو فلزاتو د ذخیره کولو موضوع چې د راتلونکو تعهداتو په ورکولو ترسره کېدل، پیل شول. په دغو حالاتو کې به ذخیره کوونکو کولای شول چې خپل تعهدات صرافانو ته په حکم ورکولو سره د دائنینو حساب له ذخیرې څخه یوه اندازه پیسې ورکړي. رومیانو د یونانیانو دغه مالي سیستم په خپله ټولنه کې پلی کړ او د هغه د نیمگړتیاوو په لرې کولو کې یې هڅه وکړه. ورو ورو د سپما حسابونه رویتي امانتونه او میعادي امانتونه، د ورکړې حوالې، د چک د ورکړې حکم او په پورونو پورې اړوند آسانتیاوې هم د رومیانو له خوا اختراع او رامنځته شوې د بانکي پیسو نوې نېټه له دیارلسمې او څوارلسمې میلادي پېړۍ څخه پیلېږي. په دغه وخت کې ځینو کورنیو په وینز، فلورانس او د ایټالیا په ډېرو ښارونو کې بانکداري په داسې شکل خپل مسلک وگرځوله چې د سپما په منلو سره به یې خلکو ته د بېرته ورکړې تعهدات ورکول. په 1587 ز کال کې د بانکودي ریالتو عمومي بانک چې وروسته د وینز بانک په نامه یاد شو، د بانکي خدماتو د ترسره کولو لپاره یې په دغه ښار کې کار پیل کړ او ډېرو سواگریزو مرکزونو له وینز څخه تقلید وکړ. په 1609 ز کال کې د امستردام بانک جوړ شو. په 1619 ز کال کې د هامبورگ بانک، په 1688 ز کال کې د استکهلم بانک، په 1694 ز کال کې د انگلستان بانک او په 1703 ز کال کې د وین بانک جوړ شو. د اووه لسمې پېړۍ له نیمايي څخه په انگلستان کې د زرگرانو د بانکي خدماتو د ترسره کولو دنده په غاړه واخیستله او دوی په نوي شکل سره د بانکي پیسو رامنځته کوونکي گڼل کېږي. دوی د رسیدي قبضونو په خپرولو سره چې د سرو او سپینو زرو د ذخایرو د ترلاسه کولو اعلان یې کاوه او کولای

[37]- گردې دایروي شکل لرونکې پیسې.

يې شول چې د نويو کاغذي پيسو په څېر لاس په لاس شي، له يوه حساب څخه يې بل حساب ته د ذخيرې په انتقالولو پيل وکړ. په حقيقت کې بانکي چک د لومړي ځل لپاره همدوی دود کړ.

## د قانوني ابرا قدرت يا د پيسو قانون دود کېدل:

د هر ډول پيسو قانوني سند چې د دولت له خوا د ورکړې وړ تادياتو لپاره په داخلي پيسو باندې يوه مناسبه وسيله وګڼل شي، د قانوني ابرأ قدرت په نامه يادېږي. معمولاً دولتونه په جريان کې لوېدلو پيسو څخه يو ډول پيسې د قانوني سند يا د ورکړو د قانوني وسيلې په توګه پېژني. دا په دې خاطر ده چې د دائينو او پوروړو ترمنځ د اختلافاتو له راولاړېدو څخه د تعهداتو د ورکړې په څرنګوالي کې مخنيوی وشي. د پيسو د ابرأ اړوند قوانين د پوروړو د ملاتړ لپاره طرحه شوي دي، ځکه چې د دې امکان شته چې ځينې دائنين د يو ډول پيسو له منلو څخه انکار وکړي او ټينګار وکړي چې د هغوی طلب دې په نورو پيسو تسويه[38]شي. په داسې حال کې چې دولت کوم ډول پيسې قانوني کوي نو خپله هم له هماغه اړوند قانون څخه پيروي کوي او د دولت طلبات، ماليات او جريمې هم په دغو پيسو ترلاسه کوي.

کله چې د دوه کسانو ترمنځ يو تړون لاسليک کېږي او په دغه تړون کې د يوه کس له خوا د پيسو ورکړه هم شامله وي، که په تړون کې د پيسو ډول مشخص نه شي، نو دغه ورکړه بايد په قانوني پيسو ترسره شي.

## د پيسو معيارونه او سيستمونه:

د پيسو په څېړلو کې يې مومو چې ډېری هېوادونه بېلابېلې پيسې لري، ځينې يې د پيسو د نشر ځو موسسې لري او عموماً په ډېرو هېوادونو کې د پيسو د نشر او کنترول لپاره پېچلي مقررات موجود دي. په بله وينا، ډېری هېوادونه يو ډول «پولي سيستم» لري. هر پولي سيستم له درې برخو نه جوړېږي: د پيسو ستنډرډ، د پيسو ډولونه او د پيسو ترمنځ اړيکې او د پيسو د کنترول لپاره سازماني مقررات. په دې څپرکي کې د پيسو ستنډرډ تر څېړنې لاندې نيول کېږي.

که داسې فرض شي چې پيسې په يوه اقتصاد کې خپل وظايف په سمه توګه ترسره کړي، نو په جريان کې موجودې پيسې بايد په يو طريقه کنترول شي. ډېری وخت د دقيق کنترول نشتوالی د دې لامل کېږي چې پيسې ونه شي کړی د ارزښت د سنجش معيار، د وروسته شويو ورکړو د معيار

[38]- برابر او يو شی کول.

او د خرید د قدرت د ذخیره کوونکي په توګه خپل رول ولوبوي. په نهایي حد کې دغه نه کنټرولول د پولي سیستم د ماتېدو یا له منځه تلو لامل ګرځي او د دې لامل کېږي چې هرومرو پیسې بیا ونه شي کړی چې د تبادلې د وسیلې په توګه خپله وظیفه ترسره کړي او کار ترې واخیستل شي.

د نن ورځې په اقتصادونو کې په جریان کې د لوېدلو پیسو حجم د کنټرول مسئولیت دولتونو ته ورسپارل شوی دی. د 1920 ز تر لسیزې دولتونو باور درلود چې د په جریان کې د پیسو د حجم کنټرول د نه بدلېدونکو مقرراتو په تثبیت سره د پیسو د منځته راوړلو لپاره په غوره شکل ممکن ګرځي. په دې حالت کې خصوصي برخه د پیسو نشروونکې وي. کله چې خصوصي برخه د پیسو د رامنځته کولو پر مهال، دغه مقررات په پام کې ونیسي، په جریان کې پیسې به تر کنټرول لاندې وي. تر هغه وخته پورې چې خصوصي څانګې نوموړي مقررات په پام کې نیولي وي، دولت به په پولي سیستم کې د مداخلې اړتیا نه لري او سیستم به په خودکاره (اتوماتیک) شکل کار وکړي. د 1920 ز له لسیزې وروسته او د 1929 ز کال د اقتصادي بحران رامنځته کېدو سره دولتونه دې ته اړ شوي چې په خپل دغه باور بیا کتنه وکړي. دغه تجدید نظر د دې لامل شو چې دولتونه په دې پوه شي چې په ډېرو حالاتو کې مقررات باید په جریان کې د لوېدلو پیسو مناسب مقدار په هکله د ورځنیو پرېکړو لپاره له پامه وغورځول شي، په وروستیو لسیزو کې د دولت له خوا د پولي سیستم کنټرول او دوامداره مدیریت د ټولو اقتصادپوهانو د دولتونو له خوا منل شوی دی. سره له دې د پیسو د نشر اړوند مقررات لا تراوسه په خپل قدرت کې پاته دي.

کله چې دولت د رامنځته شویو پیسو او په جریان کې د لوېدلو پیسو لپاره مقررات وضع کوي، که دغه مقررات ګام په ګام ترسره شي او یا د کنټرول له دغو مقرراتو څخه د پولي سیستم د ادارې لپاره د لارښود په توګه کار واخیستل شي، دولت یو پولي سټنډرډ منځته راوړي، چې په دې هکله د دولت لومړنی ګام د پولي واحد ټاکل دي. د پیسو دغه واحد کېدای شي، سره زر، سپین زر او یا له دواړو څخه جوړ شوی وی. په دوه لومړنیو حالاتو کې پولي سیستم یو فلزي او په درېیم حالت کې به دوه فلزي وي. د پولي واحد په ټاکلو سره اقتصادي ارزښتونه باید په دغو پولي واحدونو سنجش شي. په داسې حالت کې به پولي واحد د ارزښت د سنجش معیار وي. کولای شو چې پولي سټنډرډونه په اسانۍ سره په دوه ډلو باندې ووېشو؛ د کالیو سټنډرډ او د اعتبار سټنډرډ.

د کالیو تر ټولو مهم سټنډرډ د تل لپاره د سرو زرو سټنډرډ دی. له دې سره سره ډېرو هېوادونو ډېر نور شیان لکه سپین زر د سټنډرډ په توګه آزمایلي دي. داسې ښکاري چې د کالیو د سټنډرډ دوران نور پای ته رسېدلی دی. په اوس وخت کې هېڅ هېواد د کاملاً جنسي ستنډرډ لرونکی

نه دی. په وروستۍ پېړۍ کې، اعتباري سټنډرډونو په پولي سیستمونو کې د کالیو د سټنډرډونو ځای نیولی دی.

## د کالیو؛ سرو زرو معیارونه:

د دې لپاره چې پولي سیستم په کلي توګه د سرو زرو سټنډرډ ولري، نو دغه شرایط باید د سیستم په هکله صدق وکړي:

1- پولي واحد باید د سرو زرو له ټاکلي مقدار سره تعریف شي.
2- هر ډول نورې پیسې باید په سرو زرو باندې د بدلېدو وړ وي.
3- د سرو زرو داخلي او خارجي بازار باید آزاد وي.

د سرو زرو سټنډرډ چې یو وخت تر ټولو مناسب پولي ستنډرډ و، ولې یې خپل ځای اعتباري سټنډرډ ته پرېښود؟

د سرو زور سټنډرډ د دې لامل ګرځي، چې خلک په خپلو ملي پیسو باندې ډېر زیات باور ولري. له بلې خوا د سرو زرو سیستم په سټنډرډ کې منځته راغلی نظم چې په سرو زرو باندې پیسې بدلېدلې، د دولت له فوق العاده مصارفو او د پیسو د عرضې مخنیوی کاوه. که چېرته د پیسو عرضه پراختیا ومومي، دغه مسئله به د داخلي اقتصاد او د بهرنیو سوداګریزو اړیکو (دواړو) په تاوان وي. ځکه چې لومړی مورد د دې لامل ګرځي چې سره زر په جریان کې د ټولو په نسبت کموالی ومومي. په داسې حالت کې شونې ده، چې د خلکو باور د هېواد په پیسو له منځه ولاړ شي او امکان لري چې خلک په سرو زرو باندې د خپلو پیسو د بدلولو لپاره پولي مراجعو ته ورشي. په دې صورت کې به د دولت د سرو زرو د ذخایرو د ختمېدو احتمال موجود وي، له بلې خوا لکه څرنګه چې پوهېږئ، په جریان کې د پیسو د حجم زیاتوالی په اقتصاد کې د انفلاسیون د رامنځته کېدو لامل ګرځي. پر دې علت ده چې د سرو زرو د سټنډرډ په مرسته منځته راغلی نظم د انفلاسیون د رامنځته کېدو په مخنیوي سره له دغو اقتصادي ستونزو مخنیوی کوي. د سرو زرو د سټنډرډ ځینې نور پلویان داسې فکر کوي چې دغه سټنډرډ تر ټولو ښه او غوره ممکن ستنډرډ دی. په کوم اقتصاد کې چې دغه سټنډرډ نه دی پلی شوی، دولت له سرو زرو سره د پیسو د بدلولو په موضوع کې له یو ډول سر غړونې سره مخ شوی دی. سره له دې، وخت تغییر کړی دی. د 1929 ز کال د شدید بحران ضربې د نظریاتو پرمختګ او اقتصادي پوهې، د دولت فعال رول د اقتصاد په ښه کېدو کې او دوهمه نړیواله جګړه د دې لامل شوه چې د سرو زور د سټنډرډ ښېګڼې د دغه سیستم په معایبو بدلې شي. تجاربو ښودلې ده چې حتی تردې پورې چې د سرو زرو کلنی تولید د نړۍ د سرو زرو موجودۍ ته ډېره لږه

ده (کېدای شي له دوه فیصدو نه لږ). سره له دې هغه کره دلایل چې د هغه له مخې که یو پولي سیستم په سرو زور پورې فوق العاده تړاو پیدا کړي، نو په دغه سیستم کې د اقتصادي ثبات له شتون څخه مطمئن کېدای نه شو، شتون لري. لومړی دا چې تجربوي بېلګو ښودلې ده چې په اوږد مهال کې د سرو زرو په تولید کې فوق العاده نوسانات شتون لري. دوهم دا چې د تولید شویو سرو زرو برخه د پیسو په طلایي ذخایرو کې جذبېږي او لویه برخه یې په صنعت او سفته بازۍ کې لګول کېږي. دریمه خبره دا ده، چې د پیسو د سرو زرو ذخایر په هر اقتصاد کې د سفته بازۍ، شایعاتو او اقتصادي اتفاقاتو تر اغېزې لاندې راځي، چې په ډېرو هېوادونو کې ترسره کېږي.

لکه څنګه چې یې ارقام ښکاره کوي، د امریکا په متحدو ایالتونو کې کله چې پولي سیستم د سرو زور د سیستم پر اساس ترسره شوی وي، د بوختیا، نوساناتو او د قېمتونو عمومي کچه فوق العاده چټکه وه. د 1914 او 1920 ز کلونو ترمنځ د عمده پلورنې د قېمت شاخص په دغه هېواد کې دوه برابره شو او بیا یې په 1930 ز کال کې فوق العاده کموالی موندلی دی. په 1926 ز کال کې د وزګارتیا فیصدي له دوه فیصدو نه لږه وه. په داسې حال کې چې دغه فیصدي د 1933 ز کال لپاره 25 فیصده وه. دغه نوسانات په هغه دوره کې رامنځته شوي دي، چې د امریکا د پیسو سټنډرډ د سرو زرو و. له دې وراخوا د امریکا متحد ایالتونه په دې برلاسي دي چې د سرو زرو د سټنډرډ له مطلقې پیروۍ څخه پرته د اوږدو لسیزو لپاره د داخلي اقتصاد او د بهرنۍ سوداګرۍ له نظره هم د بریالي پولي سیستم لرونکي واوسي.

ډېری اقتصادپوهان او د اقتصادي سیاستونو طرفداران په دې باور دي چې د سرو زرو سټنډرډ ته بیا ورګرځېدنه د دې خبرې له یاده ایستل دي چې د امریکا متحده ایالتونو په تېرو درېیو لسیزو کې له مالي او پولي کړنلارو او د لوی اقتصاد له نظریاتو څخه ترلاسه کړې دي. دغه چاره همدا راز د دې لامل ګرځي چې دغه هېواد ونه شي کولای چې دپخوا په څېر خپل پولي سیستم د نړیوالو موسساتو او مقرراتو له لارې لکه څنګه چې یې اوس په ښه شکل سره اداره کوي، اداره کړي.

## جنسي معیار- دوه فلزي سیستم او د ګرېشام قانون:

په دوه فلزي سیستم باندې له بحث کولو نه دمخه، په لنډه توګه د ګرېشام قانون تر څېړنې لاندې نیسو. د ګرېشام قانون په لنډه توګه څرګندوي چې «بدې پیسې ښې پیسې له جریانه باسي». دغه تعریف یو لنډ تعریف دی او په اسانۍ سره ذهن ته راځي. که چېرته وغواړو چې په کامل شکل سره دغه قانون تعریف کړو، لاندې وینا د پوتنۍ وینا ځای نیسي.

«هره پدیده په هره ټولنه کې که دواړه پولي او غیر پولي ارزښتونه ولري هغې خوا ته حرکت کوي چې تر ټولو زیات ارزښت لري (کله چې د تحرک قدرت موجود وي).

پولي سیستم هغه وخت دوه فلزي سټنډرډ لري، چې پولي واحد یا یو ټاکلی مقدار سره زر او د سپینو زرو له ټاکلي مقدار سره تعریف شي. د دې لپاره چې سټنډرډ کاملاً دوه فلزي وي باید په ټولنه کې د دواړو مارکېټ آزاد وي، همدا راز د پیسو ډولونه باید له دواړو فلزو (سرو او سپینو زرو) سره تبادله کېدلی وشي. کله چې دوه فلزي سیستم شتون لري د سرو او سپینو زرو پولي ارزښت په خودکاره (اتوماتیک) شکل ټاکل کېږي. د مثال په توگه، په 1792 ز کال کې د سکو وهلو قانون د امریکا ډالر 371,25 غنمه[39] سپین زر او 24,75 اونسه خالص سره زر تعریفوي. دغه تعریف ته په کتو د سرو زرو پولي ارزښت به د سپینو زرو په پرتله یو پر 15 وي. دغه نسبت په اصطلاح کې د سکو وهلو د نسبت په نامه یادېږي.

متأسفانه د دوه فلزي سټنډرډ له اړخه په متحدو ایالتونو کې د سرو زرو ارزښت د سپینو زرو په پرتله په نړیوالو بازارونو کې له یو 15,5 سره برابر و. د امریکا د متحدو ایالتونو د سپینو زرو ارزښت له واقعیت څخه زیات ټاکلی و. له دې ځایه د سرو زرو د بازار ارزښت (د ډېرو مصارفو لپاره) د سرو زرو له پولي ارزښت څخه زیات و. د گرېشام د قانون پر اساس، سپینو زرو سره زر له پولي سیستم څخه وویستل. خو دغه ټوله مسئله نه وه. د امریکا په متحدو ایالتونو کې سپین زر په ضرابخانو کې د سپینو زرو په ډالر بدلېدل او باید د پیسو په توگه جریان ته داخل شوي وو او د تبادلې د وسیلې په توگه پاته شوي وو (په دغه وخت کې کاغذي پیسو ډېر لږ اهمیت درلود، د بحث وړ وخت – 1792 1862 دی). متأسفانه یوازې د سپینو زرو کوچني ډالر په جریان کې پاته شول او که څه هم امریکایي ډالر له هسپانیایي ډالرو څخه کم وزنه وو، له دې سره سره د هسپانیایي ډالرو پر ځای د هند په لوېدیځو جزایرو کې منل کېدل. له هغه ځایه چې په دغو جزایرو کې د امریکایي سپینو زرو ډالري ارزښت په امریکا کې د سپینو زرو له ډالري ارزښت څخه زیات و. یو ځل بیا د گرېشام د قانون له مخې امریکایي ډالرو دغو جزایرو ته حرکت وکړ. که څه هم ددغو ډالرو د خرید قدرت په لوېدیځ هند کې د امریکا د خرید له قدرت څخه زیات و. کومې ستونزې چې لوېدیځ هند ته د سپینو زرو له ډالرو څخه د امریکا اقتصاد ته رامنځته شوې، دومره چټکې وې چې په 1806 ز کال کې ولسمشر جفرسون د سپینو زرو سکه وهل بند کړل.

---

[39]- غنم د وزن واحد له 0,648 گرامو سره مساوي دی.

د ګرېشام د قانون د ښودلو لپاره بله بېلګه دا ده چې، په 1834 ز کال کې د امریکا د متحدو ایالتونو پولي مقرراتو بدلون وموند. نویو مقرراتو د سکو وهلو نسبت یو پر 16 وټاکه او په دې ترتیب یې د هر ډالر طلایي محتوا راکمه کړه لکه څنګه چې تمه ترې کېده سرو زرو ضرابخانو خوا ته حرکت وکړ چې په اوس وخت کې د ډالرو پېرودلو لپاره لږ مقدار سپینو زور ته اړتیا وه. تر 1853 ز کاله پورې ضرابخانو ته د سرو زرو د جریان په علت، سپین زر له جریانه ووتل. په دغه کال کې د سکه وهلو د نسبت په اصلاح او د ډالر د نقره یي محتواء په کمولو سره دغه وضع پخواني حالت ته وروګرځېده.

د ګرېشام د قانون په هکله وروستۍ بېلګه په سپینو زرو پورې محدودېږي. د صنعت په برخه کې سپینو زرو ته د تقاضا په زیاتوالي سره او له بلې خوا د سپینو زرو د تولید د وضعیت په خاطر، سپینو زرو خپل حساسیت د خپل قېمت په پرتله له لاسه ورکړ. دغه چاره د دې لامل شوه چې د سپینو زرو د بازار قېمت زیاتوالی ومومي. د سپینو زرو د فوق العاده[40] قېمت د لوړېدو د مخنیوي او د دې لپاره چې د سپینو زرو د بازار ارزښت د سپینو زرو له پولي ارزښت سره په همغږۍ توګه (1/29 ډالره د هر اونس پر ځای) شي د امریکا خزانه دارۍ له ذخایرو نه په استفادې او په بازار کې د سپینو زرو په پلورلو سره یې د دغه فلز د عرضې په زیاتوالي لاس پورې کړ، خو د ذخایرو د محدودوالي په خاطر یې د امریکا د خزانه دارۍ د سپینو زرو عرضه ودروله.

د ګرېشام د قانون پر اساس، د سپینو زرو د غیر پولي ارزښت په زیاتوالي سره، دغه فلز د یو سټنډرډ په توګه له پولي سیستم څخه ووت. په اوس وخت کې یوازې د امریکا په متحدو ایالتونو کې د پولي سیستم له خوا له سپینو زرو څخه د مس، نیکل او کاغذ په څېر د پیسو د تولید لپاره کار اخیستل کېږي.

دوه فلزي سټنډرډ د یوه پولي سټنډرډ په توګه ونه شو کولای چې د امریکا په متحدو ایالتونو کې خپلې ورسپارل شوې دندې ترسره کړي. د دغه سټنډرډ د ماتېدو علت دا و، چې د نړۍ ټولو لویو هېوادونو دغه سټنډرډ نه و تطبیق کړی او د نړۍ هېوادونو داخلي منابع د نړۍ له پولي ثبات نه غوره ګڼلې، دوه فلزي سټنډرډ کولای شول چې په بریالیتوب سره په پولي سیستم کې خپل رول ولوبوي.

---

[40]- له عادي حالت نه پورته.

**اعتباري معيار:**

په ساده ګی سره نه شو کولای د پولي سیستم لپاره، چې له هیڅ ډول ځانګړي کالي یا د دوه کالیو له هیڅ جوړې سره ارتباط نه پیدا کوي، یو وړ ټکنۍ پیدا کړی شي. یو پولي سیستم چې په هغه کې یا د حساب واحد د کالیو د ټاکلي مقدار له مخې یا ځانګړی کالی نه دی تعریف شوی، یا په هغه کې په جریان کې بېلابېلې پیسې د قانون یا دود له مخې له یو بل سره تړاو پیدا کوي. لکه څنګه چې معمول ده که د پیسو سټنډرډ ته په دغه حالت کې کاغذي سټنډرډ ووایو، له شک پرته چې دغه نوم ایښودنه به بې لارې کوونکې وي. د دې په خاطر چې پولي واحد د کاغذ د ټاکلي مقدار له مخې نه دی تعریف شوی.

په دې حالت کې د ټکنۍ وهل (اعتباري ستنډرډ) په پولي سیستم کې په موجود سټنډرډ باندې، که څه هم کاملاً مناسب نه دی، خو لږ تر لږه بې لارې کوونکی نه دی. کله چې د اعتباري سټنډرډ په اړه خبرې کوو، باید په پام کې ولرو چې پیسې په اقتصاد کې له هیڅ کالیو (فلز په ځانګړې توګه له سرو او سپینو زرو سره) ارتباط نه پیدا کوي. په دې حالت کې د پیسو اساس او پایه یوازې په پولي سیستم باندې باور او اعتماد دی.

هغه اقتصاد چې اعتباري سټنډرډ پکې چلیږي، هرومرو یې د پیسو ټول ارتباط له قیمتي فلزاتو سره پرې کیږي. په ډېرو حالاتو کې دولت په دا ډول اقتصادونو کې د تل لپاره د سرو زرو یا نورو پیسو ذخیره چې په سرو زرو تبادله کېدای شي له ځان سره ساتي.

که د تاریخ له لیدلوري نه اقتصاد ته نظر واچوو هیڅ هیواد هم په قصدي توګه اعتباري سټنډرډ په خپل پولي سیستم کې نه دی تطبیق کړی، بلکې په دغو هیوادونو کې د اعتباري سټنډرډ شتون ډېری د جګړو او یا ډېرو نورو بلاګانو د رامنځته کېدو په نتیجه کې منځته راغلی. کله چې د جګړو د مصارفو د تأمین لپاره مالي اړتیا راپورته شي او دغه اړتیا دومره وي چې د مالیاتي سیستم په وسیله تأمین شي، دولت مجبوریږي چې اضافي پیسې چاپ کړي او د دې لپاره چې په داسې حالاتو کې خپلې فلزي ذخیرې وساتلی شي، نو په ناچارۍ سره باید په قیمتي فلزاتو باندې د پیسو د تبدیلېدو قانون باید ملغی شي. د قانون لغوه کېدل په خودکاره (اتوماتیک) شکل د پیسو سټنډرډ په یو اعتباري سټنډرډ بدلوي. غالباً په داسې حالاتو کې اقتصادونه د دې هڅه کوي چې یو ځل بیا

جنسي سټنډرډ ته وروګرځي او پیسې بیا په قېمتي فلزاتو باندې د تبادلې وړ وګرځي. دا چې یو ځل فلزي سټنډرډ په اعتباري سټنډرډ باندې بدلېږي اقتصاد په لاندې ستونزه اخته کېږي:

انفلاسیون، د خصوصي برخې د سپما کموالی، په نړیوالو مبادلاتو کې شکلي بدلونونه او داسې نور... دا ډول ستونزې غالباً د دې لامل ګرځي چې د اقتصاد متفکرین داسې وانګېري چې یوازینی سالم سټنډرډ له اقتصادي پلوه جنسي سټنډرډ دی. که دغه نظریه رښتیا وي، نو بیا د امریکا متحد ایالتونه او یا د نړۍ نور پرمختللي اقتصادونه ولې جنسي سټنډرډ ته د ورګرځېدو هڅه نه کوي؟ دغې پوښتنې ته د ځوابونې یوه برخه واضح ده. دغه اقتصادونه نه غواړي چې پولي سیستم او په نتیجه کې د ټولنې ملي رفاه په تولید، د پیسو او سرو زرو او توزیع د نوساناتو تر اغېزې لاندې راشي. له بلې خوا، دغه اقتصادونه پر دې باور دي چې د اقتصادي تحلیل لپاره د دقیقو وسایلو په لرلو سره، پرمختللو سیستمونو، احصائیو او اطلاعاتو د راټولولو او تغییر، د پیسو په مدیریت کې د تجربې په لرلو سره نور نو د پخوا په څېر د جنسي سټنډرډ له لارې د پیسو د کنټرول اړتیا نه لېدل کېږي. له دې وراخوا ثابته شوې ده چې نه د تبادلې وړتیا او نه په پیسو باندې د تبدېلېدو د وړتیا انتظار هېڅ یو په راتلونکي کې پیسو ته او په پیسو باندې د بدلېدو وړتیا په داخلي اقتصاد کې د خلکو په اطمینان اغېزه نه لري.

نړیوال پولي سیستم هم د ملي پولي سیستمونو په څېر له کالیو نه اعتبار خوا ته د تحولاتو وړ ګرځي. اوس لکه څنګه چې بیا به پرې بحث وکړو، د هېواد پولي ذخایر نه یوازې سره زر بلکې لنډ مهاله پورونه او د نړۍ د لویو هېوادونو یوه برخه او د اخیستنې خاص حق SDR چې د نړیوال وجهي صندوق له خوا ورکړل شوی اعتبار دی د هېوادونو په پولي ذخایرو کې راځي. دغې مسئلې ته په کتو که څه هم تراوسه پورې په نړیوالو مبادلاتو کې سره زر مهم رول لوبوي خو د دې تمه کېدای شي چې په راتلونکي کې یې اهمیت راکم شي.

## رویتي سپارنې:

په سکو او کاغذي پیسو سربېره، په پرمختللو هېوادونو کې په جریان کې د لوېدلو پیسو لویه برخه د انتقالېدو وړ بانکي سپارنې یا د چک په مرسته لاسته راوړنې یا رویتي سپارنې تشکیلوي. خو آیا دغه ټولې سپارنې د پولي مقاماتو له خوا په جریان کې لوېدلې پیسې شمېرل کېږي؟

رویتي سپارنې افرادو، اقتصادي موسساتو، غیر انتفاعي سازمانونو، دولت او پولي منځګړو ته د بانکونو پورونه یا تعهدات دي. دغه دائنین که څه هم غالباً داخلي دائنین دي، خو کېدای شي چې بهرني شرکتونه یا افراد هم پکې راشي.

آیا مونږ کولای شو چې دغه ټولې سپارنې په جریان کې لوېدلې پیسې یا د پیسو د عرضې یوه برخه وشمېرو؟ کولای شو چې بحث وکړو ددغو سپارنو هر پولي واحد کولای شي چې په چټکه توګه د خرید په قدرت بدل شي. سره له دې پاخه دلایل د دې لپاره چې ددغو سپارنو یوه برخه د پیسو د عرضې برخه ونه ګڼو. په لاس کې شته. زمونږ بحث دوه مطالبو ته په کتو وړاندې کېږي:

1- د سپارنې د ساتلو هدف.
2- د سپارنې د مالک ماهیت او طبعیت.

د سپارنو هغه برخه چې په جریان کې د لوېدلو پیسو په حساب کې نه راځي، د بانکونو سپارنې دي چې له نورو بانکونو سره يې ایښې دي. دغه سپارنې د بانکونو له خوا په کالیو او خدماتو باندې د بدلېدو لپاره نه ساتل کېږي، د ځینو خدماتو په مقابل کې او یا د ذخیرې په توګه د داسې پېښو د رامنځته کېدو په مواقعو کې چې د نقدو پیسو د کمېدو لامل نه ګرځي، ساتل کېږي.

د پیسو بله برخه چې په جریان کې لوېدلې نه شمېرل کېږي، د سپارنو هغه برخه ده چې اصطلاحاً «د راټولولو په بهیر کې سیالیت» ورته وایي. د دغې برخې په نه ګډولو سره د مضاعفې محاسبې د لرې کېدو لامل ګرځي. فرض کړئ چې احمد له محمود نه د 1000 پولي واحدو په اندازه چک ترلاسه کړی او په بانک کې دغه چک په خپل نوم منظوروي. په پرمختللو سیستمونو کې له دې مخکې چې د چک مبلغ د محمود له حسابه کم شي، په بل بانک کې د دائن احمد حساب ته واریز کېږي. په دې ترتیب د یوې زماني فاصلې لپاره (که څه هم لنډه موده وي) 1000 پولي واحده چې عملاً باید یوازې په یوه بانک کې وجود ولري، په دوه حسابونو کې منظورې شوې دي او د پیسو عرضه په ناسمه توګه د 1000 پولي واحدو په اندازه زیاته شوې ده. د دا ډول انتقالاتو په نه شاملېدو سره د عرضې له غیر واقعي مضاعفې محاسبې نه مخنیوی کېږي. په لنډه توګه، اصلاح شوې رویتي سپارنې چې د سپارنو غیر خالص رقم چې له دوه پورتنیو عواملو څخه دی، د پیسو د عرضې برخه یا په جریان کې لوېدلې پیسې شمېرل کېږي.[41]

[41] - T. E. Van Dahm, Money and Banking . pp.11 -47, 105 -123.

## څوارلسم څپرکی

### بانک

د ایران د پیسو او بانکدارۍ د قانون د اوومې مادې پر اساس، چې د 1339 لمریز کال د جوزا په میاشت کې تصویب شوی دی. بانک هغې موسسې ته ویل کیږي چې د سهامي شرکت په شکل د بانکي عملیاتو په ترسره کولو بوخت وي. په دې قانون کې بانکي عملیات په لاندې ډول دي:

د جاري امانت د پرانستلو حساب، د اعتبار ورکړه، په سفتې او برات باندې د معاملاتو ترسره کول په هغو معاملاتو چې په اسهامو او نورو ارزښت لرونکو پاڼو او اسنادو ترسره کیږي، د اقتصاد په داخل کې د پیسو لیږد رالیږد، اسعاري معاملات، جاري د ارزښت لرونکو فلزاتو د معاملو ترسره کول، د امانتونو د صندوق ایښودل، د ضمانت پاڼو صدور او تضمین او له نورو سوداګریزو موسساتو سره مرسته، بانکي عملیات شمېرل کیږي.

په بانکي عملیاتو باندې د ښه پوهېدو لپاره مونږ په دې کتاب کې بانکي عملیات په درې برخو وېشو؛ لنډ مهاله بانکي عملیات، اوږد مهاله بانکي عملیات، او د ارزښت لرونکو پاڼو خپرول.

**الف – لنډ مهاله بانکي عملیات:**

لنډ مهاله بانکي عملیات د جاري امانتونو منلو، د ارزښت لرونکو پورونو ورکړې او تضمین ته وايي.

1- جاري حساب او امانت- امانت هغې وجوه ته وايي، چې افراد يې په بانک کې د پور په شکل ږدي. د دغه امانت خاوند د اړتیا پر مهال کولای شي چې خپل امانت له بانک څخه واخلي او مصرف يې کړي. امانت په دوه برخو وېشل کیږي رویتي امانت او ثابت امانت.

رویتي امانت - دا هغه امانت دی چې بانک د هغه د لرونکي شحض پر وړاندې تعهد کوي، چې د امانت لرونکي کس له تقاضا سره سم به امانت هغه ته په واک کې ورکړي. امکان لري چې دغه عمل د چک د ویستلو په شکل بانکي حساب ته ترسره شي.

**ثابت امانت:** وخت لرونکی امانت دی، یعنې بانکي تعهد کولای شي د یو ټاکلي وخت له تېرېدو وروسته د امانت مقدار د هغه مالک ته په واک کې ورکړي. د دغه امانت لرونکی کس نه شي کولای د پانګې د مودې له پوره کېدو څخه ومخکې د امانت غوښتنه وکړي.

د رویتي او ثابتو امانتونو د کارونې طریقه داسې ده چې د امانت مالک ته چک او یا د حساب کتابچه په واک کې ورکول کیږي. کېدای شي رویتي امانت څخه د جاري او یا د سپما حساب د

پرانیستلو له لارې کار واخیستل شي. له ثابت امانت څخه استفاده یوازې د سپما د حساب له لارې شونې ده.

2- **تنزيل:** د طلب او يا مدت لرونكي دين د پېرودلو په توګه پېژندل کېږي. طلب يا دين عموماً د ارزښت لرونکو پاڼو د تعهد له لارې روښانه کېږي د مثال په توګه داسې فرض کړئ، چې ښاغلی احمد کالیو ته اړتیا لري خو په اوس وخت کې ددغو کالیو د پېرودلو لپاره مالي منابع په واک کې نه لري. ښاغلی محمود چې د کالیو پلورونکی دی احمد ته د هغه د اړتیا وړ کالي ورسپاري او په مقابل کې له احمد نه د هماغو کالیو د ارزښت په اندازه د تعهد سند ترلاسه کوي. په دغه سند کې احمد د دې تعهد کوي چې دغه طلب به مثلاً د 21 میاشتو په اوږدو کې اداء کوي. اوس که چېرته محمود د 2 میاشتو له پوره کېدو نه دمخه پیسو ته اړتیا پیدا کړي نو کولای شي چې د دغه وخت لرونکي تعهد سند بانک ته وړاندې او په بدل کې یې نقدې پیسې ترلاسه کړي. له هغه ځایه چې همېش د پیسو د خرید قدرت مخ په کمیدو دی او یا له هغه ځایه چې په پیسو پورې ګټه تړاو لري، بانک په پیسو باندې د تعهد د ورکړې د بدلولو پر وخت د تعهد شوي مبلغ یوه اندازه د پیسو ارزښت د کمېدو د جبران لپاره او یا ښاغلي محمود ته د پیسو د ورکړې د ګټې په توګه یوه اندازه پیسې لاسته راوړي. کېدای شي چې د تعهد دغه سند د سفتې او برات په شکل وي. د بانک له خوا دغه ترلاسه کړې شوې پیسې د پیسو د نزول په نامه یادېږي. د بانک له خوا د پیسو د تعهد د سند د بدلولو عمل ته د تعهد د سند تنزیل او یا د ارزښت لرونکو پاڼو تنزیل وایي. د پورتني مثال د پیسو د محاسبې لپاره چې محمود یې د وخت لرونکي سند په مقابل کې ترلاسه کوي له لاندیني فورمول څخه کار اخیستل کېږي.

$$A = P(1 - \frac{r^n}{360})$$

په دې فورمول کې A د محمود له خوا ترلاسه شوی مبلغ، P د وخت لرونکي تعهد اندازه، r د ګټې نرخ، او n په ورځو باندې د پاتې تعهد وخت او زمان دی.که چېرته p =1000 پولي واحده، د ګټې نرخ r= 10% او د تعهد پاتې وخت n=36 وي نو A به په لاندې ډول وي:

$$A = 1000\left(1 - \frac{0{,}1 \times 36}{360}\right) = 990$$

3- **په جاري حساب کې د پور اعتباري کرېډټ ورکړه:** په جاري حساب کې اعتبار په حقیقت کې افرادو ته د بانک له خوا نه د لنډمهال له پور ورکړه ده. د دغه اعتبار د ورکړې موخه د بانکونو له خوا د افرادو د لنډ مهاله مالي اړتیاو پوره کول دي. د دغه اعتبار په ورکړې سره بانکونه افرادو ته د دې اجازه ورکوي چې د فرض کړی شوي اعتبار په اندازه له خپل جاري

حساب څخه زیاته استفاده وکړي د مثال په توګه، که د ښاغلي احمد جاري حساب سپارل شوی (د حساب طلب )1000 پولي واحده وي او بانک ښاغلي احمد ته 50000 اعتبار ورکړي، هغه کولای شي چې له خپل جاري حساب نه 51000 پولي واحده واخلي معلومه ده چې بانک د دغه اعتبار د ورکړې په مقابل کې ګټه اخلي. د بانک د ګټې ترلاسه کړی شوی مقدار د ښاغلي احمد د استفادې په مقدار او وخت پورې تړاو لري. د استفادې په صورت کې که چیرته احمد استفاده شوی مبلغ بانک ته ور وګرځوي، مجدداً د بل ځل لپاره کولای شي د بانک له خوا جاري حساب ته د ټاکل شوي حد په اندازه اعتبار ترلاسه کړي. د جاري حساب اعتبار په درې ډوله؛ ساده اعتبار، د ارزښت لرونکو پاڼو اعتبار او د کالیو په مقابل کې په اعتبار باندې وېشل کېږي. د جاري حساب ساده اعتبار هغه اعتبار ته ویل کېږي چې بانک د هغه د ورکړې په مقابل کې له اعتبار اخیستونکي څخه د هېڅ ډول تضمین د لاسته راوړلو غوښتنه ونه کړي. د اعتبار ورکړې یوازې د بانک له خوا د مشتري د پېژندلو پر اساس ترسره کېږي. د ارزښت لرونکو پاڼو اعتبار هغه اعتبار ته ویل کېږي چې بانکونه یې افرادو ته ورکوي خو د دغه طلب د لاسته راوړلو د اطمینان لپاره له اعتبار اخیستونکي څخه د وثیقې په توګه یوه اندازه ارزښت لرونکې پاڼې ترلاسه کوي. د اعتبار په دریم ډول کې د دې پر ځای چې د جاري حساب وثیقه ارزښت لرونکي اسناد وي بارنامه یا د کالیو د رسید پاڼه د وثیقې رول لوبوي.

**ب – اوږد مهاله بانکي عملیات:**

اوږد مهاله بانکي عملیات، د اوږد مهاله پورونو او اعتبار ورکړې او د بانکونو پانګونې ته ویل کېږي.

1- **اوږد مهاله اعتبار:** په جاري حساب کې د اعتبار ورکړه د لنډ مهاله اعتبار ورکړه ده. عموماً دا ډول اعتبار لاسته راوړونکی باید تر لاسته شوی اعتبار له 90 ورځو نه وړاندې بانک ته وروګرځوي. پر دغه لنډ مهالو اعتباراتو سربېره، بانکونه د اوږد مهاله اعتبار په ورکړې هم لاس پورې کوي. عموماً اوږدمهاله اعتبارات هغو اعتباراتو ته ویل کېږي، چې د هغوی د بېرته راګرځېدو وخت له 90 ورځو نه نیولې تر 20 کالو پورې دوام وکړي. ددغو اعتباراتو د ورکړې د تأمین مالي منابع له بانکونو سره د خلکو سپماوې تشکیلوي. د اوږدمهاله اعتباراتو د ورکړې هدف دا دی چې د صنایعو له خاوندانو سره د دوی د تولیدي ظرفیت په لوړولو او یا د نویو اقتصادي مؤسساتو په تأسیس او جوړونه کې له دوی سره مرسته وشي.

2- **د بانکونو پانګونه:** بانکونه، په ځانګړې توګه سوداګریز بانکونه انتقالي مؤسسات دي. د بانک له خوا د عاید رامنځته کول د بانکي خدماتو د ترسره کولو له لارې ترسره کېږي. له پور اخیستونکو

نه د ترلاسه شوې ګټې او د سپما د حساب خاوندانو ته د ورکړل شوې ګټې توپیر د بانکونو ګټه ده. خو هغه بانکونه چې مالي منابع يې زياتې دي کولای شي چې له دغو منابعو څخه په کار اخيستنې سره زيات عوايد لاسته راوړي. له دغو منابعو څخه په دوه طريقو کار اخيستل کېږي. بانک کولای شي چې له خپلو اضافي مالي منابعو څخه په ګټې اخيستنې سره په مستقيم ډول په پانګونه لاس پورې کړي او د اقتصادي موسساتو په جوړولو سره د بانکي خدمات په ترسره کولو سربېره کالي او خدمات توليد او اضافي عوايد ترلاسه کړي او يا بانک کولای شي چې په غير مستقيم ډول پانګونه ترسره او د نورو اقتصادي مؤسساتو د ونډو په اخيستلو سره د خپلو عايداتي منابعو سرچينه نوره هم زياته کړي.

## ج – د ارزښت لرونکو پاڼو خپرول:

له ارزښت لرونکو پاڼو څخه مطلب د شرکتونو ونډې او يا د خصوصي او دولتي برخې د قرضې پاڼې دي. د ارزښت لرونکو پاڼو خپرول د بانکي خدماتو يو بل ډول دی چې بانکونو ته د عوايدو د لاسته راوړلو د يوه مدرک په توګه پېژندل کېږي. سوداګريز بانکونه په يوازې توګه او يا له نورو بانکونو سره په ګډه د ارزښت لرونکو پاڼو په خپرولو لاس پورې کوي. د ارزښت لرونکو پاڼو پلورل عموماً د پذيره نويسي په شکل ترسره کېږي يعنې ددغو پاڼو پېرودونکي په لومړي سر کې ددغو پاڼو يوه ټاکلې فيصدي تاديه کوي او تعهد کوي، چې په يو راتلونکي وخت کې به د اړتيا پر مهال پاتې ارزښت هم تاديه کړي.
د بانکونو له خوا د ارزښت لرونکو پاڼو خپرول په دوه شکلونو ترسره کېږي: د مقاطعې يا حق العمل په شکل:

په لومړي حالت کې بانک په خصوصي يا دولتي برخه کې د يوې اقتصادي مؤسسې په استازيتوب ونډې يا د قرضې پاڼې نشروي. د قرضې د پاڼو ارزښت وروسته د بانکي مزد او د ګټې له کمولو څخه مؤسسې ته ورکوي او بيا په خلکو باندې د قرضې د پاڼو د پلورلو مسئوليت په غاړه اخلي په دې حالت کې اقتصادي مؤسسه د اړتيا وړ پانګه ترلاسه کوي . په دې حالت کې بانک د قرضې د پاڼو د نه پلورل کېدو خطر په ځان مني په دوهم حالت کې، بانک يوازې د يوې واسطې په توګه عمل کوي. د اقتصادي مؤسسې په استازيتوب د همدې مؤسسې له خوا د ونډو او يا د پور پاڼو په خپرولو عمل کوي او په خصوصي سکتور باندې ددغو پاڼو د پلورلو هڅه کوي د پاڼو د خرڅلاو له لارې ترلاسه کړی شوي عوايد اقتصادي مؤسسې ته په واک کې ورکوي او د خپل خدمت لپاره حق العمل لاسته راوړي. په دې حالت کې بانک هېڅ ډول خطر په غاړه نه دی اخيستی. عموماً ددغو پاڼو د خپرېدو په وخت کې، بانک کولای شي ټاکلې زماني فاصله د پاڼو د خرڅلاو لپاره وټاکي او

د دغه وخت له پوره کېدو وروسته د پانډو پلورلو ودروي او يا دا چې د داسې زماني فاصلې له تېرېدو وروسته يې بېرته په کراره د ارزښت لرونکو پاڼو پلورلو ته دوام ورکړي. په کوم هېواد کې چې د ارزښت لرونکو پاڼو بورس پرمختللی وي بانک کولای شي چې د پاڼو د پلورلو لپاره له خپرېدو وروسته ارزښت لرونکې پاڼې بورس ته وړاندې کړي.

**بانکي سازمان:**

د هر هېواد سازمان او بانکي سيستم د هغوی د اقتصادي سيستم اړتياوو ته په کتو بڼه غوره کوي. دې مسئلې ته په کتو چې په بېلابېلو هېوادونو کې چې د اقتصادي سيستم اړتياوې يکې توپير لري، نو د بېلابېلو هېوادونو بانکي سازمان او بانکي سيستم په پوره توګه له يو بل سره ورته والی نه لري، خو په هر هېواد کې بانکي سازمان او بانکي سيستم درې اصولو ته په کتو بڼه غوره کوي.

**الف- د تمرکز اصل:**

د تمرکز اصل په يوه اقتصاد کې د بانکونو په شمېر او د هغوی د ابعادو په پراختيا پورې تړاو لري. کله چې په هر هېواد کې بانکي سازمان غير متمرکز وي د بانکونو شمېر به زيات او هر بانک به محدود اقتصادي قدرت لري. د بانکي سيستمونو د پراختيا په لومړيو کې بانکي اساس غير متمرکز دی. دا په دې خاطر ده چې هر پانګوال کولای شي چې د دولت د عدم کنټرول له وجې د بانک په جوړولو لاس پورې کړي. کله چې بانکونو شمېر زيات دی د سپماوو د جلبولو لپاره د بانکدارانو د سيالۍ پر اساس، د ګټې نرخ په اقتصاد کې مخ پورته ځي او د پور مصرف زياتېږي. د پور د مصرف کموالی د پانګونې د کمېدو باعث ګرځي.

له بلې خوا نه د بانکونو عدم تمرکز، د دې باعث ګرځي چې د پانګې د زيات وېش پر علت د هر بانک اقتصادي قدرت لږ وي. په داسې يو حالت کې کله چې مشتريان خپل امانتونه غواړي او له بانک سره د امانتونو د بېرته ورکړې وس نه وي په دې حالت کې د بانک د افلاس خطر زياتېږي. د افلاس په صورت کې افراد او اشخاص په بانکي سيستم باندې خپل باور له لاسه ورکوي او د پانګې بازار د پانګې د راټولولو او وېش قدرت له لاسه ورکوي. د پورتني علت پر اساس، غير متمرکز بانکي سازمان سيستم يو وړ سازمان نه دی. د پراختيا په نورو مراحلو کې د کوچنيو بانکونو د له منځه وړلو لپاره يو شمېر بانکدارانو سيالي او د نورو ډلو ترمنځ دغه جوړښت بانکي سازمان متمرکز ګرځوي. هغه وخت بانکي سازمان متمرکز دی چې په اقتصاد کې د بانکونو شمېر محدود او هر بانک د پام وړ اقتصادي قدرت ولري.

د صنعتي نړۍ د هېوادونو د بانکدارۍ تاريخ ته په کتو، له غير متمرکز بانکي سازمان څخه متمرکز بانکي سازمان ته د ميلان پروسه تأييدوي. د نولسمې پېړۍ په لومړيو کې د آلمان، فرانسې،

انګلستان، او امریکا په څېر هېوادونو بانکي سیستم غیر متمرکز و. د شلمې پېړۍ په سر کې په امریکا او آلمان کې د کوچنیو بانکونو اتحاد او سیالي د بانکي سیستم د تمرکز باعث شو. په فرانسه کې د شپږو بانکونو ترمنځ جوړجاړی په بانکي سیستم کې د انحصار باعث وګرځېد او په انګلستان کې هم د کوچنیو بانکونو ترکیب بانکي سیستم متمرکز کړ.

**ب- د تخصص اصل:**

د تخصص اصل د بانکونو په تنوع او د دوی د عملیاتو په پراګندګۍ پورې تړاو لري. لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، چې بانکي عملیات په درې برخو؛ لنډ مهاله، اوږد مهاله او د ارزښت لرونکو پاڼو په خپرېدو باندې وېشل کېږي. د تخصص اصل د بانکونو ترمنځ د عملیاتو دغه تقسیم بندي بررسي کوي. کومه مسئله چې د تخصص د اصل د ثقل مرکز جوړوي هغه دا ده چې که آیا بانکونه چې د لرې لومړنۍ پانګې لرونکي وي او د هغوی د مالي منابعو لویه برخه رویتي امانتونه تشکیلوي کولای شي چې د اوږد مهاله اعتباراتو په ورکړې لاس پورې کړي؟

دغې پوښتنې ته د ځواب لپاره، د درې ډلو انګلیسي آلماني، او فرانسوي بانکدارانو نظریات ارزیابي کوو:

1- **د انګلیسي بانکدارانو له نظره د تخصص اصل:** انګلیسي بانکداران پر دې باور دي چې له رویتي امانتونو (لنډمهاله مالي منابعو څخه) د اوږد مهاله اعتباراتو ورکړې او یا د اوږد مهاله بانکي عملیاتو ترسره کول ډېر خطر ناک کار دی. ځکه چې بانک په اوږد مهاله اعتباراتو باندې د لنډ مهاله اعتباراتو په بدلولو سره د افلاس خطر زیاتوي. له هغه ځایه چې رویتي امانتونه باید د حساب پرانستونکي د غوښتو پر وخت وروګرځي، د انګلیسي بانکدارانو په باور په کومو حالاتو کې چې بانک په غیر عادي حالاتو کې واقع وي لکه اقتصادي بحران، د امانتونو د مالکانو د مراجعې په صورت کې چې خپل امانتونه غواړي، د دې احتمال چې بانک ونه شي کولای، ترلاسه شوې تقاضا پوره کړي، دغه احتمال زیات دی او بانک د افلاس له خطر سره مخ کېدای شي. نو انګلیسي بانکداران پر دې باور دي چې کوم بانکونه چې د هغوی ملي منابع رویتي امانتونه تشکیلوي (لنډ مهاله مالي منابع) باید یوازې په لنډ مهاله بانکي عملیاتوکې په کار واچول شي. انګلیسي بانکداران دغه بانکونو ته عادي بانکونه وایي. د عادي بانکونو تخصص د دغې ډلې په باور باید لنډ مهاله بانکي عملیات وي، ترڅو بانک د عدم سیالیت له ستونزې سره مخ نه شي، د انګلیسي بانکدارانو په باور د اوږد مهاله بانکي عملیاتو ترسره کول یوازې د هغه ځانګړو بانکونو په واک کې ده چې اوږد مهاله مالي منابع ولري. ددغو بانکونو مالي منابع لومړنۍ پانګه او یا هغه اوږد مهاله پورونه تشکیلوي چې د قرضې د پاڼو له خپرېدو څخه لاسته راځي.

2- **د تخصص اصل د آلماني بانکدارانو له نظره:** د تخصص د اصل په اړه د آلماني بانکدارانو نظر کاملاً د انګلیسي بانکدارانو د محافظه کارانه نظر په مخالف جهت کې قرار لري. دوی په دې باور دي چې له رویتي امانتونو (لنډ مهاله مالي منابعو) څخه په عادي وضعیت کې د اوږد مهاله بانکي عملیاتو د تأمین لپاره د اعتباراتو او امانتونو په دوران کې کومه خلاء نه رامنځته کېږي او د سیالیت د کمبود ستونزه نه رامنځته کوي. د دوی په باور په هغو حالاتو کې چې په اقتصاد کې غیر عادي وضعیت شتون ونه لري نو د نویو امانت ایښودونکو له خوا نه د امانت اخیستونکو تقاضاوې بېرته پوره کېږي. نو په دې خاطر بانکي راکړې ورکړې به په اتوماتیک شکل سره برابرې شي.

نو د دې لپاره کوم دلیل وجود نه لري چې په پورتني حالت کې د بانکدارانو له رویتي امانتونو څخه د ګټې اخیستنې لپاره د اوږد مهاله مالي منابعو د تأمین لپاره د اقتصاد له سپماوو څخه اعظمي استفاده ونه کړي. د دوی په باور هغه وخت چې په اقتصاد کې بحران هم شتون لري، سوداګر او د صنایعو خاوندان د خپلو تعهداتو په ترسره کولو کې له ستونزو سره مخ کېږي (د امانتونو وړاندې کول کمېږي) او بانکونه نه شي کولای چې د رویتي امانتونو بېرته ورکړه پوره کړي. دولت باید له بانکونو سره د مرستې په خاطر د قانون په وسیله له بانکي حساب څخه د مشتریانو اخیستنې محدودې کړي. که په بحراني حالاتو کې دولت له بانکونو سره مرسته وکړي نو بانکونه کولای شي چې له لنډ مهاله مالي منابعو څخه په استفادې کولای شي چې د اقتصاد له مالي منابعو څخه اعظمي استفاده وکړي.

پورتنیو دلایلو او دې نظر ته په کتو چې آلماني بانکداران بانکي عملیات د ځانګړو بانکې ډلو ترمنځ نه وېشي، له دې څخه دا نتیجه اخیستلی شو، چې دوی په بانکي عملیاتو کې د کار په وېش باور نه لري او د انګلیسي بانکدارانو پر خلاف دې مسئلې ته چې هر ډول بانکي عملیاتو دې د ځانګړو بانکونو په تخصص کې وي، باور نه لري.

3- **د تخصص اصل د فرانسوي بانکدارانو له نظره:** فرانسوي بانکدارن د تخصص د اصل له پلوه له انګلیسي بانکدارانو سره په یوه نظر دي. په فرانسه کې هم بانکي عملیات په لنډ مهاله او اوږد مهاله بانکي عملیاتو باندې وېشل شوي دي او د دغې تقسیم بندۍ پر اساس، داسې بانکونه رامنځته شوي دي چې په هره بانکي چاره کې تخصص لري.

**ج- د نظارت اصل:**

لومړۍ نړیوالې جګړې او د 1929 ز کال له پیل نه وړاندې د دولت نظارت د بانکونو په چارو او یا د بانکي سیستم څارنه یوازې د کاغذي پیسو په خپرولو باندې وه او خصوصي بانکونه په ځانکړې توګه هغه بانکونه چې کاغذي پیسې یې نه نشرولې په هغو باندې دولت کنټرول او څارنه نه درلوده. له بانکي عملیاتو څخه سرغړونه د سوداګرۍ د قانون او د مدني قانون په مرسته تعقیبېدله. له 1925 ز کال نه وروسته د بانکي عملیاتو د پراختیا له لارې د نورو اقتصادي فعالیتونو په څېر بانکي فعالیتونه رهبري کړي. په دې برخه کې موږ د دولت د څارنې چاره او په بانکي عملیاتو باندې د دولت د نظارت مختلفې طریقې ارزیابي کوو.

1- په بانکي عملیاتو باندې د نظارت دلایل:

د بانکي عملیاتو څارنه د لاندې دلایلو پر اساس ترسره کېږي:

**الف- د خلکو د سپماوو ملاتړ:** لکه څنګه چې ورته اشاره وشوه په اقتصاد کې بانکونه د مالي واسطې رول لوبوي او د خلکو د سپما په ترلاسه کولو سره د بانکي خدماتو په ترسره کولو لاس پورې کوي.

له هغه ځایه چې د بانکونو د مالي منابعو اړتیاوې د خصوصي برخې له سپماوو څخه تأمینېږي. که چېرته بانکونه دغه منابع په خطر منونکو پانګونو باندې ولګوي، نو امکان لري چې د خلکو امانتونه او یا سپماوې له منځه ولاړې شي. نو په دې خاطر دولت د افرادو د سپماوو د خوندیتوب لپاره د مقرراتو په وضع کولو او د بانکي عملیاتو په نظارت سره بانکونه له پانګونې او یا یې د خطرناکه مالي عملیاتو له ترسره کولو څخه منع کوي.

**ب - د اعتبار او پیسو په نشر باندې نظارت:** لکه څنګه چې په تېرو مخونو کې ورته اشاره وشوه، په جریان کې د پیسو پر حجم او یا د کاغذي پیسو په نشر باندې نظارت د بانکونو پر عملیاتو باندې له ټولو نه پخوانی نظارت دی. له هغه ځایه چې په جریان کې د پیسو د حجم تغییر په ټولنه کې د ټولو اقتصادي فعالیتونو د حجم د تغییر لامل ګرځي او د ټولنې اقتصادي وضعیت تر اغېزې لاندې راولي په جریان کې د پیسو د حجم کنټرول د کاغذي پیسو د نشرولو له لارې په اقتصادونو کې د دولت له اساسي مسئولیتونو څخه دی، د بانکي سیستم په پراختیا سره، بانکي اعتبار په جریان کې د لوبېدلو پیسو لویه برخه تشکیلوي. پردې اساس، د انفلاسیون د رامنځته کېدو د مخنیوي په خاطر د یو اقدام په ترڅ کې دولت باید د کاغذي پیسو پر کنټرول سربېره د بانکونو له خوا د ورکړل شویو اعتباراتو حجم هم کنټرول کړي. د اعتبار د کنټرول میکانېزم په عام شکل له مرکزي بانک سره د بانکونو د قانوني ذخیرې له لارې عمل کوي. غیر دولتي بانکونه پر دې مکلف دي، چې له مرکزي بانک سره ذخیره جوړه کړي. کوم اعتبارات چې دغه بانکونه یې ورکوي عموماً باید د دغې ذخیرې له حجم

سره متناسب وي. په ایران کې د پیسو او اعتبار د قانون پر اساس، ورکړل شوي اعتبارات باید له مرکزي بانک سره قانوني ذخیرې له اووه برابرو څخه زیاته نه وي. د مثال په توګه که چېرته بانک 100 پولي واحده له مرکزي بانک سره ذخیره کړې وي، کولای شي چې د 800 پولي واحدو په اندازه پولي اعتبار ورکړي.

کله چې په ټولنه کې د اعتبار زیاتوالی په اعظمي حد کې وي، مرکزي بانک د قانوني ذخیرې د مقدار په زیاتولو سره د اعتباراتو حجم زیاتوي او کله چې کمېدل مطلوب وي، د ذخیرې په کمولو سره د اعتبار حجم راکموي.

## 2- د بانکونو په نظارت باندې د دولت مختلفې طریقې:

په بانکي عملیاتو باندې د دولت نظارت په دوه ډوله؛ مستقیم او غیر مستقیم ډول ترسره کېږي.

**الف- مستقیم نظارت:** په بانکي عملیاتو باندې د دولت مستقیم نظارت، د بانکونو په ملي کولو سره ترسره کېږي. په دې حالت کې دولت د بانک د اسهامو په اجباري پلورنې سره د بانکي چارو او د خصوصي پانګوالو له ولکې څخه خارجوي. د شلمې پېړۍ په جریان کې د پیسو پر حجم باندې د کامل نظارت لپاره په ډېرو هیوادونو کې د کاغذي پیسو نشرونکي بانکونه ملي شول.

**ب- غیر مستقیم نظارت:** په دې حالت کې دولتونه د پولي او بانکي مقرراتو د وضع کولو او اجراء له لارې بانکونه کنترولوي. په ایران کې په بانکي عملیاتو باندې حاکم مقررات په بانکي عملیاتو پورې مربوط دي، چې د 1339 ز کال د پیسو او اعتبار په دیارلسمه ناسته کې تصویب شوې ده. دغه آیین نامه د بانکي فعالیتونو د حدودو د ټاکلو له طریقه د پانګې حداقل اندازه د جاري شتمنیو او پورونو ترمنځ د نسبت له طریقه یې د خصوصي برخې بانکي عملیات کنترول خو له هغه ځایه چې اوس په ایران کې ټول بانکونه ملي دي، د دولت تر کامل کنترول لاندې دي.

## پنځلسم څپرکی

## مرکزي بانک

لکه څنګه چې په څوارلسم څپرکي کې ورته اشاره وشوه، د هېواد د پولي او بانکي سیستم د اداري او څارنې مسئولیت د دولت په غاړه دی. دولت دغه کار د مرکزي بانک په مرسته او د دغه بانک له لارې ترسره کوي. که څه هم د یو شمېر مرکزي بانکونو له جوړېدو څخه لکه د انګلیس بانک له جوړېدو نه تقریباً څه باندې دوه پېړۍ وخت تېر دی، خو مرکزي بانکداري یې د نننۍ سیستم په شکل له شلمې پېړۍ راپه دېخوا سر راپورته کړی دی. ځینې پخواني مرکزي بانکونه د پولي او بانکي سیستم د بدلون له امله رامنځته شول او د یو شمېر نورو بانکونو جوړول د 1920 ز کال د بروکسل د نړیوال مالي کنفرانس په وړاندیز له دغې نیټې وروسته ترسره شوي دي. پر دې اساس، په ډېرو هېوادونو کې مرکزي بانکداري یو ځوانه پدیده ده. که څه هم د مرکزي بانک اصلي دنده د سوداګریزو بانکونو پر عملیاتو باندې نظارت او په اقتصاد کې د پولي او بانکي سیستم اداره ده، خو پردې سربېره ځینې نور مسئولیتونه هم دغو بانکونو ته سپارل شوي دي. په لاندې توګه به ددغو بانکونو دندې په لنډ ډول وڅېړو.

### د مرکزي بانک دندې:

کومې دندې چې په اوس وخت کې د مرکزي بانکونو له خوا ترسره کېږي، په پخوانیو بانکونو کې د بانکي سیستم د بدلون په ترڅ کې او د عرف په اساس د نویو بانکي مسئولیتونو منل او په ځوانو بانکونو کې د ځانګړو قوانینو په مؤجب مرکزي بانکونو ته حواله شوي دي. دغه دندې په لاندې ډول دي:

### 1- د کاغذي پیسو انحصاري نشرول او د کاغذي پیسو د حجم کنترول:

د کاغذي پیسو نشرول د تل لپاره د دولتونو له انحصاري حقوقو او په دولتونو پورې اړوند امتیازات دي. خو که څه هم دولتونو د فلزي سکو د رامنځته کولو په هکله ډېری وخت دولتونه دغه حق له ځان سره خوندي ساتي، خو د کاغذي پیسو د نشر حق او امتیاز په عمومي شکل بانکونو او په ځانګړې توګه مرکزي بانکونو ته په واک کې ورکوي.

لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه په لومړیو کې د کاغذي پیسو نشرونکي په ډېرو هیوادونو کې له یوه بانک څخه زیات وو، او عموماً ټولو سوداګریزو بانکونو د کاغذي پیسو د نشرولو حق درلود. خو په تدریجي توګه د بانکونو د شمېر په زیاتېدو سره د کاغذي پیسو د کارونې

په زيات استعمال سره د کاغذي پيسو د پېژندلو نامحدود واک او متحدالشکله کاغذي پيسو ته د اړتيا پر بنسټ دولتونو د کاغذي پيسو د نشر دنده يوازې په يوه بانک پورې محدوده کړه. په اوس وخت کې د کاغذي پيسو د نشر بانکونه د مرکزي بانکونو په نامه يادېږي. دغه چاره د دې لامل شوې چې د مرکزي بانکونو قدرت د سوداګريزو بانکو له خوا د وړاندې شويو بانکي اعتباراتو په حجم باندې د کنترول او څارنې د زياتوالي لامل شي. علت دا دی چې د اعتبار حجم په جريان کې د لوېدلو پيسو له حجم سره ارتباط لري. د اقتصادي فعاليتونو د حجم د پراخېدو له امله عموماً دغه پراختيا زياتو پيسو ته د جزئي ورکړو او کوچنيو معاملاتو لپاره يې اړتيا زياته کړې ده. پر دې ترتيب، د مرکزي بانک له خوا د پيسو حجم نه زياتول، اقتصادي پراختيا له ستونزو سره مخ کوي. يوازې د مرکزي بانک له خوا د کاغذي پيسو د نشر انحصاري کول له بلې خوا په جريان کې د لوېدلو پيسو حجم ته د اړتيا وړ انعطاف هم ورکوي.

### 2ـ د اسعاري او فلزي ذخايرو ساتنه او اداره کول:

د ارزښت لرونکو فلزي ذخايرو او د هېواد د اسعاري زېرمو دنده هم مرکزي بانک ته سپارل شوې ده. په کومو هېوادونو کې چې د هغه پولي سيستم فلزي دی او پيسې په دغه فلزاتو باندې بدلېږي، يوازې په هغه صورت کې چې د کاغذي پيسو د نشر مرکزي بانک کافي اندازه ذخاير ولري نو دغه سيستم بيا دوام موندلی شي. له بلې خوا د کاغذي پيسو د نشر مرکزي بانک له خوا د فلزي زېرمو ساتنه اړينه چاره ګڼل کېږي. که له مرکزي بانک پرته بل بانک هم دغه زېرمې وشي ساتلی نو په نړۍ کې د پيسو د حجم د کنترول امکان له منځه ځي. په کومو پولي سيستمونو کې چې خارجي اسعار له سرو زرو سره د تبادلې وړ وي، نو په په هغو هېوادونو کې د پشتيوانې يوه برخه جوړوي. د اسعاري زېرمو د ساتلو دنده هم د ارزښت لرونکو فلزاتو د زېرمې په څېر د مرکزي مسئولين دي او همدغه بانک ته ورسپارل کېږي.

### 3ـ د سوداګريزو بانکونو د نقدي موجوديو او قانوني ذخايرو ساتنه:

د مرکزي بانکونو تغيير او ددغو بانکونو د کاغذي پيسو نشرونکي کېدل، د دې لامل شوي چې سوداګريز بانکونه په نړۍ له دوی څخه د ذخايرو او نقدي موجوديو د ساتونکي بانک په توګه کار واخلي. پردې اساس، ده چې مرکزي بانک د بانکونو د بانک په نامه يادېږي. په يو شمېر هېوادونو کې د دوی د پيسو او اعتبار په اړوند مقرراتو کې سوداګريز بانکونه په دې مکلف شوي دي چې د اعتبار د حجم د کنترول لپاره، يو مقدار نقده له مرکزي بانک سره د مقرراتو او قوانينو د

پیروۍ پر اساس، نه د عرف پر اساس، بلکې د مقرراتو او قوانینو له مخې له مرکزي بانک سره کېږدي، چې دغې ذخیري ته قانوني ذخیره ویل کېږي.

## 4ـ د سوداګریزو بانکونو د مالي اړتیاوو تأمین:

کله چې سوداګریز بانکونه مالي وسایلو ته اړتیا پیدا کوي، نو د خپلو مالي اړتیاوو د تأمین لپاره مرکزي بانک ته مراجعه کوي. په بحراني حالاتو کې چې مرکزي بانک سوداګریزو بانکونو ته کوم پور ورکوي دغه بانکونه د افلاس له خطره ژغوري. له دې ځایه ده چې مرکزي بانک ته وروستی پور ورکوونکی ویل کېږي. سوداګریزو بانکونو ته د مرکزي بانک د پور میکانېزم داسې دی چې د سوداګریزو بانکو د ارزښت لرونکو پاڼو د مجدد تنزیل له لارې ترسره کېږي د مثال په توګه که عزیزي بانک غضنفر بانک ته د پور په مقابل کې برات ترلاسه کړی وی په هغه صورت کې چې عزیزي بانک مالي منابعو ته اړ شي کولای شي چې نوموړې ارزښت لرونکې پاڼې له مرکزي بانک سره تنزیل او د اړتیا وړ مالي منابع ترلاسه کړي. د مرکزي بانک دغه دنده یعنې د سوداګریزو بانک د ارزښت لرونکو پاڼو مجدد تنزیل ددغو بانکونو د مالي وسایلو پر تأمین سربېره د اعتبار د حجم د کنټرولولو مؤثره وسیله هم ده.

کله چې مرکزي بانک د اعتبار د حجم د محدودولو پرېکړه کوي، کولای شي چې د ارزښت لرونکو پاڼو له مجدد تنزیل څخه ډډه وکړي، او د دې پرعکس د ارزښت لرونکو پاڼو په تنزیل لاس پورې کړي. د مرکزي بانک له خوا د سوداګریزو بانکونو د ارزښت لرونکو پاڼو مجدد تنزیل سوداګریزو بانکونو ته د دې اجازه ورکوي چې له خپلو مالي منابعو څخه اعظمي استفاده وکړي. دا په دې سبب ده، چې د مجدد تنزیل د میکانېزم د شتون په صورت کې سوداګریز بانکونه کولای شي چې د خپلو نقدو موجودي حداقل ته ورسوي.

## 5ـ د سوداګریزو بانکونو ترمنځ د حسابونو تصفیه:

د رویتي سپارنو سیستم او د چک په مرسته له دغو سپارنو څخه کار اخیستل د ځینو بانکونو پوروړېتوب نورو بانکونو ته دغه مسئله رامنځته کوي. فرض کړئ چې احمد په عزیزي بانک کې جاري حساب لري. ښاغلي احمد له محمود څخه، او حامد له علي څخه کالي اخیستي دي او د پېرودل شویو کالیو ارزښت په چک اداء کېږي.

په هغه صورت کې چې ښاغلی احمد خپل حساب ته ترلاسه شوی چک خپل حساب ته د ښاغلي حامد د غضنفر بانک، د صادراتو بانک ته او ښاغلي علي د سوداګرۍ بانک ته وارېز کړي، عزیزي بانک به درې پورتنیو بانکونو ته پوروړی وي او په هغه صورت کې چې ښاغلی محمود له

راشد، حامد او علي څخه کالي پېرودلي او د کاليو قېمت په چک باندې د غضنفر بانک په غاړه ورکړي. که ښاغلي راشد هم په عزيزي بانک کې حساب ولري او د چک درې ترلاسه کوونکي، خپل چکونه خپلو حسابونو ته په بانک کې واريز کړي، عزيزي بانک به غضنفر، د صادراتو او سوداگرۍ بانک ته پوروړی شي. د چک په مرسته د ترلاسه شويو معاملاتو حجم ته په کتو په هر هېواد کې هره ورځ کولای شو د سوداگريزو بانکونو د حسابونو اقلام له يو بل سره تصور کړو. د بانکونو حسابونه له نورو بانکونو سره لکه د افرادو حساب په خپلو منځو کې يا د سازمانونو ترمنځ دغه حسابونه تصفيه شي، د مرکزي بانک له تأسيس څخه مخکې د نوموړو حسابونو د تصفيه کولو لپاره سوداگريزو بانکونو خپله د جنسي تبادلې د سازمان په نامه د يوه سازمان په جوړولو اقدام کړی و، له مرکزي بانک سره د سوداگريزو بانکونو د نږدې اړيکو په موجوديت سره د مرکزي بانکونو له تأسيس نه وروسته، د حسابونو د تصفيې يا د بانکونو د بارتر دنده مرکزي بانکونو ته وروسپارل شوه.

## 6ـ خزانه داري، مالي استازيتوب او د دولت د بانکي عملياتو ترسره کول:

مرکزي بانک د دولت بانک دی، له دې ځايه هغه ټولې دندې چې سوداگريز بانکونه يې مشتريانو ته ترسره کوي، مرکزي بانک يې دولت ته ترسره کوي. د دولتي موسساتو د نقدي موجوديو ساتنه، ددغو موسساتو د تعهداتو ورکړه او د اعتبار تأمين (د پور ورکړه) دولت او دولتي موسساتو ته په ځانگړو شرايطو کې د مرکزي بانک د دغې دندې يوه برخه ده. مرکزي بانک ته د دغې دندې د ورسپارلو علت، هغه رابطه ده چې د عمومي ماليې (د دولت عوايد او مصارف)، د پولي او بانکي سيستم ترمنځ شتون لري. په ټولو هېوادونو کې دولت د مالياتو او استقراض له لارې د عوايدو تر ټولو لوی تحصيل کوونکی او په اقتصادي سيستم کې تر ټولو لوی مصرف کوونکی دی. پر دې علت، د دولت عوايد او مصارف چې د هېواد په اقتصاد او پولي او بانکي سيستم باندې د پام وړ اغېزې، د اقتصادي سيستم يوه برخه ده، تأثير پرې وکړي، په مرکزي بانک کې د دولت د بانکي عملياتو تمرکز په خپل ځان پسې د مرکزي پولي او بانکداري سيستم د اداري مسئوليت منځته راوړ. د دغې دندې عدم تمرکز (د دولت بانکداري) د دې لامل گرځي چې د دولت د مالي عملياتو تنوع دغه امکان ايسته کړي.

د اړتيا پر مهال، کله چې د دولت د مالي منابعو تمرکز په مرکزي بانک کې نامطلوبه وي، دولت په مختلفو وسايلو باندې کولاب شي چې خپلې منابع (يا خپل بانکي عمليات) د اقتصاد د سوداگريزو بانکونو ترمنځ خورې (تيتې) کړي.

## 7ـ د پولي او بانکي سياستونو اجراء کول:

د مرکزي بانک تر ټولو مهمه دنده په هېواد کې د پیسو او اعتبار د حجم کنترول دی. د مرکزي بانکونو د تأسیس اصلي موخه د داسې یو سازمان رامنځته کول دي، چې د خصوصې برخې او دولت د اقتصادي موسساتو له اړتیاوو سره سم پیسې او اعتبار همغږی کړي. د مرکزي بانک ټولې دندې داسې ترسره کېږي، چې د پولي او بانکي سیاستونو له لارې بانک وکولای شي دغې موخې ته ورسېږي. پولي او بانکي سیاستونه چې د مرکزي بانک له خوا اجراء کېږي، له پیسو او عتبار څخه د اقتصادي ثبات او تعادل د وسیلې په توګه کار اخلي. د اقتصادي تعادل موخه په اقتصاد کې داسې یو حالت ته وایي چې اقتصادي متحولین په هغه حالت کې د بدلون میلان نه لري. د تعادل او ثبات په شتون کې انفلاسیون، ډیفلاسیون، بحران او وزګارتیا په اقتصاد کې ناممکن وي.

د پولي او بانکي سیاستونو د اجراء لپاره، کوم وسایل چې مرکزي بانک ترې کار اخلي په دوه برخو؛ کمي او کیفي وسایلو باندې وېشل کېږي. کمي وسایل هغه دي چې د پیسو او اعتبار له حجم او مقدار سره تړاو لري. له دغو وسایلو څخه د کار اخیستنې اغېزه د پیسو د عرضې له خوا څرګندېږي. دغه وسایل په دې ډول دي:

### الف- د مجدد تنزیل نرخ:

د مرکزي بانک د مجدد تنزیل نرخ یوه تر ټولو مهمه وسیله ده، چې په مرکزي بانک کې ترېنه د اعتبار د حجم د کنترول لپاره کار اخیستل کېږي. دغه نرخ، له مرکزي بانک څخه د پور اخیستلو د مصرف مشخص کوونکی دی. پر دې اساس، له مرکزي بانک څخه د پور تقاضا تر اغېزې لاندې راولي.

لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه، سوداګریز بانکونه د مالي اړتیاوو پر مهال، له مرکزي بانک سره د ارزښت لرونکو پاڼو په تنزیلولو سره له دغه بانک څخه پور ترلاسه کوي. که د سود نرخ لوړ وي، نو له مرکزي بانک څخه د ترلاسه شوي پور مصرف به ډېر وي، او که د مرکزي بانک د سود نرخ ټیټ وي، نو له مرکزي بانک څخه به ترلاسه شوی پور بې مصرفه پور وي. کله چې له مرکزي بانک څخه د ترلاسه شوي پور مصرف لوړ وي، د سوداګریزو بانکونو تقاضا ټیټه او کله چې دغه مصرف کم وي، د پور لاسته راوړلو لپاره به د سوداګریزو بانکونو تقاضا ډېره وي. په بله وینا، کله

چې د سود نرخ لوړ وي، مالي منابعو ته به د سوداگریزو بانکونو لاسرسی کم وي، او کله چې د سور نرخ ټیټ وي، مالي منابعو ته به لاسرسی زیات وي. له هغه ځایه چې د سوداگریزو بانکونو له خوا ورکړل شوي اعتبارات ددغو بانکونو په مالي منابعو پورې تړاو لري، کله چې د سود نرخ لوړ وي، د مالي منابعو د کموالي په علت د سوداگریزو بانکونو د اعتباراتو حجم محدودیږي او کله چې د سود نرخ ټیټ وي، مالي منابعو ته د لاسرسي په علت، ددغو بانکونو د اعتباراتو حجم زیاتوالی مومي. پر دې اساس، په اقتصاد کې د اعتبار د حجم د کنترول لپاره مرکزي بانک کولای شي چې د سود په دغه نرخ کې نوسان راولي. کله چې د اعتبار د حجم زیاتوالی مطلوب وي، بانک کولای شي چې د اتکائي گټې[42] نرخ راکم کړي او کله چې د اعتبار د حجم کموالی مطلوب وي، بانک د اتکائي گټې نرخ زیاتوي.

### ب- د سوداگریزو بانکونو د قانوني ذخایرو حجم:

د بانکي سپارنو ماهیت او د سوداگریزو بانکونو امکاناتو له هغوی نه په استفادې او له دې وراخوا په اقتصاد کې د اعتبار د حجم او د سپارنو د کاروني ځرنگوالي ته په کتو په ډېرو هېوادونو کې بانکونه قانوناً مؤظف شوي دي، چې د اشخاصو یوه اندازه سپارنې په نقدي شکل له مرکزي بانک سره وساتي. دغې ذخیرې ته په بانکدارۍ کې اصطلاحاً قانوني ذخیره ویل کیږي. ددغو ذخایرو اصلي موخه په یو هېواد کې د پیسو او اعتبار د حجم کنترول دی. د قانوني ذخایرو مقدار کېدای شي، ثابت او یا متغیر وي. په هغه صورت کې چې د قانوني ذخایرو اندازه د سپارنو په پرتله ثابته وي او مرکزي بانک یا بله کنترولوونکې مرجع د حق د تغییر حق ونه لري، نو دغه ذخیره بیا ثابته کېدای شي. ذخیره په هغه صورت کې متغیره ده، چې مرکزي بانک وکړی شي قانوني ذخیره تغییر کړي. کېدای شي دغه ذخیره د بانک له مالي منابعو څخه د ظرفیت د کاروني په اغېز شیندنې سربېره د مرکزي بانک له خوا د پولي او بانکي سیاستونو د اجراء د وسیلې په توگه استعمال شي. د اېران د پیسو او بانکدارۍ د قانون د څوارلسمې مادې د درېیم بند له مخې چې د 1351 لمریز کال د سرطان د میاشتې په اتلسمه نېټه تصویب شوي. د سوداگریزو بانکونو د قانوني ذخایرو حداکثر اندازه رویتي سپارنو، وخت لرونکو سپارنو او سپما ته 30 فیصده او حداقل اندازه 10 فیصده ټاکل شوې ده. د اعظمي او اصغري حد ترمنځ د قانوني ذخایرو د دقیق حد ټاکنه د پیسو او اعتبار د شورا په غاړه ده. د پیسو او اعتبار شورا کولای شي چې موجودو شرایطو او د هېواد اقتصادي موخو ته په کتو ددغو

42- اتکایي گټه هماغه د مجدد تنزیل نرخ دی.

ذخایرو مقدار وټاکي. د دغو ذخایرو اندازه د 1353 لمریز کال د سنبلې د میاشتې د اتمې نېټې د بخشنامې له مخې په لاندې ډول دي:

1- رویتي سپارنې 30%.
2- د سپما سپارنې 15%.
3- وخت لرونکې سپارنې 15%.

دغه ذخایر باید ټول له مرکزي بانک سره د نقدي موجودۍ په شکل وساتل شي. مرکزي بانک سوداګریزو بانکونو ته ددغو قانوني ذخایرو د سپارنې په بدل کې په کال کې یو فیصد سود ورکړي. د قانوني ذخایرو د اندازې زیاتوالی د مالي منابعو د حجم د کموالي او د ذخایرو د اندازې کموالی د سوداګریزو بانکونو د مالي منابعو د حجم د زیاتوالي باعث ګرځي. کله چې په یو اقتصاد کې د پولي او بانکي سیاست موخه د پیسو او اعتبار د حجم انقباض وي، مرکزي بانک کولای شي چې د ذخایرو اندزاه زیاته او کله چې د مرکزي بانک موخه د پیسو او اعتبار د حجم انبساط وي، مرکزي بانک کولای شي چې د قانوني ذخیرې اندازه راکمه کړي.

## ج - د بازار عملیات:

په هغو هېوادونو کې چې مالي او پولي بازارونه (د پانګې او بورس بازار) پکې پرمختللي وي، د آزاد بازار عملیات هم پکې د پیسو او اعتبار د حجم د کنترول یوه وسیله وي. د آزاد بازار عملیات اصطلاحاً د دولتي قرضې د پاڼو پېر و پلور دی، چې د دولت له خوا د مرکزي بانک له لارې په بورس کې ترسره کېږي. کله چې د پیسو او اعتبار د حجم زیاتوالی مطلوب وي، دولت د مالي منابعو د زیاتوالي لپاره له افرادو سره په پیسو باندې د مرکزي بانک له خوا په بورس کې د دولتي پاڼو په بیا پېرودنه اقدام کوي. د دولت دغه عمل په جریان کې د لوېدلو پیسو د حجم د زیاتوالي له لارې د سوداګریزو بانکونو د مالي منابعو د زیاتوالي او د اعتبار د حجم د زیاتوالي لامل ګرځي او په اقتصاد کې د سود نرخ راټیټوي. کله چې د پیسو او اعتبار د حجم کموالی مطلوب وي، دولت د مرکزي بانک له لارې په بورس کې د دولتي قرضې د پاڼو په پېرودلو اقدام کوي. دغه عمل د دې لامل ګرځي چې په جریان کې د پیسو د انقباض له لارې او د سوداګریزو بانکونو د مالي منابعو د انقباض له لارې، د اعتبار ورکړه محدوده شي. په دې حالت کې، د قرضې د پاڼو پلور د اعتبار د حجم په کنترول سربېره د سود نرخ دګټې د زیاتوالي لامل ګرځي.

### د – آني نسبت:

آني نسبت د اعتبار د حجم د کنټرول لپاره یوه نوې کمې وسیله ده. د لومړي ځل لپاره له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د بلژیک هېواد له دغې وسیلې څخه کار واخیست. د آني نسبت موخه، د نقدي موجودیو ترمنځ نسبت یا نقدېدونکې شتمنۍ (جاري) د بانکونو جاري یا رویتي دیونو ته دی. د دغه نسبت مقدار کېدای شي چې سوداګریزو بانکونو ته د اعتبار د حجم د کنټرول یوه وسیله شي. فرض کړئ چې د پولي او بانکي مقرراتو له مخې دغه نسبت $\frac{2}{5}$ وټاکل شي. دا په دې معنا ده چې بانک باید د $\frac{2}{5}$ اندازه خپل جاري دیون په نقده ډول یا د نقدېدونکو شتمنیو په څېر وساتي. اوس د نوموړي نسبت زیاتوالی د بانک د راکدې ذخیرې مقدار اضافه کوي او د بانک د اعتبار د ورکړې قدرت راکموي. د آني نسبت کموالی د راکدو ذخایرو مقدار راکموي او د بانک د اعتبار د ورکړې قدرت زیاتوي. پر دې اساس، د اعتبار د حجم د انقباض لپاره مرکزي بانک کولای شي چې پورتنی نسبت زیات او د اعتبار د حجم د انبساط لپاره مرکزي بانک کولای شي چې پورتنی نسبت راکم کړي.

لکه څنګه چې مو ولیدل، له کمې وسایلو څخه په استفادې، کولای شي چې یوازې د اعتبار په حجم یا په جریان کې د لوېدلو پیسو په حجم اغېزه وکړي او نه شي کولای چې له کیفي پلوه په اقتصاد کې د اعتبار د تخصیص څرنګوالی تر اغېزې لاندې راولي. کیفي وسایل هغه وسایل دي، چې له هغو څخه کار اخیستل د مرکزي بانک له خوا د ځینو اقتصادي فعالیتونو د تشویق او د ځینو فعالیتونو د محدودېدو لامل وګرځي او د اعتبار په حجم باندې کومه اغېزه نه کوي.

### په لنډه توګه کیفي وسایل په دې ډول دي:

د اعتبار جیره بندي یا د سوداګریزو بانکونو د مالي قانوني وېش، د مصرفي اعتباراتو کنټرول، وارداتي (متفاوتو) کالیو ته د پیشکي ورکړې لړې اندازې ټاکل، د خاصو بانکي ضمانت پاڼو محدودیت، ځانګړو فعالیتونو ته د اعتبار د ورکړې محدودول ځینو صنایعو ته له مجدد تنزیل نه د ځان ساتنې په خاطر ده.

# شپاړسم څپرکی

## انفلاسیون

انفلاسیون چې زمونږ د اوسني عصر تر ټولو مهمه اقتصادي ستونزه ده، د قېمتونو په عمومي سطحه کې د پام وړ دوامداره زیاتوالی دي. دغه پدیده به پخوا هغه وخت رامنځته کېدله چې مجموعي تقاضا به د اقتصاد له تولیدي بالقوه قدرت څخه زیاتېدله، خو د صنعتي هېوادونو وروستیو تجربو ښودلې ده چې اوس انفلاسیون د کالیو په پرتله د پیسو په زیاتوالي سربېره بل شی دی. له 1950 ز لسیزې راپدېخوا د قېمتونو دوامداره زیاتوالي غالباً د وزګارتیا په لوړه سطحه کې د ظرفیت د مازاد د دورو په وخت کې وجود درلود، او کله چې د دې امکان نه وي چې مجموعي تقاضا له حده زیاته وګڼو، وجود یې درلود. عموماً انفلاسیون د ده شدت او د ده د رامنځته کوونکو عواملو له مخې طبقه بندي کېږي. د قېمتونو د سطحې ورو ورو لوړېدو ته «ځښېدونکي انفلاسیون» وایي، په داسې حال کې چې د قېمتونو چټک زیاتوالي ته «ټوپ وهونکی انفلاسیون» وایي. د انفلاسیون د منځته راوړونکو عواملو له مخې انفلاسیون په درې ډلو: د تقاضا انفلاسیون، د تقاضا د تغییر انفلاسیون او د مصرف په انفلاسیون باندې وېشل کېږي. د تقاضا انفلاسیون هغه وخت رامنځته کېږي، چې مجموعي تقاضا د کامل استخدام د سطحې له تولید څخه زیاته وي. د تقاضا د تغییر انفلاسیون هغه وخت رامنځته کېږي، چې منابع نه شي کولای په آسانۍ سره د تقاضا د جوړښت له تغییر سره همغږي شي او د مصرف انفلاسیون هغه وخت رامنځته کېږي چې ځینې ډلې له انحصاري قدرت څخه په استفادې مزدونه او قېمتونه په اقتصاد کې لوړ کړي. په لاندیني بحث کې، مونږ د تقاضا او د مصرف انفلاسیون تر څېړنې لاندې نیسو:

### د تقاضا انفلاسیون:

کلاسیک اقتصادپوهان په دې باور وو، چې د قېمتونو سطحه په مستقیم ډول او د پیسو له حجم سره په متناسبه توګه تړاو لري. کله چې د پیسو حجم زیاتوالی مومي، قېمتونه زیاتېږي او د پیسو د حجم درول د قېمتونو د ثبات لامل ګرځي. د انفلاسیون نرخ هم د پیسو د حجم د زیاتوالي په نرخ پورې تړاو لري، یعنې که چېرته په کال کې د پیسو حجم 3 فیصده زیات شي، قېمتونه به هم ورسره 3 فیصده زیات شي. خو دغه نظریه دا خبره نه کوي چې څرنګه په جریان کې لوېدلې پیسې د پولي مخارجو او مصارفو د زیاتوالي باعث کېږي، او څه ډول د تولید د اندازې په ثابت پاته کېدو سره قېمتونه زیاتوي. وېکسل کلاسیک اقتصاد پوه وایي؛ چې که چېرته نوې پیسې اقتصاد ته

ورننوځي مثلاً د بانکي پور په توګه شرکتونو ته د پانګونې د مالي تأمین لپاره له جاري سپما څخه زیاتې وي، انفلاسیون رامنځته کېږي. په دې حالت کې، په اقتصاد کې مجموعي تقاضا زیاتېږي او د کالیو د مجموعي عرضې په نه زیاتوالي سره مثلاً په دې خاطر چې اقتصاد د کامل استخدام په حال کې دي، د کالیو قېمت زیاتوي. او له بلې خوا مصرف کوونکي د قېمتونو د زیاتوالي په خاطر لږ مصرف ته مجبوروي، خو د قېمت زیاتوالی په خپل سر مجموعي تقاضا نه کموي، ځکه چې وروسته له یوې مودې پولي عواید له قېمتونو سره په متناسب شکل زیاتوالی مومي او مصرف کوونکي بېرته پخواني حالت ته بیایي. دوی په پانګونې سره د کالیو د محدودې عرضې د لاسته راوړلو لپاره سیالي پیلوي. که بانکونه پانګوالو ته نوی پور ورکړي، دغه چټک حرکت دوام مومي. له بلې خوا که بانکونه د اعتبار زیاتوالی ودروي، پانګونه لا زیاته ودرېږي او انفلاسیون کنټرولېدلی شي.

د کېنز نظریه، د وېکسل د نظریې اصلاح شوې بڼه ده. فرض کړئ چې اقتصاد د کامل استخدام په حال کې دی او پانګونې ته تقاضا زیاتېږي. دا په دې معنا ده چې د کالیو مجموعي تقاضا له موجودې عرضې څخه زیاته ده، نو قېمتونه زیاتېږي. له هغه ځایه چې د مصرف کوونکي تقاضا د هغه په حقیقي عاید پورې تړاو لري او دغه حقیقي عاید د قېمتونو په زیاتوالي سره نه کمېږي، ځکه چې د کالیو پلورل په لوړ قېمت سره پولي عواید په هماغه اندازه زیاتوي، نو د قېمت زیاتوالی اضافي تقاضا له منځه نه شي وړی. خو کېنز زیاتوي چې هر اقتصاد، که چېرته د پیسو عرضه ثابته وي هم کېدای شي، د قېمتونو عمومي د سطحې زیاتوالی د پیسو معامله Mt زیاتوي او د سود نرخ لوړوي چې دا خپله د پانګونې تقاضا کموي او د انفلاسیون فشار ورو کوي، خو له منځه یې نه شي وړی. علت دا دی چې د ګټې زیاتوالی د سفته بازۍ تقاضا Ms کموي او د معامله کېدو لپاره پیسې په تقاضا کې د جذبولو لپاره آزادوي چې دا په خپله د قېمت د زیاتوالي باعث ګرځي. په تحلیل کې د دولت ګډون، دغه بحث نو هم واضح کوي.

که دولتي مصارف، د مالیاتو له زیاتېدو پرته، زیات شي، دغه اضافي مصرف کېدای شي په دوه لاندې شکلونو سره له مالي پلوه تأمین شي:

الف-له خلکو نه په پور اخیستنې (د قرضې د پاڼو په خپرولو).

ب –د اضافي پیسو په نشرولو یا له بانکونو څخه په پور اخیستنې سره.

د وېکسل په نظر مالي تأمین د قرضې پاڼو د نشرولو له لارې انفلاسیون زیاتوونکی نه دی او د اضافي مصرف مالي تأمین له بانکونو څخه په پور اخیستو یا د پیسو نشرول دي، چې د قېمتونو د عمومي سطحې د زیاتوالي باعث ګرځي. په دې حالت کې د دولت اضافي تقاضا د خصوصي

برخې د تقاضا کموالی نه جبرانوي. پر دې اساس، د تقاضا مازاد رامنځته کېږي. خو په داسې حال کې چې دولت له خلکو نه پور اخلي، د پانګې په بازار کې له خصوصي پانګوالو سره سیالي کوي چې دا د ګټې د نرخ د کموالي باعث ګرځي او د خصوصي برخې تقاضا د دولتي برخې د تقاضا د زیاتېدو په اندازه راکموي. کېنز باور لري چې د دولت د مالي تأمین دواړه بنې انفلاسیون رامنځته کوونکې دي. په لومړي حالت کې د سفته بازۍ تقاضا د ګټې د نرخ زیاتوالی مهارروي، په دوهم حالت کې، د ګټې نرخ هرومرو زیاتوالی نه مومي او دغه حالت ډېر انفلاسیون رامنځته کوونکی وي. که د اضافي مصارفو مالي تأمین د پیسو په نشرولو یا د بانکونو په پورونو سره دوام ومومي، انفلاسیون به له محدودیت څخه پرته دوام وکړي.

په هر حال، کېنز او وېکسل دواړه باور لري چې د مجموعي تقاضا زیاتوالی د اقتصاد د تولید په ظرفیت کې، چې کامل استخدام پکې حاکم وي، انفلاسیون رامنځته کوي. غالباً د کېنز نظریه د تقاضا د انفلاسیون په هکله «د انفلاسیوني سوړې (شګاف)» له مخې څرګندېږي. کولای شو چې دغه مسئله د لاندې ګراف په کارولو سره په لاندې توګه وښیو.




«16 – 1 شکل»

فرض کړئ چې (G + I) یعنې پانگونه په دولتي مصارفو سربېره زیاتوالی مومي او فرض کړئ چې د مصارفو د قیمتونو له عمومي سطحې څخه مستقل دی، یعنې د قیمت تغییرات د مصارفو په اندازه باندې اغیزه نه کوي. د عاید په هره ممکنه سطحه کې مجموعي مصارف د C + I + G کرښې په مرسته ښودل شوي دي. که چېرته تولید له محدودیت سره لاس و گرېوان نه وي، عاید Y1 ته زیاتوالی مومي او دغه عاید د B په نقطه کې له مجموعي مخارجو سره برابرېږي. خو فرض کړئ، چې تولید د کامل استخدام په سطحه کې $Y_{FE}$ وي، حقیقي عاید Y0 ته نه شي زیاتېدلی. که په $Y_{FE}$ کې مجموعي تقاضا (C + I + G) له مجموعي تولید څخه زیاته وي، یو انفلاسیوني سوړه (شگاف) رامنځته کېږي (CB) دغه انفلاسیوني سوړه د قیمتونو د زیاتوالي باعث گرځي او نظر زمونږ فرضیاتو ته د قیمت زیاتوالی، انفلاسیوني سوړه له منځه نه وړي. انفلاسیون دوام کوي، خو داچې د قیمت زیاتوالی د C + I + C په کموالي او د BC انفلاسیوني سوړه له منځه یوسي. که انفلاسیوني سوړه د BC په اندازه شتون ولري او قیمتونه زیات شي، د هغه اغېزه په حقیقي تقاضا باندې څه ډول ده؟

1- که په جریان کې د لوېدلو پیسو حجم ثابت وي او یا د قیمت د لوړېدو څخه لږ زیاتوالی ومومي، د سود نرخ زیاتېږي او پانگونه به کمه شي.
2- د حقیقي عوایدو وېش تغییر کوي. دغه تغییر د هغو کسانو په تاوان دی، چې ثابت عواید لري، یعنې د حقوقو ترلاسه کوونکو په تاوان، چې دا د دغې ډلې مصرف راکموي.
3- که بهرنۍ سوداگري شتون ولري، داخلي لوړ قیمتونه، واردات زیاتوي او صادرات کموي.
4- په مجموعي توگه د قیمتونو زیاتوالی مصرف راکموي.
5- که مالیات له قیمتونو څخه چټک زیاتوالی پیدا کړي (په زیاتېدونکو عوایدو باندې د مالیاتو سیستم ډېر زیاتوالی مومي، ځکه چې مصرفېدونکی عاید راټیټوي.
6- که د قیمتونو زیاتوالی لامل شي، چې خلک اټکل وکړي چې په راتلونکي کې قیمتونه نور هم زیاتېږي، مصرفوونکي د دوام لرونکو شیانو پېرودلو ته زیاتوالی ورکوي (د مثال په توگه، لکه په ایران کې د خلکو هجوم د دوام لرونکو کالیو پېرودلو لکه د غالی (قالینې) اخیستو ته یا داسې نورو کالیو لکه سرو زرو د شتمنیو د خرید قدرت د کمولو د مخنیوي لپاره)، پانگوال خپلو پانگونو ته چټکتیا ورکوي او دا د انفلاسیوني سوړې د زیاتېدو باعث گرځي. که سفته بازان هم د خپلې موجودي گودام زیات کړي (مثلاً د کالیو احتکار چې په راتلونکي کې یې په لوړه بیه پلوري) دا هم د قیمتونو د ډېر لوړېدو باعث گرځي. له بلې خوا که د قیمتونو زیاتوالی مؤقتي اټکل شي، دوام لرونکو مصرفي کالیو ته تقاضا او پانگونه وروسته اچول کېږي، د گودامونو موجودي ټیټه په پام کې نیول کېږي او د انفلاسیون سوړه کموالی مومي. که څه هم د اضافي

تقاضا انفلاسیون ممکن د پانگوني د رونق په بهیر کې په آسانۍ سره پېښ شي، سره له دې ډېری یې د دولت له مصارفو، په ځانګړي ډول په جگړې او نظامي مسایلو پورې اړوند مصارف، د دولت عمراني پانگوني د هېواد په وروسته پاته سیمو کې چې د چټکې اقتصادي ودې لپاره ترسره کېږي، انفلاسیوني فشار رامنځته کوي. د تقاضا د انفلاسیون په اړه د بحث له پای ته رسولو نه دمخه اړینه ده چې وویل شي، چې د خلکو تمه او راتلونکي ته د دوی د نظر اټکل د انفلاسیون په تشدید او کموالي کې اغېزه لري. که چېرته کورنۍ او شرکتونه تمه ولري چې قېمتونه ورو ورو، په دوامداره توګه او په زیاته اندازه لوړېږي، نو د خپلو مخارجو سطحه زیاتوي او د کالیو د قېمت له لوړېدو څخه مخکې د کالیو په پېر و پلور اقدام کوي. د انفلاسیون اټکل پر دې اساس، ممکن دی چې په خپل ذات کې د انفلاسیون د رامنځته کېدو یوه مهمه منبع وي. تولیدي واحدونه د ساختماني مصارفو د زیاتوالي په اټکل سره له وخته مخکې د ساختماني چارو په ترسره کولو کار کوي او د خپلو موجودیو حجم زیاتوي. مصرفوونکي خپلې سپماوې کموي او د کالیو په خرید اقدام کوي. دغه ټول مجموعي تقاضا زیاتوي، عدم تعادل رامنځته او قېمتونه لوړوي.

**د تقاضا د انفلاسیون کنترول:**

له هغه ځایه چې عموماً د دولت د جگړې د دورې مصارف د نویو پیسو د رامنځته کولو له لارې تأمینېږي، واضح ده چې ولې ډېری وخت جگړه ییز انفلاسیون ته د پیسو د عرضې په پراختیا پورې تړاو ورکول کېږي. آیا کولای شو چې جگړه ییز انفلاسیون د پیسو له عرضې نه د ډډه کولو په مرسته مهار کړو؟ مسئله دا ده چې عموماً د جگړې پر مهال نه شو کولای چې ټول جگړه ییز مصارف له خلکو نه د پورونو په اخیستلو (د قرضې د پاڼو په نشرولو) سره تأمین کړو. پر دې اساس، دولت مجبور دی چې نوې پیسې نشر کړي. د تقاضا انفلاسیون د کنترول لپاره یوه مناسبه لاره د مالیاتو زیاتوالی دی چې تر یوه حده پورې د مصرف کوونکو تقاضا راکموي. خو ډېره لوړه مالیه هم د دغه کار انګېزه راکموي او مالیه ورکوونکي دې ته هڅوي چې له قانوني او غیر قانوني لارو څخه په استفادې د مالیاتو له ورکړې ډډه وکړي. په مجموعي ډول، د جگړې پر مهال تر ټولو ښه اقتصادي سیاست د انفلاسیوني سوړې لرې کول نه دي، بلکې هغه سیاست دی چې د هغه د کمولو لپاره د مالیاتو له لارې، تر هغه ځایه پورې چې له اقتصادي او سیاسي پلوه ممکن وي، هڅه وکړي یا دا چې د مستقیم کنترول له لارې د انفلاسیون سوړه هڅه هم وکړي. مستقیم کنترول په لاندې ډول دی:

الف- د مصرف کوونکي د تقاضا کموالی، مستقیماً د جیره بندی له لارې د غیر ضروري توکو په تولید کې د موادو د نه کارونې حکم، د پانګونې مستقیم کنټرول او داسې نور...

ب – په اضافي تقاضا باندې حمله، چې د مزد او قیمت د اعظمي حد د ټاکلو له لارې ممکن ده. کالبرایت باور لري چې په امریکا کې د جګړې پر مهال د انفلاسیون د کنټرول لپاره په مشترک ډول د مالیاتو د زیاتوالي جیره بندي د تولید له کنټرول او د قیمتونو له سیاست څخه کار واخیستل شو. تر ټولو بریالي سیاستونه په کار واچول شول، ځکه چې له دغو وسایلو څخه د یوې وسیلې کارولو سمه نتیجه منځته نه شو راوړلی. د جګړې پر مهال د انفلاسیون بل اړخ چې له یاده یې نه شو ویستلی، هغه دا دی چې د جګړې پر مهال د دولت ډېره زیاته تقاضا، ټولو کالیو ته د تقاضا زیاتوالی نه دی. د دولت تقاضا په یوې ځانګړې برخه کې راټولېږي او ډېری وخت څو لومړنیو او اصلي موادو ته چې د عرضې کشش (ارتجاعیت) یې ډېر ټیټ دی، په هغو پورې تړاو لري. د مثال په توګه، که حتی مالي او پولي کنټرول د قیمتونو د عمومي سطحې لپاره په کار واچول شي، ددغو موادو قیمت ډېر ژر زیاتېږي او پر دې اساس، د قیمتونو په متوسط ثبات سره، په نسبي قیمتونو کې د پام وړ بدلونونه رامنځته کېږي. دا په خپل ذات کې دغه تغییر او باد راوړي عواید ځینو خاصو ډلو ته منځته راوړي او ځینې نور له له نېستۍ او فقر سره لاس و ګرېوان کوي. په مجموعي توګه ویلی شو چې په لنډ مهال کې د قیمتونو د سیستم له لارې د تولید او مصرف تغییر ممکن نه دی او په دې اړه کوشش کول ځینو کسانو ته د باد راوړونکو عوایدو او ځینو نورو ته د سختۍ او نېستۍ باعث ګرځي.

**د مصرف انفلاسیون:**

عموماً په دې اړه تصور دا دی چې د مصرف انفلاسیون د کارګري اتحادیو له خوا د مزد د زیاتوالي له فشار څخه رامنځته کېږي. داسې فرض کېږي، چې په نویو اقتصادونو کې د مزد نرخ د بازار د ځواکونو په مرسته ټاکل کېږي او د تعادل نرخ موجود نه وي. پر دې اساس، کله چې د کارګرو تقاضا د هغه له عرضې څخه زیاته وي، مزد نه زیاتېږي. تر ټولو مهمه مسئله دا ده چې غالباً مزد د مازاد د شتون په حالت کې نه کمېږي. پر دې اساس، د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې د مزد زیاتوالی هرو مرو کارګرو ته له اضافي تقاضا څخه رامنځته کېږي، کارګري اتحادیې حتی د عرضې د مازاد په حالت کې هم کولای شي چې مزدونه زیات کړي. فرض کړئ چې ډېری کارفرمایان (متصدیان) د مزدونو زیاتولو ته مجبورېږي. که د مزد د دغه زیاتوالي د ګټورتیا له زیاتوالي څخه چټک وي، د تولید د مصرف د زیاتوالي باعث ګرځي او په عادي شرایطو کې د کالیو د عرضې تمایل په مخکنیو قیمتونو کې راکموي. د عرضې کموالی د تقاضا له برابر کموالي سره

یو ځای نه وي او پر دې اساس قېمتونه زیاتېږي. تر هغه وخته پورې چې قېمتونه د مزد له زیاتوالي سره په متناسبه توگه زیاتوالي مومي د کالیو د عرضې کموالی او د قېمت د زیاتوالي تمایل به وجود ولري او دا تر هر هغه وخته پورې چې د مزد پخواني نسبت له قېمت سره مساوي شي، دوام به ولري. پورتنۍ مسئله په لاندې توگه استدلال کېږي. که فرض کړو چې:

الف- کارفرمایان قېمت او د تولید مقدار په داسې ډول ټاکي چې دوامداره توگه د دوی سود په لنډ مهال کې اعظمي شي.

ب- د کارگر د محصول نهایي عواید هرې تولیدي موسسې ته د استخدام په زیاتوالي سره کمېږي.

دغه فر ضیات په دې معنا دي چې که د مزد نرخ زیات شي، کارفرمایان به تر هغه وخته پورې چې قېمتونه په هماغه نسبت زیات شي، د پخوا په اندازه به کارگر استخدام نه کړي.

حقیقي مزد $= w =$ ثابت مقدار $= \frac{\text{پولي مزد}}{\text{د قېمتونو عمومي سطحه}}$ دغه نتیجه گیري چې د مجموعي تولید تقاضا له خپل تولید څخه لږ کمېږي او په نتیجه کې هرومرو قېمتونه زیاتوالی نه مومي، فرضوي:

الف- د حقیقي عوایدو د مصرف نهایي میلان له یو څخه کم دی (یعنې د عوایدو وروستی واحد مجموعاً نه دی مصرف شوی بلکې یوه اندازه یې سپما کېږي).

ب- په جاري قېمتونو او مزد کې هر ډول بدلون د پانگوالو انتظارات له مزد او آني قېمتونو څخه په هماغه نسبت بدلوي. خو د قېمت د تغییر د اجتماعي اغېزې مسئله په مجموعي تقاضا باندې او د پیسو د حجم عدم توانایي په بسط او زیاتوالي کې په هماغه نسبت باندې تغییروي. کوم شی چې عملاً واقع کېږي هغه دا دی، چې د مزد زیاتوالی د دې لامل گرځي چې کارفرمایان زیات شوی مصرف د لوړ قېمت له لارې مصرف کوونکو ته ولېږدوي، نه داسې چې په لومړي سر کې د کالیو عرضه راکمه کړي او پرېږدي چې د بازار ځواکونه قېمت پورته کړي. حتی که د کالیو قېمت د تقاضا په عرضې باندې له عکس العمل څخه زیات شي، دغه نتیجه گیري چې قېمتونه د مزد د نسبت له زیاتوالي سره زیات شي، سمه ده. په دغه حالت کې، انفلاسیون له اضافي تقاضا پرته رامنځته کېږي او حتی په داسې حالت کې چې وزگارتیا شتون ولري هم منځته راځي. په دغه حالت کې انفلاسیون د مزد زیاتوالی کارگر ته د اضافي تقاضا له شتون پرته رامنځته کېږي. خو په پورتني بحث باندې دوه نیوکې شوې دي:

لومړی، دا چې امکان نه لري چې مزدونه دې کارگر ته د اضافي تقاضا له شتون پرته زيات نه شي، د کار بازار د کامل رقابت بازار په څېر عمل وکړي او انفلاسيون يوازې د تقاضا د انفلاسيون په شکل جوتېږي. د دغه نظر له مخې کارگر يوازې په هغه وخت کې اضافي مزد لاسته راوړي، چې د انساني ځواک واقعي کمبود شتون ولري. دغه نيوکه په تجربوي شواهدو نه حمايه کېږي. دوهم دا چې، د قېمتونو او مزد په سطحه کې هر ډول زياتوالی، يوازې په هغو حالاتو کې چې د پيسو د عرضې د متناسب بسط په پراخېدو سره يو ځای وي، کاليو ته مجموعي تقاضا کموي. د تقاضا دغه کموالی وزگارتيا منځته راوړي او د وزگارتيا پراختيا د مزد انفلاسيون زياتوالی درووي. دغه بحث د انفلاسيون په اغېزو باندې د گټې د نرخ له لارې ټينگار کوي.

که څه هم پورتنی بحث له تيوريکي پلوه سم دی، خو په عملي مورد کې يې شک دی. په لومړۍ درجه کې پوښتلی شو، چې آيا له څنېډونکي يا ورو انفلاسيون څخه په تقاضا کې رامنځته شوی کمی به د پام وړ وي (حتی که د پيسو عرضه پراختيا ونه مومي). دوهم، حتی که د تقاضا کمی وزگارتيا رامنځته کړي، د وزگارتيا سطحه د مزد د انفلاسيوني زياتوالي د له منځه وړلو لپاره په احتمالي توگه ډېر لوړ وي. پر دې اساس، حتی که انفلاسيون وکولای شي چې په خپل سر له منځه ولاړ شي دغه منډه د ډېر اوږد وخت تېرېدو ته اړتيا لري، چې په دې حالت کې ممکن ده چې د انفلاسيون شدت او د اړتيا وړ وزگاتيا له اجتماعي پلوه د منلو وړ نه وي. غالباً په دې خبره باندې بحث کېږي چې د مصرف د انفلاسيون کنترول په مالي او پولي سياستونو باندې د تقاضا د انفلاسيون له کنترول څخه ډېر ستونزمن دی. ځکه د هغه د مخنيوي لپاره، مجموعي تقاضا بايد په کاملاً زياتې اندازې سره راکمه شي او د پام وړ وزگارتيا رامنځته شي چې کارگري اتحاديو ته د منلو وړ نه دي او غالباً کارفرمايان خپله هم د گټورتيا د زياتوالي له اندازې څخه د مزد لوړوالی غواړي. په هر حال، د نرخ دا ډول کنترول اقتصادي وده په شدت سره راکموي. غالباً د مصرف انفلاسيون د بازارونو له غير کامل والي څخه د کارگر د عرضې او يا تقاضا په اړخ کې تړاو لري. د تقاضا په اړخ کې، کله چې بازار په کامل رقابتي حالت کې وي، کارگرو ته ورکړل شوی حقيقي مزد د تعادل په حالت کې د هغوی له نهايي گټورتيا سره مساوي دی. خو که چېرته بازار د ناخالصې تقاضا په اړخ کې وي، که شرکتونه انحصاري قدرت ولري، کارگرو ته ورکړل شوی پولي مزد به د کارگرو د محصول له نهايي عايد سره مساوي وي، چې غالباً د محصول دغه نهايي عايد به د شرکت د توليد شويو کاليو له قېمت څخه لږ وي. پر دې اساس، د ناقص رقابت په حال کې کارگرو ته ورکړل شوی مزد به د کارگرو له نهايي محصول څخه کم وي. په دغه حالت کې به توليد کم شي او د عرضې د کموالي په خاطر قېمتونه زياتوالی مومي. په صنعتي هېوادونو کې کارگري اتحاديې ډېر قدرت لري او د کارگرو د

عرضې انحصار په واک کې لري. د کارگرو اتحادیې هڅه کوي چې د کارگرو پولي مزد زیات کړي. کوم کارفرمایان چې د اتحادیو له انحصاري قدرت سره مخ دي، باید دغه مسئله ومني، کله چې د مزد زیاتوالی د گټورتیا له زیاتېدو څخه زیات وي، د تولید مصرف زیاتوالي مومي. د قېمت د زیاتوالي له امله د مصرف دغه زیاتوالی مصرف کوونکي ته انتقالېږي او انفلاسیون رامنځته کېږي.

## د اضافي فیصدۍ انفلاسیون:

فرض کړئ چې ټولې اقتصادي موسسې د خپل کالیو قېمت د موادو او مستقیم کار فیصدۍ په زیاتولو سره ټاکي (چې دغه د مصرف فیصدي په پیسو سربېره سود ته هم شاملېږي). پر دې سربېره، فرض کړئ چې گټورتیا تغییر نه کوي او کارگر هم د مصرفي کالیو د قېمت د شاخص د زیاتوالي په اندازه اضافي مزد ترلاسه کوي، یعنې د کار قېمت هم د مصرفي کالیو د قېمت په زیاتوالي په فیصدۍ سره ټاکل کېږي. پر دې اساس، په دغه مودل کې، کومې فیصدۍ چې کارگر او شرکتونه یې انتخابوي، کېدای شي چې قېمت په خپل حال پاتې شي او یا زیاتی او کمی پکې راشي. فرض کړئ، چې د في ساعت 200 پولي واحده مزد په زیاتوالي سره د قېمتونو شاخص 104 پولي واحدو ته رسېدلی، په دې حالت کې، کارگر د مزد د زیاتوالي غوښتنه کوي او مزد 208 پولي واحدو ته پورته کېږي. دا په خپل وار سره شاخص 108,2 وو ته زیاتوي او مزد 216,4 پولي واحدو ته پورته کېږي. د مزد او قېمت دغه صعودي مسیر همداسې دوام مومي. له هغه ځایه چې په یو اقتصاد کې د شرکتونو ترمنځ تبادله ترسره کېږي، د دغه وضعیت شتون له یو شرکت څخه بل شرکت ته لېږدول کېږي. که یو شرکت د خپلو کالیو قېمت زیات کړي، نور شرکتونه به هم دغه کار ترسره کړي، چې په خپل وار سره د قېمتونو د شاخص د لوړېدو او د مزدونو د بیا زیاتوالي سبب کېږي. یوازې د گټورتیا زیاتوالی دی چې د اضافي فیصدۍ انفلاسیون کنترولوي. کالیو ته د مجموعي تقاضا کموالی به تر یوه حده پورې د اضافي فیصدۍ سطحه چې پلورونکی ترې کار اخلي، راکمه کړي. کالیو ته د مجموعي تقاضا د کموالي اغېزه هم د استخدام د کموالي له لارې د مزدونو زیاتوالي ته د کارگري اتحادیو تقاضا راکموي.

## د انفلاسیون اغېزې:

**الف- قېمتونه او د ژوند مصارف:** انفلاسیون او د قېمتونو د سطحې زیاتوالی، د ژوند مصارف لوړوي او د خلکو د ژوند معیار راټیټوي. د هغو کسانو د خرید قدرت کمېږي، چې عاید یې د قېمتونو له سطحې څخه په کمه اندازه زیاتېږي، او کوم کالي او خدمات چې یې مصرفول د دوی په اندازه کې کموالی راځي.

**ب- د بیمتونو زیاتوالی او د عاید او ثروت وېش:** انفلاسیون په اقتصاد کې د عاید وېش تر اغېزې لاندې راولي کله چې قېمتونه زیاتېږي، پولي عواید هم ورسره کمېږي، خو په مساوي توگه نه او له استثناء پرته. د ځینو عواید د قېمتونو له زیاتوالي څخه زیات او د ځینو لږ زیاتوالی مومي او ډله ییز پولي عاید تغییر نه کوي. دا چې د کومې دلې عواید له قېمتونو څخه چټک او د کومې ډلې عواید د قېمتونو له زیاتوالي څخه ورو زیاتوالی مومي د انفلاسیون په علت پورې تړاو لري. که د انفلاسیون علت او د انفلاسیون عامل اضافي تقاضا وي، نو په لومړي سر کې د قېمتونو زیاتوالی د شرکتونو عواید او هغه کسان چې سود ترلاسه کوي لوړوي او بیا ممکن مزدونه زیات کړي. که د انفلاسیون رامنځته کوونکی عامل د مصرف زیاتوالی وي، په لومړي سر کې د مزد اخیستونکو عاید زیاتېږي. د ثابت عاید لرونکو کسانو عاید (لکه د دولت مامورین) د دوی عواید عموماً د قېمتونو د زیاتوالي پر وخت تغییر نه کوي، په اقتصاد کې د ثروت د وېش تغییر د انفلاسیون په نتیجه کې پور اخیستونکي او پور ورکوونکي تر اغېزې لاندې راولي. کله چې د پیسو ارزښت راټیټېږي (د قېمت د زیاتوالي په نتیجه کې) د دائنینو ثروت او هغه کسان چې خپلې پیسې په پور ورکوي د هغوی ثروت کمېږي. ځکه چې دوی د خرید زیات قدرت په پور ورکړی او بیا د ورکړې پر مهال د خرید لږ قدرت ترلاسه کوي، پوروړي کسان که د انفلاسیون پر وخت، خپل پورونه خلاص کړي، گټه کوي. په دې حالت کې، انفلاسیون د ټولنې د ثروت یوه برخه له پور ورکوونکو او دائنینو څخه پوروړو ته انتقالوي. په صنعتي هېوادونو کې چې دولت اصلي پور اخیستونکی او کورنۍ پور ورکوونکې دي، انفلاسیون د کورنیو د ثروت یوه برخه دولت ته انتقالوي.

**ج- د قېمت او سپما زیاتوالی:** کله چې قېمتونه زیاتېږي، خلک له انفلاسیون څخه د خلاصېدو بېلابېلې لارې لټوي. کله چې دا تمه وشي چې انفلاسیون به دوامداره شي، د پیسو پوروړیتوب او د غیر پولي شتمنیو مالک اوسېدل گټور او د پیسو مالک اوسېدل او د پیسو پور ورکول گټه نه لري، یعنې په تاوان دي. پر دې اساس، امکان لري چې د انفلاسیون په نتیجه کې سپما او د نقدي موجودیو ساتنه کموالی وومي، چې دا په خپل ذات کې د دې پر علت چې د کالیو او خدماتو تقاضا زیاتوي، احتمالاً انفلاسیون چټک کوي. که خلک د سپما پر ځای، خپلې پیسې په مصرفي کالیو ولگوي په دې حالت کې باید ټولې پانگونې له بانکونو څخه په مالي توگه تأمین شي، چې دا هم په خپل وار سره اضافي تقاضا زیاتوي او د قېمتونو عمومي سطحه ېرته لوړوي.

**د- انفلاسیون او اقتصادي وده:** امکان لري چې د قېمتونو دوامداره زیاتوالی د سپما د کموالي او یا د هغه حرکت سفته بازۍ او احتکار په لو کم شي. دا په خپل وار سره مؤلدې پانگونې کموي او د تولید د ودې نرخ راټیټوي. له بلې خوا، ښکاره خبره ده چې د تولید وده او عاید د تقاضا هغې

سطحې ته په کافي اندازه لوړه وي، چې د کارگر او نورو منابعو کامل استخدام تضمين کړي، اړتيا لري. کله چې تقاضا کافي نه وي، اقتصاد په پوره توگه وده نه شي کولای. پر دې اساس، له منابعو څخه کامله استفاده، د کمې اندازې اضافي تقاضا دوام ته اړتيا لري. د کامل استخدام ساتنه کله چې تقاضا لږه زياته وي، له هغه وخت نه ساده ده چې د تقاضا کموالی پکې ليدل کېږي يا د تقاضا مازاد پکې شتون ولري. کله چې د تقاضا د زياتوالي په خاطر قېمتونه لوړېږي، په دغه حالت کې احتمالاً شرکتونه خپل توليد زياتوي او د نوې پانگونې لپاره د ظرفيت په زياتوالي لاس پورې کوي. په دغه حالت کې ممکن چې د قېمت زياتوالی د چټکې اقتصادي ودې د نرخ باعث شي.

**هـ- انفلاسيون او د خارجي تادياتو بيلانس:** که په يو هېواد کې قېمتونه له نورو هېوادونو څخه په چټکه توگه زياتېږي، واردات يې زياتېږي او صادرات يې کمېږي، چې دغه د جاري خارجي تادياتو په بيلانس کې د کسر باعث گرځي. دغه مسئله، د هېواد اسعاري ذخاير کموي او له بهرنيو هېوادونو څخه د پور اخيستنې وس کموي. د بيلانس د کسر د جبران لپاره له بهر څخه د پور د نه اخيستنې د ميلان لپاره غالباً بايد واردات راکم شي چې دغه مسئله غالباً توليد او استخدام (پانگه ييز توکي او لومړني توکي که چېرته له بهر څخه راواردېږي) راکموي او ډېری هېوادونه چې په بهرنيو موادو او بهرنيو پانگه ييزو توکو پورې تړلې وي له تاوان سره مخ کوي.

**و- انفلاسيون او استخدام:** انگليسي اقتصاد پوه فېلپس په انگلستان کې د وزگارتيا او مزد د رابطې ترمنځ په دې هکله ډېر باارزښته تجربوي کار ترسره کړی. هغه نتيجه اخيستې ده، چې وزگارتيا شديداً د پولي مزد په زياتوالي پورې تړاو لري. نورو اقتصادپوهانو هم د هغه کار ته پراختيا ورکړې ده او د وزگارتيا او د قېمتونو د سطحې ترمنځ رابطه يې څېړلې ده. دوی هم نتيجه اخيستې ده چې په لنډ مهال کې د وزگارتيا د نرخ او نفلاسيون ترمنځ ارزښت لرونکې رابطه وجود لري او کامل استخدام به هم هرومرو له دوامداره انفلاسيون سره مل وي. فريډمن باور لري چې په اوږد مهال کې دا ډول رابطه وجود نه لري او په يو وخت کې کامل استخدام او د قېمتونو ثبات ته لاسرسی ممکن دی. په لاندينۍ برخه کې د فېلپس د منحني په اړه خپل بحث پراخوو. په اقتصاد کې کامل استخدام هغه حالت دی، چې په هغه کې هر څوک چې په بازار کې د حاکم مزد په نرخ باندې کار کولو ته حاضر وي، بوختيا ولري. د کار بازار چې دا ډول ځانگړتيا ولري، کامل بازار وته ويل کېږي. په واقعي نړۍ کې دا ډول بازار ته رسېدل امکان نه لري، ځکه چې د کار او کاليو په بازار کې نېمگړتياوې شتون لري. د ځينو بوختياوو د اړتيا وړ مهارت او ښوونه، د خالي بوختيا په هکله د معلوماتو د راټولولو مصرف او وخت او له يوې بوختيا څخه بلې بوختيا ته د انتقال مصرف دا ټولې هغه ستونزې دي چې له هغو سره سره، د کار بازار کامل نه شي اوسېدی. ددغو نواقصو له شتون سره امکان لري چې د کار

په بازار کې اضافي عرضه شتون ولري (حتی پرته له دې چې د مزد په نرخ کې تغییر رامنځته شي). دغه وضعیت هغه وخت رامنځته کېږي، چې کوم کارګر چې د کار په لټه کې دي د خالي بوختیاوو له مقدار سره برابر وي. په دغه حالت کې موجوده وزګارتیا، ته اصطکاکي وزګارتیا ویل کېږي. کله چې د وزګارتیا نرخ د اصطکاکي وزګارتیا له نرخ سره برابر وي، د کار په بازار کې کامل استخدام شتون لري. راتلونکي مخ ګراف دغه حالت ښکاره کوي.




«2- 16 شکل»

په کوم بازار کې چې اصطکاکي وزګارتیا شتون نه لري، د کارګر N2 شمېر د مزد په واقعي نرخ (حقیقي) We کې استخدامېږي، خو په بازار کې د شته نېمګړتیاوو په علت د کارګر اعظمي شمېر چې کولای شي په تعادلي مزد We کې په کار بوخت شي N1 دی. د N1 سطحې په بوختیا کې دقیقاً د خالي بوختیاوو شمېر د هغو کارګرو له شمېر سره برابر دی چې د کار په لټه کې دی. پر دې اساس، اضافي عرضه له اضافي تقاضا سره برابره ده او د مزد نرخ د تغییر میلان نه لري. د اصطکاکي وزګارتیا نرخ $\frac{N2-N1}{N2}$ دی او که د بوختیا سطحه N1 فرض شي، د وزګارتیا نرخ $\frac{N2-N1}{N2}$ د اصطکاکي وزګارتیا له نرخ سره مساوي دی او کامل استخدام شتون لري. هر څومره چې د کار د بازار نېمګړتیاوې لږې وي د اصطکاکي وزګارتیا نرخ به کم وي. ډېری اقتصادپوهان پر دې باور دي چې دغه نرخ د امریکا اقتصاد ته له 4% سره برابر دی. پر دې اساس، په دغه اقتصاد کې هغه وخت کامل استخدام شتون لري، چې نرخ یې له 96% سره برابر وي. څرګنده ده چې د اصطکاکي وزګارتیا نرخ نه شي کولای چې ثابت او تغییر نه منونکی وي. له هغه ځایه چې دغه نرخ د انسان په مرسته د

رامنځته شویو نېمګړتیاوو تر اغېزې لاندې راځي، باید ددغو نیمګړتیاوو د کمولو هڅه وشي. د دې موخې لپاره باید د شرکتونو او اتحادیو د انحصاري قدرت د راکمولو په برخه کې له ځینو سیاستونو څخه کار واخیستل شي، افرادو ته تخصصي او ښوونیز فرصتونه برابر شي، د هغو اطلاعاتو تضمین چې په خالي بوختیاوو او کوم کارګر چې د کار په لټه کې دی په لږ مصرف سره برابر، طرح او اجراء شي. کوم بحثونه چې په وروستیو کلونو کې کامل استخدام ته د رسېدو لپاره ترسره شوي دي، ډېری یې د انګلیسي اقتصادپوهانو (ا. و. فېلپس) تجربوي څېړنې دي چې د مزد او وزګارتیا په هکله له روابطو څخه سرچینه اخلي. لکه څنګه چې پورته ورته اشاره وشوه هغه نتیجه اخیستې ده چې انګلستان ته هغه دورې چې په هغو کې د وزګارتیا نرخ ټیټ دی، هغه دورې دي چې پولي مزد پکې په چټکه توګه زیات شوی دی. کوم منحني چې لاندې د وزګارتیا او پولي مزد ترمنځ رابطه ښکاره کوي، د فېلپس د منحني په نامه یادېږي.

د فېلپس د کار له مخې وروسته د وزګارتیا د نرخ او قېمتونو د عمومي سطحې ترمنځ روابط تر څېړنې لاندې ونیول شول، چې له مشابه منحني نه لاندې منحني اشتقاق شوی دی. ددغو دواړو منحني ګانو ورته والی عجیب نه دی، د قېمتونو د زیاتوالي په دوره کې، پولي مزدونه باید له واقعي (حقیقي) مزد څخه په چټکه توګه زیات شي. پرته له دې به حقیقي مزد ښې لور ته کموالی ولري.




«3- 16 شکل»

په اوږد مهال کې د حقیقي مزد زیاتوالی له نېږدې نه د کارگر د گټورتیا له ودې سره یو ځای دی. په کار خانه یي صنایعو کې د کارگر د گټورتیا نرخ امریکا ته له 1947 ز کال نه تراوسه پورې 3% دی. پر دې اساس، په کومه دوره کې چې قېمتونه ثبات لرونکي دي، لکه 1962 ز کال په پولي مزد کې د تغییر نرخ باید د 3% په حدودو کې وي. پورتنی شکل، دغه مسئله تأییدوي. کله چې د قېمتونو عمومي سطحه په لوړېدو پیل کوي، کارگر به په لږ ځنډ سره په کال کې د 3% په اندازه د پولي مزد د زیاتوالي غوښتنه وکړي او هغه به لاسته راوړي. پر دې اساس، داسې ښکاري چې د قېمتونو د عمومي سطحې د زیاتوالي او د پولي مزد ترمنځ قوي رابطه شتون لري. د فېلپس او د هغه د پلویانو کار د اقتصادي سیاستونو له پلوه ډېر ارزښت لري، ځکه چې د فېلپس منحني څرگندوي چې په کال د 3% انفلاسیون نرخ د وزگارتیا د نرخ اصغري حد ته 4% ته ضروري دی. په بله وینا، د کامل استخدام تاکلي اقتصادي اهداف او دقېمتونو د عمومي سطحې ثبات، په هغه صورت کې چې د قېمتونو د عمومي سطحې د تغییر د نرخ او د وزگارتیا د نرخ ترمنځ فاصله باثباته وي، له یو بل سره به په تضاد کې وي. لوموړنی اقتصاد پوه چې د فېلپس د منحني تحلیلونه او پېشنهادي سیاستونه یې تر نیوکې لاندې ونیول، مېلټون فریډمن دی. فریډمن وایي چې د فېلپس منحني یو لنډ مهاله منحني دی او په اوږده موده کې صدق نه کوي، د طبیعي وزگارتیا نرخ، کولای شي چې شتون ولري. د فریډمن نتیجه گیري په لاندې استدلال ولاړه ده: فرض کړئ چې اقتصاد د وزگارتیا په لوړ نرخ کې عمل کړی دی او اوس چټکې پراختیا ته داخلیږي. د رکود په پایله کې یا قېمتونه په خپل حال پاته کیږي او یا ورو ورو کموالی مومي او هر څوک د دې تمه لري چې دغه حالت په راتلونکي کې هم دوام ومومي د تولید په زیاتوالي سره د وزگاره کارگرو د شتون پر علت ډېر کارگر په بازار کې د حاکم نرخ له مخې استخدامیږي او له هغه ځایه چې د تولید نرخ نه زیاتیږي، د وزگارتیا کموالی د قېمتونو په سطحه کې تغییر نه راوړي. خو په نهایت کې د دغې پراختیا د دوام لپاره شرکتونه باید د اضافي کارگر د لاسته راوړلو لپاره لوړ پولي مزد ارائه کړي. کارگر په دې باور چې قېمتونه ثابت پاته کیږي، د پولي مزد د زیاتوالي نرخ چې د هغوی د اټکل شوي حقیقي مزد له زیاتوالي سره برابر دی قبولوي یې. د کارگرو پولي مزد د تولید مصرف له نرخه پورته بیایي او مصرف کوونکي ته د اضافي مصرف په لېږدلو سره، د قېمتونو عمومي سطحه زیاتوالی مومي. د قېمتونو د عمومي سطحې په زیاتېدو سره په حقیقي مزدودو کې اټکل شوی زیاتوالی تحقق نه مومي، حقیقي مزد یا ثابت پاته کیږي یا کمیږي او زیات کارگر استخدامیږي. که مجموعي اضافي تقاضا د انبساطي مالي او پولي سیاستونو له لارې وساتل شي. قېمتونه خپل زیاتوالي ته دوام ورکوي او د حقیقي مزد او د وزگارتیا د نرخ کموالی دوام مومي. د فیلپس له منحني نه د فریډمن د برداشت مهم عامل د حقیقي مزد د زیاتوالي او د کالیو د قېمت د زیاتوالي ترمنځ د وخت ځنډېدل دي. له هغه ځایه چې د کارگرو تقاضا د حقیقي مزد تابع

ده، نو انفلاسیون یوازې په هغه صورت کې کارګرو ته تقاضا زیاتوي چې حقیقي مزد د تعادلي مزد له سطحې څخه په کم حد کې وساتل شي. فریډمن باور لري چې د کالیو قېمت له مزد څخه په چټکه توګه ځان له نه اټکل شوي انفلاسیون سره تطبیقوي. پر دې اساس، د تطبیق لپاره زماني فاصله اړینه وي، دغه ځنډ یا زماني فاصله تر هغه وخته پورې دوام مومي چې د کارګرو اټکل د قېمتونو د سطحې د تغییر په هکله ناسم وي. فریډمن وایي چې بالآخره کارګر په خپلو تېروتنو باندې پوهېږي او د قېمتونو د لاندېني زیاتوالي اټکل به د تقاضا په هکله په خپل پولي مزد کې په پام کې ونیسي. په دې صورت کې حقیقي مزد زیاتوالی مومي او کارګرو ته تقاضا تر هغه وخته پورې چې د وزګارتیا نرخ د طبیعي وزګارتیا له نرخ سره برابر شي، کموالی مومي. د فېلپس اوږد مهاله منحني چې فریډمن یې وړاندې کوي په لاندې توګه ښودل شوې ده:




«4- 16 شکل»

په اوږد مهال کې د وزګارتیا د نرخ تغیر د انفلاسیون د نرخ له تغییر سره یو ځای امکان نه لري. پر دې اساس، د فېلپس اوږد مهاله منحني د طبیعي وزګارتیا په نرخ کې په افقي محور باندې عمودي کرښه ده. یوازې د وزګارتیا د دایمي کموالي کړنلاره، د بازار د نېمګړتیاوو د کموالي په موخه د سیاستونو طرح او اجراء کول دي. که دغه سیاستونه په کار واچول شي، د وزګارتیا طبیعي نرخ کموالی مومي او د فېلپس اوږد مهاله منحني به کیڼ اړخ ته انتقال شي. اتو آشتاین او راجر بریېنر په دې وروستیو کې د فېلپس د اوږد مهاله منحني په هکله نوي نظریات وړکړي دي. د هغوی نظریې د فېلپس د منحني د دودیزو تحلیلونو ځانګړتیاوې د فریډمن له تحلیل سره ترکیبوي. د آشتاین او بریېنر

د نظریاتو له مخې د اصطکاکي وزګارتیا له نرخ نه په کم نرخ کې (چې مونږ ورته د آشتاین او برینر پېشنهادي نرخ- وایو)، د فریډمن نظریه صدق نه کوي، خو له هغه څخه په پورته نرخونو کې صدق کوي. لکه څنګه چې یې ګورو په کال کې د انفلاسیون په 2,5% نرخ کې د آشتاین او برینر د پشنهادي وزګارتیا نرخ د فریډمن د طبیعي وزګارتیا له نرخ سره برابر دی. آشتاین او برینر د فېلپس د اوږد مهاله منحني په هکله خپلې نظریې په امریکا کې په سوداګرۍ او د کار په بازار کې د ناقص رقابت پر جوړښت یې اساس ورته ایښی دی. هغوی په دې باور دي چې د کارګرو انحصاري اتحادیې د دې وس لري چې حتی له زیاتې وزګارتیا سره سره به مزدونه د ګټورتیا له زیاتېدو نه ډېر زیات کړي. تر هغه وخته پورې چې د وزګارتیا نرخ د طبیعي وزګارتیا له نرخ نه پورته وي، د تولید په مصرف کې راغلی زیاتوالی په پوره توګه د قېمت د زیاتوالي په شکل بازار ته نه انتقالېږي او دا د قېمت ګذارۍ د انعطاف پذیرۍ پر علت او دا هغه کړنلاره ده چې په هغه سره قېمتونه د کارګر د واقعي مصرف او د اټکل شوي مصرف ترمنځ د اختلافاتو د جبران لپاره تعدیلېږي. د وزګارتیا د نرخ په زیاتېدو سره کارګري اتحادیې د زیات مزد غوښتنه کوي او د قېمت ګذارۍ په برخه کې موجودې نېمګړتیاوې هم له منځه ځي. دا په دې معنا ده چې د کارګر د اضافي مصرف زیاتېدونکې برخه قېمت نه انتقالېږي. دغه منډه تر هغه وخته پورې چې د وزګارتیا نرخ د طبیعي وزګارتیا نرخ ته رسېږي، دوام مومي. په دې وخت کې، د کارګر له مصرف سره متناسب قېمت زیاتوالی مومي. له ځایه چې د طبیعي وزګارتیا نرخ د اصطکاکي وزګارتیا له نرخ سره برابر دی، له دې نه زیات استخدام نه شي لوړېدلی. په دغه حالت کې د انفلاسیون نرخ د زیات شوي مزد د مازاد نرخ د کارګر د ګټورتیا د زیاتوالي په پرتله سره برابره دی او د فېلپس منحني په افقي محور عمودي شکل اختیاروي.

### د انفلاسیون د له منځه وړلو سیاستونه

د انفلاسیون ضد سیاستونه په درې ډلو وېشل کېږي:

1- پولي سیاستونه.
2- مالي سیاستونه.
3- مستقیم کنترول.

1- **پولي سیاستونه**: د انفلاسیون د مهار لپاره، د پیسو د عرضې کنترول د مرکزي بانک له خوا د مجدد تنزیل د نرخ لوړول او د دولت له خوا د پرانیستي بازار د عملیاتو ترسره کول اړین دي. له دې لارې د پیسو عرضه کموالی مومي. که دولت د قرضې پاڼو په پلورلو لاس پورې کړي، د سوداګریزو بانکونو نقدي ذخایر له مرکزي بانک سره کمېږي او دا د سوداګریزو بانکونو له خوا

د وړاندې شویو اعتباراتو حجم کموي. که دولت د پرانیستي بازار د عملیاتو له لارې د قرضې پاڼې وپلوري، دا به هم د قرضې د پورتنیو پاڼو د پلورولو اغېزه ولري. د سود د نرخ د زیاتوالي له لارې د پیسو د عرضې کموالی به پانگونه کمه کړي، چې تر یوه حده پورې مجموعي تقاضا راټیټوي. د سود د نرخ زیاتوالی او د پیسو د عرضې کموالی عملاً د پیسو تقاضا کموي، خو سرعت او د اغېزې اندازه يې پېژندل شوې نه ده. په انگلستان کې له دوهمې نړیوالې جگړې وروسته عملاً د پولي سیاستونو د اغېزې دوره له هغه څه نه چې مطلوبه او د پام وړ ده ډېره اوږده ده، او غالباً پولي سیاستونه په اوږد مهال کې د انفلاسیون په مهارولو کې بریالی ده. له هغه ځایه چې د پیسو د عرضې تغییرات نه شي کولای چې له کافي سرعت سره له لنډ مهالو نوساناتو سره په اقتصاد کې مقابله وکړي. پر دې اساس، د اوږد مهالو مسایلو د حل لپاره تر ټولو مناسبه ده.

2- **مالي سیاستونه**: که داسې فرض کړو چې یوازې اضافي تقاضا انفلاسیون منځته راوړي، د تقاضا په کمولو سره کولای شو چې انفلاسیون مهار کړو. مجموعي تقاضا د دولت مصارف او د خصوصي برخې مصارف دي. له هغه ځایه چې غالباً شدید انفلاسیون د دولت له مخارجو څخه چې د پیسو په اندازه رامنځته کولو سره مالي تأمین کېږي، رامنځته شي، غالباً د دولت متعادله بودجه یو مناسب مالي سیاست گڼل کېږي. د دغې فرضیې علت دا دی چې عموماً د دولت د بودجې کسر انفلاسیون گڼل کېږي او د بودجې کسر د پیسو د عرضې په زیاتولو سره تأمینېږي. بله مسئله دا ده چې عموماً دولتي مصارف غیر مؤلد دي. نظامي مخارج پولي عواید منځته راوړي، خو په بازار کې په عرضه شویو کالیو باندې څه شی نه زیاتوي. پر دې علت غالباً د قېمتونو زیاتوالی هغه نښې دي چې اخطار ورکوونکي د غیر مؤلدو مصارفو د کمولو لپاره لکه دفاعي مصارف چې د ثبات لرونکو قېمتونو کار ستونزمنوي، خو له بلې خوا، د دولت د مصارفو کموالی هم یوازې د اقتصادي متحولینو په تغییرولو سره ممکن نه دی. سربېره پر هغه، د دولت ډېری مصارف لکه د ښوونې او روزنې او روغتیا مصارف په ننني اقتصادونو کې، اړین مصارف دي او په مجموعي توگه د دولت مخارج په ټولنه کې د استخدام د ساتنې لپاره د پام وړ رول لري. پر دې اساس، د دولتي مصارفو د کمولو له لارې د انفلاسیون مهارول ډېری سیاسي او اقتصادي مسائل له ځان سره راوړي. په دې ترتیب، مالیات د مجموعي تقاضا د کمولو مهمه وسیله ده. خو د دولتي مصارفو تأمین یوازې په مالیاتو باندې ممکن نه دی. که داسې په پام کې وي، چې د دولت اضافي مخارج په مالیاتو باندې پوره شي، باید دوه پوښتنو ته ځواب وویل شي:

1- تر کومه حده پورې باید د خصوصي سکتور مصرف او تر کومه حده پورې باید د خصوصي سکتور پانگونه راکمه شي؟

**2- د دغې موخې لپاره باید له کومو وسایلو څخه کار واخیستل شي؟**

د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي، چې دا په هر وخت کې په موجودو شرایطو پورې تړاو لري. کېدای شي ځینې وخت د مصرف کموالی او ځینې وخت د پانګونې ډېر کموالی مطلوب وي. غالباً کولای شو چې مصرف، پر عواید د مالیې له لارې کنترول کړو تر یوه حده پورې په زیاتېدونکو عوایدو باندې د مالیاتو او د انتقالي ورکړو تغییر چې د استخدام له سطحې سره تغییر کوي کولای شي چې خپل سری متعادل کوونکی وي. د انفلاسیون او قیمت په زیاتوالي سره د زیاتېدونکو مالیاتو جوړښت د عوایدو یو لویه برخه د مالیاتو په شکل اخلي، خو خپل سری متعادل کوونکی په کافي اندازه د تقاضا له نوساناتو سره په مقابله کې په صنعتي اقتصادونو کې وس نه لري او نه شي کولای چې اضافي تقاضا له منځه یوسي. که څه هم د مالیاتو د نرخونو زیاتوالی کولای شي چې اضافي تقاضا او انفلاسیوني سوړه له منځه یوسي. خو مسئله همداسې ساده نه ده. د مالیاتو د نرخونو لوړوالی د کار او فعالیت انګېزه تر اغېزې لاندې راولي او په اوږد مهال کې د اقتصادي ودې نرخ راکموي. د مصرف د کمولو لپاره کولای شو چې له غیر مستقیمو مالیاتو (په کالیو مالیات) له لارې کار واخلو کېدای شي چې ځینې وخت اضافي تقاضا یوازې د اقتصاد په یوه ځانګړې برخه کې شتون ولري او په دې برخه کې د تقاضا محدودول اړین وي، نه دا چې په اقتصاد کې د خرید قدرت راکم شي، په داسې حالت کې په ځانګړي خرڅلاو مالیات ممکن مطلوب وي.

3- **مستقیم کنترول- د عاید او قیمت سیاست**: کله چې مالي او پولي سیاستونه ونه شي کړی چې انفلاسیون په مؤثره توګه مهار کړي، دلته بیا ځینې دولتونه د قیمت او عاید له سیاستونو څخه کار اخلي. د دغه سیاست له مخې، دولت مقرروي چې په اقتصاد کې د مزدونو زیاتوالی د ګټورتیا له زیاتوالي څخه نه شي زیاتېدلی. پر دې اساس، د مزد کنترول هم کولای شي چې د تولید د مصرف د کنترول له لارې د مصرف د انفلاسیون مخنیوی وکړي او هم د مزد اخیستونکو د عوایدو د کنترول له لارې کولای شي چې کالیو ته موجوده تقاضا ثابته وساتي.[43]

- [43] -Ackley G. Macroeconomic Theory
- Turner H. A. ct, al price, wages and Income policies.
- Ball R, J. Intlation and the Theory of Money.
- Parking M. ct, al, Income policy and Inflation.
- Rostow W, ct, al, Inflation.
- Good hard C. A. E. Money, Inflation and uncertainty.

## اووه لسم څپرکی

## اقتصادي نوسانات

په پانگوال نظام کې د اقتصادي فعالیتونو نوسان چې د اقتصادي نوساناتو په نامه یادېږي، یوه ذاتي پدیده ده. اقتصادي نوسان د اقتصادي فعالیتونو صعودي حرکت یعنې د تولید، استخدام، قېمتونو او عوایدو صعودي نوسان دی، چې په دې پسې ددغو فعالیتونو نزولي حرکت راځي. عموماً په اقتصادي فعالیتونو کې نوسانات په څلورو گروپونو وېشل کېږي.

1- **دوره یا نوبت:** د اقتصادي فعالیتونو د تغییراتو اوسط څرگندوي.
2- **موسمي بدلونونه:** غالباً د اقتصادي فعالیتونو نوسان دی چې په ټاکلې زماني فاصله کې چې عموماً یو کال دی په پام کې نیول کېږي. ددغو نوساناتو منځته راوړونکی عامل یا طبیعي شرایط او یا د خلکو دودونه او رواجونه دي د مثال په توگه، ساختماني فعالیتونه په اوړي کې ډېر او په ژمي کې کموالی مومي او یا دا چې خلک په روژه کې د اختر د نږدې کېدو په خاطر خپلې پېرودنې زیاتوي.
3- **غیر منظم یا تصادفي نوسانات:** د اقتصادي فعالیتونو دغه نوسان له غیر عادي یا غیر منظمو او تصادفي پېښو څخه رامنځته کېږي. ددغو نوساناتو منځته راوړونکي عوامل اقتصادي عوامل دي. د اقتصادي فعالیتونو ماهیت داسې دی، چې په ځینو وختونو کې ډېر چټک او ځینې وخت کموالی مومي.

### د اقتصادي نوساناتو ډولونه:

اقتصادي نوسانات په درې ډولو؛ عمده نوساناتو، غیر عمده نوساناتو او هغه نوسانات چې موجي اوږدوالی یې لوی وي وېشل کېږي.

1- **عمده نوسانات:** دا هغه نوسانات دي چې غالباً د هغوی ځانگړتیا جدي او حاد بحرانونه وي. د مثال په توگه، د امریکا اقتصاد په 1812، 1818، 1825، 1837، 1847، 1857، 1873، 1884، 1890،

1893، 1903، 1910، 1913، 1920 ز کلونو کې له دا ډول بحرانونو سره مخ و. په اوسط ډول په هرو لسو کلونو کې یو ځل عمده بحران رامنځته کېږي.

2- **غیر عمده نوسانات:** هغه نوسانات دي چې شدت یې کم دی. دغه نوسانات په متناوبه توګه رامنځته کېږي.

3- **هغه نوسانات چې موجې اوږدوالی یې لوی وي:** دغه نوسانات له 50 نه تر 60 کلونو پورې وخت نیسي او په اقتصادي لیکنو کې په کندراتیف سایکلونو باندې مشهور دي. په لاندې شکل کې عمده نوسانات او کندراتیف سایکلونه ښودل کېږي.




«1- 17 شکل»

## د اقتصادي نوساناتو پړاوونه:

اوس داسې په پام کې نیول کېږي، چې یو اقتصادي نوسان څلور بېلابېل پړاوونه لري. شکوفایي، رونق، بحران او رکود.




«2- 17 شکل»

**بحران:**

پر نامطلوبو اقتصادي اغېزو سربېره، ممکن بحران ټولنې ته نامطلوب سیاسي او ټولنیز عواقب ولري. د بحران د دورې په وخت کې، تولید، استخدام او عاید په ډېره ټیټه سطحه کې وي. د عاید ټیټوالی د مصرفي کالیو تقاضا راکموي او دغه کموالی قېمتونه راټیټوي. د تولید مصرف هم د انساني ځواک منابعو او نورو د وزګاره پاتې کېدو د شتون پر ځای راټیټېږي. د خرڅلاو د حجم په کموالي او د قېمت په کمېدو سره سود هم راټیټېږي او پانګونه راکموي.

که څه هم د بحران په لومړنیو پړاوونو کې کېدا شي د کالیو موجودي د پخوانیو موجودیو د شتون په خاطر پورته وي، خو پلورونکي دوی ته راغلي غوښتنې یا شفارشات لږ لږ له موجودۍ څخه تأمینوي او تولیدونکو ته خپلې غوښتنې کموي.

له هغه ځایه چې تولید په ټیټه سطحه کې دی، تولیدي واحدونه د خپلې پانګې د زیاتوالي لپاره پور اخیستلو ته اړتیا نه لري. د سوداګریزو پورونو په کموالي سره، د بانکونو ذخایر زیاتېږي. په دغه حالت کې، بانکونه د اعتبار د ډېرولو وس لري خو څوک د پور اخیستو مینه وال نه وي، چې دغه مسئله د ګټې نرخ راټیټوي. د قېمتونو ټیټېدل د پیسو ارزښت زیاتوي، د امکان په صورت کې،

افراد او اقتصادي موسسې د وزګارو شتمنیو په بدلولو سره پیسو ته میلان پیدا کوي. پر دې اساس، د بحران په پړاو کې په ټولنه کې د سیالیت غوره والی زیاتوالی مومي. د عاید کمولو په خاطر، د مصرف نهایي میلان زیاتوالی مومي او د ټولنې سپما راکموي. کله چې اقتصاد په اعظمي ظرفیت سره کار نه کوي، نو د استهلاک شویو ماشین آلاتو د بدلولو هڅه هم نه ترسره کېږي. ددغو ماشینونو د بدلولو پر ځای له اوسنیو وزګارو ماشینونو څخه کار اخیستل کېږي. دغه ټول عوامل د دې باعث ګرځي چې د پانګه ییزو توکو او بادوامه مصرفي کالیو تقاضا کمه شي. په اقتصاد کې د تولید کموالی په مجموعي توګه په ټولنه کې د وزګارو ظرفیتونو د رامنځته کېدو باعث ګرځي. د تولید له ټیټ والي سره د استخدام، عاید، قېمت او سود په اړه په ټولنه کې بدبینانه فکري تمایل رامنځته کېږي. په دغو شرایطو کې پانګونه نه ترسره کېږي او دغه مسئله په ټولنه کې د انفلاسیون او انقباضي اغېزې رامنځته کوي.

**رونق:**

کوم عوامل مونږ له بحران څخه شکوفایی (غوړېدو) ته بیایي؟ کېدای شي چې دغه عوامل بهروني وي لکه د نفوس زیاتوالی، جګړه یا مالي او پولي سیاستونه وي. حتی ددغو بهروني عواملو له شتون پرته هم کېدای شي مطلوب وضعیت رامنځته شي. پنځه عوامل غالباً د رونق د دورې د رامنځته کېدو باعث ګرځي:

1- **د قېمت او مصرف ترمنځ رابطه:**

وروسته له یو څه وخت نه چې له بحران څخه تېرېږي، د مصرف- قېمت ترمنځ ډېره ښه رابطه رامنځته شوه. احصائیوي ارقام ښکاره کوي چې غالباً د مصرف تغییرات د قېمت له تغییراتو څخه وروسته پاته کېږي. د بحران پر وخت، په لومړي سر کې قېمتونه زیاتېږي او بیا مصرف او غالباً د قېمت د کمېدو نرخ د مصرف د کمېدو له نرخ څخه کم وي. قېمت هم له مضرف څخه مخکې اصغري حد ته رسېدلې وي خو تراوسه پورې مصرف نزولي سیر (حرکت) لري. نهایتاً مصرف له قېمت څخه په ټیټ حد کې قرار لري او د کالیو تولید مصرف کوونکو ته ګټور ګرځي. عموماً قېمت ډېر ژر او په لوړ نرخ سره له مصرف نه زیاتوالث پیلوي. پر دې اساس، د اقتصادي فعالیتونو د صعودي حرکت پر مهال د قېمت او مصرف ترمنځ توپیر زیاتوالی مومي چې د سود او د زیاتې پانګونې باعث ګرځي. د سایکل په اعظمي نقطه کې، قېمت لوړ حد ته رسېږي او مصرف لا تراوسه خپل صعودي حرکت ته دوام ورکوي. په دې حالت کې د قېمت او مصرف ترمنځ رابطه کموالی

پیدا کوي او سود کمېږي. ځینې تولیدي واحدونه له افلاس سره مخ کېږي او ځینې نور یې محافظه کاري غوره کوي. د قېمت او مصرف ترمنځ رابطه په لاندې شکل کې ښودل کېږي.




«3- 17 شکل»

د آزاد رقابت په اقتصاد کې د بحران پر مهال وزګاره خلک د بوختیا د لاسته راوړلو لپاره له یو بل سره رقابت کوي، کومې اقتصادي موسسې چې سود یې د کمېدو په حال کې دی، د بازار د لویې برخې د لاسته راوړلو لپاره له یو بل سره رقابت کوي. دغه عوامل د دې باعث ګرځي چې د تولید مصرف راکم شي او نهایتاً مصرف په کافي اندازه له قېمت څخه ډېر کمېږي او اقتصادي موسسې د فعالیتونو زیاتوالی ګټور ګڼي. وروسته له یوې مودې د قېمت او مصرف ترمنځ ډېره ښه رابطه رامنځته کېږي او ګټورتیا زیاتوي.

**2- په موجودیو کې تغییر:**

دوهم عامل چې د تولید زیاتوالي ته تمایل لري، له موجودیو سره د چلن طریقه ده. یو وخت داسې وي، چې اقتصاد د بحران په پړاو کې وي، موجودۍ پای ته رسېږي. په دغه وخت کې تقاضا له موجودیو څخه تأمینېږي او نهایتاً اقتصادي موسسې هغې نقطې ته رسېږي چې د موجودیو ګودامونه یې کمېږي او دې ته مجبورېږي چې له ګودام څخه د باندې موجودۍ جوړې کړي. په دې حالت کې باید تقاضا په تولید باندې رفع شي. کېدای شي چې دغه مسئله تولید زیات کړي او په ټولنه کې د اقتصادي فعالیتونو د زیاتوالي لپاره یوه انګېزه جوړه شي.

3- **د ګټې نرخ:**

د اضافي ذخايرو له راټولېدو څخه او د ګټې د نرخ د کمېدو لپاره فشار راوړل ممکن ځينې واحدونه پور اخيستو ته اړ کړي. دا ډول پانګونې به احتمالاً توليد او استخدام زيات کړي.

4- **تعويضي تقاضا:**

يو بل عامل د اقتصادي فعاليتونو د زياتوالي لپاره له پانګه ييزو کاليو څخه رامنځته کېږي. که څه هم اقتصادي موسسې او افراد د پانګه ييزو کاليو او د دوامداره مصرفي کاليو تعويض د بحران پر وخت ځنډوي، خو نه شي کولای چې دغه کار ته تر ابده پورې دوام ورکړي. زاړه ماشينونه، کولای شي چې يوازې د يو څه وخت لپاره په ترميمېدو سره خپل کار ته دوام ورکړي. له دې وراخوا، د نويو ماشينونو ښه کېدل ظرفيت زياتوي او د پخوانيو ماشينونو بدلول په نويو ماشينونو د توليد پروسه اقتصادي کوي. دغه مسئله د مصرف کوونکو ترمنځ هم صدق کوي. زاړه بوټان تر يوه وخته پورې بيا بيا ګنډلی شو. له يو څه وخت وروسته بايد نوي بوټان واخيستل شي. د افرادو او اقتصادي موسساتو مصارف کوم چې د بادوامه کاليو، د کار د وسايلو او د ماشينونو په برخه کې تعويضېږي، په دې برخه کې تقاضا زياتوي او دا د توليد او اقتصادي فعاليتونو د زياتوالي باعث ګرځي.

5- **رواني کتنه:**

که څه هم کېدای شي چې افراد او اقتصادي موسسې د بحران پر وخت سم نظر ونه لري، خو داسې به ونه انګېري چې بحران به تر ابده پورې دوام وکړي. دوی به هم په نهايت کې د اقتصادي فعاليتونو د صعودي حرکت په تمه وي. ځينې کسان د دې خبرې په پام کې نيولو سره چې رونق به ډېر ژر پيل شي، په خپل مصرف کې زياتوالی راولي، دغه پرېکړه، په ټولنه کې اقتصادي فعاليتونه زياتوي.

هر ډول تغيير چې په پنځه ګونو برخو کې رامنځته کېږي د استخدام د زياتوالي باعث ګرځي. که څه هم دغه زياتوالی ځينې وخت اقتصاد له بحران څخه د ويستلو لپاره کافي نه وي، خو د ده د رامنځته کوونکي عامل ته په نه پامنيوي سره، کوم ځواک چې اقتصاد د بحران له پړاو نه باسي د توليد زياتوالی دی. که توليدات زيات شي، طبعاً چې استخدام او عايد به هم ورسره زيات شي. په ډېر لوړ عايد سره به د خلکو تقاضا کاليو او خدماتو ته زياته شي. د رونق په لومړي سر کې قېمت ثابت پاتې کېږي او د تقاضا زياتوالی بايد د عرضې په زياتوالي سره رفع شي. خو کله چې تقاضا په کافي اندازه زياته شي، د قېمتونو زياتوالی پيلېږي. دغه مصرف هم په ټيټه سطحه کې باقي پاته

کېږي، په ځانګړي ډول د رونق په لومړیو پړاوونو کې، ځکه څوک به د هغو منابعو لپاره چې ډېرې زیاتې موندل کېږي، د لوړ قېمت پېشنهاد ونه کړي. د خرڅلاو په زیاتوالي سره سود زیاتېږي. د زیاتو کالیو موجودي ساتل کېږي او د سود زیاتوالی د پانګونې د زیاتوالي باعث ګرځي، چې دا په خپل وار سره د بانکي پورونو د اخیستلو تقاضا زیاتوي. مازاد ذخایر کمېږي او په نتیجه کې یې د ګټې نرخ زیاتوالی مومي.

د کالیو د تقاضا زیاتوالی د سیالیت غوره والی کموي. د عاید د زیاتوالي په خاطر، د سپما نهایي میلان زیاتېږي، وزګار ظرفیت له منځه ځي، اضافي پانګونه ترسره کېږي او رونق پیلېږي.

## شکوفایي:

د شکوفایۍ پر مطلوبو اقتصادي اغېزو سربېره غالباً مطلوب ټولنیز او سیاسي أثرات هم لري. خو په پوره توګه اقتصادي وضعیت مطلوب نه وي، ځکه چې د ځینو پدیدو باعث ګرځي لکه انفلاسیون او د کالیو کمبود، او بې رویې مصارفو ته پراختیا ورکوي.

### 1- د قېمت د مصرف روابط:

د تولید د زیاتوالي په پیلېدو سره، استخدام او عاید بېروني عوامل په داسې ډول عمل کوي، چې دغه صعودي حرکت چټک کېږي. که څه هم د رونق د دورې په لومړیو کې قېمتونه ثابت پاته کېږي، خو د اقتصادي فعالیتونو په صعودي حرکت سره د قېمتونو زیاتوالی هم پیلېږي. د تولید زیاتوالی نهایتاً اقتصاد د «تنګناوو» پړاو ته کشوي او په دې پړاو کې کالي کمیابه کېږي. دغه کمیابي د قېمتونو د زیاتوالي باعث ګرځي. لکه څنګه چې مخکې اشاره ورته وشوه، قېمتونه له مصرف څخه په چټکه توګه زیاتېږي. د رونق په دوران کې دغه رابطه د سود د زیاتوالي باعث کرځي، ځکه چې د خرڅلاو له زیات حجم سره سره، د لوړ سود حاشیه هم منځته راځي. غالباً د رونق په پړاو کې سود د مزد له زیاتوالي څخه په زیات نسبت سره زیاتېږي، چې د غه انګېزه پانګونه زیاتوي. په اضافي پانګونه باندې چټک کوونکی[44] او د یو بل زیاتوونکي په توګه عمل کوي او اقتصادي فعالیتونه په زیاته پیمانه زیاتوالی مومي.

### 2- د موجودیو راټولونه:

د موجودیو راټولونه هم د سوداګریزو دورو په دغه پړاو کې مهم رول لوبوي. ډېری تولیدونکي او سوداګر د موجودي کوم مقدار چې ساتي د خرڅلاو ځانګړې فیصدي ده. دا په دې

[44]- چټک کوونکی، مصرفي کالیو ته د تقاضا د زیاتوالي په ترڅ کې د پانګه ییزو مصارفو زیاتوالی دی.

معنا ده، چې تولید باید نه یوازې د مصرف کوونکو د اضافي تقاضا د رفع کولو لپاره وي، بلکې د تقاضا د رفع کولو لپاره موجودی زیاتوالی مومي. د مثال په توګه، فرض کړئ چې عمده پلورونکي د 10 فیصدو په اندازه خرڅلاو د موجودی له ځان سره ساتي او فرض کړئ چې خرڅلاو په میاشت کې 100000 واحده دی. که دغه خرڅلاو په میاشت کې 110000 واحدو ته ورسېږي، عمده پلورونکي د کالیو 110000 واحده یعنې 10000 اضافي واحدونه په مصرف کوونکو باندې د پلورلو لپاره 1000 واحده اضافي کالي (د 110000 واحدو موجودي) د 10 فیصدو په اندازه د موجودیو ساتلو تقاضا به ولري. پر دې اساس، به د عمده پلورنکي اضافي تقاضا 11000 واحده وي او تولید عموماً د مصرف کوونکو د تقاضا له زیاتوالي څخه په چټکه توګه زیاتوالی مومي.

پر دې سربېره، قېمت هم د موجودیو راټولېدو ته سرعت ورکوي. ځکه چې تولیدوونکي پوهېږي، چې د مصرف د زیاتېدو سرعت له قېمتونو څخه کم دی. پر دې اساس، که کم ارزښته مودجودی راټولې کړي د قېمت په لوړوالي سره به د پام وړ ګټه لاسته راوړي. د مثال په توګه، که چېرته يې په 100 پولي واحدو پېرودلې وي او په 125 پولي واحدو يې وپلوري، د سود حاشیه به 25 فیصده وي. که قېمت 130، 135 او 150 پولي واحدو ته پورته شي، تولیدوونکي به زیاته ګټه لاسته راوړي. سوداګر هم پوهېږي چې مصارف به زیات شي او دغه مسئله به د هغوی ګټه راکمه کړي. پر دې اساس، که چېرته د قېمت زیاتوالی اټکل شي، له سوداګرو سره به د موجودیو د راټولېدو انګېزه پیدا شي. تعویض او د ګټې نرخ د موجودیو په نرخ سربېره، د اقتصادي فعالیتونو حرکت ته سرعت وربخښي. د دې خبرې میلان چې کارول شوې شتمنی دې په نویو شتمنیو باندې د تولیدي ظرفیت د لوړېدو لپاره تعویض شي، دغه چاره هم اقتصادي فعالیتونه زیاتوي. په ځانګړي ډول د رونق په لومړي پړاو کې چې د ګټې نرخ ټیټ وي، د دغې پانګونې اندازه به د پام وړ وي. دغه اضافي پانګونه د یو بل زیاتوونکي او تشدیدونکې اغېزې له لارې مجموعي عاید ډېروي او اقتصاد د کامل استخدام حالت ته رسوي.

**3- کامل استخدام:**

د تولید د شکوفایی د دورې پر وخت، استخدام او عواید په لوړه سطحه کې وي. ډېر عواید د زیاتې تقاضا په معنا وي. د تقاضا د زیاتوالي دوام، د قېمت د زیاتوالي باعث ګرځي او په ځانګړي ډول، کله چې عرضه شتون ونه لري، قېمتونه په سرعت سره زیاتېږي، مصرف هم خپل صعودي حرکت ته دوام ورکوي، ځکه چې د انساني ځواک او نورو منابعو د لاسته راوړلو لپاره رقابت زیاتوالی مومي. د ګودام موجودي، پانګونه او د پور لپاره تقاضا په پورته سطحه کې راځي، د اضافي ذخایرو په زیاتوالي سره کمېږي او د اقتصادي فعالیتونو صعودي حرکت ته سرعت

وربخښي. د قیمت په زیاتوالي سره د پیسو ارزښت رالوېږي. پر دې اساس، ډېری افراد او شرکتونه پیسې په شتمنیو، ملکیتونو او یا نورو کالیو باندې بدلوي. دا په خپله کالیو او خدماتو ته د تقاضا کموالی زیاتوي او په اقتصاد کې موجود انفلاسیوني فشار راکموي. د سپما د میلان زیاتوالی (او د مصرف د میلان کموالی) منځته راځي. خو دا په اقتصاد کې د فعالیتونو د صعودي حرکت د مخنیوي لپاره کفایت نه کوي. کله چې په اقتصاد کې فوق العاده ښه باور شتون لري (چې د شکوفایۍ په دوره کې دغه ښه باور شتون لري) نو په اقتصاد کې مصرف او پانګونه زیاتېږي. د اقتصادي فعالیتونو زیاتوالی وروسته له هغه چې اقتصاد د کامل استخدام حالت ته رسېږي، یوازې انفلاسیون منځته راوړي.

## رکود:

شکوفایي تر ابده پورې دوام نه کوي، د اقتصادي فعالیتونو د نزولي حرکت پیلېدل د نه منلو خبره نه ده. د اقتصادي فعالیتونو د نزولي حرکت د پیلېدو دقیق اټکل ستونزمن کار دی. سره له دې افراد او اقتصادي موسسې کولای شي چې دغه پړاو ته آماده ګي ونیسي. کله چې رکود پیلېږي، کېدای شي په ډېر شدید یا آرام بحران پای ته ورسېږي، چې دغه مسئله په موجودو شرایطو پورې تړاو لري.

1- **د قیمت- مصرف رابطه:**

د شکوفایۍ د دورې په اوږدو کې د دروني عواملو ترمنځ رابطه به نهایتاً په داسې شکل تغییر وکړي، چې اقتصادي فعالیتونو د نزولي سیر باعث شي. کله چې تولید، استخدام او عاید په اعظمي حد کې واوسي، ممکن د یوه علت له مخې د مصرف کوونکي تقاضا راکمه شي. ځینې وخت حتی د تقاضا د زیاتوالي د نرخ کمېدل کولای شي چې ستونزه رامنځته کړي. کېدای شي د تقاضا د دغه کموالي علت د مصرف کوونکو د نهایي میلان کموالی وي. د تقاضا دغه کموالی به په نهایت کې د قیمتونو زیاتوالي ودروي او قیمتونه به ټیټ شي. خو مصرف خپل صعودي حرکت ته دوام ورکوي (د منابعو د لاسته راوړلو د رقابت له مخې) د مصرف دغه صعودي حرکت د سود حاشیه کموي او پانګونه راټیټوي.

2- **د ګودام د موجودي تغییر:**

کله چې تقاضا راکمه او قیمتونه تثبیت کېږي، تولیدونکي، عمده پلورونکي او پرچون پلورونکي د ګودام موجودي کموي. پر دې اساس، د مصرف کوونکو تقاضا ته ځوابوینه له موجودیو څخه ترسره کېږي او د غوښتې (سفارش) په شکل تولیدوونکي ته نه انتقالېږي. کله چې

قېمت کموالی مومي نه یوازې اضافي موجودی راکمېږي، بلکې عمده پلورونکي د خرڅلاو فیصدي راکموي. د موجودیو په مرسته د تقاضا ځوابوینه، تولید راکموي، چې دا په خپله د استخدام او عاید د کموالي سبب ګرځي او داقتصادي فعالیتونو نزول چټک کوي.

د ځینو اقتصادپوهانو په نظر، د موجودیو راټولېدنه او د هغه کموالی د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کوونکو عواملو په جمله کې عمده رول لوبوي.

3- **د ځای بدلولو تقاضا:**

د استخدام او عاید کموالی د رکود پر وخت د زیاتې تقاضا باعث ګرځي. سود کمېږي او پانګونه په ځانګړې توګه کله چې د ګټې نرخ پورته وي راکموي. تولیدي واحدونه د کارول شویو پانګه ییزو توکو بدلول غیر ضروري بولي او د تولید په راکمولو سره وزګار ظرفیت رامنځته کېږي. مصرف کوونکي هم د بادوامه مصرفي توکو خریداري وروسته کوي. د نوي ګاډي د پېرودلو پر ځای خپل ګاډي ترمیموي او تر کومه حده چې شونې وي له بادوامه مصرفي کالیو څخه کار اخلي. هر څومره چې د پورونو بیا ورکړه ستونزمنه کېږي، د اعتبار تقاضا کمېږي. قېمتونه په نهایت کې راکمېږي او دغه مسئله د کالیو پېرودلو ځنډول چټک کوي. دا په خپل وار سره تولید، استخدام او عاید کموي.

**د سپما او سیالیت عمده والی:** د قېمتونو کموالی د سیالیت غوره والی او د پیسو ارزښت زیاتوي. په پیسو باندې د کالیو د بدلولو هڅه زیاتوي. دغه مسئله به په اقتصاد باندې انفلاسیوني اغېزه وشیندي خو د عاید کموالی به له بلې خوا د سپما د میلان د کموالي باعث وګرځي.

**معکوس یو بل زیاتوونکی:** په کلي توګه، د تولید کموالی، عاید، استخدام، سود، تقاضا او قېمتونه به یو بل چټک کړي، چې دا په خپل وار سره د پانګونې د زیاتوالي باعث ګرځي. د پانګونې او د مصرف کوونکو د مخارجو کموالی د دې باعث ګرځي چې چټک کوونکی صفر خوا ته میلان وکړي او د یو بل زیاتوونکی عمل معکوس شي. په دغو شرایطو کې به په اقتصاد باندې ناسم باور رامنځته شي او دغه منفي اغېزه به د تولیدونکو او مصرف کوونکو په تصامیمو باندې اغېزه وکړي.

**د رکود خنثی کوونکي عوامل:** کولای شو چې د اقتصادي نوساناتو اوږدوالی او چټکوالی د مالی او پولي سیاستونو او د رواني عواملو په کارولو سره راکم کړو. بهرني عوامل اقتصادي فعالیتونه تر اغېزې لاندې راولي او ځینې وخت اقتصادي نوسانات منځته راوړي. د مثال په توګه، جګړه په اقتصادي فعالیتونو باندې د پام وړ اغېزه کوي. د وسلو او دفاعي وسایلو تقاضا، تولید او استخدام

زیاتوي. دا د زیات عاید او ډېرې تقاضا په معنا ده، چې د زیاتې ګټې او زیاتې پانګونې باعث ګرځي. د داخلي او خارجي عواملو متقابل برخورد د استخدام سطحه لوړوي، مګر د تولید د زیاتوالي ډېره هڅه انفلاسیون رامنځته کوي خو دا چې له اقتصادي سیاستونو څخه پا استفادې انفلاسیون مهار شي.

د رکود پر مهال د انفلاسیون زیاتوالی، د پیسو د عرضې زیاتوالی او د دولت د بودجې کسر هم جګړې ته ورته اغېزه لري. له بلې خوا، د جګړې ختمېدل هم کولای شي چې په اقتصاد باندې رکود ډوله اغېزه وکړي، ځکه چې د تولید د زیاتوالي باعث ګرځي.

**اقتصادي نوسانات- فزیکي او رواني دلایل:**

د اقتصادي نوساناتو نظریه، څه نا څه نوې ده. په دې اړه ډېرې لیکنې له 60 کلونو څخه راپدېخوا ترسره شوې دي. د دغه وخت په اوږدو کې، اقتصادپوهانو د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو د دلایلو هڅه کړې ده. په تأسف سره چې د اقتصادپوهانو ترمنځ د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو په هکله د نظر یووالی نشته. هېڅ وړاندې شوې نظریه هم په پوره توګه د نوساناتو د رامنځته کېدو دلایل نه توضیح کوي. کېدای شي چې د دې علت د موضوع پېچلتیا وي. غالباً د عواملو ترکیب نوسانات رامنځته کوي او کېدای شي چې دغه عوامل په بېلابېلو اشکالو سره د ډېرو پېښو په مرسته تر اغېزې لاندې راشي. ممکن د عواملو یوه لویه ډله خاص نوسانات منځته راوړي. د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو د دلایلو په رابطه وړاندې شوي نظریات د پوهېدنې د آسانی په لاندې ډلو وېشو:

1- د نوښت نظریه. 2. د کرهنې نظریې. 3. د چټک کوونکي نظریه. 4. رواني نظریه. 5. پولي نظریه. 6. له حده زیاته پانګونه. 7. د ناکافي مصرف نظریه. 8. د ناکافي پانګونې نظریه.

**د نوښت نظریه:**

د دغې نظریې تر ټولو مهم مدافع شومپیټر دی. دغه نظریه د لومړي ځل لپاره هغه وړاندې کړې ده، خو نورو پرې کار کړی دی او سمه کړې یې ده.

د دغې نظریې له مخې، اقتصادي نوسانات د نوښتونو په مرسته که هغه د نویو محصولاتو، نویو طریقو، نویو ماشین آلاتو او نویو تکنیکونو په مرسته وي رامنځته کېږي. دغه نوښتونه تولید زیاتوي او د تولید په پراخولو سره استخدام او عاید په اقتصاد کې لوړوي. مګر دغه نوښت د

اقتصادي فعالیتونو په پراخوالي سره پای ته رسېږي او دغه له حد نه زیاتې پراختیا پر وړاندې عکس العمل د اقتصادي فعالیتونو کموالی دی، چې تولید استخدام او عاید راټیټوي. خو غالباً داسې باور کېږي چې دغه کموالی له لومړني زیاتوالي څخه ډېر ورو دی. پر دې اساس، په خالصه توگه له نوساناتو څخه وروسته په ټولنه کې تولید زیاتېږي. په دې حالت کې، اقتصاد د تعادل او عدم تعادل د دورو ترمنځ د هغوی ترمنځ یو سر (پټ راز) تجربه کوي. په بله وینا، اقتصاد یو څو گامه وړاندې ځي او یو گام شا (څټ) ته اخلي. دغه مسئله په لاندې شکل کې ښودل کېږي.




«4- 17 شکل»

د نوښت په حالت کې داسې فرض کېږي چې اقتصاد د تعادل او کامل استخدام په حالت کې دی. په دې پړاو کې ټول انساني ځواک په کار بوخت وي او د تولید له ټول ظرفیت او منابعو څخه په کامله توگه گټه اخیستل کېږي. په دې حالت کې اقتصادي موسسې مساوي اندازه گټه لاسته راوړي. داسې هېڅ کوم فکر د نویو پیسو د جریان د زیاتوالي او یا صنعتي څانگو ته د نویو موسساتو د ورننوتو انگېزه شتون نه لري. په نتیجه کې به یې اقتصاد د تعادل په حال کې قرار ولري.

په دې وخت کې، اقتصادي موسسې د خپلې گټې د زیاتوالي لپاره د نوښت د ترلاسه کولو لپاره هڅه کوي. که ښه محصول تولید شي، تولیدونکې تصدی به د لوړ قیمت په غوښتنې سره خپله گټه زیاتوي او یا که چېرته د تولید له نویو طریقو څخه کار اخیستل مصارف راکم کړي، گټه به زیاته شي. غالباً داسې فرض کېږي چې اقتصادي موسسې د مالي تأمین لپاره د نوښت په خاطر له بانکونو

ځخه پور واخلي. له هغه ځایه چې نوښت په کالیو تبدیل شي، باید نوې ودانۍ او ماشین آلات جوړ شي او یا پخواني ماشینونه او ودانۍ جوړې شي. د نویو کالیو د تولید مخارج په اقتصاد باندې ډېره لږه اغېزه لري، خو که چېرته په اقتصاد کې کامل رقابت شتون ولري، نورې زیاتې اقتصادي موسسې به هم له لومړۍ اقتصادي موسسې ځخه پیروي وکړي. له لومړۍ اقتصادي موسسې ځخه چې کومې تصدۍ تقلید کوي، دوی به هم له بانکونو ځخه د ماشینونو، موادو او د انساني ځواک د استخدام لپاره پور واخلي. له هغه ځایه چې فرض شوې ده، ترڅو اقتصاد د کامل استخدام په حال کې دی، په دې شکل د تقاضا زیاتوالی به د کاري ځواک، لومړنیو موادو او پخوانیو ماشین آلاتو قېمتونه ښه کړي.

د قېمتونو په زیاتوالي سره دغه نوښت یا بدعت ډېرې اقتصادي موسسې د نوي محصول تولید او یا یې له نویو طریقو ځخه کار اخیستلو ته هڅوي. د اقتصادي فعالیتونو زیاتوالی د نویو اقتصادي فعالیتونو د کارولو خطر کموي او ډېر نوښتونه د اقتصادي فالیتونو حجم زیاتوي.

د تقاضا د زیاتوالي په خاطر د پانګه ییزو کالیو د قېمت زیاتوالی، سود په هغو صنایعو کې پانګه ییز کالي تولیدوي زیاتېږي. دغه مسئله دغو صنایعو ته د انساني ځواک او منابعو د انتقال باعث ګرځي. د پیسو د عرضې د زیاتوالي په نتیجه کې د بانکي اعتباراتو د زیاتوالي او کارګر ته د تقاضا په خاطر مزد زیاتېږي. د پانګه ییزو توکو صنایعو ته د انساني ځواک او منابعو په حرکت سره په لنډ مهال کې د مصرفي کالیو تولید راټیټوي. لوړ عاید د مصرفي کالیو د تولید په کمېدو یا نه تغییر سره ددغو کالیو قېمت زیاتوي. پر دې اساس، سود په ټولو صنایعو کې زیاتوالی مومي چې دا په خپل وار سره ډېر نوښت هڅوي.

سربېره پر دې، بانکونه هم د اقتصادي موسساتو په غوښتنې سره د پور د ترلاسه کولو لپاره مثبت ځواب وایي، ځکه چې د پور په ورāندې کولو سره به ډېره ګټه لاسته راوړي. خو د پور د ترلاسه کولو او بازار ته د مصرفي کالیو د ورود ترمنځ، یوه زماني فاصله وجود لري. په دغه وخت کې قېمتونه پورته دي او بازار کې د عرضې کمبود شتون لري، خو ځینې اقتصادي موسسې له کومو کالیو ځخه چې د تولید په جریان کې دي، ترې خبر نه دي، هغوی هم د تولید بازار ته واردېږي. عموماً کومې اقتصادي موسسې چې د نوښت عامل وي او ځینې تقلید کوونکي د تولید شویو کالیو د خرڅلاو وس لري، په داسې حال کې چې کومې اقتصادي موسسې چې وروسته د کالیو په تولید لاس پورې کوي، لا تراوسه پورې د کالیو د تولید په جریان کې وي. کله چې د یوې اقتصادي موسسې کالي بازار ته ځي، د تولید پراختیا درېږي.

د تولید له بې حده زیاتېدو څخه، نهایتاً عرضه له تقاضا څخه زیاتېږي او د قېمتونو زیاتوالی دربېږي، تر اوسه لا د مصرف زیاتوالي نور هم دوام لري، ګټه کمېږي او د پانګه ییزو کالیو تقاضا راټیټېږي. بازار ته د ډېرو کالیو په راتلو سره، قېمتونه ډېر راټیټېږي او ګټه ډېره کموي. پر دې اساس، پانګونه دربېږي. د تولید په کموالي سره استخدام او تولید هم کمېږي چې دا په خپل وار سره د مصرفي کالیو تقاضا کموي او د قېمت او ګټې د ډېر کموالي سبب ګرځي. دغه مسائل د اقتصادي فعالیتونو صعودي حرکت په نزولي حرکت بدلوي. د نوښت د نظریې له مخې اوس تولیدوونکي له لازم حد څخه زیات خپل تولید راکموي. په دې پړاو کې هم تولیدونکي او هم مصرف کوونکي ناسم باور پیدا کوي او اقتصاد بېرته د تعادل حالت ته ورګرځوي. نو د دغې نظریې پر اساس، د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو اصلي عامل نوښت او بدعت دی. نوښت د خلکو د ژوند د معیار او د تولید او صنعت د ښه کېدو باعث ګرځي، خو له بلې خوا د اقتصادي فعالیتونو نوسان هم له ځانه سره راوړي، چې کېدای شي ځینې وخت ډېر چټک وي.

که څه هم کېدای شي چې ځینې نوسانات له نوښت څخه منځته راشي، خو نوښت د ټولو اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو عامل نه وي. که اقتصاد د کامل استخدام په حال کې نه وي، نوښت د اقتصادي نوساناتو باعث نه ګرځي.

## د کرهنې نظریات:

له 60 څخه تر 100 کاله وړاندې د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې کرنه د اقتصاد حاکمه برخه وه. په امریکا کې د کورنیو جګړو له دورې وروسته د یو هېواد د نفوس $\frac{2}{3}$ برخه بزګران وو. په هغه وخت کې به د هر هېواد په اقتصاد کې کرنې ډېر ارزښت درلود. په اوس وخت کې په امریکا کې د دغه هېواد 6 فیصده نفوس په کرنه کې بوخت دی. نتیجتاً په هغه وخت کې طبیعي وه چې داسې فکر وشي، چې کرنیز فعالیتونه په یوې ټولنه کې د اقتصادي نوساناتو باعث ګرځي.

په هغه وخت کې به ځینو اقتصادپوهانو د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو د دلایلو د موندولو لپاره هڅه کوله چې د اقتصادي فعالیتونو حجم د کرنیزو فعالیتونو له حجم سره مرتبط کړي. په 1875 ز کال کې استانلي جورنس د «لمر د مخ داغ» مشهوره نظریه وړاندې کړه. د دغې نظریې پر اساس، د لمر مخ داغونه د هوا حالات تر اغېزې لاندې راولي او دغه شرایط په خپل وار سره د کرنې د تولید په حجم اغېزه کوي، چې دا هم په خپل وار سره صنعت او سوداګري تر اغېزې لاندې راولي.

په 1914 ز کال کې امریکائي اقتصاد پوه (مور)[45] د ستورو د حرکت او د اقتصادي نوساناتو ترمنځ د روابطو د ښودلو هڅه وکړه. د مور د نظریې پر اساس، د (وینوس) یا زهرې حرکت د باران اندازه تر اغېزې لاندې راولي، چې دا بیا په خپل وار سره د کرنې په تولید اغېزه کوي او د کرنې تولیدات د اقتصادي فعالیتونو د نوسان باعث گرځي. د 1930 ز په لسیزه کې تیمو شنکو [46] د کرنې د تولیداتو د تغییراتو رابطه له اقتصادي نوساناتو سره وښوده، خو هغه په کرنیزو تولیداتو کې د تغییر رامنځته کوونکي عامل په اړه توضیح وړاندې نه کړه. که څه هم په دې هکله وړاندې شوې نظریې په زړه پورې دي او تر یوه حده پورې د اقتصادي نوساناتو او کرنې ترمنځ پیوستون ښکاره کوي، خو د یوې رابطې شتون کوم علت او معلول نه شي ثابتولی.

په مجموعي توگه له دې خبرې څخه انکار نه شو کولای چې د کرنیزو تولیداتو نوسان په سوداگریزو او صنعتي فعالیتونو أثر کوي. پر دې اساس، د اقتصادي فعالیتونو سطحه تر اغېزې لاندې راولي. که د یوه کال په جریان کې کرنیز محصول د پام وړ زیاتوالی ومومي، د هغه د ترلاسه کولو لپاره ډېر انساني ځواک او ماشین آلاتو، د محصول د انتقال لپاره د حمل او نقل ډېرو وسایلو او د گودام ډېر ځای ته هم اړتیا ده. د کرنې زیات تولید، دغې برخې ته د ډېرو اعتباراتو ورکړه ممکنوي. د بزگرانو د عوایدو زیاتوالی هم د کالیو او خدماتو تقاضا ډېروي او د اقتصادي فعالیتونو باعث گرځي.

نو د تولید د اندازې ډېروالی د قېمت د ټیټېدو باعث گرځي. چې دا په صنعت کې تولیدي مصرف، په ځانگړې توگه په هغو صنایعو کې چې په خپل تولید کې له کرنیزو توکو نه د لومړنیو موادو په توگه کار اخلي، د دو مصرف راټیټوي. د خامو موادو په خاطر د مصرف ټیټېدل، کېدای شي چې گټه زیاته او پانگونه زیاته کړي. البته کېدای شي چې دا په خپل ذات کې د اقتصادي فعالیتونو، صنعتي تولید، استخدام، عاید، تقاضا او سود د زیاتوالي پیلامه وي. که کرنیز تولیدات کم شي، البته د دې پر عکس مسئله به پېښه شي. البته کېدای شي چې بزگرانو ته د کرنیزو تولیداتو د قېمت کموالی د عاید د کمېدو باعث شي. دغه مسئله به هغه وخت پېښه شي چې د قېمت د نرخ کموالی د خرڅلاو د نرخ له زیاتوالي څخه لوړ وي.

## د چټک کوونکي نظریه:

لکه څنگه چې مو ولیدل، ډېر مصرف د یو بل زیاتوونکي په ترڅ کې د کالیو او خدماتو د زیاتېدو باعث گرځي، چې دا په خپل وار سره، کېدای شي چې ماشینونو، تجهیزاتو او ودانیو ته

[45] - H. L. Moore.

[46] - Timoshenko.

تقاضا لوړه کړي چې د زياتو کاليو او خدماتو د توليد لپاره کارول کېږي. دې ته د چټک کوونکي اغېزه وايي، او کولای شو چې چټک کوونکي اغېزه په لاندې ډول بيا تعريف کړو. د مصرفي کاليو د تقاضا زياتوالی پانګه ييزو توکو ته د زياتې تقاضا باعث ګرځي.

ځينې اقتصادپوهان باور لري چې چټک کوونکی د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو عامل دی. که څه هم ډېر لږ يې د يو مستقل عامل په توګه او د اقتصادي نوساناتو رامنځته کوونکی هغه د اقتصادي فعاليتونو د صعودي او نزولي حرکت د رامنځته کولو مهم عامل ګڼي. له احصائيوي پلوه د دغې مسئلې ښودنه چې د پانګه ييزو کاليو د توليد نوسانات د مصرفي کاليو د توليد له تغييراتو څخه شديد وي، ډېره آسانه خبره ده. چټک کوونکی عمل په ډېرو برخو کې په اقتصاد کې د پانګه ييزو کاليو د توليد په څېر موجودي ګانې او بادوامه مصرفي کالي په ښکاره توګه د ليدو وړه دی.

د پانګه ييزو توکو د توليد نوسانات مصرفي کاليو ته د تقاضا د تغيير په عکس العمل کې رامنځته کېږي. لاندينی مثال دغه مطلب ښکاره کوي. فرض کړئ چې يو ماشين کولای شي چې په کال کې 500 واحده مصرفي کالي توليد کړي او اقتصادي تصدي دغه ماشين په 10 کلونو کې استهلاکوي. که د اقتصادي موسسې خرځلاو د 100000 واحدو په اندازه وي، دغه اقتصادي موسسه 200 ماشينونو ته ضرورت لري. که د مصرف کوونکي تقاضا ثابته پاته شي، اقتصادي موسسه به په کال کې 200 نوي ماشينونه نصب کړي. خو که چېرته د مصرف کوونکي تقاضا د 20 فيصدو په اندازه زياته شي، اقتصادي موسسه به 40 اضافي ماشينونو ته اړتيا پيدا کړي (20000 اضافي واحده توليد لپاره) او په دې کال کې به د اقتصادي موسسې تقاضا ماشينونو ته د 60 واحدو په اندازه وي (20 واحده د ماشين د بدلولو لپاره، 200 فيصده د زياتوالي عکس العمل د 20 فيصده زياتوالي لپاره چې مصرفي کاليو ته وي) دغه مسئله د لانديني جدول د الف او ب سطر په مرسته ښودل کېږي.

| | د مصرف کوونکي د تقاضا د زياتوالي فيصدي | د مصرف کوونکي د تقاضا مقدار | د اړتيا وړ ټول ماشينونه | د ماشينو تعويضي تقاضا | د اضافي ماشينونو تقاضا | د ماشينونو مجموعي تقاضا | د پانګه ييزو کاليو د تقاضا د فيصدی زياتوالي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| الف | - | 100000 | 200 | 20 | - | 20 | - |
| ب | 20 فيصده | 120000 | 240 | 20 | 40 | 60 | 200 فيصده |
| پ | 10 فيصده | 132000 | 264 | 24 | 24 | 48 | 20 فيصده |
| ت | - | 132000 | 264 | 26 | - | 26 | 40 فيصده |
| ث | 10 فيصده | 118800 | 238 | - | - | - | 100 فيصده |

د 10 فیصدو اندازه د مصرف کوونکي د تقاضا زیاتوالی نور د پانګه ییزو کالیو د تقاضا د زیاتوالي باعث نه ګرځي. د جدول ب سطر دا خبره واضح کوي، چې د مصرف کوونکي د تقاضا 10 فیصده زیاتوالی یا 120000 اقتصادي موسسه دې ته مجبوروي چې 24 ماشینونه زیات کړي، او د ماشینونو مجموعي تقاضا 48 واحده ده (24 واحده د استهلاک شویو ماشینونو لپاره (10 فیصده 240) او 24 واحده د زیاتو کالیو لپاره) خو د پانګه ییزو کالیو مجموعي تقاضا ډېر کموالی مومي. پر دې اساس، د پانګه ییزو توکو د تقاضا کموالی مخکې له دې چې د مصرفي کالیو تقاضا اعظمي شي، کموالی مومي.

## چټک کوونکی او موجودي ګانې:

د موجودي ګانو په کموالي او ډېروالي باندې د چټکوالي د اصل اغېزه مخکې وښودل شوه، اقتصادي موسسه د 100000 واحدو په خرڅلاو سره چې د 10 فیصدو په اندازې سره یې د موجودي نسبت ساتلی دی، په ګودام کې 10000 واحده موجودي لري. که خرڅلاو په همدې اندازه پاته شي، اقتصادي موسسه به په میاشت کې 100000 واحده غوښتنه (سفارش) وکړي، چې د مصرف کوونکو تقاضا پرې رفع شي. که خرڅلاو د 10 فیصدو په اندازه او 110000 واحدو ته زیاتوالی ومومي. اقتصادي موسسه باید د مصرف کوونکو تقاضا د ځوابوینې لپاره د 110000 واحدو په اندازه سفارش ولېږي. پر دې سربېره، دا چې اوس خرڅلاو 110000 واحده دی، تصدي باید خپله موجودي د 1000 واحدو په اندازه زیاته کړي، چې 10 فیصده موجودي وپلورل شي. پر دې اساس، به کارخانې ته د تصدي سفارش د 111000 واحدو په اندازه زیاتوي. پر دې اساس، د 10 فیصدو په اندازه د خرڅلاو زیاتوالی مجموعي تقاضا د 11 فیصدو په اندازه زیاتوي. له دې وراخوا که قېمت زیات شي، کېدای شي چې تصدي د خرڅلاو په نسبت خپله موجودي اضافه کړي، چې دغه مطلب به هم چټک کوونکې اغېزه زیاته کړي. طبعیتاً چې د مسئلې برعکس هم صدق کوي. تصدي به کارخانې ته خپل سفارشات د تقاضا له کموالي سره کم کړي، چې د خرڅلاو په نسبت د پام وړ موجودي لاسته راشي. پر دې سربېره، کېدای شي چې تصدي د قېمت د کمېدو پر مهال حتی دغه نسبت هم راکم کړي. په مجموعي توګه د مصرفي او پانګه ییزو توکو د خرڅلاو زیاتوالی د پرچون خرڅلاو په کچه د کارخانې په سطحه د تقاضا په پرتله ډېر زیاتوالی رامنځته کړي. د پرچون خرڅلاو په کچه کې کموالی به هم د کارخانې د تولیداتو په کچه کې نسبتاً ډېر کموالی رامنځته کړي. دغه

پدیده په 1952 ز او د 1953 ز په لومړیو کې د اقتصادي فعالیتونو د چټک زیاتوالي عامل وه او په 1964 -1953 ز کلونو کې په امریکا کې د اقتصادي فعالیتونو د کموالي عامل وه. پر دې سربېره، په 1958 او 1967 ز کال کې یې د اقتصادي فعالیتونو په کموالي کې مهم رول لوباوه.

## چټک کوونکی او مصرفي کالي:

د چټکوالي د اصل عمل د بادوامه کالیو په برخه کې مستقیماً د عاید په نوساناتو او ځانګړو کالیو په دوام پورې تړاو لري. د مثال په توګه په عادي حالاتو کې ممکن یو څوک خپل زوړ موټر په هرو دوه کالو کې یو ځل بدل کړي، خپل بوټونه یو ځل بیا ترمیم کړي او بیا ترې کار وانخلي او یا هر کله چې نوی ماډل ټلوېزیون بازار ته راځي، خپل ټلوېزیون بدلوي. کله چې د یوه کس عاید کمېږي، د بادوامه مصرفي کالیو پېرودل ځنډېږي. له هغه ځایه چې یو څوک کولای شي له خپلو بادوامه کالیو، کور، موټر، بوټونو، ټلوېزیون او نورو څخه همداسې کار واخلي، کله چې اقتصادي فعالیتونه کموالی مومي، ددغو کالیو تقاضا په ډېره چټکه توګه راټیټېږي. له بلې خوا، د عاید د زیاتېدو پر مهال د بادوامه مصرفي کالیو تقاضا له اقتصادي فعالیتونو څخه په چټکه توګه زیاتېږي. د عاید په زیاتوالي سره، په لومړي سر کې مصرف کوونکی خپله تقاضا د لومړنیو وسایلو لپاره پوره کوي. ډېری وخت دغه اقدامات د تقاضا له پوره وروسته، فرد د خپل زیات شوي عاید د پام وړ فیصدي په بادوامه مصرفي کالیو لګوي مثلاً کله چې د امریکا اقتصاد په 1958 ز کال کې له رکود سره مخ شو، حقیقي ملي عاید د 1 فیصد په شاوخوا کې کم شو. په همدې وخت کې د نویو موټرو د پرچون خرڅلاو ارزښت 27 کم شو. په 1959 ز کال کې د ملي عاید زیاتوالی د 6 فیصدو په شاوخوا کې د 31 فیصدو په اندازه د موټرو د خرڅلاو د زیاتوالي باعث شو.

که څه هم چټک کوونکی د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کېدو مستقل عامل نه دی، خو په بېلابېلو برخو کې پر اقتصاد اغېزه کوي او اقتصادي نوساناتو ته سرعت وربخښي.

## د چټک کوونکي نظریې نیمګړتیاوې:

هرومرو چټک کوونکی د اقتصادي نوساناتو رامنځته کوونکی عامل نه دی او غالباً له خفیفو نوساناتو سره تړاو لري. پر دې اساس، ویلی شو چې د چټک کوونکي اغېزه نسبتاً اوږده او ورو ده.

**رواني نظريه:**

که څه هم رواني عوامل هېڅ وخت په کاملاً خپلواکه توگه د اقتصادي نوساناتو د رامنځته کوونکي عامل په توگه نه دي شمېرل شوي، خو د اقتصادي نوساناتو په بحثونو کې د تل لپاره په پام کې نیول شوي دي. په دې اړه د تحقیق زیاتوالي ښودلې ده چې رواني کړنې په اقتصادي نوساناتو کې ډېر ارزښت لري.

**د مصرف کوونکو او پانگوالو عملیات:**

په لنډه توگه رواني نظريه په دې تصور بانديې بناء شوې ده، چې د کوم شي پر اساس فکر کوي، خپل عکس العمل ښکاره کوي. که داسې فکر وکړي چې اقتصادي شرايط به مناسب خوا ته حرکت وکړي، په دې جهت کې به عمل کې وکړي او له دې کار سره د هغوی عکس العمل د اقتصادي فعاليتونو د سمېدو باعث گرځي. پر دې اساس، که پانگوال فکر وکړي چې د دوی خرڅلاو به په راتلونکي کې ډېر شي، لومړني مواد به ذخيره او زيات زيات شمېر کارگر به په کار وگوماري، له بانکونو نه به پور واخلي او توليدي واحدونو ته به پراختيا وکړي. په دې ترتيب مجموعي پانگونه زياتېږي او لومړنيو موادو او کارگرو ته ورکړې زياتېږي. د چټکوالي او زياتوالي ضريب پر دغو اضافي مخارجو عمل کوي او د پانگوالو عايد ډېر زياتوي. له بلې خوا، که داسې وانگېرل شي چې خرڅلاو به راکم شي او د گودام موجودي له حده زياته ساتل شوې او د سود نرخ هم ټيټ دی، پانگوال او کاروباريان خپل پراختيايي پروگرامونه دروي، د گودام موجودي راکموي، کارگر له کاره گوښه او ترلاسه کړی شوي پورونه بېرته ورکوي. دغه کارونه به په ټولنه کې اقتصادي فعاليتونه راکم کړي.

که مصرف کوونکي اضافه کاري وکړي او ښه عايد ترلاسه کړي او د دې تمه ورسره وي، چې دغه وضع به په راتلونکي کې هم دوام ولري، هغه به خپل مخارج محدود نه کړي او ممکن د اعتبار په اخيستو سره خپل خرڅلاو هم زيات کړي او کېدای شي چې د بادوامه مصرفي کاليو په خريد هم لاس پورې کړي. د مصرف کوونکي دغه کار هم د اقتصادي فعاليتونو کچه لوړوي، که کارگر ونه شي کولای چې اضافه کار ترسره کړي او که داسې يې وليدل چې ځينې همکاران يې وزگار شوي دي، نو په دې هم د بدبينۍ احساس ورته پيدا کېږي او په ډېرې محافظه کارۍ سره به مصرف وکړي. اعتبار نه اخلي او خپل پورونه بېرته ورکوي. په مجموعي توگه که پانگوال، کاروباريان او مصرف کوونکي داسې فکر وکړي، چې اقتصادي شرايط به ښه شي. په داسې توگه به عمل وکړي چې اقتصادي فعاليتونه به په ټولنه کې زيات شي. که اقتصادي شرايطو ته داسې فکر او

تمایل ونه لري، په داسې توګه به عمل وکړي چې اقتصادي فعالیتونه به د هغوی د عمل په نتیجه کې راکم شي.

### د رقابت اغېزه:

غالباً د کالیو د خرڅلاو په خاطر رقابت د اقتصادي فعالیتونو له حده زیاتې پراختیا باندې پای ته رسېږي. ډېری وخت اقتصادي موسسې په یو ځانګړي صنعت کې خپل قدرت له حده زیات اټکل کوي. که څو تصدۍ خپل اقتصادي قدرت په دقیقه توګه اټکل نه کړي، مجموعي تولید به د تقاضا د ځوابوینې له مقدار څخه زیات وي. کله چې کالي بازار ته داخلېږي، ځینې تصدۍ به په دې پوه شي، چې خرڅلاو یې له اټکل شوي مقدار څخه لږ دی، په پای کې به اړ شي چې خپل تولید راکم کړي.

د دغه حال یوه نمونه د موټرو صنعت دی. د کال په هر مني کې چې نوی ماډل بازار ته راوځي، صنعت د ښه باور او اعتماد ښکار کېږي. هر تولیدونکی د خپلې برخې په هکله د بازار په اړه خبرې کوي. خو که چېرته د ټولو تولیدونکو ونډه سره جمع کړو، عموماً له 100 څخه زیاتېږي. له دې سره سره تولید په حیرانونکي سرعت سره پیلېږي. د هرې لارې د تولید پروګرام په لوړه کچه کې وي، کارګر اضافه کوي، خرڅلاو زیات وي او د نویو موټرو د پېرودلو لپاره تخفیف کم وي. خو لا تولید کال ته نیمایي پورې نه وي رسېدلی چې ځینې تصدۍ په دې خبره پوهېږي چې کوم شی چې دوی تولیدوي، نه شي کولای چې ویې پلوري. په پای کې، د تولید کچه کمېږي او کارګر وزګارېږي.

دغه مسئله په 1955 ز کال کې په امریکا کې رامنځته شوه. په عادي توګه د موټرو د خرڅلاو حجم په کال کې نږدې 5 – 6 میلیونه موټر وو.

د تولیدونکو اټکل د دوی د ونډې په هکله په بازار کې 115 فیصدو ته ورسېده. وروسته له څو میاشتو تولید په داسې نرخ وړاندې روان و، چې په کال کې 9,5 میلیونه موټر بازار ته وړاندې کېدل. ډېرو متخصصینو باور درلود چې د تولید دغه سطحه له تقاضا څخه ډېره زیاته ده. تصدۍ هم په دې خبره پوه شوې او په پای کې د تولید کچه راټیټه شوه، واړه تولیدونکي یا له افلاس سره مخ شول او یا له نورو شرکتونو سره یو ځای شول. د کال په وروستیو کې د مصرف کوونکو تقاضا نږدې 7,2 میلیونه موټر وه.

### د صنایعو د رهبرانو اغېزه:

ډېری وخت خلک پر دې اساس چې نور کوم فکر کوي دوی پرې عکس العمل شکاره کوي. غالباً د کوچنیو تصدیو رهبران د لویو شرکتونو د فکري تمایلاتو له مخې عکس العمل ښکاره کوي. ممکن ځینې وخت د ټولنې مجموعي تمایلات د څو تنه اقتصادي رهبرانو له خوا وټاکل شي د مثال په توګه، د رکود په ځینو دورو کې د جنرال موټرو عامل مدیر خپل باور د امریکا اقتصادي وضعیت ته اعلان کړ. هغه څرګنده کړه، چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به دوه میلیارده ډالر د تولیدي واحدونو د پراختیا لپاره په کار واچوي. ځینو نورو شرکتونو هم دا ډول پروګرامونه اعلان کړل. په پای کې ډېرو کوچینو شرکتونو هم دا ډول پروګرامونه اعلان کړل او په اقتصاد کې پانګونه زیاته شوه.

د رواني عامل ارزښت په زیاتېدونکې توګه د اقتصادپوهانو له خوا پېژندل شوی دی. د ټولنې رهبران په دې هکله هڅه کوي چې په خپلو څرګندونو سره له رواني پلوه مطلوبه او مناسبه فضاء منځته راوړي.

### د سوداګریزو دورو پولي نظریه

د اقتصادي نوساناتو په اړه څو پولي نظریې شتون لري. ډېری وخت دوی د پیسو د عرضې ډېره راټولېدنه او پراختیا د اقتصادي نوساناتو عمده عامل ګڼي. دوی له خپل نظر څخه د ملاتړ په خاطر دا خبره کوي چې اقتصادي نوسانات اساساً په نویو صنعتي ټولنو کې، چې په هغو کې بانکي سیستم په ساده ګی سره د اعتبار د پراخوالي وس لري، رامنځته کېږي. ډېری اقتصادپوهان بارو لري، چې د بانکي اعتباراتو ارتجاعیت د اقتصادي فعالیتونو د نوساناتو عمده دلیل دی او د هغه د نه پیښېدو په صورت کې به اقتصادي نوسانات رامنځته نه شي. ددغو اقتصادپوهانو له ډلې څخه هاوتري [47] انګلیسي اقتصاد پوه چې د اقتصادي نوساناتو په اړه زیات شمېر کتابونه او مقالې لیکلي دي، خپل نظر په لاندې توګه وړاندې کوي:

### د تعادل فرضیه:

پولي نظریه د نورو نظریو په څېر، د اقتصادي نوساناتو د توضیح لپاره خپل بحث د اقتصاد له تعادلي حالت څخه چې د پیسو عرضه پکې ثابته وي پیلوي. کولای شو چې دغه نظریه په لاندې شکل کې وښیو.

[47] - R. G. Hawtrey.




«5 – 17 شکل»

د پولي نظریاتو پر اساس، که د پیسو عرضه په اقتصاد کې ثابته وي، مخارج، مصارف او پانگونه هم ثابته پاته شي او که په سپما کې هم کوم تغییر رانه شي، اقتصاد به د تعادل په حال کې پاته شي. که څه هم دغه تعادل په بېلابېلو طریقو له منځه تلی شي، خو پولي نظریې په دې باور دي چې د تعادل حالت د پیسو د عرضې د تغییراتو له خوا له منځه تلی شي. (په حقیقت کې به د پیسو د عرضې نه تغییر له منځه ولاړ شي) په حقیقت کې د پیسو د عرضې نه تغییر په اقتصاد کې د نوساناتو د نه شتون په معنا ده.

## د پیسو د عرضې د تغییر دلایل:

د پیسو د عرضې د تغییر لپاره څلور دلایل وړاندې شوي دي:

1- د هېواد د سرو زرو د ذخیرې زیاتوالی (د طلایي ستنډرډ په نظام کې).
2- د بانکي اعتباراتو زیاتوالی.
3- د سوداگرو د نقدي مصارفو زیاتوالی.
4- د مصرف کوونکو د مصرفي لگښتونو زیاتوالی له تېرو سپما او یا د جاري سپماوو له کارونې څخه.

## د اقتصادي فعالیتونو پراختیا:

که داسې فرض شي چې د پیسو د عرضې زیاتوالی د مصرفي لګښتونو د زیاتوالي باعث ګرځي، دغه نظریه د دې څرګندونه کوي چې دا څنګه له حد نه زیات، د پراختیا او په پای کې د اقتصادي فعالیتونو د کموالي لامل ګرځي. په دې تحلیل کې د ګودام په موجودۍ باندې ډېر ټینګار کېږي. د دغې نظریې له مخې تولیدونکي له خپلو نقدي ذخایرو او یا له بانکي اعتباراتو څخه د تولید او د ګودام د موجودۍ د زیاتوالي لپاره کار اخلي. د پیسو د عرضې د زیاتوالي عامل ته په کتو، د دغه زیاتوالي د اقتصاد مجموعي مصارف دي. د تقاضا دغه زیاتوالی د کالیو او خدماتو د زیاتوالي باعث ګرځي.

د اضافي کالیو او خدماتو د عرضې د زیاتوالي لپاره، د هاوتري په فکر، تولیدونکي باید خپل نقدي مصارف زیات کړي. کله چې د دوی نقدي موجودي ګانې ختمېږي، له بانکونو نه پور اخلي، د سود او قیمت زیاتوالی د دې لامل ګرځي چې له بانکونو نه د تولیدونکو پور زیات شي.

## انقباض:

د پراختیا او انفلاسیون ګړندي کېدل کله چې بانکونه نور د اعتبار سپړنې وس نه لري، ودرېږي. د پولي نظریې له مخې دغه چاره هغه وخت پېښېږي، چې د اقتصادي فعالیتونو زیاتوالی او لوړ قیمتونو سیالیت راټیټ کړي او د هغوی د ذخیرې مازاد راټیټ کړی شي. له دې وراخوا، په داخل کې د قیمت په زیاتېدو سره به صادرات او واردات زیات شي. د خارجي تادیاتو بیلانس له هېواده د سرو زور د وتو باعث ګرځي. د سرو زرو پایې نظام کې، دغه مسئله د انفلاسیون او رکود پر ضد تمامېږي. د دغې نظریې پر اساس، د بانکونو له خوا د اعتباراتو محدودول، پانګونه عمومي تولید هم کمېږي او ځینې کارګر به وزګار پاته شي. قیمتونه راټیټېږي او تقاضا به راټیټه شي. کله چې دغه مخ ښکته حرکت پیل شي، دوام مومي تر هغو پورې چې بیا اقتصادي ثبات رامنځته شي.

## څرنګه کولای شو چې نوسانات له منځه یوسو:

له هغه ځایه چې اقتصادي نوسانات عمدتاً د پیسو د عرضې له تغییر څخه رامنځته کېږي، د دغې نظریې پر اساس، پیسې نوسانات رامنځته کوي. خو د شدیدو اقتصادي نوساناتو د له منځه وړلو لپاره باید بانکي اعتبارات کنترول شي. مرکزي بانک په یو اقتصاد کې د پیسو د عرضې د محدودولو ظرفیت او وس لري او پر دې اساس، په جریان کې لوېدلې پیسې باید په دقیق ډول کنترول کړي.

**له حده زیاتې پانګونې نظریه:**

دغه نظریه، د پولي نظریې بدله شوې بڼه ده. له حده زیاتې پانګونې نظریه چې د اتریش مکتب له خوا وړاندې شوې ده، چې ډېر کار پکې د هایک[48] دی.

د پانګونې پر بنسټ د پانګه ییزو کالیو په تولید کې پانګونه د ګټې په نرخ او د پیسو په عرضې پورې تړاو لري. په کوم اقتصاد کې چې د پیسو عرضه پکې ثابته ده. پر دې اساس، د پانګونې مقدار د سپما د عرضې په مرسته محدودیږي او د پانګونې مقدار، که د پیسو عرضه ثابته پاته شي، دا به د سپما له مقدار سره برابر شي. پانګه ییز کالي یوازې تر هغه حده پورې چې سپما شتون لري، کولای شي چې تولید شي. په کوم اقتصاد کې چې د بانکي اعتباراتو له لارې د پیسو د عرضې سپړېدنه (بسط) امکان لري، د پانګه ییزو او مصرفي کالیو ترمنځ تعادل او د ټولنې میلان مصرف او سپما ته په اتوماتیکه توګه نه برقرارېږي.

د اعتبار د ایجاد او د ګټې د نرخ د کمولو له لارې، تولیدونکي پور اخیستو ته تشویقېږي او د پانګه ییزو کالیو په تولید کې پانګونه د ټولنې د سپما د مقدار له اندازې څخه ډېرېږي. په لنډه توګه، د اعتبار د سپړېدنې په خاطر د پیسو له حده زیاته عرضه د مصرفي کالیو له تولید څخه د پانګه ییزو کالیو تولید ته د منابعو د انتقال باعث ګرځي. پر دې اساس، د پانګه ییزو کالیو تولید د اړتیا وړ اندازې څخه زیاتېږي. له هغه ځایه چې د پانګه ییزو کالیو د تولید زیاتوالی یوازې د مصرفي کالیو د تولید په کموالي ممکن ګرځي، ټولنه د مصرف کمېدو ته اړ کېږي. د پانګه ییزو کالیو دغه زیاتوالی چې د مصرفي کالیو د کموالي له لارې هایک، اجباري سپما ونوموله.

**د ګټې د نرخ اهمیت:**

په دې نظریه کې د مصرفي کالیو له تولید څخه پانګه ییزو توکو ته د منابعو په انتقال کې د ګټې د نرخ په اهمیت خبرې کېږي. په دغې نظریه کې، د طبیعي ګټې له درېیو نرخونو، بازار او تعادل څخه کار اخیستل کېږي. د ګټې طبیعي نرخ په ګټورتیا کې د پانګه ییزو کالیو د کارونې لپاره د خالص زیاتوالي د اندزه کولو مقیاس دی. د مثال په توګه که د تراکتور کارول د تولید د خالص زیاتوالي په کال کې د 100 ټنه غنمو د زیاتوالي باعث شي، په دې صورت کې د ګټې طبیعي نرخ به په کال کې 100 ټنه غنم وي. د بازار د ګټې نرخ، هغه ګټه ده چې باید د پانګه ییزو کالیو د کارونې لپاره ورکړل شي او د هغه مقدار (د خرید لپاره موجودې پیسې) د پانګه ییزو کالیو عرضه او تقاضا

48 - Hayek.

ټاکي. د تعادل د ګټې نرخ هغه وخت رامنځته کېږي، چې د ګټې طبيعي نرخ د بازار له نرخ سره برابرېږي.

## د اقتصادي فعالیتونو سپړېدنه:

که د ګټې طبيعي نرخ د بازار د ګټې له نرخ څخه زيات وي، اقتصادي فعاليتونه پراختيا مومي او توليدونکو ته به پور اخيستل او پانګونه ګټوره وي. د اقتصادي فعاليتونو د پراختيا په دوام داسې څواکونه به په کار لاس پورې کړي او د ګټې طبيعي نرخ راکم او د بازار د ګټې نرخ به زيات کړي. تر هغو پورې چې د دې دوه وو ترمنځ تعادل رامنځته شي. په دغه پړاو کې، پانګونه ثبات مومي او اقتصاد به د تعادل په حالت کې شي. د ګټې د طبيعي نرخ د کموالي اصلي عامل د نزولي حاصل قانون دی. له بلې خوا، پيسو ته د تقاضا زياتوالی د پانګه ييزو کاليو خريد په هغه اقتصاد کې چې د پيسو عرضه پکې ثابته ده، د بازار د ګټې نرخ زياتوي. دغه مسئله به د پور او پانګونې د ګټې د کمېدو باعث ګرځي. کله چې دغه دواړه نرخونه سره برابر شي، د پانګونې او پور اخيستو انګېزه له منځه ځي او د اقتصادي فعاليتونو سپړېدنه درېږي. که د ګټې طبيعي نرخ د بازار د ګټې له نرخ څخه کمېږي، نه يوازې دا چې پانګونه به زياته کړي، بلکې توليدونکي به خپله پانګونه راکمه کړي چې دا د اقتصادي فعاليتونو د انقباض باعث ګرځي.

که بانکونه د پيسو د عرضې د زياتوالي وس ولري، دا وضع به پر دې منوال پاته نه شي. د اعتبار او پيسو د عرضې د زياتوالي له لارې، د بازار د ګټې نرخ به راکم شي او د پانګونې د زياتوالي باعث وګرځي. پر دې اساس، پانګونه به د واقعي سپما په پرتله له حده پورته زياته شي.

## د پيسو د عرضې ثبات:

په کوم اقتصاد کې چې د پيسو د عرضه ثابته ده، د مصرفي کاليو د توليد نسبت سپما ته د مصرفي مخارجو په پرتله له پانګې سره برابره شي. کله چې اقتصاد د کامل استخدام په حال کې وي، د ګټې طبيعي نرخ به د بازار د ګټې له نرخ سره برابر شي. په دې حالت کې، دغه منبع به د پانګه ييزو کاليو د توليد لپاره له دوی سره، د ټولنې سپما ده. له حده زياتې پانګونې نظريې له مخې دغه ټوله سپما به پور شي او پانګونه به پرې وشي، ځکه هرکله چې سپما له پور څخه زياته وي، د بازار د ګټې نرخ به راټيټ شي ترڅو ټوله سپما په پور واخيستل شي. پر دې اساس، د پانګونې مقدار به له سپما سره برابره شي. په پای کې به د پانګه ييزو کاليو توليد هم د تل لپاره د مجموعي توليد او مصرف کوونکو د ټولې تقاضا له توپير سره برابر شي.

که په هر دلیل تولیدونکي د پور اخیستو اړتیا د ټولنې له واقعي سپما څخه زیاته وي. په دې کار به بریالي نه شي. ځکه یوازې منابع به د واقعي سپما په واک کې وي. دغه اضافي تقاضا به د بازار د ګټې د نرخ د زیاتوالي باعث وګرځي او دغه زیاتوالی، تقاضا کموي.

په کوم اقتصاد کې چې د پیسو عرضه ثابته وي، د پانګه ییزو کالیو تولید یوازې کولای شي چې د مصرف کوونکو په ډله ییزې پرېکړې د مصرف د کموالي په اړه زیاتوالی ومومي. په دې شکل د سپما زیاتوالی د بازار د ګټې د نرخ د زیاتوالي باعث ګرځي او پور اخیستل او پانګونه ګټوره ګرځوي. که د پیسو عرضه ثابته پاته شي، د مصرفي او پانګه ییزو کالیو د تولید د ترکیب تغییر په اقتصاد کې د شدیدو نوساناتو له رامنځته کېدو ممکن ګرځي او د پانګه ییزو کالیو د تولید زیاتوالی د اقتصاد د واقعي سپما له مقدار سره محدودېږي.

### اجباري سپما:

په کوم اقتصاد کې چې بانکي اعتبارات کولای شي چې د پیسو عرضه زیاته کړي، غالباً د اقتصادي فعالیتونو له حده زیاته پراختیا او ددغو فعالیتونو شدید کموالی به رامنځته شي. د بانکي اعتباراتو زیاتوالی به د بازار د ګټې نرخ راټیټ کړي او پر دې اساس، تولیدونکي به پور اخیستو او پانګونې ته وهڅول شي. که په اقتصاد کې کامل استخدام شتون ولري، یوازې د پانګه ییزو کالیو تولید د مصرفي کالیو له تولید څخه د پانګه ییزو کالیو تولید ته د منابعو د انتقال لاره ده. په دې صورت کې د پانګه ییزو کالیو قېمت زیاتېږي او ددغو کالیو تولید به ګټه راوړونکی شي، چې دغه تولیدونکي به زیات تولید ته وهڅوي.

د مصرفي کالیو د عرضې په کموالي سره به قېمتونه زیات شي او دغه تولیدونکي به مصرفي کالي د تولید زیاتوالي ته وهڅوي او په دې ترتیب، د دوی تقاضا به د بانکي پور د ترلاسه کولو لپاره زیاته شي.

د دغې نظریې له مخې، له حده زیاته پانګونه (له واقعي سپما څخه زیاته) ټولنه د مصرف اجباري کموالي ته اړ باسي او اجباري سپما زیاتوي.

### د اقتصادي فعالیتونو انقباض:

له حده زیاته پانګونه او یا اجباري سپما همداسې دوام نه شي موندلی، ځکه چې مصرف په اجباري توګه راکم شوی دی. په پای کې به د مصرفي کالیو د تولید قېمت او سود او ددغو کالیو

تولید زیات شي. له دې وراخوا په پای کې به بانکونه خپل اعتبارات راکموي او د بازار د ګټې د نرخ زیاتوالی پانګونه راکموي. د مصرفي کالیو د قیمت زیاتوالی د پانګه ییزو کالیو له تولید څخه د مصرفي کالیو تولید ته د منابعو د انتقال باعث ګرځي. د مصرف په زیاتوالي او د ګټې په لوړ نرخ سره، د پانګه ییزو کالیو تولیدونکي، خپل تولید دروي او منابع د پانګه ییزو کالیو له تولید څخه آزادېږي.

## د غیر کافي مصرف نظریه:

د غیر کافي مصرف نظریې په ساده او پېچلو نظریو باندې وېشل کېږي.

## ساده نظریې، د خرید غیر کافي نظریه:

ددغو نظریاتو پر بنسټ، اقتصاد د خلکو تر منځ د خرید کافي قدرت نه وېشي، چې هغوی ته د کالیو او خدماتو د پېرودلو وس ورکړي.

د الف + ب فرضیه: د دغې فرضیې پر اساس، ورکړې په دوه برخو وېشل کېږي. لومړی ډله الف چې افرادو ته د مزد، حقوقو او ونډې د سود په شکل ورکړې ډي او ب ډله چې ډېرو اقتصادي موسساتو ته ورکړې دي، چې د خامو موادو، ماشین آلاتو او یا د پیسو د ګټې په مقابل کې ورکول کېږي. مجموعي مصرف او پر دې اساس د کالیو ارزښت د (الف + ب) په مرسته ټاکل کېږي. د دغې نظریې پر اساس، د خرید مجموعي قدرت یوازې له الف سره برابرېږي. پر دې اساس، د خرید قدرت د اقتصاد د مجموعي تولید د جذب لپاره کافي نه دی.

## پېچلې نظریې: د خرید د قدرت ناسم وېش:

د دغې نظریې پر اساس، له تولید څخه ترلاسه شوی مجموعي عاید، نه لګول کېږي، ځکه چې د عاید ځینې ترلاسه کوونکي د خپل عاید یوه برخه سپما کوي. په پای کې، ځینې تولید شوي کالي نه شي جذبېدلی.

### 1- په پانګونه کې لګول شوې سپماوې:

فاستر باور لري، چې سپما چې هر څومره وي، د اقتصاد د سقوط باعث ګرځي. د هغه په باور د تولنې ټول عاید نه مصرفېږي او د هغه یوه برخه سپما کېږي. په پای کې دغه سپما په پانګونه بدلېږي. د تولید د ظرفیت زیاتوالی بازار ته د زیاتو مصرفي کالیو د عرضې باعث ګرځي. په دې

وخت کې، د خرید قدرت د دغه اضافي تولید د پېرودلو لپاره په جاري قېمتونو سره بسنه نه کوي. دا په خپل وار سره د قیمت د کموالي باعث گرځي چې په خپل وار سره اقتصادي فعالیتونه کموي.

**2- د عاید نابرابر وېش:**

دغه نظریه د ج. ا. هابسون انگلیسي اقتصاد پوه له خوا وړاندې شوې ده. د هابسون په باور د ټولنې د سپما لپاره مطلوب حد شتون لري، چې د اقتصاد دغه پراختیا ممکنوي. که سپما له دغه مقدار څخه زیاته شي په اقتصاد کې اختلال رامنځته کوي. له حده زیاته سپما د مصرفي کالیو د زیات تولید باعث گرځي. اقتصاد په کافي اندازه د خرید قدرت ددغو کالیو د جذب لپاره وړاندې کوي. خو د خرید دغه قدرت په داسې ډول نه وېشل کېږي، چې د ټولو مصرفي کالیو جذب ممکن کړي. ځینې له هغو چې د کالیو د خرید مینه وال نه دي، د دې موخې لپاره پیسې په واک کې نه لري او نور ډېر کسان چې کافي اندازه عواید لري، د کالیو د پېرودلو مینه وال نه دي. پر دې اساس، په ټولنه کې له حده زیاته سپما شتون لري، او د اقتصادي نوساناتو د ارمنځته کېدو عامل د عاید او ثروت غیر عادلانه وېش وي.

هابسون پر دې باور دی چې په ټولنه کې ډېری خلک داسې دي چې نسبتاً کم عاید لري او خپل ټول عاید مصرفوي. که د دوی عاید زیات نه شي، د عاید دغه زیاتېدنه به هم ولگوي. له بلې خوا ډېره کوچنۍ ډله چې د ډېر زیات عاید لرونکې ده، چې نه شي کولای خپل عاید ولگوي. دوی به هرومرو د خپل عاید یوه برخه سپما او پانگونه به پرې کوي. له هغه ځایه چې د عاید په زیاتېدو سره د سپما نهایي میلان زیاتېږي، د رونق په دوره کې د عاید زیاتوالی له حده زیاته پانگونه رامنځته کوي. د زیات عاید لرونکو کسانو په سپما او پانگونې سره، تولیدي ظرفیت زیاتېږي. د پانگه ییزو کالیو د خرید دغه زیاتوالی اقتصادي فعالیتونه زیاتوي او د اعتباراتو د سپځېدو باعث گرځي او اقتصادي پراختیا رامنځته کوي. په پای کې قېمت او سود زیاتېږي، خو مزدونه په سرعت سره نه زیاتېږي او له رونق څخه رامنځته شوی اضافي عاید د پانگوالو په برخه کېږي، چې په لوړ عاید لورنکو کسانو کې راځي. د دوی د عاید زیاتېدل د سپما د نهایي میلان د زیاتېدو باعث گرځي او په پای کې پانگونه ډېره زیاتوي. ځکه چې تولید شوي کالي د زیاتې پانگونې لپاره بازار ته ځي، کم عاید لرونکي کسان د هغوی د خرید لپاره کافي عاید نه لري، ځکه چې لا تراوسه مزدونه نه دي زیات شوي.

پر دې اساس، په پای کې اقتصاد داسې حالت ته رسېږي چې په هغه کې د له حده زیاتې سپما په خاطر له حده زیات مصرفي لګښتونه د مصرفي کالیو له جریان څخه لرې بازار ته کېږي. په پای کې ددغو کالیو د له حده زیات تولید قېمت او سود راکموي او د تولید د کموالي باعث کېږي.

## د نوساناتو له منځه وړل:

له هغه ځایه چې د نوساناتو عمده عامل د عاید او ثروت نابرابر او غیر عادلانه وېش دی، د دغې نظریې پر اساس، باید د اقتصادي نوساناتو د له منځه وړلو لپاره د عاید د وېش نابرابري راکمه شي. هابسون د عاید په وېش کې د نابرابرۍ د راکمولو لپاره څلور سیاستونه وړاندې کړي دي.

1- په تصاعدي عوایدو مالیات.
2- د کارګري اتحادیو غښتلي کول او د مزدونو له زیاتوالي څخه ملاتړ.
3- له حده د زیات سود له انقباض څخه مخنیوی او د کارګرو د حقیقي عاید زیاتوالی د قېمتونو په کنترول سره.
4- د تولید[49] د وسایلو د ټولنیز مالکیت زیاتوالی.

[49] - Basic Economics

Thomas J. Hailsyones

Doubldeay and company. Inc . New york 1969

## اتلسم څپرکی

### نړیواله سوداګري

کله چې یو هېواد کولای شي چې کالي تولید کړي چې بل هېواد د هغه د تولید جوګه نه وي، د دوه هېوادونو تر منځ سوداګري پیلېږي. پر دې اساسو تر یوه حده پورې نړیواله سوداګري د هېوادونو تر منځ د تولید منابعو ترمنځ له تفاوت څخه رامنځته کېږي. د مثال په توګه، د ډېرو سکاره یا نفت په ځینو هېوادونو کې شتون نه لري. پر دې اساس، دغه هېوادونه باید د خپلې اړتیا وړ د ډېرو سکاره او نفت له نورو هېوادونو څخه ترلاسه کړي او د هغه په مقابل کې هغه هېواد ته کالي ولېږدوي. ډېرې کرنیز محصولات یوازې په ځانګړو شرایطو کې کولای شي چې تولید شي. په دې لحاظ کوم هېوادونه چې په سړې هوا لرونکې سیمه کې واقع دي، کائوچو[50] نه لري او باید دغه لومړني مواد له تودې هوا لرونکې هېواد نه وارد کړي. په دې لحاظ د هېوادونو ترمنځ د کالیو تبادله د دې لامل ګرځي چې د کالیو پراخ طیف په بېلابېلو هېوادونو کې د خلکو لاس ته ورشي.

که نړیواله سوداګري یوازې په هغو مواردو کې چې کولای شي داسې کالي چې نور هېوادونه یې نه شي تولیدولی، ترسره کېده، د نړیوالې سوداګرۍ حجم به نه شو کولای چې په اوسنۍ اندازه وای. که د هېوادونو ترمنځ د تبادله کېدونکو توکو فهرست ته وکتل شي څرګندېږي چې ډېرې هېوادونه داسې توکې واردوي چې په خپله یې هم تولیدولی شوای. علت یې څه دی؟ علت یې دا دی چې په نړیواله کچه هم د کار وېش، د تولید کیفیت زیاتوي. پر دې اساس، د کار له وېش څخه د ګټې اخیستنې په خاطر، هېوادونه یوازې د څو کالیو په تولید لاس پورې کوي او د نورو کالیو تولید نورو هېوادونو ته پرېږدي. د کار نړیوال وېش په نړۍ کې د ټولو کالیو د مجموعي زیاتوالي باعث ګرځي.

د کالیو د ډول انتخاب چې یو هېواد په تولید کې تخصص مومي، د هغو ګټورتیاوو له مخې چې یو هېواد یې ددغو کالیو په تولید کې لري، ترسره کېږي مثلاً یو هېواد د وړیو منسوجاتو په تولید کې نظر نورو هېوادونو ته برتري یا ګټورتیا لري، دغه هېواد به د وړیو منسوجاتو په تولید کې

[50]- یا کائوچوک caouchouc هغه ماده ده چې د ځانګړي انځر له تنې څخه چې په استرالیا او د جنوبي آسیا په ځینو سیمو کې زرغونېږي لاس ته راځي.

تخصص پیدا کړي. دغه ښېگڼې یو هېواد ته ورپه برخه کېږي، که هغه هېواد وکولای شي چې ځینې کالي نظر نورو هېوادونو ته په ارزانه بیه تولید کړي، دغه مسئله د نسبي مصرف په نامه مشهوره شوې ده. د نړیوالې سوداگرۍ دغې نظریې ته د لومړي ځل لپاره ریکارډو پراختیا ورکړه. نسبي مصرف د هغه څه له مخې چې یو هېواد کولای شي د تولید د ځانگړو عواملو د مقدار په کارولو سره یې تولید کړي، اندازه کېږي. د مثال په توگه، که یو هېواد د 100 واحده تولیدي عواملو په کارونې سره 150 واحده شیدې او یا 80 واحده غنم تولید کړي او یو بل هېواد د تولید په همدغو عواملو (100 واحدو) سره و کولای شي 100 واحده شیدې او 60 واحده غنم تولید کړي، د لومړي هېواد کارایي د شیدو په تولید کې څو ځله په لومړي هېواد کې د غنمو د تولید له کارایۍ څخه زیاته ده. په دې حالت کې، په لومړي هېواد کې د شیدو د تولید نسبي [51]مصرف له دوهم هېواده ټیټ دی. که څه هم په مطلق ډول د دواړو کالیو د تولید مصرف په لومړي هېواد کې کم دی.

په مطلب باندې د ښه پوهېدو لپاره، یو جراح په پام کې ونیسئ چې ښه باغوان هم دی. خو د دې پر ځای چې د خپل کور د باغچې خدمت وکړي، یو باغوان د دغه کار لپاره په کار گوماري. د دې کار دلیل دا دی چې که څه هم دغه جراح په خپله کولای شول چې د دغه باغوان پرتله په ښه توگه د باغ ښه څارنه او خدمت وکړي، خو که دغه وخت په جراحۍ ولگوي نو کومې پیسې چې باغوان ته ورکوي له هغه نه به ډېر زیات عاید لاسته راوړي. پر دې اساس، د باغوان استخدامول د جراح په ځای دي. په همدې اساس، د کار وېش هم د نسبي مصرف پر اساس د نړۍ د هېوادونو په گټه ده.

## د نړیوالې سوداگرۍ ښېگڼې[52]:

د نړیوالې سوداگرۍ د ښېگڼو په هکله د بحث د ساده کولو لپاره، داسې فرضوو چې په نړۍ کې یوازې دوه هېوادونه شتون لري او یوازې دوه ډوله کالي نړیوالې سوداگرۍ ته داخلېږي.

---

[51]- پرتله ییز یا مقایسوي.

*52*- اوس د اقتصادپوهانو یوه ډله د کار له نړیوال وېش سر مخالف دي او باور لري چې نړیوال تجارت چې کوم ډول شکل غوره کړي د پر مختللو هېوادونو په گټه او د وروسته پاتې هېوادونو په تاوان دی. د مهدي تقوی، نړیوال تجارت، د پېشبرد انتشاراتو د *1366* لمریز کال له خپاره شوي کتاب څخه معلومات واخلئ.

فرض کړئ چې دوه نوموړي هېوادونه الف او ب او دوه کالي، جامې او غنم وي. کولای شو چې درې حالتونه په پام کې ونیسو:

لومړي حالت- هغه حالت دی چې په هغه کې هر هېواد کولای شي چې یوازې یو کالی له پورتنیو دوه کالیو څخه تولید کړي. فرض کړئ چې لومړی هېواد د جامو د تولید وس لري خو غنم نه شي تولیدولی او د دې پرعکس به هېواد یوازې غنم تولیدولی شي او د جامو د تولیدولو وس نه لري. که ددغو دوه کالیو ترمنځ تبادله ترسره نه شي، لومړی هېواد به بې غنمو او د دوهم به بې جامو پاته شي. که الف هېواد د خپلو جامو یوه برخه له تولید شویو غنمو سره په ب هېواد کې تبادله کړي، د دې لپاره چې اوس په دواړو هېوادونو کې مصرف کوونکو ته وړاندې کېدونکي کالي زیاتوالی مومي، د تبادلې په نتیجه کې د دواړو هېوادونو رفاه زیاتېږي.
دوهم حالت- دا هغه حالت دی چې په هغه کې هر هېواد کولای شي چې له دوه کالیو څخه یو کالی له بل هېواد څخه ارزانه تولید کړي. فرض کړئ چې الف هېواد د 100 واحده تولیدي عواملو په مرسته کولای شي چې 100 واحده جامې او یا 50 واحده غنم تولید کړي. ب هېواد هم د دې وس لري چې د 100 واحده تولیدي عواملو په مرسته 50 واحده جامې او 100 واحده غنم تولید کړي. فرض کړئ چې الف هېواد د 2000 او ب هېواد د 3000 واحده تولیدي عواملو لرونکي دي. که هر هېواد د خپل تولید د عواملو نیمه برخه د جامو په تولید او نیمه برخه یې د غنمو په تولید په کار اچوي او ددغو دوه هېوادونو ترمنځ تبادله ترسره نه شي، نو مجموعي تولید او دغو دوه هېوادونو ته د کالیو مصرف په هغه شکل چې په 1- 18 جدول کې ښودل شوی دی، وي.

| هېواد | د منابعو مقدار | د تولید مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| **الف** | 2000 | 1000 | + | 500 |
| **ب** | 3000 | 750 | + | 1500 |
| **ټول** | 5000 | 1750 | + | 2000 |

«1- 18 جدول»

اوس که هر هېواد د کالیو په تولید کې چې په هغه کې نسبي مزیت لري، تخصص واخلي، الف هېواد خپل تولیدي عوامل د جامو او ب هېواد یې د غنمو د تولید لپاره وکاروي، د تولید وضعیت به په دغو هېوادونو کې په داسې ډول وي چې په 2- 18 جدول کې ښودل کېږي.

| هېواد | د منابعو مقدار | د تولید مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| الف | 2000 | 2000 | + | 0 |
| ب | 3000 | 0 | + | 3000 |
| ټول | 5000 | 2000 | + | 3000 |

«2- 18 جدول»

لکه څنګه چې يې ګورئ، د کار د وېش په ترڅ کې د جامو ټول تولید له 1750 واحدو څخه 2000 واحدو ته او د غنمو ټول تولید له 2000 څخه 3000 واحدو ته زیاتوالی مومي. که یو واحد غنم له یو واحد جامو سره تبادله شي او دوه هېوادونه 900 واحده کالي له یو بل سره تبادله کړي، په دواړو هېوادونو کې به د کالیو د مصرف اندازه د کار له وېش او تبادلې وروسته په داسې شکل وي چې په 3- 18 جدول کې ښکاري.

| هېواد | د منابعو مقدار | د تولید مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| الف | 2000 | 1100 | + | 900 |
| ب | 3000 | 900 | + | 2100 |
| ټول | 5000 | 2000 | + | 3000 |

«3- 18 جدول»

د کار وېش او د تبادلې په نتيجه کې په الف هېواد کې د جامو مصرف له 1000 واحدو څخه 1100 واحدو او د غنمو مصرف له 500 واحدو څخه 900 واحدو ته زیات شوی دی. په همدې شکل په ب هېواد کې هم د جامو مصرف له 750 واحدو څخه 900 واحدو ته او د غنمو مصرف له 1500 واحدو څخه 2100 واحدو ته زیات شوی دی. په دې ترتیب، د کار وېش او تبادله په نړۍ کې د 250 واحدو په اندازه د جامو د مصرف د زیاتوالي او په نړۍ کې د 1000 واحدو په اندازه د غنمو د مصرف د زیاتوالي باعث ګرځېدلی دی.

دریيم حالت- هغه حالت دی، چې په هغه کې یو هېواد دواړه کالي د بل هېواد په پرتله ارزانه تولیدوي. اوس فرض کړئ چې د 100 واحده تولید عواملو په کارولو سره الف هېواد 100 واحده

جامې او يا 100 واحده غنم او ب هېواد 40 واحده جامې او يا 80 واحده غنم توليدولی شي. پر دې سربېره، داسې فرض کړئ چې الف هېواد د 2000 واحدو او ب هېواد د 3000 واحده توليدي عواملو مالک دی. که هر هېواد د خپلو توليدي عواملو نيمه برخه د غنمو په توليد او نيمه برخه يې د کاليو په توليد په کار واچوي او که د کار وېش او تبادله وجود ونه لري، د توليد وضعيت او مصرف به په دواړو هېوادونو کې داسې وي لکه په 4- 18 جدول کې چې ښکاري.

| هېواد | د منابعو مقدار | د توليد مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| الف | 2000 | 1000 | + | 1000 |
| ب | 3000 | 600 | + | 1200 |
| ټول | 5000 | 1600 | + | 2200 |

«4- 18 جدول»

په دې حالت کې، الف هېواد کولای شي چې دواړه کالي له ب هېواد څخه په ارزانه توليد کړي، خو د جامو په توليد کې له نسبي مزيت څخه برخمن دی. په دې حالت کې هم د کار وېش او تبادله د دواړو هېوادونو په ګټه ده. پر دې اساس، الف هېواد د جامو په توليد کې تخصص اخلي او ب هېواد د غنمو به توليد کې. په دې حالت کې، دا چې ب هېواد د خپلو ټولو توليدي عواملو په کار اچولو سره يوازې د 2400 واحده غنمو د توليد وس لري، الف هېواد د غنمو توليدپه کامله توګه ب هېواد ته پرېږدي. په دې حالت کې، د کار وېش او تبادله د دې لامل ګرځي چې د دوه کاليو د توليد وضعيت داسې شي لکه په 5- 18 جدول کې چې ښکاري.

| هېواد | د منابعو مقدار | د توليد مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| الف | 2000 | 1800 | + | 200 |
| ب | 3000 | 0 | + | 2400 |
| ټول | 5000 | 1800 | + | 2600 |

«5- 18 جدول»

په دې حالت کې، د دوه کالیو نړیوال مجموعي تولید زیاتوالی مومي، لکه څنګه چې یې جدول ښکاره کوي، د جامو تولید له 1600 واحدو څخه 1800 واحدو ته او د غنمو تولید له 2200 څخه 2600 واحدو ته زیاتوالی مومي. که فرض کړو چې 700 واحده جامې له 1000 واحده غنمو سره تبادله کېږي، په دوه هېوادونو کې به د مصرف وضعیت په داسې شکل وي لکه چې په 6- 18 جدول کې ښکاري.

| هېواد | د منابعو مقدار | د تولید مقدار | | |
|---|---|---|---|---|
| | | جامې | | غنم |
| | | تولید / واردات یا صادرات / ټول | | تولید / واردات یا صادرات / ټول |
| **الف** | 2000 | 1100 = - 700 + 1800 | + | 1200= 1000 + 200 |
| **ب** | 3000 | 700 = 700 + 0 | + | 1400= -1000 + 2400 |
| **ټول** | 5000 | 1800 | + | 2600 |

«6- 18 جدول»

پر دې اساس، لکه څنګه چې یې ګورئ په دې حالت کې هم دکار وېش او تبادلې د دواړو هېوادونو د خلکو مادي رفاه د تولید په زیاتوالي سره زیاتوي.

## د تبادلې رابطه:

زمونږ موخه د تبادلې له رابطې څخه هغه نرخ دی، چې په هغه باندې د یو هېواد محصولات د بل هېواد له محصولاتو سره مبادله کېږي. د ب هېواد څومره غنم د الف هېواد له جامو سره مبادله کېږي. لکه څنګه چې جان ستورات مېل اشاره کړې ده، جامو ته د ب هېواد د تقاضا ارتجاعیت د الف هېواد په پرتله د تقاضا ارتجاعیت چې غنمو ته دی ټړاو لري. د بحث وړ پورتني درېیم حالت کې مو فرض کړل چې د تقاضا ارتجاعیت داسې دی چې 100 واحده غنم له 70 واحده جامو سره تبادله کېږي. هر ډول چې د الف هېواد تقاضا غنمو ته زیاته وي، له 100 واحده غنمو سره تبادله شي، ځکه که د غنمو مقدار له دې څخه زیات شي د الف هېواد په صرف ده چې خپل ځان ته د اړتیا وړ غنم تولید کړي. د دې پرعکس که هر څومره د ب هېواد حاضر دی چې له الف هېواد څخه یې د جامو لپاره ورکړي، 200 واحد غنم د 100 واحده جامو په مقابل کې تبادله کېږي. ځکه که قیمت له دې نه زیات شي، د ب هېواد په صرف ده چې خپله د ځان د اړتیا وړ جامې تولید کړي.

پر دې اساس، د تبادلې رابطه د هغو کالیو په قېمت پورې تړاو لري چې نړیوالې سوداګرۍ ته واردېږي. د تبادلې رابطه د یو هېواد په ګټه ده، که د صادراتو قېمت یې د وارداتو له قېمت څخه کم وي. پر دې اساس، که د وارداتو قېمت ثابت فرض کړو، د یو هېواد د صادراتو د قېمت زیاتوالی هغه هېواد ته د تبادلې د رابطې د ښه والي باعث ګرځي او د یو هېواد د صادراتو د قېمت لوړېدل د هغه هېواد د تبادلې د رابطې له خرابېدو څخه سر ټکوي، ځکه باور لري چې په نړیوالو بازارونو کې د مصنوع کالیو قېمت چې د وروسته پاته هېوادونو صادرات تشکیلوي، زیاتوالی مومي. په مطلب باندې د ښه پوهېدو لپاره، لاندې مثال ته پام وکړئ:

فرض کړئ چې په 1360 لمریز کال کې د اېران د 100 بشکو تېلو په مقابل کې له جاپان څخه یو ټیوټا موټر ترلاسه کاوه، خو په 1366 لمریز کال کې د همدغه موټر لپاره باید 150 بشکې تېل جاپان ته صادر کړي. په دې حالت کې، دغې رابطې د جاپان په ګټه او د اېران په تاوان تغییر کړی دی. په دې حالت کې علت دا دی چې د تېلو د قېمت کموالی دی چې د جاپاني ټیوټا موټر په مقابل کې رالوېدلی دی.

### د نړیوالې سوداګرۍ فرضیات:

د نسبي مصرف نظریه څرګندوي چې د دوه هېوادونو ترمنځ تبادله د هغو هېوادونو په ګټه ده، چې نړیوالې سوداګرۍ ته داخلېږي. دغو نظریاتو په لاندې فرضیاتو بناء موندلې ده:

1- د دواړو هېوادونو په بازار کې کامل رقابت شتون لري.
2- په دواړو هېوادونو کې د تولید د عواملو کامل استخدام موجود دی.
3- په دواړو هېوادونو کې اسعاري ارزي محدودیت نشته.
4- د کالیو د تبادلې لپاره مصنوعي موانع نشته لکه ګمرکي تعرفه او داسې نور.
5- په نړۍ کې یوازې دوه هېوادونه دي او دغه هېوادونه یوازې دوه ډوله کالي تولیدوي.
6- له یو هېواد څخه بل هېواد ته د کالیو د حمل و نقل مصرف نشته.

### د سوداګرۍ محدودیتونه:

نړیواله آزاده سوداګري د لاندې وسایلو په کارونې سره محدودېږي:

**الف- ګمرکي حقوق:** ګمرکي حقوق په وارداتي کالیو باندې یو ډول مالیات دي، چې مصرف کوونکو ته د باندنیو کالیو د قېمت په لوړولو سره ددغو کالیو تقاضا کموي او د وارداتو د کمېدو باعث ګرځي.

**ب- وارداتي سهميه:** دغه وسیله د یو کالي د مجاز وارداتو اندازه ټاکي او د کالیو هغه اکثر حد چې هر واردونکی یې کولای شي له دغو کالیو څخه وارد کړي، ټاکي او له دې لارې د وارداتو حجم محدودوي.

**ج- د اسعارو کنټرول:** دولت د خارجي اسعارو د مقدار په ټاکلو سر د باندني صادرونکي د ورکړې لپاره پیري، دا هم د کالیو ورادات محدودوي، خو د دولتونو دلایل د وارداتو د محدودلو لپاره څه دي؟ په لنډه توګه دغه دلایل په لاندې ډول دي:

1- **غیر اقتصادي دلایل:** که څه هم له اقتصادي پلوه د کار نړیوال وېش او تبادله د معاملې د دواړو خواوو په ګټه ده، خو ځینې وخت دولتونه د کار د وېش او د تبادلې په محدودولو لاس پورې کوي، علت یې څه دی؟ علت دا دی چې دولتونه اقتصادي مسائل په پام کې نه نیسي.کله چې یو هېواد د جګړې له ګواښ سره مخ وي، که څه هم د وسلو د تولید زیاتوالی مناسب کار نه دی، خو د هېواد د خپلواکۍ د ساتلو لپاره اړ دی چې د اقتصادي منابعو یوه برخه د وسلو تولید ته ځانګړې کړي. په همدې ترتیب، د نړیوالې سوداګرۍ په اړوند هم له اقتصادي ملاحظاتو پرته نور ملاحظات د دې باعث ګرځي چې دولت له خارج سره د سوداګرۍ په محدودولو لاس پورې کړي. د مثال په توګه، امکان لري چې دولت د اقتصاد د سکټور د کرنې د برخې پراختیا وغواړي، په دې صورت کې، سره له دې چې د نسبي مصرف د نظریې له پلوه د اقتصاد په ګټه ده چې کرنیز توکي له بهر نه وارد کړي، خو د دولت د اقتصادي خودکفایۍ لپاره له بهر څخه د کرنیزو محصولاتو په واردولو بندیز لګوي. د اقتصادي خودکفایۍ د موخې تعقیبول، د یوې سیاسي موخې تعقیبول دي او د وارداتو د محدودلو لپاره غیر اقتصادي دلیل دی.

2- **له ماشومو او ځوانو صنایعو سره مرسته:** د سوداګرۍ د محدودلو لپاره یو له اقتصادي دلایلو څخه د ماشومو او ځوانو صنایعو څخه ملاتړ دی. غالباً د تأسیس په لومړیو کې د لوړو ثابتو مصارفو په خاطر ځوانې صنایع نه شي کولای چې له مشابه بهرنیو صنایعو سر رقابت وکړي او که دولت له دغو صنایع څخه ملاتړ ونه کړي، خپل کار ته دوام نه شي ورکولی.

3- **په هېواد کې د خلکو د ژوند د معیار ساتنې ملاتړ:** په کومو هېوادونو کې چې د خلکو حقیقي عاید لوړ دی، که ارزان بیه کالي له هغو هېوادونو څخه چې د کار مزد پکې ټیټ دی، وارد شي، د خلکو د ژوند معیار راټیټېږي. د مثال په توګه، لکه په لرې ختیځ (چین) کې د

صنعت پراختیا، د کارگر د ټیټ مزد په خاطر په دې سیمه کې د ارزان بیه صنعتي کالیو د تولید باعث گرځي. که دغه کالي د غرب صنعتي اقتصادونو ته وارد شي، د ځینو په آند په دغو هېوادونو کې د خلکو د ژوند معیار ټیټېږي (دغه بحث ښایي په دې فرض چې ددغو کالیو کیفیت د غرب په صنعتي هېوادونو کې د تولید شویو کالیو په پرتله ټیټ دی، کولای شي صدق وکړي. د خلکو د ژوند معیار ساتلو لپاره غالباً دولتونه ددغو کالیو ورود محدودوي.

4- **نور دلایل- ډمپنگ:**[53] په بل هېواد کې د هغه هېواد د تولیدوونکو د ماتولو او د بازار د لاسته راوړلو په هدف د کالیو د صدور په معنا ده، حتی په داسې قېمت سره چې د تولید له (تمام شد) قېمت څخه ټیټ وي. په داسې حالاتو کې د ډمپنگ د مخنیوي په خاطر دولتونه کولای شي چې په گمرکي حقوقو او وارداتي سهمیې لاس پورې کړي. په داسې مواردو کې د اقتصاد د خارجي تادیاتو بیلانس یعنې د صادراتو او وارداتو حساب له کسر سره مخ وي (یعنې واردات له صادراتو څخه زیات وي)، دولتونه د دغه کسر د له منځه وړلو یا له خارج څخه د اقتصاد د پورړوي کېدو لپاره د وارداتو په محدودولو لاس پورې کوي.

لکه څنگه چې مو مخکې اشاره ورته وکړه، چې د نسبي مصرف د نظریې یوه فرضیه په دوه هېوادونو کې د تولید د عواملو کامل استخدام و. کله چې د دغې فرضیې پر خلاف په یو هېواد کې د تولید د عواملو استخدام کامل نه وي، یعنې د تولید ځینې عوامل وزگار وي، دولت به هڅه وکړي ترڅو د وارداتو د محدودولو له لارې په کور دننه د تولید د عواملو استخدام زیات کړي.

## د خارجي تادیاتو بیلانس:

نړیواله سوداگري هېوادونو ته نړیوال پوروړي کېدل منځته راوړي. د خارجي تادیاتو بیلانس له خارج سره د یو هېواد راکړې ورکړې ښکاره کوي.[54] دغه بیلانس د عاید صورت او د خارجي هېواد په حساب کې د مصارفو حساب دی. نړیوالې راکړې ورکړې په درې برخو وېشل کېږي:

1- د لیدو وړ تبادلاتو حساب.

2- د نه لیدونکو تبادلاتو حساب.

53 – Dumping.

*54*- د خارجي تادیاتو د بیلانس په هکله مفصل بحث د مهدي تقوی، نړیوالې مالیې کتاب- پېشبرد خپرندوی 1366 لمریز کال کې راغلی دی.

3- د پانګه ییز نقل او انتقالاتو حساب.

د خارجي تادیاتو په بیلانس کې په کالیو پورې اړوند راکړې ورکړې، یعنې صادرات او واردات دي. په صادراتو او وارداتو پورې اړوند اقلام د تبادلې په لیدونکي حساب کې منعکس کیږي.

د دغه حساب پاته برخې ته سوداګریزه پاته وایي. د خارجي تادیاتو په بیلانس کې نور اقلام هم راځي چې د نه لیدونکو اقلامو په نامه یادیږي. دغه اقلام د خدماتو په صادراتو او وارداتو پورې تړاو لري او تر ټولو عمده یې په لاندې ډول دي:

1- هوایي او د کشتیو خدمات- له بهر نه د هوایي خدماتو او د کشتیو د خدماتو د ترلاسه کولو لپاره ورکړې او د بهرنیو کسانو له خوا د هېواد د هوایي خدماتو او د کشتیو د خدماتو په مقابل کې ترلاسه شوې راکړې، د نه لیدونکو اقلامو یوه برخه ده.
2- مالي خدمات- د خدماتو دغه ډله په بانکي او بیموي راکړو ورکړو پورې تړاو لري.
3- د بهرنیو پانګونو عواید- د هېواد او د هېواد د بهر مېشتو اوسېدونکو له خوا له پانګونې څخه ترلاسه شوي عواید او په هېواد کې د بهرنیو هېوادونو او د هغوی د اوسېدونکو د پانګونې له حاصل څخه ترلاسه شوي عواید هم ددغو لیدونکو اقلامو یوه برخه جوړوي. غالباً د دغه حساب تفاوت د غرب صنعتي هېوادونو ته مثبت او د وروسته پاته هېوادونو لپاره منفي وي. د مثال په توګه په دې اړه له بهرنۍ سوداګرۍ څخه د انګلستان عاید په 7- 18 جدول کې ښودل کیږي.

(ارقام- په میلیون سترلېنګ لېرې)

| کال | راکړه | ورکړه | پاته |
|---|---|---|---|
| 1870 | - | - | +50 |
| 1891 | - | - | +100 |
| 1907 | - | - | +140 |
| 1913 | - | - | +200 |
| 1938 | 205 | 35 | +175 |
| 1950 | 271 | 117 | +154 |
| 1960 | 634 | 455 | +179 |
| 1964 | 866 | 461 | +405 |

«7- 18 جدول»

د انگلستان عواید په دې برخه کې په بهرنیو هېوادونو کې د دې هېواد د پانگونو عواید دي. د مثال په توگه د اېران په تېلو، او د جنوبي افریقا د اورگاډي پټلۍ په جوړولو کې د انگلستان پانگونه او نور دي. ددغو ځینو پانگونو ملي کېدل او خرڅلاو یې د دوهمې نړیوالې جگړې د مصارفو د تأمین په خاطر، انگلستان ته ددغو راکړو د کموالي باعث شو. له 1952 ز کال نه راپدېخوا خارجي پانگونو په دغه هېواد (په ځانگړې توگه د امریکا په پانگونو) کې زیاتوالی موندلی دی. پر دې اساس، بهر ته د عاید د ورکړې د زیاتوالي باعث شوی.

4- **نور ډېر نه لیدل کېدونکي اقلام:** دغه اقلام په هېواد کې د بهرنیو مسافرو مصارف او په بهر کې د هېواد د مسافرو مصارف، د سینمایي فلمونو د اجازې مصارف، زمونږ په هېواد کې د بهرنیو ډیپلوماټانو مصارف او په بهر کې زمونږ د هېواد د ډیپلوماټانو مصارف دي. 7- 18 جدول په نمونوي توگه د انگلستان د خارجي تادیاتو بیلانس ښکاره کوي.

د پانگې د نقل او انتقال اغېزې- ټول لیدل کېدونکي او نه لیدل کېدونکي اقلام پورته له بهر سره د هېواد جاري عواید او مصارف رانغاړي. د خارجي تادیاتو بیلانس پر دغو اقلامو سربېره د پانگهییز نقل او انتقالاتو تر اغېزې لاندې هم راځي. که څه هم له بهرنۍ پانگونې څخه ترلاسه شوی عاید راکړه ده، خو لومړۍ پانگونه د بهرنیو تادیاتو د بیلانس له پلوه، یوه راکړه ده. غالباً پانگه ییز نقل او انتقال د خارجي تادیاتو د بیلانس په مازاد او کسر باندې فوق العاده اغېزه لري. که د جاري حساب تفاوت مثبت وي، له هېواد څخه د پانگې انتقال کولای شي د خارجي تادیاتو د بیلانس ټول تفاوت منفي کړي. په نړیواله کچه د پانگې نقل او انتقال یو تر ټولو مهم او مؤثر عامل، د گټې نرخ دی. د مثال په توگه، په امریکا کې د گټې د نرخ کموالی له هغه هېواده نورو هېوادونو ته د پانگې د انتقال باعث گرځي او په امریکا کې د گټې د نرخ زیاتوالی له نورو هېوادونو څخه امریکا ته د پانگې د انتقال باعث گرځي (امریکا ته د پانگې د جذب په خاطر د رېگن د واکمنۍ پر مهال، دغه هېواد د خپلې گټې نرخ زیات کړ).

**د تادیاتو د بیلانس تفاوت:** کله چې د خارجي تادیاتو په بیلانس کې ورکړې له راکړو څخه زیاتې وي، بیلانس کسر لري او کله چې راکړې له ورکړو څخه زیاتې وي، بیلانس مازاد لري. کله چې بیلانس کسر ولري، دغه کسر باید له لاندې وسایلو څخه په استفادې جبران شي:

1- له نورو هېوادونو څخه د پور په مرسته.
2- د پیسو له نړیوال صندوق څخه د مرستې په ترلاسه کولو.
3- له نورو هېوادونو څخه د مرستې په ترلاسه کولو.

4- په بهر کې د پانگونې په خرڅلاو.

5- د سرو زرو صدور.

| ورکړې | میلیون لېره | | |
|---|---|---|---|
| | 1938 | 1963 | 1964 |
| 1- واردات (لیدل کېدونکي اقلام) | 835 | 4366 | 5005 |
| 2- نه لیدل کېدونکي اقلام: | | | |
| الف- په بهر کې د هېواد مصارف | | | |
| ب- بېړۍ چلونه او هوايي کرښې | 16 | 422 | 483 |
| ج- د پانگونې عواید | | | |
| | 80 | 775 | 836 |
| د- مسافرین | | | |
| هـ - نور اقلام | 173 30 | 2280 441 | 2494 461 |
| | 40 | 241 | 261 |
| | 7 | 401 | 453 |
| تولې ورکړې | 1008 | 6646 | 7499 |
| راکړې | | | |
| 1- صادرات (لیدل کېدونکي اقلام) | 533 | 4287 | 4471 |
| 2- نه لیدل کېدونکي اقلام: | | | |
| الف- بېړۍ چلونه او هوايي کرښې | | | |
| ب- د پانگونې عواید | 100 | 788 | 838 |
| ج- مسافرین | 205 | 828 | 866 |
| د- نور اقلام | 405 | 2464 | 2616 |
| | 28 | 188 | 190 |
| | 72 | 660 | 722 |
| تولې ورکړې | 938 | 6751 | 7087 |
| تفاوت (پاته) | -70 | +105 | -412 |

«8- 18 جدول، د انگلستان د تادیاتو بیلانس- سترلینگ لېره په میلیون»

د دې لپاره چې له پور څخه کار اخيستنه په راتلونکي کې د ګتې د ورکړې په علت په اوږد مهال کې د هېواد لپاره ستونزې راولاړوي او له نورو هېوادونو څخه مرسته غوښتنل هم سياسي- اقتصادي تړلتيا (وابستګي) راوړي او د سرو زرو صدور د هېواد د طلايي ذخايرو د کمېدو باعث ګرځي، غالباً هېوادونه د خپل خارجي تادياتو د بيلانس د برابرولو لپاره هڅه کوي.

**د خارجي تادياتو د بيلانس د برابرولو لپاره د دولت سياستونه** دا دي:

**الف- د وارداتو محدودونکي سياست**: په مخکې صفحو کې مو دغو سياستونو ته اشاره وکړه، د ګمرکي حقوقو زياتوالی، د وارداتو سهيمه بندي او اسعاري سياستونه او د وارداتو محدودونکي سياستونه.

**ب- د صادراتو د زياتوالي سياستونه:** دولت د صادرونکو په تشويقولو سره د جايزې د ورکړې له لارې د اسعاري سياستونو صدرو لکه له صادراتو څخه ترلاسه شوي اسعار په لوړ قيمت اخلي، چې دا د صادراتو د زياتوالي باعث ګرځي.

**ج- د پانګې د جذب سياستونه:** دولت کولای شي چې له اقتصاد څخه د پانګې د وتلو په مستقيم کنترول سره مخنيوي وکړي او د ګټې د نرخ په زياتوالي سره اقتصاد ته د پانګې د ورود د زياتوالي باعث شي. په نولسم څپرکي کې به په دې اړه پوره بحث وکړو.

## نولسم څپرکی

### د نړیوالو تادیاتو نظام

په مخکې څپرکي کې مو نتیجه واخیسته، چې کله چېرته د خپلو تولید شویو کالیو مازاد له یو بل سر تبادله کړي، نوله نړۍ به له دغې تبادلې څخه ګټه پورته کړي. د کالیو او خدماتو صادرات او واردات او د هېواد نور نړیوال مبادلات د هغه د خارجي تادیاتو د ورکړې په بیلانس کې منعکس کېږي. د هېواد د خارجي تادیاتو بیلانس له هغه څخه د راکړو حساب او نورو هېوادونو ته ورکړې دي. دغه حساب په څلورو برخو وېشل کېږي:

1- جاري حساب.
2- د یو اړخیز نقل او انتقال حساب.
3- د پانګې حساب.
4- پولي حساب

په لاندې ډول ددغو حسابونو هر یو توضیح کېږي.

**1ـ جاري حساب:**

جاري حساب به دوه برخو؛ لیدل کېدونکو او نه لیدل کېدونکو حساب وېشل کېږي. د لیدل کېدونکو کالیو حساب د صادراتو او وارداتو حساب دی. د نه لیدل کېدونکې تبادلې په حساب کې د خدماتو د پېر او پلور اړوند اقلام لکه حمل و نقل، بیمه، بانکداري، سیاحت او نور شامل دي. په جاري حساب کې راکړې د مدیون په حساب کې او ورکړې د طلباتو د حساب په برخه کې راوړل کېږي. په لنډه توګه جاري حساب د 1- 19 جدول د حساب په شکل ښودل کېږي.

کله چې A>B وي، جاري حساب مازاد لري او کله چې B>A وي، جاري حساب کسر لري.

| طلبات | | دیون | |
|---|---|---|---|
| | الف- لیدل کېدونکې تبادله | | الف- لیدل کېدونکې مبادله |
| b1 | د کالیو واردات | a1 | د کالیو صادرات |
| | ب- نه لیدل کېدونکې تبادله: | | ب- نه لیدل کېدونکې تبادله: |
| b2 | حمل و نقل | a2 | حمل و نقل |
| b3 | بیمه | a3 | بیمه |
| b4 | سیاحت | a4 | سیاحت |
| b5 | د پانګونې په خاطر بهر ته ورکړل | a5 | له بهرنۍ پانګونې څخه ترلاسه |
| . . . | شوي عواید | . . . | شوي عواید |
| ________ | | ________ | |
| | د B د جاري حساب طلباتو مجموعه | | د A جاري حساب پوروړیتوب مجموعه |

«1- 19 جدول، جاري حساب»

## 2ـ یو اړخیز نقل او انتقالات:

دغه نقل او انتقالات د هېواد اوسېدونکو ته له بهر څخه د بلاعوضه کالیو لېږد دی او یا بهر ته د اوسېدونکو له خوا بلاعوضه کالیو لېږد دی. لکه د ډالیو په څېر اقلام، د تقاعد حقوق هغو کسانو ته چې له هېواده بهر ژوند کوي، مرستې او اعانې په دغه ډله کې ګروپ بندي کېږي.

## 3ـ د پانګې حساب:

د پانګونې په موخه د لنډ مهالو او اوږد مهالو راکړو ورکړو حساب ته د پانګې حساب وايي. د مثال په توګه، که یو ایرانی په بهرنیو پیسو بانډې د خپلو پیسو په بدلولو سره دغه پیسې له هېواده باسي مثلاً په یوه بانک کې یې له هېواده بهر د وخت لرونکې سپارنې په بڼه سپما کړي، دا بهر ته د پانګې انتقال دی او د پانګې د حساب د طلباتو په حساب کې منعکس کېږي. که د ایران دولت د افریقا په براعظم کې یو هېواد ته پور ورکړي، دا هم د پانګې د حساب د طلباتو په اړخ کې ثبتېږي. د دې پرعکس، که بهرنیان خپلې پیسې د ایران بانکونو ته وسپاري، د ایران دولت ته پور ورکوي او یا په ایران کې د کارخانې په جوړولو کې پانګونه کوي، دغه اقلام د ایران د خارجي تادیاتو د بیلانس د

پانګې د حساب د ديونو په اړخ کې ثبتېږي، د پانګې د حساب د طلباتو او ديونو ترمنځ تفاوت د اقتصاد د پانګې د جريان صادره او وارده ده.

## 4ـ پولي حساب:

په هغه صورت کې چې د جاري حسابونو د ديونو مجموعه، يو اړخيز نقل او انتقالات او پانګه ددغو حسابونو د طلباتو له مجموعې څخه زياته وي، اقتصاد به په نورې نړۍ طلبات ولري او کله چې کم وي، اقتصاد به له نورې نړۍ نه پوروړي وي، چې دغه طلب او پور بايد په يو ډول تسويه شي. پولي حساب د دغه طلب او پور د يو ډول تسويې مشخص کوونکی دی. په هغه صورت کې چې اقتصاد د نورې نړۍ پوروړي وي، طلب د اسعارو د انتقال په شکل (د اسعاري ذخايرو د کموالي يعنې د اقتصاد د خارجي اسعارو د موجودي کموالی) او يا طلب لرونکو هېوادونو ته د سرو زرو په انتقال سره تسويه کېږي. د خارجي اسعارو غوښتونکی هېواد به يا سره زر لاسته راوړي. پر دې اساس، يا اسعاري ذخاير زياتوالی مومي او يا د هېواد د سرو زرو موجودي اضافه کېږي. ښکاره خبره ده چې يو هېواد نه شي کولای چې په دوامداره توګه د خارجي تادياتو به بيلانس کې کسر ولري، ځکه چې وروسته له يو څه وخت نه اسعاري ذخاير او يا د هېواد د سرو زرو ذخاير ختمېږي. پر دې اساس، هېواد بايد د تادياتو د بيلانس د تعديلولو لپاره پر يوې لارې غور وکړي. په لانديني بحث کې په دې خبرې کوو، چې په بېلابېلو پولي نظامونو کې هېوادونه څه ډول د دغې ستونزې د حل لپاره هڅه کوي او هغه وخت لږ څه د بېلابېلو پيسو د برابرۍ د نرخ (د اسعارو د نرخ) په هکله خبرې کوو.

### الف- تر 1944 ز کاله پورې د نړيوالو تادياتو ميکانيزم:

له 1944 ز کال نه مخکې په نړيوالو تادياتو باندې حاکم نظام طلايي اساس و. په دې نظام کې، کله چې مثلاً يو امريکايي سوداګر به انګلستان ته کالي صادرول، د کاليو د صادرولو په مقابل کې به يې، د کاليو له پولي ارزښت سره سم ډالر غوښتل. کله چې به يو انګليسي صادرونکي امريکا ته کالي صادرول د دې په مقابل کې به يې سرلېنګ لېره غوښتله. پر دې اساس، انګليسي واردونکي به د تادياتو لپاره امريکايي ډالر او امريکايي واردونکي د تادياتو لپاره بايد سترلېنګ لېره لاسته راوړې وای.

واردونکي به د اړتيا وړ اسعار د (اسعارو له مارکېټ څخه) پېرودل. په دغه مثال کې د اسعارو نرخ په لېره باندې د ډالرو د نسبت په بدلېدو يا لېره په ډالرو دی. اوس د اسعارو دغه نرخ څه

ډول ټاکل کېږي؟ پوهېږو چې د سرو زرو پایه لرونکی او یا طلایي معیار، د هر هېواد پیسې د سرو زرو له ټاکلي مقدار سره تعریفېږي. د مثال په توګه، که د سټرلېنګ هره لېره 7,5 سره مساوي ارزښت ولري او د هر امریکایي ډالر ارزښت له 2,5 ګرامه سرو زرو سره برابر وي، د سټرلېنګ یوه لېره به د امریکایي ډالر درې چنده ارزښت ولري. دا په دې معنا ده چې د انګلستان د اسعارو په بازار کې، انګلیسي واردونکی کولای شي چې د سټرلېنګ هره لېره له 3 امریکایي ډالرو سره تبادله کړي او د امریکا د اسعارو په بازار کې امریکایي واردونکی کولای شي چې 3 ډالر له سټرلېنګ لېرې سره بدل کړي.

پام مو وي چې د طلایي پایې لرونکي نظام کې د پیسو د نشرولو د ډالرو او یا لېرو د وړاندې کولو په صورت کې ددغو دواړو له ارزښت سره سم وړاندې کوونکو ته د سرو زرو خښتې ورسپاري. په دغه نظام کې پیسې په ډالرو باندې د تبادله کېدو وړ وي. اوس که چېرته د امریکا د تادیاتو د بیلانس مجموعه له انګلستان سره د ټولو ورکړو له مجموعې سره د دواړو هېوادونو لپاره مساوي ده او ددغو دواړو هېوادونو حساب له یو بل سره تسویه کېږي. اوس داسې فرض کړئ چې له امریکا څخه د انګلستان واردات د 400 ډالرو په اندازه او امریکا ته د انګلستان صادرات 250 لېرې وي. په دې صورت کې به د امریکا د ورکړو بیلانس 350 ډالرو کسر او د انګلستان د تادیاتو بیلانس به 350 ډالره مازاد ولري. په دې صورت کې به د انګلستان او امریکا د بهرنۍ سوداګرۍ حساب څرنګه تسویه کېږي؟ په دې حالت کې، انګلستان کولای شي چې 350 ډالره مازاد په امریکا کې په سرو زرو بدل کړي او انګلستان ته سره زر وروګرځوي. که د سرو زرو له حسابه د پیسو ارزښت فرض شي، 875(250×2,5) ګرامه سره زر به له امریکا څخه انګلستان ته ولېږدول شي. په هغه صورت کې چې د امریکا راکړې د هغه له ورکړو څخه زیاتې وي. د پورتني جریان پرعکس حالت به پېښ شي، یعنې سره زر به له امریکا نه انګلستان ته لېږدول کېږي.

لکه څنګه چې پورته اشاره وشوه، د سرو زرو په پایې نظام کې د اسعارو نرخ شته، سرو زرو ته په کتو د هر هېواد په پیسو کې ټاکل کېږي. خو آیا دغه نرخ ثابت پاته کېږي؟ ځواب یې منفي دی. د اسعارو قېمت د اسعارو په بازار کې د هر کالي په ډول په هر بل بازار کې د عرضې او تقاضا تر اغېزې لاندې راځي. د انګلستان د اسعارو د بازار لپاره د ډالرو قېمت د ډالرو عرضه او تقاضا په دغه بازار کې مشخص کوي:




زمونږ په مثال کې د ډالرو قېمت، یعنې د لېرې د ارزښت نسبت ډالرو ته (1) پر (3) و. اوس که د ډالرو عرضه او تقاضا او یا د انګلستان د اسعارو نرخ تغییر وکړي، آیا د ډالرو قېمت او یا د اسعارو نرخ به تغییر وکړي؟ ځواب مثبت دی. په ډالرو باندې د لېرې له تقاضا څخه زیاته ده. که پورتنی مثال چې فرض کړه په هغه کې له امریکا نه د انګلستان واردات 400 ډالر او امریکا ته د انګلستان صادرات 250 سټرلېنګ لېرو باندې تبدیلېدو ته اړ شي (د انګلستان د اسعارو په بازار کې) په دې صورت کې د ډالرو عرضه 750 ډالرو او د لېرو تقاضا به له 250 لېرو سره مساوي شي. اوس انګلیسی سوداګر امریکایانو ته د ورکړې لپاره باید 133 سټرلېنګ لېرې په 400 امریکایي ډالر بدلې کړي. پر دې اساس، د لېرې عرضه به د 133 واحدو ته په اندازه او د ډالرو تقاضا له عرضې نه زیاته ده او د دغه تغییر علت د امریکا او انګلستان د تادیاتو د بیلانس موجود کسر او مازاد دی. نو باید د ډالرو ارزښت راکم او د لېرې ارزښت زیات شي. اوس داسې فرض کوو، چې یوه لېره له 6 ډالرو سره مساوي کېږي او یا د ډالرو قېمت د لندن د اسعارو په بازار کې 1/6 لېرې کېږي. په دې صورت کې دا چې 6 ډالره له 15 ګرامه سرو زرو سره مساوي دي او په امریکا کې په 15 ګرامه سرو زرو باندې تبادله کېدای شي، امریکا ته صرف کوي چې ډالر په امریکا کې په سرو زرو بدل کړي او سره زر انګلستان ته انتقال کړي او په سرو زرو باندې لومړی لېره واخلي او دغه د انګلستان د اسعارو په بازار کې په ډالرو تبادله کړي.

په دې ترتیب، کله چې د اسعارو نرخ د انګلستان د اسعارو په بازار کې (لېره په ډالرو) راکم شي، سره زر له امریکا څخه بهر او انګلستان ته به وارد شي او دا معامله د دې لامل ګرځي چې د لېرې عرضه د انګلستان د اسعارو په بازار کې زیاته شي. ډالرو ته د تقاضا زیاتوالی د دې لامل ګرځي چې د اسعارو نرخ (لېره په ډالرو) زیاته شي. پر دې اساس، کله چې په کوم علت له انګلستان څخه

بېرته بازار د تعادل حالت ته ورگرځوي. په پورتني مثال کې، داسې فرض شوه چې له انگلستان څخه امريکا ته د سرو زرو انتقال هېڅ مصرف نه لري، دغه فرض غير واقعي دی. انگلستان ته له امريکا څخه د سرو زرو انتقال لاندې مصارف لري:

1- د حمل و نقل مصرف چې د سرو زرو د وزن او حجم له مخې ټوپير کوي.
2- د بيمې مصرف.
3- په سرو باندې د ډالرو د تبديلولو په ترخ کې له گټې څخه د سترگې پټولو مصرف.
4- د سرو زرو د پېر او پلور د قېمت ترمنځ اختلاف.

که چېرته دغه مصارف مثلاً د 4 ډالرو په اندازه د هرو 100 گرامه سرو زرو لپاره وشمېرو، په 100ډالرو باندې کولای شو مثلاً 240 گرامه سره زر وپېرو چې 240 گرامه سره زر به په 34 لېرو او 204 ډالرو باندې د تبديلېدو وړ وي. دغې مسئلې ته په کتو، يوازې هغه وخت له امريکا نه انگلستان ته د سرو زرو په واردولو اقدام کېږي، چې له دغه انتقال څخه ترلاسه شوې گټه د حمل و نقل له مصرف او داسې نورو مصارفو څخه زياته وي. د اسعارو نرخ + د انتقال ټول مصرف ته د انگلستان اقتصاد ته مونږ د سرو زرو د ورتگ د ټکی وايو. په برعکس حالت کې هم د اسعارو نرخ + ټول مصرف ته د انگلستان له اقتصاد څخه د سرو زرو د صدور په نامه يادېږي. اوس فرض کړئ چې انگلستان د کاليو په تبادله کې له امريکا سره د تادياتو له کسر سره مخ کېږي. دا د دې پر علت ده، چې انگلستان ته د امريکا د صادراتو ارزښت امريکا ته د انگلستان له صادراتو څخه زيات دی. په داسې حالت کې به انگلستان دغه کسر يا بقايه د سرو زرو په شکل امريکا ته ورکړي. له انگلستان څخه امريکا ته د سرو زرو ورتگ به د دې لامل شي چې په امريکا کې د پيسو عرضه زياته شي، او په امريکا کې د پيسو د عرضې زياتوالی انفلاسيوني اغېزه لري. د سود د نرخ د کمېدو او د کاليو او خدماتو د مصرف د زياتېدو باعث گرځي او بالآخره د کاليو او خدماتو د قېمت زياتوالی د امريکا د صادراتو د کمېدو او د دغه هېواد د وارداتو د زياتېدو باعث گرځي. اوس له انگلستان څخه د سرو زرو وتل د انگلستان پر اقتصاد کې د پيسو د عرضې د کمېدو باعث گرځي، په اقتصاد باندې د انفلاسيون ضد انفلاسيوني اغېزه کوي، د توليد د مصرف او قېمت د کمېدو، او د سود د نرخ د زياتېدو لامل گرځي او دغه انفلاسيوني اغېزه د دې لامل گرځي چې د انگلستان صادرات زيات او له امريکا څخه د دغه هېواد واردات راکم شي. له بلې خوا، دا چې په امريکا کې د گټې نرخ راکم او په انگلستان کې زيات شوی دی، لنډ مهاله پانگې به د زياتې گټې د لاسته راوړلو لپاره دانگلستان اقتصاد ته حرکت وکړي. نو د ځينو اقتصادپوهانو په آند او په ځانگړې توگه د کلاسيک اقتصادپوهانو په آند د خارجي تادياتو د عدم تعادل په صورت کې، له يو هېواد څخه بل هېواد ته د سرو زرو تگ را تگ د قېمت او د سود د

نرخ په کمېدو او زیاتېدو (د پانګې وتل او ننوتل )، په اتوماتیک شکل د تادیاتو په بیلانس کې به موجود عدم تعادل له منځه یوسي.

**ب- د سرو زرو او اسعارو اساس نظام (د اسعارو اساس نظام):**

له لومړۍ نړیوالې جګړې مخکې، پولي نظام د سرو زرو نظام و. د نړۍ ټول هېوادونه، په ځانګړې توګه لوی غربي هېوادونه، پیسې یې په ثابت نرخ په سرو زرو بدلېدلې. لکه څنګه چې مو اشاره وکړه، کوم هېواد چې د خارجي تادیاتو په بیلانس کې یې کسر درلود، سره زر یې صادرول او کوم هېواد چې په خارجي تادیاتو کې مازاد درلود، سره زر ترلاسه او واردول یې او د سرو زرو صدور او ورود د هغې اغېزې له مخې چې د پیسو په عرضې، قېمتونو او د ګټې په نرخ یې غورځوي، په اتوماتیک ډول به یې د تادیاتو کسر او مازاد برابراوه. د لومړۍ نړیوالې جګړې په اوږدو کې، سخت انفلاسیون د دې لامل شو چې په سرو زرو باندې د پیسو بدلېدل ناشوني شي. د نړۍ ډېرو هېوادونو په سرو زرو باندې د پیسو د بدلېدلو وس له لاسه ورکړ. د 1920 زلسیزې په وروستیو کې ځینو هېوادونو، د دوهم ځل لپاره خپلې پیسې له سرو زرو سره په تبادله اعلام کړې، خو ځینو هېوادونو په دې پړاو کې د سټرلېنګ لېرې په ټولولو پیل وکړ، چې د سرو زرو په زېرمو سربېره یې د پولي زېرمې په توګه له ځان سره وساتي. په دې ترتیب، د سرو زرو اساس سیستم (د سرو زرو ملاتړ) د سرو زرو او اسعارو په سیستم بدل شو، چې بیا د اسعارو نظام ونومول شو. د سرو زرو اساس نظام د له منځه تلو علت د سرو زرو د ذخایرو کموالی او د دغه کمښت علت دا و، چې د پولي ارزښت د انفلاسیون پر علت د هېوادونو تبادلې د سرو زرو له عرضې نه چټک زیاتوالی پیداکړ. په 1931 ز کال کې کله چې انګلستان ونه شو کولای د نورو هېوادونو له خوا وړاندې شوی سټرلینګ په سرو زرو تبادله کړي، د اسعارو اساس سیستم هم راوپرځېد.

د 1930ز لسیزې د اقتصادي بحران په اوږدو کې د دې پر علت چې د نړۍ هېوادونو د وزګارتیا د له منځه وړلو او د ملي تولید د زیاتوالي لپاره، د صادراتو د پراختیا په موخه د خپلو پیسو ارزښت راټیټ او د وارداتي کالیو ګمرکي تعرفه یې زیاتوله، د یو ثبات لرونکي پولي نظام په لور ورګرځېدل ناشوني شول. په دغې دوره کې د اسعارو په نرخ کې دوامداره او بې نتیجې بدلونونه د دې لامل شوي، چې ډېری اقتصادپوهان دې پایلې ته ورسېږي ترڅو د یو نړیوال ثبات لرونکي پولي سیستم د رامنځته کولو لپاره باید د اسعارو نرخ ثابت وي. کله چې د یو هېواد د صادراتو او وارداتو تغییر د دې لامل شي، چې د اسعارو نرخ تغییر شي، کوم هېواد چې مثلاً د پیسو عرضه یې د اسعارو په بازارکې زیاته شوې ده د خپلو پیسو په پېرودلو سره د اسعارو په بازار کې عرضه راکموي او

داسعارو د نرخ له تغییر نه مخنیوی کوي. په بله وینا، دولتونه به په دغه نظام کې د اسعارو د نرخ د تثبیت مسئول وو. په دې حالت کې، د دولت دخالت د سرو زرو د صدور او ورود د ځای ناستې لپاره د اسعارو د نرخ د تثبیت لپاره ترسره کېږي. دولت د اسعارو د نرخ د تثبیت لپاره د اسعارو د تثبت د صندوق ځایه دولت د اسعارو په بازار کې د خپلو پیسو په پېر او پلور اقدام کوي.

## ج- د غیر ثابتو (کرېدونکو) نرخونو نظام:

د کرېدو وړ اسعارو په نظام کې په هېڅ بازار کې د اسعارو لپاره رسمي نرخ نشته او په هر وخت کې به د اسعارو نرخ عرضه او تقاضا مشخص کړي. په اوږد مهال کې د هر هېواد تر پیسو عرضه او تقاضا د هغه هېواد دخارجي تادیاتو د بیلانس په وضعیت پورې تړاو لري. د هغو هېوادونو د پیسو عرضه چې د تادیاتو په بیلانس کې یې کسر موجود وي، د اسعارو په بازار کې زیاتوالی مومي او په نتیجه کې یې د پیسو ارزښت تیټېږي او هغه د کرېدو وړ اسعارو په نظام کې، په هېڅ بازار کې د اسعارو لپاره رسمي نرخ وجود نه لري. هېوادونه چې د خپلو خارجي تادیاتو په بیلانس کې مازاد د هغو د پیسو تقاضا، د اسعارو په بازار کې زیاتېږي او په پای کې د هغوی د پیسو د ارزښت د زیاتېدو لامل گرځي. د غیر ثابت نرخ نظام نه یوازې په دې پېړۍ کې د دوه نړیوالو جگړو په اوږدو کې هم وآزمایل شو او په 1944ز کال د برېټن ووډز له کنفرانس نه وروسته له دغه نظام څخه کار اخیستل منسوخ شول. د 1970 ز په لسیزه کې ډېری غربي اقتصادپوهان په دې باور وو، چې د اسعارو نرخ غیر ثابت نرخ ته ورگرځېدل کولای شي چې نړیوالې ستونزې راکمې کړي. له 1970 ز کال نه وروسته هم ځینو هېوادونو لکه جاپان او آلمان خپلې پیسې لامبوزنې کړې او د اسعارو غیر ثابت نرخ یې وټاکه. نهایتاً د 1973 ز کال په ورستیو کې ټولو هېوادونو د برېټن ووډز کنفرانس پرېښود او د اسعارو لامبوزن نرخ یاد کرېدو وړ نظام یې وټاکه.

## عادي اغېزه او بې گټې اغېزه:

پورته مو اشاره وکړه چې د سرو زرو اساس سیستم کې، د سرو زرو وتل او راتگ د هغې اغېزې له لارې چې د پیسو په حجم او د قېمتونو په عمومي کچه یې غورځوي د صادراتو او وارداتو په تغییر سره د خارجي تادیاتو د بېلانس عدم تعادل په اتوماتیک شکل له منځه وړي. د غیر ثابت نرخ په نظام کې هم د پیسو عرضې او تقاضا تغییر چې د خارجي تادیاتو د بیلانس له کسر او مازاد نه

رامنځته کېږي، د پیسو د ارزښت او د اسعارو د نرخ د تغییر لامل گرځي او په صادراتو او وارداتو باندې په اغېزې سره د خارجي تادیاتو د بیلانس د سمېدو لامل گرځي.

مېرمن رابېنسون د آکسفورډ پوهنتون استاده باور لري، چې نه یوازې دا چې عادي اغېزه عمل وکړي، د اسعارو د نرخ تغییرات کولای شي چې د خارجي تادیاتو د بیلانس د کسر او یا مازاد د سمېدو باعث شي. کله چې بې گټې اغېزه عمل کوي، د اسعارو د نرخ تغییر نه یوازې کسر او یا مازاد له منځه نه وړي، بلکې گړندی کوي یې هم. په بله وینا، کله چې د d1+d2>1 عادي أثر عمل وکړي او کله چې d1+d2<1 وي، بې گټې اغېزه عمل کوي. په پورتنیو دوه نامعادلو کې، d1 له بهر نه وارداتو ته د اقتصاد د تقاضا ارتجاعیت او d2 د هېواد صادراتو ته د پردیو د تقاضا ارتجاعیت دی.

**د پیسو د ارزښت کمېدنه:**

کوم شی چې پورته یاد شول، تیوریکي بحث و او غالباً نظریې له هغه شي سره چې عملاً پېښېږي، توپیر لري. زمونږ موخه په دې برخه کې دا ده چې دا وڅېړو چې مثلاً په داسې اقتصاد کې لکه زمونږ د هېواد اقتصاد، د پیسو د ارزښت رسمي غورځېدل څه اغېزې رامنځته کوي. آیا کولای شي چې د مثال لپاره صادرات زیات او واردات کم کړي او زمونږ د تادیاتو بیلانس متعادل کړي؟ زمونږ د پیسو د ارزښت غورځېدل به د هېواد په داخل کې کومې اقتصادي اغېزې وشیندي؟

په مطلب باندې د پوهېدو لپاره باید په لومړي سر کې د ایران د صادراتو او وارداتو جوړښت او د پانگې د وتو او ننوتو په اړوند د ایران د وخت سیاستونو ته پام وکړو. له هغه ځایه چې زمونږ اقتصاد یو تک محصولي اقتصاد دی، زمونږ د هېواد د صادراتو لویه برخه د خامو نفتو صادرات تشکیلوي، چې اولیگوپولي بازار لري، یعنې د نفتو قېمت او اندازه د OPIC د غړو له خوا ټاکل کېږي. د نفتو د صدور په مقابل کې چې قېمت یې په ډالرو ټاکل کېږي، زمونږ هېواد په ډالرو او یا د نفتو د صادرولو په صورت کې په بارټري شکل کالي ترلاسه کوي. په اوس وخت کې زمونږ واردات اړین کالي دي. یعنې د هېواد واردات او یا د صنایعو د اړتیا وړ کالي او یا ډېر اړین مصرفي اقلام (د مثال په توگه درمل او اړین خوراکي توکي) وي.

پر دې سربېره، د پانگې د صدوراو ورود له پلوه دولت هم د پانگې د صادرولو او د بهرنۍ پانگې د ورود د محدودولو لېوالتیا لري، ځکه چې د بهرنۍ پانگې راتگ ترلتیا رامنځته کوي او دولت نه یوازې د بهرنۍ پانگې د راتگ مینوال نه دی، بلکې د ایران د پورونو په بېرته ورکړې سره ایران ته واردې شوې بهرنۍ پانگې چې له انقلاب نه مخکې وې دا یې هم له اقتصاده ویستلې دي.

اوس د ایران اقتصادي جوړښت او د دولت اقتصادي سیاستونو ته په کتو سره فرض کړئ، چې د ایران دولت په رسمي توګه د ریال ارزښت د نورو بهرنیو پیسو مثلاً د ډالرو او سټرلینګ لیرې په مقابل کې راټیټوي او د ریال رسمي نرخ په ډالرو چې 80 ریاله له یوه ډالر سره مساوي دی، 160ریالو ته د یوه ډالر په مقابل کې تغییروي. د ارزښت دغه تغییر په صادراتو او وارداتو د پانګې په نقل و انتقال او په داخلي اقتصاد څه اغېزې کوي؟ په لومړي سر کې په صادراتو بحث کوو. د نفتو د صدور له پلوه، دغه تغییر، د نفتو په صادراتو کې تغییر نه راولي. که څه هم په نړیوالو بازارونو کې د نفتو قېمت په ډالرو تاکل کېږي، نو د ریالو د ارزښت تغییر په نړیوالو بازارونو کې د نفتو په قېمت اغېزه نه کوي. له بلې خوا، د ایران د نفتو د صادراتو د اندازې تغییر هم له قېمت نه مستقل دی ځکه چې د صادراتو اندازه د اوپک له خوا په تاکل شوې سهمیې پورې تړاو لري. د ایران نور صادراتي کالي هم په ډېرې خوارۍ د کالیو او خدماتو د صادراتو له %15نه کم وي. د ارزښت دغه تغییر د غالیو (قالینو)، پستې او کولمو د اسعاري قېمت په کمېدو سره مثلاً کولای شي چې ددغو کالیو صادرات لږ ډېر کړي. د ارزښت نوموړی تغییر د ریال د ارزښت راکمولو په خاطر، د وارداتو ریالي ارزښت زیاتوي، خو له هغه ځایه چې زموږ واردات د اړینو کالیو واردات دي او د وارداتي اقلامو د تقاضا ارتجاعیت صفر خوا ته میلان کوي، د قېمت دغه تغییر د وارداتو د کمېدو سبب نه ګرځي یوازې د وارداتي کالیو قېمت او د هغو داخلي کالیو قېمت چې د هغو په تولید کې له بهرنیو موادو او ماشینونو څخه کار اخیستل کېږي زیاتوي. په بله وینا پېروی، پنېر، درمل، وچې شیدې، ډوډۍ او نورو قېمت زیاتېږي. د پانګې د ورود او خروج له نقطه نظره هم د پانګې د ورود او خروج د محدودولو سیاست د ریال د ارزښت کمېدل بې أثره او خنثی کوي.

اوس ګورو چې د ارزښت دغه کمېدل به په داخلي اقتصاد کې څه اغېزې پرېږدي. لکه چې پورته مو ورته اشاره وکړه، د خارج په وارداتو باندې زموږ د اقتصاد د اتکاء په خاطر، د ریال د ارزښت کمېدل دا چې د قېمتونو عمومي سطحه په داخل کې زیاتوي، انفلاسیوني اغېزه به ولري. د قېمتونو زیاتوالی، د مصرف کوونکو د خرید قدرت به کم کړي، په ځانګړې ډول هغه کسان چې ثابت عاید لري لکه مزد اخیستونکي او حقوق اخیستونکي او موجود انفلاسیون او د هغه فشار به په کم عایده طبقې ګړندی کړي. ځینې به د ارزښت له دغه کموالي څخه ګټه پورته کړي چې د کالیو ګودامونه ولري. د مثال په توګه، هغه چا چې د ریال د ارزښت له ټیټېدو نه مخکې 10000 واحده کالي په ګودام کې ذخیره کړي او قېمت یې د پیسو د ارزښت له راټیټېدو څخه مخکې 100 ریاله و، که ددغو کالیو قېمت د پیسو د ارزښت له راټیټېدو وروسته 130 ریالو ته لوړ شي، 300000 ریاله ګټه به وکړي.

هغه څه په کتو چې مخکې تېر شول، زمونږ د هېواد د اقتصاد په اوسني وضعيت کې د پيسو د ارزښت کمېدل که څه هم غير نفتي صادرات لوړوي، خو د نه پامنيوي په صورت کې د غير نفتي صادراتو فيصدي او همدا راز د هغه انفلاسيوني اغېزه د پام وړ نه ده.

## نړيوال پولي سيستم 1944- 1947:

د اسعارو د پايې سيستم له راپرځېدو نه مخکې په 1944 ز کال کې د نړيوال باثباته پولي نظام د ايجاد لپاره په برېټن ووډز کې کنفرانس جوړ شو. دغه کنفرانس ته د بررسي لپاره دوه طرحې وړاندې شوې. له دوه طرحو څخه يوه د کېنز له خوا وړاندې شوه، چې په حقيقت کې يې د يو نړيوال مرکزي بانک او د بانکور په نامه د يو نړيوال پولي واحد رامنځته کول پېشنهادول او بله هغه طرحه وه، چې د امريکايي اقتصاد پوه وايټ له خوا وړاندې شوې وه. له هغه ځايه چې په 1944 ز کال کې امريکا ډېر قدرتمن هېواد و. کومه طرحه چې د امريکا د ملاتړ وړ وه، يعنې د وايټ طرحه د کنفرانس له خوا ومنل شوه. د وايټ په طرحه کې، دغه درې نړيوال سازمانونه، يعنې د بارتر يوه اتحاديه، د پانګونې يو بانک او د يو سوداګريز بانک ايجاد پېشنهاد شوي وو، چې له 1994 ز کال وروسته، بارتري اتحاديه، يعنې د پيسو نړيوال صندوق او د پانګونې بانک يا د نړيوالې پراختيا او ترميم بانک چې وروسته يې د نړيوال بانک نوم خپل کړ ايجاد شو، او دريم سازمان تراوسه پورې ايجاد شوی نه دی. د وايټ په طرحه کې په حقيقت کې د اسعاري پايې نظام ته ورګرځېدل پېشنهاد شوي وو، او د سترلېنګ لېرې ډالر د وايټ په طرحه کې په حقيقت کې اسعاري نظام ته ورګرځېدل پېشنهاد شوي او سترلېنګ لېرې ډالر د هغو اسعارو په توګه چې بايد په نړيوالو مبادلاتو کې د سرو زرو په څېر ترې کار واخيستل شي، وټاکل شول. د سترلېنګ پر ځای ډالر او سترلېنګ د سرو زرو د ذخايرو کمبود جبراناوه. د برېټن ووډز په پېشنهادي سيستم کې د اسعارو نرخ ثابت و.

تر 1960ز لسيزې پورې د وايټ پېشنهادي طرحه او د نړيوالو تادياتو په نظام کې د موجودو ستونزو د رفع کولو او اسانتياوو په برخه کې د نړيوال وجهي صندوق عمليات بريالي وو. د نړيوالو مبادلاتو حجم زيات شو، ګمرکي تعرفې راکمې شوې او د 1950 ز لسيزې په وروستيو کې اصلي پيسې په آسانۍ سره په خارجي اسعارو د بدلېدو وړ وې.

د 1960 ز کال په لومړيو کې دغې مسئلې ته چې د منځګړو اسعارو راټولېدو او تجمع (ډالر او سترلېنګ لېره) په ځينو هېوادونو کې به د نړيوال پولي سيستم ثبات په خطر کې واچوي، اشاره وشوه. دغه تجمع د هغو هېوادونو د تادياتو په بيلانس کې د کسر د ايجاد باعث شوه، چې نوموړو اسعارو په هغوی پورې تړاو درلود، په ځانګړي ډول د امريکا متحده ايالات. د ډېرو هېوادونو د

اسعاري ذخایرو په زیاتوالي سره، د امریکا او انګلستان نقدي پورونه د سرو زرو د ذخایرو په پرتله ډېرې لويې شوې او دغه مسئله په سرو زرو باندې اصلي اسعارو (ډالرو او سرو زرو) د تبدلېدو د امکان په کمېدو سره، د غه دوه اسعار ډېر کمزوري کړل. له دې وراخوا، د اسعارو د نرخ ثابتوالی او د هغه عدم انعطاف چې په سیستم کې موجود اختلافات د وخت په تېرېدو سره شدت پیدا کړي. پر دې سربېره، د اسعارو د نرخ ثابتوالی باعث شو ترڅو سفته بازان او احتکار کوونکي په سیستم باندې فشار زیات کړي. د 1960 ز لسیزې په وروستیو کې په ډالرو فشار شدید شو او په ډالرو باندې د وارده فشار شدت د امریکا د متحدو ایالاتو په اقتصاد کې د انفلاسیون د نرخ د زیاتوالي په علت و (د صادراتو کموالی او د وارداتو زیاتوالی).

په نورو اسعارو باندې د ډالرو د بدلېدو او په سرو زرو باندې د بدلېدو د محدودولو لپاره د نړۍ د هېوادونو د مرکزي بانکونو په وسیله د ټولو هېوادونو د مقاماتو له خوا موفقې ترسره شوې. په 1967 ز کال کې په ډالر باندې د وارد شوي فشار د کمولو لپاره د اخیستنې ځانګړی حق (SDR) ایجاد شو چې په حقیقت کې یوه نړیواله نقدي ذخیره ده، چې د سرو زرو د استخراج او کومې ستونزې چې اسعاري ذخایر یې ایجادوي له هغه نه خالي دی. په کلي ډول د اخیستنې ځانګړي حق د ایجاد هدف د امریکا متحدو ایالاتو او انګلستان د اقتصادونو د زیات سیالیت ایجاد و.

د 1971 ز کال د اوت په 15 نېټه د برېټن ووډز سیستم، کله چې د امریکا د تادیاتو د بیلانس د شدید کسر په ترڅ کې د امریکا متحده ایالات اړ شوي چې په سرو زور باندې د ډالر د تبادلې وړتیا لغوه کړي، له منځه ولاړ. د 1971 ز کال د اوت له میاشتې وروسته، ډېری هېوادونه د دوی د پیسو د ارزښت زیاتولو ته وهڅول. د دنیا نورو هېوادونو ټینګار کاوه چې د امریکا متحده ایالات باید د سرو زرو په مقابل کې د خپلو پیسو ارزښت راټیټ کړي. د 1971 ز کال په دسمبر کې د ډالرو ارزښت راټیټ شو، د سټرلېنګ لېرې او فرانسوي فرانک ارزښت ثابت پاته شو او تر ټولو قوي اسعار یعنې آلماني مارک، جاپاني ین او د سوئسي فرانک ارزښت د سرو زرو په پرتله زیات شو.

د برېټن ووډز سیستم په بررسي کې باید دغه ټکی په پام کې ونیول شي چې سیستم ناقص و، ځکه د وایټ په طرحه کې له درې وړاندې شویو سازمانونو څخه درېیم سازمان ایجاد نه شو. په دوه ایجاد شویو سیستمونو باندې هم د دوی په ځینو عملیاتو کې ډېرې نیوکې موجودې دي. د صندوق سهمیه بندي داسې وه، چې ځینې وخت به په صندوق کې د ځینو اسعارو کمی موجود و او په ځینو نورو کې به مازاد موجود و. په 1959 ز کال کې د صندوق سهیمه زیاته شوه، خو د سهمیې

په جوړښت کې د دغې ستونزې د له منځه وړلو لپاره تغییر رانغی. په 1952ز کال کې د صندوق په اساسنامه کې تغییرات راغلل چې باعث شو، ترڅو صندوق د پور ورکولو پر مهال د هغو هېوادونو لپاره چې وړاندوینه کېږي چې د تادیاتو په بیلانس کې به له کسر سره مخ شي، ترجیح ورکړي.

په نړیوال بانک او یا د پراختیا او ترمیم نړیوال بانک باندې هم ډېرې نیوکې شته. ځینې ډلې باور لري چې د ګټې نرخ چې بانک یې د پور د ورکړې لپاره غواړي، د ګټې یو سوداګریز نرخ دی او د دا ډول ګټې ورکړه د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره ډېره سخته ده. دغه نیوکې باعث شوې ترڅو د پراختیا نړیوال سازمان ایجاد شي. دغه سازمان چې تر ډېره حده د ټولنې په اجتماعي زېربناوو کې د پانګونې لپاره او نه د اقتصادي زېربناوو د طرحه کولو لپاره پورونه عرضه کوي، د بېرته ورګرځېدلو وخت یې ډېر اوږد دی او تقریباً ګټه هم نه غواړي. د درېیمې نړۍ هېوادونو د زیاتې مرستې لپاره ډېرو وړاندیز کړی دی، چې د اخیستنې ځانګړي حق د وېش پر مهال باید له هغه نه زیاته برخه د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره تخصیص شي. ځینو د پیسو نړیوال صندوق ناقص ګڼلی، هغه دا چې دغه صندوق د بډایه کسانو کلب دی. ممکن د دغې نیوکې په ترڅ کې و، چې صندوق د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره د پور د بېرته ورګرځولو وخت وغځاوه (عادي وخت د 3 او 5 کلونو ترمنځ دی).

په 1960ز لسیزه کې څو څو ځله د نړیوالو ذخایرو کفایت تر پوښتنې لاندې راغی. پروفېسور ټرېفېن په نړیوالو ذخایرو سربېره، د صندوق د قدرت مسئله چې شدیداً ډالري او سټرلېنګي دیون د نړیوال میعان په زیاتوالي متکي دي، تر پوښتنې لاندې یې راوست. هغه په ډاګه کړه چې د امریکا او انګلستان په هېوادونو کې ذخایر د هغوی ډالري او سټرلېنګي دیونو ته په کتو ډېره غیر کافي دي. هغه وړاندیز وکړ چې د برېټن ووډزسیستم د داسې یو مشابه سیستم په وسیله چې کېنز پېشنهاد کړی و، تعویض شي.

ښاغلي ژاک رئوف له فرانسې نه هم د برېټن ووډز سیستم تر سختې نیوکې لاندې راوستی او د سرو زرو پشتیوانې نظام ته ورګرځېدو باندې باوري دی. هغه زیاتوي، چې د نړیوالو پولي ستونزو د کمولو لپاره باید د سرو زرو رسمي قېمت دوه برابره شي. بیا وروسته په 1970 ز لسیزه کې د پولي ستونزو د کمولو لپاره د سرو زرو قېمت زیاتولو د ژاک رئوف نظر تأیید کړ.

### د 1960 ز لسیزې تجربې:

په دې لیسزه کې تر ټولو لوی تغییر په نړۍ کې د اقتصادي قدرت کامل نسکورېدل دي. دغه تغییر د راتلونکي مخ جدول ته په کتو، چې په هغه کې د سرو زرو غیر خالصې ذخیرې او په

سرو زرو باندې د تبديليدو وړ ذخاير ښودل شوي دي، د پوهېدو وړ دی. دغه جدول، د اروپا د ګډ بازار د اهميت د زياتوالي او د امريکا متحدو اياﻻتو د اهميت د کموالي ښکارندوی دی. په 1950 ز لسيزه کې نړۍ د ډالر له کمښت سره مخ شوه. بله مهمه مسئله په دې لسيزه کې، د يوې فعالې اسعاري ذخيرې په توګه د سټرلېنګ لېرې سقوط و. د لېرې سقوط بايد د امريکا متحدو اياﻻتو لپاره د يو خبرداري په توګه وای، خو آيا د امريکا متحدو اياﻻتو خپل سياليت چې په غربي اروپا کې په پانګونې ټينګار او د ويټنام تخريش و، دوام يې وکړ او د غربي اروپا بانکونو د ډالرو بې حده ذخيره کولو ته دوام ورکړ او دغه بې حده ذخيره کول باعث شول چې د نړۍ پولي سيستم د کمره ژۍ ته نږدې شي. يوه ډله په حقيقت کې باور لري چې د 1960 ز پولي ستونزې د انګلستان له اقتصادي کمزورۍ او د امريکا متحدو اياﻻتو په سياستونو باندې له غربي آلمان نه لېوالتيا ده. يوازې فرانسه وه چې په 1964ز کال کې يې په سرو زرو باندې د خپلو ډالري ذخايرو په بدلولو سره نور د برېټن ووډز سيستم له کمروزۍ پرده پورته کړه.

دغه لسيزه پر سټرلېنګ لېرې باندې په شديد فشار سره پيل شوه. په 1961 ز کال کې په لېره باندې وارد شوی فشار په دې اندازه و، چې د سټرلېنګ لېرې د ستونزو د حل لپاره لسګونی کلوپ (د نړۍ د لسو هېوادونو پولي کنفرانس) جوړ شو. د امريکا مرکزي بانک (فدرال ريزرو) په نيويارک کې په 1962 ز کال کې د هغو خطراتو وړاندوينه وکړه چې په راتلونکي کې يې ډالر ګواښل، او د دغه خطر د کمولو لپاره يې د نړۍ د صنعتي هېوادونو مرکزي بانکونه يې مرستې ته راوبلل. ددغو بانکونو مرسته 10980 ميليون ډالرو ته ورسېده. د انګلستان د مرکزي بانک مرسته د جاپان د مرکزي او د غربي آلمان د ټولو بانکونو د مرستې دوه برابره وه، له ډالر سره د لا زياتې مرستې په خاطر، د امريکا متحدو اياﻻتو د نړۍ د نورو هېوادونو په مرکزي بانکونو باندې د دولتي پورونو پاڼو په پلورلو پيل وکړ. د کميابه اسعارو د زياتوالي لپاره په 1964 ز کال کې د پيسو نړيوال صندوق سهمېې زياتې کړې.

| تاريخ | د اروپا ګډ بازار فيصدي | انګلستان (فيصدي) | امريکا (فيصدي) | ټول (فيصدي) |
|---|---|---|---|---|
| د 1958د دسمبر 31 | 33,48 | 8,63 | 57,89 | 100 |
| د1966 د دسمبر 31 | 53,35 | 8,19 | 38,46 | 100 |
| د 1967 د مۍ 31 | 55,17 | 8,01 | 36,82 | 100 |

«1 جدول د سرو زرو ناخالص ذخاير او د بدلېدو وړ اسعار»

انګلستان چې په پخوا کلونو کې يې په بهر کې خپل مصارف زيات کړي وو، په 1964 ز کال کې پر دې علت او د دې لپاره چې سترلنګ لېره منځګړی سعر و، د تاديات بيلانس يې د پام وړ کسر پيدا کړ. د دې پر ځای چې د لېرې ارزښت راکم کړي، ترڅو د صادراتو په زياتولو او د وارداتو په کمولو سره کسر راکم کړي. د امريکا متحدو ايالاتو په وړانديز يې خپل نړيوال پورونه زيات کړل (د پانګې ورود) په 1967 ز کال کې په لېره باندې وارده فشار انګلستان اړ کړ، ترڅو د لېرې ارزښت راکم کړي. په دغه کال کې لېرې خپل رول د منځګړي يا ذخيره کېدونکي سعر په توګه له لاسه ورکړ. په 1967 او 1968 ز کال کې په سرو زرو باندې سفته بازي په ډېر مقدار سره دغه سفته بازي تر هغه حده پورې وه، چې د لندن د سرو زرو بازار يې سره تيت په ترک کړ او د 1969 ز په اوت کې فرانسې د خپل فرانک ارزښت راکم کړ. د ارزښتونو دغه کموالي ته په کتو د آلمان مارک ته د سفته بازانو تقاضا زياته شوه. د آلمان دولت د 1969 ز کال د سپتمبر له 30 نه د اکتوبر تر 26 مارک غوټه وهونکی کړ او د اکتوبر په 26 برابر نرخ نوی مارک نشر کړ.

د 1960 ز لسيزې په اواسطو کې د ذخايرو د کفايت او نړيوال ميعان په اړه ډېر بحثونه وشول. فرانسويانو باور درلود چې نړيوال ذخاير کافي دي او که ستونزې رامنځته شي د سرو زرو د قيمت دوه برابر کول به ستونزې له منځه يوسي. د انګلو ساکسون (امريکا- انګلستان) هېوادونه باوري وو، چې نړيوال ذخاير غير کافي دي. دواړو ډلو باور درلود چې د پيسو نړيوال سيستم له ستونزو سره مخ دی. د 1876ز کال په وروستيو کې د نړيوالو ستونزو د لرې کولو لپاره د اخيستنې ځانګړی حق چې په حقيقت کې بانکور ته ورته شی د کېنز په وسيله دی، منځته راغلی دی. د 1960 ز لسيزې په پای کې د اروپا د ګډ بازار له لاسه تللی قدرت بېرته ترلاسه کړ او په امريکايي کې د پام وړ کمزوري راغله.

**د 1971- 1979 بحران:**

1970ز لسيزه په حقيقت کې د دغې مسئلې په منلو سره پيل شوه، چې ډالر او سترلنګ لېره بايد لامبوزن شي. د امريکا د خارجي تادياتو بيلانس د جاري کسر زياتوالي او د امريکا د سرو زرو او اسعارو د ذخيرې کموالي د ډالرو سقوط حتمي کړ. په 1971 ز کال کې غربي آلمان ته د امريکايي ډالرو شدت زيات شو، د 1971 ز کال د مې په 9 آلمان ته د ډالرو د جريان مربوطه ارقام نجومي شول. د آلمان مرکزي بانک ناچاره و، چې د امريکايي ډالر د پام وړ ډېر ډېر مقدار وپېري. د 1971 ز کال د مې مياشتې په 4 د آلمان مرکزي بانک په وسيله پېرودل شوي ډالر د رسمي نرخ د

ساتلو لپاره يو ميليارد ډالرو ته ورسېدل. غربي آلمان د ډالرو د جريان شدت باعث شو، ترڅو د آلمان مرکزي بانک د امريکايي ډالر د ملاتړ په خاطر خپل عمليات ودروي. د مې له مياشتې وروسته، په نورو اسعارو د ډالر د بدلېدو لپاره د ډالرو عرضه يې د اسعارو په بازار کې په شدت سره زياته کړه. هالنډ او آلمان خپلې پيسې لامبوزنې کړې. د امريکا د سرو زرو او اسعارو ذخيره په شدت سره راکمه شوه. د 1971 ز کال د اوت په 15 د نيکسون دولت داسې تصاميم ونيول چې د برېټن ووډز سيستم د سقوط او د هغه د عمر پای ته رسېدو باعث شو. له دغو تصاميمو څخه تر ټولو مهم، په سرو زرو باندې د ډالرو نه بدلېدل او د ډالرو لامبوزن کول وو. د امريکا د تادياتو بيلانس د جاري حساب د کسر راکمولو لپاره و. د نيکسون دولت په وارداتو باندې 10 فيصده اضافي ماليات تصويب کړل. غربي اروپا چې اوس يې په سرو زرو باندې د نه بدلېدو ډالرو زيات مقدار درلود، امريکا ته يې د ډالرو د رسمي نرخ د کموالي وړانديز وکړ. امريکا دغه غوښتنه رد کړه او په جاپان باندې يې د سياسي فشار په راوړلو سره دغه هېواد اړ کړ، ترڅو د جاپاني ين ارزښت زيات کړي. د دسمبر په مياشت کې ژور ژېمپيدو په نيکسون فشار راوړ او په پای کې په دې مياشت کې د امريکا دولت د ډالرو ارزښت راکم کړ.

په 1972 ز کال کې د اروپا ګډ بازار تصميم ونيوه، چې د بازار د غړو د اسعارو نرخ تثبيت کړي. د دې لپاره چې د سفته بازانو فعاليت د پيسو د ارزښت د تغيير باعث نه شي، هوکړه وشوه چې د غړو هېوادونو مرکزي بانکونه د اسعارو په بازار کې مداخله وکړي. د 1972 ز کال د جون په مياشت کې سره له دې چې د انګلستان د سرو زرو او اسعارو ذخاير د پام وړ وو، په سترلېنګ لېره باندې سفته بازي باعث شوه ترڅو لېره په شدت سره تر فشار لاندې راشي. د غړو هېوادونو مرکزي بانکونو په لېره باندې د وارده فشار د کمولو لپاره دخالت وکړ او د انګلستان مرکزي بانک په خپله هم د اسعارو په بازار کې د لېرې په پېرودلو اقدام وکړ. د جون په 22 مرکزي بانک د مجدد تنزيل نرخ له 5 فيصدو نه 6 فيصدو ته لوړ کړ (د پانګې د ورود تشويق) او د جون په 23 لېره يې لامبوزنه کړه او له انګلستان څخه يې د پانګې وتل محدود کړل. د سترلېنګ لېره د اروپا د ګډ بازار يوازېنۍ پيسه نه وه چې فشار پرې راغلی و، د ايټاليا لېره هم د جون د مياشتې په اوږدو کې په شدت سره کمزورې شوه. پر سترلېنګ لېره باندې د فشار د کمولو لپاره مرستې د ايټاليا په لېره باندې وارده فشار زيات کړ. د اروپا د ګډ بازار غړو د جون په مياشت کې د 3009 ميليون ډالرو په مرستې سره په سترلېنګ لېره باندې فشار راکم کړ. په همدې مياشت کې، فرانسې د غړو هېوادونو د مرستې لپاره کله چې پيسې تر فشار لاندې راځي د صندوق د ايجاد وړانديز وکړ. د جون او جولای د مياشتې په اوږدو کې ډالرو بله سخته ضربه وخوړه. د آلمان مرکزي بانک د اسعارو په بازار کې د 600 ميليون ډالرو په پېرودلو

اقدام وکړ. د فرانسې مرکزي بانک 150 میلیونه ډالر، د سویس مرکزي بانک 400 میلیونه ډالر، د هالنډ مرکزي بانک 78 میلیونه ډالر، د بلژیک مرکزي بانک 20 میلیونه ډالر او د آلمان مرکزي بانک 400 میلیونه ډالر وپیرل. د ډالر د بحران رفع کولو لپاره د فرانسې او آلمان مرکزي بانکونو د خپلې قانوني ذخیرې نسبت زیات کړ.

د 1972 ز کال د جولای په 17 او 18 د اروپایي هېوادونو د اقتصاد وزیران په لندن کې سره راټول شول او د یو نوي پولي سیستم د ایجاد په هکله یې سره خبرې اترې وکړې. اته لاندې ټکي د دغې غونډې پایله وه:

1- په نوي پولي سیستم کې باید د اسعارو نرخ ثابت وي خو لږ انعطاف دې ولري.
2- په دې سیستم کې اسعار باید په سرو زرو باندې د بدلېدو وړتیا بېرته ترلاسه کړي.
3- په نړۍ کې د سیالیت د عرضې لپاره باید مؤثر نړیوال مقررات منځته راشي.
4- په نوي سیستم کې باید د هېوادونو د تادیاتو بیلانس د متعادل کولو لپاره اړین اقدامات اتکل شي.
5- سیستم باید د لنډ مهاله پانګې جریان د اغېزو کموالی په پام کې ونیسي.
6- په نوي پولي سیستم کې باید غړي هېوادونه مساوي حقوق او ژمنې ولري.
7- نوی سیستم باید د پرمختیایي هېوادونو وضعیت ته اړینه پاملرنه وکړي.
8- نوی سیستم باید د اروپا د ګډ بازار غړو هېوادونو د اقتصادي او پولي اتحادیو له اهدافو سره همغږی وي.

د 1973 ز کال د سپتمبر په میاشت کې د ډالر شدید ضعف ته په کتو د پیسو نړیوال صندوق د نړیوالو پولي ستونزو په اړه یوه نشریه خپره کړه. په همدې وخت کې، ښاغلي فالکر د امریکا له متحدو ایالاتو څخه د پولي سیستم د اصلاح لپاره ځینې وړاندیزونه ارائه کړل. په همدې وخت کې داروپا د ګډ بازار غړو د ګډ بازار د پولي ذخیرې د صدور د ایجاد په اړه هوکړه وکړه. کله چې د 1973 ز په جنوري کې سویس اعلان وکړ چې د سویس فرانک دې لامبوزن شي، نو ډالر بله سخته ضربه وخوړه. د فبروري د میاشتې په لومړیو کې د اروپایي هېوادونو او جاپان مرکزي بانکونه د ډالر پېرودلو ته اړ شول. بانکونو دا ځل 700 میلیونه ډالر پېرودل، چې له دغو 700 میلیون ډالرو څخه، 250 میلیونه ډالر د غربي آلمان د مرکزي بانک په وسیله، 60 میلیونه ډالر د بلژیک په وسیله او 80 میلیونه ډالر د جاپان د مرکزي بانک په وسیله وپېرودل شول. د فبروري په 2 ورځ 1200 میلیونه ډالر هم د مرکزي بانکونو له خوا و پېرودل شول. د آلمان د مرکزي بانک ونډه 750 میلیونه ډالر، د جاپان د مرکزي بانک ونډه 170 میلیونه ډالر، د هالنډ د مرکزي بانک ونډه 100 میلیونه ډالر او د

انگلستان د مرکزي بانک ونډه 200 میلیونه ډالر وه. په همدې وخت کې د آلمان مرکزي بانک د آلمان د پانګې ورود محدود کړ. خو دغه محدودیت د آلمان د ډالرو د واردېدو لپاره کافي نه و. د غربي آلمان دولت شکایت درلود چې د امریکا مرکزي بانک د ډالرو د ملاتړ لپاره فعالانه عمل نه کوي. د فبرورۍ په 6 د آلمان مرکزي بانک 1200 میلیونه ډالر، د فبرورۍ په 8 نېټه 1700 میلیونه ډالر او د فبرورۍ په 9 نېټه 1000 میلیونه ډالر او د فبرورۍ په 10 نېټه 800 میلیونه ډالر وپېرودل. د فبرورۍ په 9 او 10 د هالنډ مرکزي بانک په ترتیب سره 200 او 250 میلیونه ډالر وپېرودل. په جاپان باندې د سیاسي فشار په ایجاد سره د ین د رسمي ارزښت د زیاتوالي لپاره د امریکا دولت بالآخره د فبرورۍ په 13- 12 د ډالر ارزښت رسماً 10 فیصده زیات کړ. په همدې ورځ جاپانی ین او ایټالیوی لېره لامبوزنه شوه، خو د ډالرو د ارزښت دغه کموالي، نورو هېوادونو ته د ډالرو جریان ونه دراوه. د مارچ د میاشتې په دوهمه د امریکا متحدو ایالاتو تر فشار لاندې په جبري ډول د آلمان مرکزي بانک د 2700- 3000 میلیونه ډالرو، د فرانسې مرکزي بانک د 300- 400 میلیونه ډالرو ترمنځ او د هالنډ مرکزي بانک 600 میلیونه ډالر وپېرودل (په ډالرو باندې د وارده فشار د کموالي لپاره د تقاضا زیاتوالي په همدې وخت کې د اسعارو بازارونه د یوې اوونۍ لپاره رخصت شول او له څنډ پرته د اروپا د ګډ بازار د هېوادونو د اقتصاد وزیرانو د 1973 ز د مۍ 4 په بروکسل کې غونډه جوړه کړه، په دې غونډه کې هغوی د دې مسایلو په هکله چې د فرانسې د اقتصاد او شتمنۍ د وزیر له خوا پېشنهاد شوي وو بحث پرې وشو.

1- د سترلېنګ لېره او د ایټالیا لېره باید د ثابتو نرخونو نظام ته وروګرځي (یعنې لامبوزنه وي).
2- د ګډ بازار غړي باید په ګډه د ډالرو د نرخ د کموالي په مقابل کې له ځان څخه ملاتړ وکړي.
3- د بازار غړي هېوادونه د تودو (Hot)[55] پیسو د ډالرو ورود په درنو جریمو محدود کړي. له دې وراخوا، دغې غونډې د امریکا متحدو ایالاتو ته د غه مسئله چې باید له خپلو پیسو څخه د دفاع مسئولیت په غاړه واخلي، غوږ وهنه وکړه.

د مارچ په 19 د اسعارو بازارونه بېرته پرانستل شول. د ډالرو د ارزښت له کموالي سره د مبارزې په خاطر، آلمان د مارک ارزښت لوړ کړ. په 2- 19جدول کې اروپایي هېوادونو او جاپان ته د ډالرو د جریان شدت ددغو هېوادونو ذخایر منعکس شوي دي.

55- Hot money تودې پیسې اصطلاحاً هغو پیسو ته ویل کېږي چې د ارزښت د شدید کموالي لپاره خلک غواړي ژر تر ژره د هغه له شر نه خلاص شي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فرانسه: | | | | غربي آلمان: | | | |
| سره زر | 3533 | 3825 | 3826 | سره زر | 3980 | 4426 | 4459 |
| د اخیستنې ځانګړی حق | 171 | 378 | 630 | د اخیستنې ځانګړی حق | 258 | 493 | 983 |
| ډالر | 1257 | 3577 | 5059 | ډالر | 8455 | 12302 | 14837 |
| سویس: | | | | انګلستان: | | | |
| سره زر | 2705 | 3094 | 5059 | سره زر | 1349 | 842 | 800 |
| د اخیستنې ځانګړی حق | - | - | - | د اخیستنې ځانګړی حق | 266 | 642 | 656 |
| ډالر | 1932 | 2688 | 3209 | ډالر | 1212 | 5099 | 4521 |
| ایټالیا: | | | | جاپان: | | | |
| سره زر | 2887 | 3121 | 3130 | سره زر | 532 | 738 | 801 |
| د اخیستنې ځانګړی حق | 77 | 247 | 371 | د اخیستنې ځانګړی حق | 146 | 307 | 461 |
| ډالر | 2113 | 3030 | 2220 | ډالر | 3188 | 13783 | 16483 |

جدول د مرکزي بانکونو ذخیرې په میلیون ډالر »2- 19«

## د پیسو نړیوال بازار او اصلاحي برنامه:

د 1974 ز کال د دوه لومړیو میاشتو په اوږدو کې داسې پېښې وشوې چې نه یوازې د پیسو د نړیوال سیستم په صحنه کې یې د تحولاتو د ماهیت تغییر ته تمایل درلود، بلکې د دوه تېرو کلونو طریقه یې هم ژوره کړه.

د نفتو بحران د غربي هېوادونو د ډېرو اقتصادونو زیانمنېدل ښکاره کړل او ویې ښودله چې د اروپا ګډ بازار یووالي چې په 1960 ز لسیزه کې یې ډېر قدرت موندلی و، تر کومه حده پورې ماتېدونکی او سست دی.

ځینو نورو عواملو هم د نړیوال پولي سیستم اصلاح ته اړتیا ډېره مهمه او عاجله کړه، د لوی مازاد تر ټولو مهم عامل د نفتو صادرونکو غربي هېوادونو د خارجي تادیاتو بیلانس و. کومه مسئله چې رامخکې شوه، دا وه چې دغه مازاد به کوم هېواد یا کومې موسسې ته وسپارل شي. ځینې غربي

هېوادونه هيله من وو، چې د دغه مازاد يوه برخه د هغوی په بانکونو کې ذخيره شي. ځينې په دې فکر کې شول چې د نفتو صادرونکي غربي هېوادونه د دغه مازاد يو مقدار د پيسو نړيوال صندوق ته په پور ورکړي. ځينو نورو دا تصور وکړ چې امريکا ته د پانګې د ورود د محدوديتونو له منځه وړل، باعث ګرځي ترڅو دغه مازادونه نيويارک خوا ته حرکت وکړي او دغه ښار به بيا د پيسو د مهم نړيوال بازار په توګه خپل اهميت بېرته ترلاسه کړي.

د نفتو صادرونکو غربي هېوادونو د خارجي تادياتو په بيلانس کې لوی مازاد چې د نفتو د قېمت له زياتوالي څخه رامنځته شوی و، د پرمختللو صنعتي هېوادونو او د درېيمې نړۍ هېوادونو لپاره ډېرې ستونزې منځته راوړلې. کوم هېوادونه چې د نفتو د قېمت له زياتوالي څخه ډېر زيانمن نه شول، دوه هېوادونه، غربي آلمان او د امريکا متحده ايالات وو. آلمان د 1973 ز کال په پای کې د 94 ميلياردو په اندازه حيرانوونکې ذخيره درلوده چې 70 ميليارده مارک يې ډالر او پاته نور يې سره زر وو. متحده ايالاتو هم کولای شوای په خپل داخلي توليد سره خپل 90 فيصده نفتي اړتيا تأمين کړي.

ايټاليا د غرب له اکثرو هېوادونو څخه ډېره تر فشار لاندې راغله. د 1974 ز کال د دسمبر له 31 نه د 1974 ز کال تر جنوري پورې د 1800 ميليونه ډالرو په اندازه د پيسو له نړيوال بازار څخه پور ترلاسه کولو ته اړ شوه. د 1974 ز کال د جنوري په 20 فرانسې فرانک لامبوزن کړ او فوراً د فرانک ارزښت 5 فيصده راټيټ شو او فرانسې له ځنډ وروسته له نړيوالو بازارونو څخه د 1,5 ميليارده ډالرو د پور په موندلو اقدام وکړ. د 1974 ز کال د فبروري په لومړۍ ايټاليا هم د 1,5 ميليارده ډالرو په اندازه له نړيوالو بازارونو څخه د پور ترلاسه کولو ته اړ شوه. په اروپايي هېوادونو باندې وارد شوي شديد فشار او په آزاد بازار کې د سرو زرو د قېمت زياتېدل (د 1974 ز کال د فبروري 25، د لندن په بازار کې د سرو زرو قېمت هر اونس 170 ډالره و، د سرو زرو رسمي قېمت ډېر زيات ټيټ و)، باعث شو ترڅو د اروپا ګډ بازار د ارزښت لرونکو فلزاتو، په ځانګړې ډول د سرو زرو د قېمت د زياتوالي غوښتنه وکړي. 3- 19 جدول ته په پام سره د سرو زرو قېمت د قېمت زياتوالي، د صنعتي هېوادونو اسعاري ذخاير په ډېره پيمانه زيات کړل.

| هېواد | ټوله ذخيره په میلیون ډالر | په ټوله ذخيره کې د سرو زرو مقدار |
|---|---|---|
| آلمان | 34132 | 4966 |
| د امریکا متحده ایالات | 14373 | 11652 |
| جاپان | 13196 | 891 |
| فرانسه | 8550 | 4261 |
| سویس | 7220 | 3513 |
| انګلستان | 6646 | 900 |
| هالنډ | 6208 | 2294 |
| ایټالیا | 6084 | 3483 |
| بلژیک | 4977 | 1731 |

«3- 19 جدول»

د سرو زرو د قیمت د زیاتوالي لپاره فشار، په ډالر باندې د اعتماد په له منځه تلو او په آلماني مارک باندې د ذخيره شويو ډالرو تبدیلول، سویسي فرانک او سره زر زیات شول. د نفتو د قیمت زیاتوالي که څه هم پرمختیایي هېوادونه ډېر زیانمن کړل، خو پایلې یې د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره ډېر لوی مصیبت و. له درېیمې نړۍ سره د مرستې په موخه، د نفتو تولیدونکو هېوادونو ځینې طرحې وړاندې کړلې. غربي هېوادونو په آسیا او افریقا کې د پراختیا د دوه بانکونو په ایجاد په خپلو منځو کې سره هوکړه وکړه. ددغو دوه بانکونو لومړنۍ پانګه چې د عربانو په وسیله تأمینېدله هره یوه 500 میلیونه ډالرو ته رسېدله.

ایران ډېر غوره وړاندیز وکړ. دغه هېواد وړاندیز وکړ، ترڅو کوم صندوق چې د نړیوال بانک او د پیسو نړیوال صندوق تر نظر لاندې عمل کوي، منځته راشي او خپله یې له دغه صندوق سره یو میلیارد ډالر مرسته وکړه او وړاندیز یې وکړ ترڅو د نفتو صادرونکي هېوادونه هر کال له 2 نه تر 3 میلیارده ډالرو پورې له دغه صندوق سره مرسته وکړي. د صندوق منابع د ایران په وړاندیز د درېیمې نړۍ د هېوادونو ترمنځ چې د نفتو د قیمت له زیاتوالي څخه زیانمنېدل وېشل کېده. لېبیا وړاندیز وکړ ترڅو د درېیمې نړۍ هېوادونو لپاره د نفتو قیمت له نورو هېوادونو څخه کم وي. لېکن د 1974 ز کال تر فبروي پورې عربي هېوادونو له دغه وړاندیز سره موافقت ونه کړ.

ډېرى اوس هم تصور کوي چې د کېنز طرحه او سربېره پر هغو اصلاحاتو چې ټرېفېن پېشنهاد کړي دي، د نړيوالو پولي ستونزو د حل لپاره تر ټولو غوره طرحه ده. خو هره اصلاحي برنامه يا طرحه بايد لاندې ځانګړنې ولري.

1- په ميعان سرعت او نړيوال سياليت د صنعتي هېوادونو او د درېيمې نړۍ ځينو هېوادونو لپاره زيات کړي. د صنعتي هېوادونو په اړه د سرو زرو د قېمت زياتوالى کولاى شي ددغو هېوادونو ذخاير او د هغوى سياليت اضافه کړي. د درېيمې نړۍ هېوادونو په اړه، دغو هېوادونو ته د اخيستنې ځانګړي حق زيات مقدار د تخصيص او د نفتو توليدونکو هېوادونو د مرستې له لارې ممکن دى.
2- بايد ټولو ته منلى نړيوال پولي واحد (لکه د کېنز بانکور) منځته راشي.
3- بايد داسې ميکانيزم راپيدا شي، چې په هغه کې د اسعارو نرخ په داسې ډول چې د قېمتونو تغييرات او مصرف په پام کې نيسي تغيير وکړي او سفته بازي هم راکمه شي.
4- بايد نوى سيستم د پيسو احتکاري جريان او سفته بازي کنترول کړي.
5- بايد د نړيوال پولي واحد مقدار د جهان د اقتصادي اړتياوو له مخې تغيير وکړي (لکه د انفلاسيون د کنترول لپاره راکم شي).

پورته پنځو ټکو ته په کتو، اوس د ژاک رئوف، شولتز او فولکر په وسيله وړاندې شوې طرحې شرحه کېږي.

ښاغلى رئوف باوري دى، چې که مونږ د برېټن ووډز نظام ته ور وګرځو، خو هڅه وشي چې کوم دولتونه چې پيسې يې اساس پيسې دي، بې له کومې خبرې کاغذي پيسې نشر کړي، سيستم کولاى شي په ښه ډول عمل وکړي او ستونزه ايجاد نه کړي. له دې وراخوا، د دوى د نړيوالو ذخايرو لپاره وړانديز کوي د سرو زرو قېمت زيات شي. په دې صورت کې به د امريکا متحده ايالات برلاسى وى، ډالر له سرو زرو سره تبديلېدونکي اعلام کړي. شولتز او فولکر وړانديز کوي چې د هر هېواد لپاره يو اساس ذخيره وټاکل شي، چې دغه ذخيره به د پيسو په نړيوال صندوق کې د هېواد سهميې ته په کتو ټاکل کېږي او کولاى شي د اخيستنې ځانګړى حق هېوادونو ته زيات شي. په همدې حالت کې د هر هېواد د ذخيرې لپاره يو اعظمي حد وټاکل شي، هرکله چې د يو هېواد د ذخايرو اندازه له دې نه زياته شوه او نوموړي هېواد د خپلو ذخايرو د کمولو لپاره کوم اقدام ونه کړ، ډېرى هېوادونه د شديدو ګمرکي عوارضو په وضع کولو سره د هغه هېواد کاليو لپاره د هغه هېواد واردات محدود کړي. له بلې خوا، که د يو هېواد ذخاير له يو ټاکلي حداقل څخه ټيټ شول او هېواد خپله د دغې وضعې د اصلاح لپاره اقدام ونه کړ، صندوق مثلاً هغه هېواد ته د اخيستنې ځانګړي حق

په عدم تخصیص سره، هېواد تر فشار لاندې راولي. ددغو دوه حدونو ترمنځ (حداقل او حداکثر) د خطر فاصله د پور د نړیوال صندوق په توافق، هېواد د پیسو د ارزښت په راکمولو یا د پیسو د ارزښت په زیاتوالي سره د خپلو ذخایرو وضعیت اصلاح کړي. په دغه وړاندیز کې د پیسو لامبوزن کول په هغه صورت کې چې نورو هېوادونو ته صدمه ونه رسوي، مجاز دي.

## یو آیده ال/د خپل په خوښه سیستم:

نړیوال پولي سیستم، د دې لپاره چې یو آیده ال سیستم وي، باید څه ځانګړنې ولري؟ نوی سیستم باید داسې طراحي شي چې په پیسو باندې سفته بازي له منځه ایسته کړي او میعان یا سیالیت په ځانګړې توګه د درېیمې نړۍ هېوادونو ته ایجاد کړي. د درېیمې نړۍ هغو هېوادونو چې له نورو نه زیات د نفتو قېمت له زیاتوالي څخه ډېر زیانمن شوي دي، کوم هېوادونه چې د پیسو جریان هغه لوري ته حرکت کوي، د مالیاتو په وضع کولو یا په جریمې سره د دغه جریان د درولو لپاره هڅه وکړي. د ګټې د نرخ همغږي کول به تر یوه حده پورې د سفته بازۍ جریان یا د پیسو احتکارانه جریان راکم کړي. د دې لپاره چې نوی سیستم وکولای شي برلاسی شي باید د نفتو د قېمت د ورکړې په هکله د نفتو صادرونکو هېوادونو ترمنځ توافقات ترسره شي. د اخیستنې ځانګړي حق د تخصیص خپرولو په زیاتوالي سره هم تر یوه حده کولای شي نړیوال سیالیت زیات کړي. د دې لپاره چې د نړۍ هېوادونه د اخیستنې ځانګړی حق ومني او د ذخیرې په توګه یې وساتي، د اخیستنې ځانګړی حق ذخایرو ته د ګټې ورکړه او د اخیستنې ځانګړي حق او د سرو زرو ترمنځ ارتباط کولای شي چې یو حل لاره وي. د نوي سیستم د ثبات لپاره یوه حل لاره په ډالرو د سرو زرو بدلېدو قابلیت ته ورګرځېدل دي، چې دغه چاره د سرو زرو قېمت د زیاتوالي له لارې ممکن ده.

## په اسعارو پورې نور مربوط مسایل

### الف- د سلف اسعارو بازار:

د اسعارو بازار چې مخکې اشاره ورته وشوه کولای شو په دوه برخو ووېشو. یو د اسعارو عادي بازار او بل د اسعارو سلف بازار. په سلف بازار کې پلورونکی او پېرودونکی توافق کوي چې پېرودل شوي اسعار دې درې میاشتې وروسته تحویل شي. د اسعارو نرخ په دې حالت کې د سلف اسعارو نرخ دی چې د عادي اسعارو له نرخ سره تفاوت لري.

د سلف اسعاري معاملاتو د شتون علت په حقیقت کې دا دی، چې کوم پېرودونکی چې په راتلونکي کې د اسعاري ورکړې ژمنه لري، په اوس وخت کې د اسعارو پېرودلو سره خپل ځان د

اسعارو د نرخ د آتي نوساناتو په مقابل کې بیمه کوي. کوم پلورونکی چې اسعار په سلف ډول پلوري هغه هم په همدې صورت د اسعارو د نرخ د کموالي خطر د ځان لپاره راټیټوي. هغوی چې د سلف اسعارو په بازار کې معامله کوي یا سوداګر دي چې په خارجي اسعارو وعده لرونکی پور یا طلب لري یا هغه کسان دي چې خپله پانګه د سود د تحصیل په هیله په دغه بازار کې په کار اچوي.

## د سلف اسعاري معاملات په درې برخو وېشل کېږي:

1- په دغه ډول اسعاري او سلف شکل کې د معاملاتو هدف د نړیوالو سوداګریزو مبادلاتو لپاره د ورکړې د منبع تأمین دی. د مثال په توګه اېران درې میاشتې وروسته باید په ډالرو باندې یو مبلغ یو خارجي صادرونکي ته ورکړي. امکان لري چې هغه د ریال د ارزښت کموالی او د ډالرو د ارزښت زیاتوالی پېشبیني کړی وي. په دې صورت کې د دې لپاره چې د اسعارو د نرخ له نوسان څخه زیانمن نه شي، د سلف ډالرو په پېرودلو اقدام کوي. امکان لري چې اېرانی صادرونکی چې له خارجي واردونکي څخه طلبکار دی او د ورکړې ټاکلی وخت هم درې میاشتې وروسته دی، د ډالر د ارزښت د کموالي له وېرې په ریال باندې د ډالر سلف په تبدیل باندې په اوس وخت کې تمایل ولري. دغه دواړه د اسعارو د نرخ د نوسان د خطر د کموالي په خاطر له یو بل سره د سلف اسعاري مبادلې ته واردېږي.

2- **آربیتراژ:** آربیتراژ په حقیقت کې د ګټې د زیات نرخ د ترلاسه کولو لپاره د پانګې انتقال د اسعاروو له وعده لرونکي پېر یا پلور سره یو ځای د اسعارو نرخ له تغییر څخه رامنځته شوي زیان څخه مخنیوی دی. یو مثال بحث لا نور هم ساده کوي.

فرض کړئ چې د ګټې نرخ په انګلستان کې 8 فیصده او د امریکا په متحدو ایالاتو کې 5 فیصده دی. که یو انګلیسی خپله سپما امریکا ته ولېږدوي او په پور یې ورکړي، 7 فیصده زیات سود لاسته راوړي. انګلیسی کس د دې موخې لپاره خپله پانګه یو میلیون سره د عادي اسعارو په بازار کې (نه په سلف بازار کې) په ډالرو تبدیلوي او په دې فرض چې هر ډالر له 0,5 لېرو سره برابر دی، 2 میلیونه لاسته راغلي ډالر امریکا ته په پور ورکوي او له دې لارې، د 140000 زیات سود لاسته راوړي (پور یو کلن دی). اوس کله چې پور استهلاکېږي، یعنې د پور د بېرته ورګرځولو پر مهال د ډالرو ارزښت راکم شي، د مثال په توګه ډالر له 0,4 لېرو سره برابر شي، کله چې هغه 2300000 ډالر په ریال تبدیلوي 920000 لېره لاسته راوړي. که څه هم چې د پانګې انتقال باعث شوی و، چې زیاته ګټه لاسته راوړي، خو د ډالرو د ارزښت کموالي نه یوازې ګټه له منځه یووړه بلکې انګلیسي کس ته یې پانګه ییز زیان هم ورپه برخه کړ.

اوس که انګلیسي کس د سلف (یو کلن) لېږې په بازار کې پېرودلې وای د کال په پای کې د ګټې له ترلاسه کولو وروسته یې د 2300000 ډالرو په مقابل کې 150000 لېره ترلاسه کوله. پر دې اساس، آربیتراژ د ګټې د ترلاسه کولو او د اسعارو د نرخ د تغییر په ترڅ کې له زیان څخه د مخنیوي په موخه ترسره کېږي. فرد په لومړي سر کې پیسې په خارجي اسعارو تبدیلوي او خارجي اسعار په پور ورکوي او په همدې وخت کې د خارجي اسعارو د سلف په پلور او د خپل هېواد پیسو د ډالر سلف په پېرودلو سره خپل ځان د اسعارو د نرخ د نوساناتو په مقابل کې بیمه کوي.

3- سفته بازي په دغه حالت کې، فرد یوازې د اسعارو د نرخ د تغییراتو د ګټې اخیستنې په موخه، سلف اسعار پېري. کوم سفته باز چې وړاندوینه کوي د آلماني مارک ارزښت مثلاً درې میاشتې وروسته زیاتوالی مومي، د مارک سلف په پېرودلو اقدام کوي او درې میاشتې وروسته د مارک د ارزښت په لوړېدلو سره یو مقدار ګټه لاسته راوړي. کوم سفته باز چې د آلماني مارک د ارزښت کموالی درې میاشتې وروسته پېشبیني کوي، هغه هم د دې لپاره چې له زیان څخه مخنیوی وکړي، د مارک سلف په پېرودلو اقدام کوي. عموماً د سلف اسعارو نرخ د جاري اسعارو له نرخ څخه یو څه مقدار زیات دی.

### ب- د اسعارو د کنترول سیستم:

د اسعارو د کنترول سیستم په حقیقت کې د دولت په وسیله د اسعارو د پېر او پلور سیستم دی. له دغه سیستم څخه د لومړي ځل لپاره په په شوروي کې کار واخیستل شو، شوروي له ځنډ پرته د 1917 ز کال له لوی انقلاب څخه وروسته د سرو زرو سیستم پرېښود او د اسعارو د انحصار سیستم یې انتخاب کړ. په دې سیستم کې، په کاغذي پیسو باندې د سرو زرو د تبدیلېدو له منځه تلل، د اسعارو د بازار عملیات درېدلي او له خارج سره هر ډول خصوصي اسعاري معامله ممنوع ګرځي.

په 1931 ز کال کې آلمان چې د خپل خارجي تادیاتو په بیلانس کې له شدید کسر سره مخ و او کولای یې نه شو، چې له خارج سره خپلې راکړې ورکړې متعادلې کړي. د خپلو پیسو د ارزښت د کموالي د مخنیوي لپاره یې د اسعارو د پېرو او پلور په دولتي انحصار اقدام وکړ. د آلمان داسعارو د کنترول په سیستم کې یوازې د خارجي اسعارو لرونکي اړ وو، چې دغه اسعار د اسعارو د مبادلې دولتي سازمان ته پرېږدي. دولت د اړینو کالیو واردونکو ته هم اسعاري سهمیه ورکوله. ځکه کوم اسعار چې دولت پلورل د اسعارو د مبادلې په دولتي سازمان کې موجودو اسعارو ته په کتو پلورل کېدل. په دې سره هرومرو د خارجي تادیاتو بیلانس متعادل کېده، ځکه چې له صادراتو څخه ترلاسه شوي اسعار د وارداتو له اسعاري ورکړو سره مساوي وو.

د دوهمې نړيوالې جګړې په اوږدو کې د اسعارو د کنټرول سيستم د ډېرو هېوادونو په وسيله وکارول شو او له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته هم په ځينو هېوادونو کې باقي پاتې شو. دغه سيستم لاندې ګټورو اهدافو ته د رسېدو امکان برابروي:

الف- د اسعارو د کنټرول له سيستم څخه په استفادې کولای شو چې له اقتصاد څخه د پانګې د فرار مخنيوی وکړو.

ب- د اسعارو د کنټرول له سيستم څخه په استفادې کولای شو د خارجي تادياتو د بيلانس له کسر څخه مخنيوی وکړو.

ج- کله چې د صادراتو کموالی مثلاً له اقتصادي نظره ګټور وي، د اسعارو په کنټرول سره کولای شو د کاليو له صدور څخه ترلاسه شوي اسعار لا ارزانه واخلو او صادرات کم کړو. برعکس د وارداتو د کنټرول لپاره کولای شو اسعار په واردونکو باندې په ګرانه بيه وپلورو.

د اسعارو د کنټرول په سيستم کې دولت د اقتصاد د ودې لپاره کولای شي، څو نرخونو والا رژيم ولري (په ايران کې د 1358 لمريز کال په لومړيو کې دوه نرخونو والا سيستم د ځينو اسعارو لپاره وکارول شو. د مثال په توګه، کومو مسافرو چې بهر ته د تلو اراده لرله تر 20000 تومان پورې کولای يې شول ډالر د 71 ريال په نرخ سره واخلي، که غوښتل يې له 20000 څخه ډېر ډالر له ځان سره بهر ته يوسي، اړينه وه مازاد يې له بانکونو څخه د 81 ريال په قېمت پېرودلی وای).

دولت د اسعارو له څو ګوني نرخ څخه په ګټې اخيستنې سره کولای شي واردات کنټرول کړي. که د دولت هدف مثلاً د لوکسو کاليو د وارداتو کموالی او له بهر نه د خوراکي توکو د وارداتو زياتوالی وي، کولای شي ډالر د لوکسو کاليو واردونکو باندې د 100 ريال په قېمت د خوراکي توکو په واردونکو د 50 رياﻟو په قېمت سره وپلوري.

## د اسعارو د کنټرول آثار:

په اسعارو باندې د کنټرول شتون آثار په لاندې ډول دي:

1- **د عزلت اغېزه:** په اسعارو کنټرول د اقتصاد بهرنيو مبادلاتو له کموالي سره (صادرات- واردات) اقتصاد ته د خودکفايۍ په لوري حرکت ورکوي او په اوږد مهال کې دغه هدف ته رسېدل په کامل ډول ممکن ګرځوي. هر څومره چې په اسعارو باندې کنټرول شديد شي، هېواد په زياته اندازه د کار د نړيوال وېش له ښېګڼو څخه سترګې پټوي.

2- **د ملاتړ اغېزه:** په اسعارو کنترول د بهرنيو کاليو د وارداتو له محدودولو سره، چې هغه ته ورته کالي د هېواد په داخل کې توليدېږي، کولای شي چې د داخلي صنايعو د ملاتړ يوه لاره وي. په غير مستقيم ډول د استخدام او ودې د نرخ په زياتوالي هم اغېزه لري.

3- **د مبادلې د رابطې د ښه کېدو اغېزه:** په اسعارو کنترول کولای شي د مبادلې رابطې ته ښه والی وروبخښي. په دې ترتيب په غير مستقيم ډول د اقتصاد په خارجي ديونو هم اغېزه کوي.

4- **تبعيضي اغېزه:** په هغه صورت کې چې د اسعارو د کنترول په سيستم کې له څو نرخونو څخه استفاده وشي، اقتصاد کولای شي له هېوادونو سره د مبادلې اندازه خپله وټاکي. له يو او يا څو هېوادونو سره مبادله کېدای شي چې په دې شکل سره محدوده شي او له نورو هېوادونو سره مبادله پراختيا ومومي[56].

[56]- ماهنامهء حسابدار- نشريهء انجمن حسابداران خبرهء ايران. شماره های 30، 31، 32 مقالات مهدي تقوی.

## شلم څپرکی

### دولت او اقتصاد

دولت په نولسمه پېړۍ کې د کلاسیکو اقتصادپوهانو لکه آدم سمېت د عقایدو تر تأثیر لاندې د ټولنې په اقتصادي فعالیتونو کې مداخله نه کوله. په اقتصادي چارو کې د دولت له مداخلې او د هغه محکومولو سره د آدم سمېت مخالفت یو نوې طرحه وه، چې هغه له ځان نه د مخکنیو اقتصادپوهانو له نظره، یعنې د سودګرانو له نظر سره د مقابلې لپاره وړاندې کوله. ورو ورو په نولسمه پېړۍ کې د دولتونو مداخله په اقتصادي چارو کې زیاته شوه او د عدم مداخلې له سیاست سره علاقه مندي، په کارځایونو او کانونو کې د ښځو او ماشومانو د استخدام د مقرراتو د تنظیم له لارې، په اقتصادي چارو کې مداخله پیل کړه. دولت ورو ورو ماشومانو ته د وړیا زده کړو د برابرولو دنده په غاړه واخیسته. تر 1914 ز کاله پورې په ځانګړي ډول په انګلستان کې په کارځایونو کې د کار په اړوند قوانین رامنځته شوي وو، لومړنۍ زده کړې وړیا وې او منځنۍ زده کړو ډېر لږ مصرف درلود.

پر دې سربېره، د کار په چاپېریال کې د خوندیتوب قوانین، د وزګارتیا بیمه، د ناروغۍ بیمه او د تقاعد حقوق هم په ایجادېدو وو. په نولسمه پېړۍ کې د انګلستان دولت د اورګاډي د لارې د شرکتونو فعالیت او د بار او مسافرو د حمل و نقل نرخ کنټرول کړ او د انحصاراتو له ایجاد څخه یې مخنیوی کاوه. نهایتاً په دې وخت کې په سهامي شرکتونو پورې اړوند قوانینو ښه غوره کړه او د کاغذي پیسو خپرول په 1844 ز کال کې د قانون په وسیله محدود شول، خو د خارجي سوداګرۍ په برخه کې لا تراوسه د آزادې سوداګرۍ دکترین حاکم وو. په دې شکل و، چې دولت د خلکو د اقتصادي او ټولنیزو ګټو د خوندي کولو په برخه کې د ټولنې په اقتصادي چارو کې فعاله ونډه په غاړه واخیسته.

د دوه نړیوالو جګړو ترمنځ په اقتصادي چارو کې د دولت مداخله زیاته شوه. په 1932 ز کال کې د مثال لپاره حتی انګلستان چې د نړیوالې آزادې سوداګرۍ ملاتړي و، دغه تصور یوې خوا ته پرېښود.

د دوه نړیوالو جګړو په اوږدو کې د ښکېلو هېوادونو اقتصادي ژوند تر ډېره حده د دولت په وسیله تنظیم کېده. د اسعارو او وارداتو د کنترول له لارې، بهرنۍ سوداګري د دولت په کنترول سره یې تولید کموالی وموند او د کاري ځواک حرکت د ولت تر کنترول لاندې صنایعو خوا ته شو. په جګړه کې په ښکېلو هېوادونو کې پانګونه هم تر کنترول لاندې وه او د منابعو له حرکت څخه د هغو صنایعو په لور چې د جګړې له نظره په لومړیتوب کې نه و، مخنیوی کېده. په همدې وختونو کې و، چې دولتونو د استخدام د کاملولو مسئولیت په ټولنه کې قبول کړ. په اوس وخت کې هم په اکثرو غیر سوسیالستي هېوادونو کې اقتصادي فعالیتونه هم د دولت او هم د خصوصي سکتور په وسیله ترسره کېږي او اقتصاد نور خالص پانګوال اقتصاد نه دی، بلکې مختلط یا ارشادي اقتصاد دی.

## د صنایعو ملي کول:

په اقتصاد کې د ولت د مداخلې د زیاتوالي له تر ټولو مهمو وسایلو څخه یو وسیله، د صنایعو ملي کول دي. عموماً دولتي مالکیت یا د صنایعو کنترول د لاندې دلایلو پر اساس ښه کڼل کېږي:

1- مصرف کوونکي د انحصاراتو په مقابل کې د ملاتړ د وسایلو په توګه.
2- په هغو مواردو کې چې رقابت د منابعو د له منځه تلو باعث ګرځي، ممکن ده چې د دولتي انحصاراتو ایجاد د دولت په ګټه وي.
3- د ټولنې په ګټه ده چې اصلي او مېندې صنایع لکه د فولادو او حمل و نقل صنایع د دولت په کنترول کې وي.
4- په هغو مواردو کې چې صنعت د کلونو لپاره له دولت څخه د مصرف مرسته لاسته راوړي لکه هوایي کرښې، غوره ده چې دولت خپله د هغه په ایجاد کار وکړي.
5- په هغو مواردو کې چې صنعت له ټکنالوژیکي نظره له عدم کاراییٔ سره لاس و ګرېوان وي او خصوصي پانګوال په هغه کې د وضعیت د ښه کولو لېوالتیا نه لري، غوره ده چې نوموړی صنعت ملي شي.

6- په هغو مواردو کې چې د مقیاس پاسرې (صرفه جویۍ) په خاطر، کالي یا خدمت چې کولای شي په ملي سطحه په زیاتې کارایۍ سره تولید شي، د صنایعو ملي کول د ټولنې په ګټه دي لکه د برېښنا صنعت.

7- په هغو مواردو کې چې د صنعت کنترول د دولت د سیاستونو د تطبیق لپاره اړین وي، د صنایعو ملي کول غوره دي د مثال لپاره بانکونه.

8- په هغو مواردو کې چې د خصوصي سکتور په وسیله د صنعت کنترول د ټولنې په ګټه نه وي، د مثال لپاره هسته یي انرژي.

**په ملي شويو صنايعو کې د قېمت او سود سياست:** د ملي شويو صنايعو د قېمت ګذارۍ او سود سياستونه له اقتصادي نظره ډېر اهميت لري. غالباً د هغو شرکتونو په اساسنامو کې چې ملي شوي شرکتونه اداره کوي، ټينګار شوی چې دغه شرکتونه د سود د ترلاسه په موخه نه دي ايجاد شوي. پر دې اساس، د ملي شويو صنايعو عمومي مالکيت د دې مسئلې ښکارندوی دی، چې ددغو صنايعو هدف بايد د ملي ګټو زياتوالی وي، نه د سود ترلاسه کول. ډېری اقتصادپوهان باوري دي چې په ملي شويو صنايعو کې بايد د کاليو او خدماتو د خرڅلاو قېمت په داسې ډول وټاکل شي چې دغه شرکتونه سر په سر نقطه کې راشي (يعنې حاصل يې له مصرف سره مساوي شي).

بله مسئله چې بايد پام ورته وشي، دا ده چې ملي شوې صنايع چې کوم کالي او خدمات توليدوي د تقاضا ارتجاعيت ورته ډېر ټيټ دی. پر دې اساس، دغه صنايع کولای شي، هر قېمت چې وغواړي له مصرف کوونکو څخه يې لاسته راوړي. په دې چې غالباً ملي شوې صنايع، واسطه يي او مينډې صنايع وي. په دغو صنايعو کې د کاليو او خدماتو د قېمت زياتوالی کولای شي د ډېرو صنايعو د توليد مصرف زيات کړي. په دې دليل ده، چې حتی ځينې بحث کوي، ددغو صنايعو د کاليو او خدماتو د قېمت ټاکلو لپاره حتی په دې شکل چې باعث شي دغه صنايع تاوان وګالي، هم ښه ګڼل کېږي.

د دغه بحث د پوره کولو لپاره، اوس د عوايدو او مصارفو يا د دولت د بودجې په هکله بحث کوو.[57]

57- د دولت د عوایدو او مصارفو په هکله د زیاتو اطلاعاتو د ترلاسه کولو لپاره: د ابو طالب مهندس- مهدي تقوی، عمومي مالیه- د فروردین انتشارات- 1366 وګورئ.

**د دولت بودجه:** د دولت بودجه د یو کال لپاره د عوایدو او مصارفو یا د دولت د عوایدو او مصارفو اټکل دی. دولتونه عموماً له بودجې څخه د اقتصادي سیاست د تطبیق لپاره د وسیلې په توګه کار اخلي. په لاندې برخه کې له بودجې څخه د ګټې اخیستنې په مواردو کې د اقتصادي سیاستونو د وسایلو په توګه اشاره کوو:

1- **له اقتصادي رکود سره مقابله:** پرته له هغو مواردو چې اقتصاد یا هېواد په جګړه کې وي، عمومي قاعده دا ده چې د دولت بودجه باید هر کال متعادله وي، یعنې د دولت د عوایدو اټکل د دولت د مصارفو له اټکل سره مساوي وي. خو د اقتصادي رکود په درشل کې د ځینو اقتصادپوهانو باور دا دی، چې بودجه باید په قصدي ډول غیر متعادله شي. دغه سیاست چې د بودجې له کسر سره د مالي تأمین سیاست باندې مشهوره دی، له رکود او اقتصادي بحران څخه د اقتصاد د راویستلو لپاره پېشنهاد کېږي. په دې حالت کې د دولت د مصارفو زیاتوالی او د مالیاتو کموالی د اقتصادي فعالیتونو د زیاتوالي لپاره پېشنهادېږي.

2- **د انفلاسیون کنترول:** د انفلاسیون ضد بودجې هدف د خلکو د خرید د قدرت کموالی دی او دغه کار د مالیاتو د زیاتوالي له لارې ترسره کېږي او غالباً د دولت په بودجه کې د مازاد د ایجاد باعث ګرځي.

3- **د عاید په توزیع کې د نابرابرۍ کموالی:** په تصاعدي عوایدو باندې د مالیاتو سیستم له لارې کولای شو تر یوه حده د عاید په توزیع کې نابرابري راکمه کړو. پر دې سربېره، د ثروت او میراث په نقل او انتقالاتو باندې د تصاعدي نرخونو تطبیقول هم کولای شي په عاید کې د نابرابرۍ د کمولو په برخه کې مرسته وکړي.

4- **د خارجي تادیاتو بیلانس د متعادل کولو لپاره مرسته:** د ګمرکي حقوقو کموالی یا زیاتوالی هم کولای شي د وارداتو د کموالي یا زیاتوالي او په نتیجه کې د خارجي تادیاتو د بیلانس د کسر باعث شي.

### د مالیاتو اصول:

آدم سمېت د مالیاتو راټولولو لپاره څلور اصله پېشنهادوي. لومړی دا چې کوم مقدار پیسې چې افراد یې د مالیاتو په توګه ورکوي، باید مساوي وي. په حقیقت کې د هغه مقصد دا دی چې افراد چې کوم مالیات ورکوي، باید د هغوی له عوایدو سره متناسب وي او هم دا چې فرد چې د مالیاتو کوم مقدار ورکوي، باید مشخص وي. نه داسې چې د مالیاتو راټولونکی په خپله خوښه وکولای شي هغه تغییر کړي. درېیم دا چې باید د مالیاتو راټولول او لاسته راوړل ساده وي. څلورم دا

چې د مالیاتو په راټولونه کې باید اقتصاد او پاسره (صرفه جويي) په پام کې ونیول شي، یعنې د مالیاتو راټولولو مصرف باید له مالیاتي عوایدو څخه ډېر نه وي. اوس په لنډ ډول د مالیاتو منل شوي اصول توضیح کوو:

1- **د نسبي مالیاتو اصل**: د دې اصل له مخې، که یو فرد چې د 350000 پولي واحدو په اندازه کلني عاید لري، 35000 پولي واحده مالیات ورکړي، بل فرد چې د 500000 پولي واحدو کلني عاید لرونکی دی، باید 50000 پولي واحده مالیات ورکړي.

2- **د تصاعدي مالیاتو اصل**: د دې اصل له مخې، که د افرادو عاید زیات شي، باید کوم مالیات چې ورکوي، نرخ يې زیات شي. د مثال په توګه که یو فرد چې 350000 پولي واحده کلنی عاید لري، د خپل عاید 10 فیصده د مالیاتو په شکل ورکړي، بل فرد چې د 500000 پولي واحدو کلني عاید لرونکی دی، باید د خپل عاید له 10 فیصدو څخه ډېره برخه د مالیاتو په بڼه دولت ته ورکړي.

**مستقیم او غیر مستقیم مالیات:**

مالیات په کلي ډول په دوه اصلي ډلو وېشل کېږي؛ مستقیم او غیر مستقیم مالیات. ځینې مالیات په کالیو او خدماتو وضع کېږي د مثال په توګه، په کالیو باندې د خرڅلاو مالیات لکه سګرټ او د موټر چلونې د لایسنس حق او نور. په دغو ټولو مواردو کې، مالیات په غیر مستقیم ډول د کالیو د قیمت د یوې برخې په توګه ورکول کېږي او مالیه ورکوونکی په دې نه پوهېږي چې د ورکړل شوي قیمت څه مقدار د یو ډول کالیو او خدمت لپاره مالیه ده. د مالیې مقدار چې یو څوک یې په دغو حالاتو کې ورکوي، له کالیو څخه د ګټې اخیستنې په اندازې یا په مالیاتو کې په شاملو خدماتو ته متناسب وي. مستقیم مالیات پر عوایدو، ګټې او ثروت باندې مالیات دي. مستقیم مالیات غالباً په مخارجو مالیات او مستقیم مالیات پر عوایدو او ثروت مالیات دي. خو باید له کومو کالیو څخه غیر مستقیم مالیات ترلاسه شي؟ غوځ اکثریت باور لري، چې باید له ضروري کالیو څخه مالیه وانه خیستل شي. په دې صورت کې غیر مستقیم مالیات باید یوازې له لوکسو او غیر ضروري کالیو څخه ترلاسه شي او د دې لپاره چې ترلاسه کېدونکي مالیات د پام وړ وي، باید د تقاضا د قیمت ارتجاعیت ددغو کالیو لپاره نسبتاً ټیټ وي.

## د مالیاتو اغېزې:

د مالیاتو اقتصادي اغېزې په لاندې ډول دي:

1- **د کار د عرضې کموالی:** مستقیم مالیات په لوړ نرخ سره، په ځانګړي ډول په هغو مواردو کې چې مالیات په ډېر نږدې ډول له جاري لاسته راوړنو سره ارتباط پیدا کوي، غالباً کولای شي د غیبت په زیاتېدو او کار ته د کارګرو د علاقې په کموالي سره د تولید مقدار راکم کړي. که په عوایدو باندې د مالیاتو سیستم تصاعدي وي، د کار له چاپېریال څخه غیبت د کارګرانو لپاره کم مصرف کوي او په دې صورت هغه زیاتوي. پر دې سربېره، د کارګرانو علاقه د کار له اضافه اندازې څخه کموالی مومي او په هغو مواردو کې چې تولیدي واحد د اضافه کارۍ سر ته رسولو ته اړتیا پیدا کړي، له ستونزې سره مخ کېږي. پر دې اساس، غالباً کله چې د مالیاتو زیاتوالی ضروري کېږي، دولتونه غیر مستقیم مالیات لوړوي.

2- **د سپما کموالی:** واضح ده چې مالیات د خلکو د سپما کولو وړتیا کموي، ځکه د هغوی مصرفېدونکي عاید راټیټوي. په دې صورت کې بحث کېږي، چې پر عوایدو مالیات په اقتصاد کې د سپما د کمېدو باعث کېږي. غالباً د شرکتونو په ګټه باندې د مالیاتو د نرخونو زیاتوالی هم د هغوی د ګټې د ذخیرې د کموالي باعث ګرځي او له دې لارې د هغوی د پانګونې وړتیا راکموي.

3- **د پانګونې او تولید کموالی:** په هماغه ډول چې په مخکنیو څپرکو کې ورته اشاره وشوه، سود د کارفرما (متصدي) د کار بدله ده، چې د ریسک (خطر) د منلو لپاره د هغه په برخه کېږي. پر دې اساس، په سود مالیه د دغې بدلې په کمېدو سره د ریسک منلو انګېزه راکموي. په دې صورت کې په سود مالیات د پانګونې او تولید په کموالي سره د اقتصادي ودې د نرخ د کموالي باعث ګرځي.

4- **مالیات او انفلاسیون:** په هماغه ډول چې مخکې ورته اشاره وشوه، د انفلاسیون د مهارولو لپاره یو سیاست، د دولت په بودجه کې د مازاد رامنځته کول دي. د دغه کار هدف د مالیاتو له لوړېدو سره یو ځای د مصرف کوونکي د خرید د قدرت کموالی دی. خو که په اقتصاد کې استخدام کامل وي، د غیر مستقیمو مالیاتو زیاتوالی د مزد د زیاتوالي لپاره تقاضا زیاتوي او په پای کې د انفلاسیون د رامنځته کېدو باعث ګرځي. په غیر مستقیمو مالیاتو کې عمومي زیاتوالی، د خرده فروشۍ قېمتونه زیاتوي او د مزدونو د ځنځیري زیاتوالي باعث ګرځي.

5- **ماليات او د اقتصادي منابعو نامطلوب تخصيص:** يوازې په هغو مواردو کې چې کامل رقابت شتون ولري او دولت د ټولنې په اقتصادي چارو کې مداخله نه کوي، منابع په داسې شکل د مختلفو مشاغلو ترمنځ وېشل کېږي، چې د کاليو او خدماتو د توليد حاصل د مصرف کوونکو له غوښتنو سره همغږی کېږي. په کاليو ماليات په حقيقت کې د توليد د مصرف د زياتوالي په څېر اغېزه لري. پر دې اساس، ماليات کولای شي د عرضې د منحني ځای تغيير کړي. په قېمت او توليد کې د ځای تغيير دغه اغېزه په هغو کاليو چې ماليات وضع شوي، د هغو د تقاضا په ارتجاعيت پورې تړاو لري. په 1- 20 شکل کې په توليد او قېمت باندې د مالياتو د ټاکلي مقدار اغېزه ښودل شوې ده:




«1- 20 شکل»

په هماغه ډول چې 1- 20 شکل يې ښکاره کوي، د ځانګړو کاليو په هر واحد باندې د مالياتو زياتوالی د قېمت د زياتوالي او د هغو کاليو د توليد د کموالي باعث ګرځي. په هغه صورت کې چې ماليات د کاليو د قېمت د فيصدۍ په توګه ترلاسه شي، اغېزه يې داسې ده لکه څنګه چې په 2- 20 شکل کې ښودل شوې ده. په دواړو حالاتو کې په کاليو ماليات د قېمت د زياتوالي او د توليد د اندازې د کموالي باعث ګرځي. د قېمت د زياتوالي اندازه په هماغه ډول چې اشاره ورته وشوه، د کاليو د قېمت د تقاضا په ارتجاعيت پورې تړاو لري.




«2- 20 شکل»

یوازې په هغو مواردو کې چې د کالیو د قیمت د تقاضا ارتجاعیت ډېر زیات وي مالیات د کالیو قیمت نه تغییروي. دغه مسئله په 3- 20 شکل کې ښودل شوې ده.




« 3- 20 شکل»

په هغو واردو کې چې د عرضې منحني غیر ارتجاعي وي، د مالیاتو زیاتوالی د تولید مقدار نه کموي.

په اقتصاد کې په کالیو باندې د وضع شویو مالیاتو د اندازې تفاوت کولای شي منابع د هغو کالیو له تولید څخه چې په هغو باندې وضع شوي مالیات نسبتاً لوړ وي د هغو کالیو په لور منابع انتقال کړي[58]، چې وضع شوي مالیات پرې لږ او د پام وړ نه وي.

## د دولت مالي سیاستونه[59]:

اقتصادي سیاستونه د دولت اقتصادي اهدافو ته په کتو طرحه کېږي. د دې لپاره د اقتصادي سیاستونو د پېژندلو لپاره باید په لومړي سر کې اهداف وپېژنو. د دولت اقتصادي اهداف په دوه ډلو؛ لنډ مهالو او اوږد مهالو اهدافو وېشل کېږي. د دولت لنډ مهاله اهداف د قېمتونو ثبات او په ټولنه کې د کامل استخدام خوندي کول او د خارجي تادیاتو بیلانس تعادل دي. پر دې اساس، دولت باید د انفلاسیون د مهارولو او د انفلاسیون ضد، له رکود څخه د اقتصاد د راایستلو، د وزګارتیا د کموالي او خارجي تادیاتو د بیلانس د تعادل لپاره هڅه وکړي. هغه اقتصادي سیاستونه چې لنډ مهالو اهدافو ته رسېدل ممکن ګرځوي، لنډ مهاله اقتصادي سیاستونه دي. د دولت تر ټولو مهم اوږد مهاله هدف په ټولنه کې د ودې د نرخ زیاتوالي یا د خلکو دژوند د معیار لوړول دي. پر دې اساس کوم سیاست چې نوموړي هدف ته رسېدل ممکن ګرځوي، اوږد مهاله اقتصادي سیاست دي.

اقتصادي سیاستونه په دوه ډلو؛ مالي او پولي سیاستونو باندې وېشل کېږي. د دولت پولي سیاستونه هغه ډول اقتصادي سیاستونه دي، چې د هغه په طرحه او اجراء کې د دولت د کار وسایل د اقتصاد پولي او بانکي سیستم وي. په بحث کې د مرکزي بانک د دندو په اړه پولي سیاستونو ته اشاره وشو. د دغو سیاستونو په طرحه او اجراء کې د دولت د کار وسایل، د مجدد تنزیل نرخ، د قانوني ذخیرې نسبت، د آني او د پرانستي بازار عملیات وو.

له خپلې بودجې یعنې له عمومي عوایدو او مصارفو څخه د دولت مالي سیاستونو د پلي کولو لپاره استفاده کوي. عمومي عواید په دې ډول دي: د دولت خالص عواید یا د دولت له اموالو څخه ترلاسه شوي عواید (د مثال په توګه په ایران کې نفت، د انحصاراتو او د دولتي شرکتونو عواید)، مالیات د دولت استقراض او پولي عواید. د ولت مصارف هم په درې برخو؛ اداري مصارفو (د دولت

58 - J. L. Hansen, A Textbook of Economics, Ch. 30.

59- ابو طالب مهندس- مهدي تقوی- عمومي مالیه، 20 څپرکی وګورئ.

د کار کوونکو حقوق او د پېرودل شویو ملزوماتو مصارف)، انتقالي مصارف (د دولت ورکړې چې د هغه په مقابل کې کالي او خدمت نه ترلاسه کېږي لکه سبسایډي ګانې یا له افرادو او شرکتونو سره د مصارفو مرسته) او د عمراني پانګونې مصارفو باندې وېشل کېږي.

اوس که دولت له مالیاتو، استقراض، اداري او انتقالي او د پانګونو له مصارفو څخه د اقتصادي سیاست په طرحه کولو او اجراء کې استفاده وکړي، دولت مالي سیاستونه، هدف ته د رسېدو لپاره په کار اچوي. په مالي سیاست د ښه پوهېدو لپاره، په لنډ ډول د دغو سیاستونو په هکله د دولت د هر هدف د لاسرسي لپاره بحث کوو:

1- **د انفلاسیون مهارل:** په هماغه ډول چې مو اشاره ورته وکړه، انفلاسیون یا د تقاضا له مازاد یا د تولید له زیاتوالي څخه منځته راځي. په کوم حالت کې چې انفلاسیون د تقاضا له زیاتوالي څخه منځته راغلی وي، د قېمت له زیاتوالي څخه د مخنیوي لپاره، دولت باید اضافي تقاضا له منځه وباسي. څرنګه د دغه هدف لپاره دولت اقدام کوي؟ دولت کولای شي د تقاضا د کموالي یا د مصرف کوونکو د اضافي خرید د قدرت لپاره خپل عواید زیات کړي یا خپل مصارف راکم کړي. د مالیاتو زیاتوالی یا د دولتي قرضې اوراقو پلورل، د اداري او انتقالي او پانګه ییزو مصارفو کموالی د مصرف کوونکو د خرید د قدرت د کموالي باعث ګرځي. په دې حالت کې د عوایدو زیاتوالی او د بودجې د مصارفو د کموالي پر علت، دولت مازاد پیدا کوي. په دې علت ده چې د بودجې مازاد یې د انفلاسیون ضد سیاست په توګه تصور کړی دی.

که د انفلاسیون منځته راوړونکی عامل، د تولیدي واحدونو د مصرف زیاتوالی مثلاً له خارج څخه د ډېرو ګرانو لومړنیو موادو د پېرودلو په خاطر یا د کاریګرو د مزد په خاطر وي، دولت کولای شي د تولیدي واحدونو د مالیاتو په کمولو سره یا له دغو واحدونو سره د مصارفو د مرستې د زیاتوالي په خاطر د مصارفو زیاتوالی خنثی کړي. په دې حالت کې د عوایدو کموالی او د دولت د مصارفو زیاتوالی د انفلاسیون ضد سیاست دی او واضح ده چې که د دغه سیاست له اجراء څخه مخکې د دولت بودجه متعادله وي، د هغه له اجراء وروسته بودجه به کسر ولري.

2- **د انفلاسیون، رکود او وزګارتیا مهارول:** د انفلاسیون ضد، رکود او وزګارتیا منځته راوړونکی عامل، د تقاضا کمښت دی. پر دې اساس، دولت ددغو دوه ناروغیو لپاره باید د تقاضا کمښت له منځه وباسي. په دې موخه دولت باید ټولنې ته د خرید اقتصادي قدرت تزریق کړي. د ټولنې د خرید د قدرت زیاتوالی د دولت د بودجې په وسیله د مالیاتو د کموالي، د دولتي پورونو پانګو د بیا پېرودلو او د اداري، انتقالي او پانګه ییزو مصارفو له لارې کولای شي ترسره شي. د عوایدو

کموالی او د دولت د مصارفو زیاتوالی  د مصرف کوونکو د خرید د قدرت په زیاتوالي سره د تقاضا کموالی له منځه وړي او په پای کې د انفلاسیون ضد سیاست مهارويٍ، اقتصاد له رکود څخه باسي او وزګارتیا به راکمه کړي. واضح ده چې په دې صورت کې چې که مخکې دولت متعادله بودجه لرله، د دغه سیاست په پلي کولو سره به په کسر اخته شي. نو د دولت د بودجې کسر اصطلاحاً انبساطي سیاست دی، یعنې د خرید د قدرت په زیاتوالي سره، مصرف کوونکي به په ټولنه کې د اقتصادي فعالیتونو حجم ته زیاتوالی ورکړي، په داسې حال کې چې د دولت د بودجې مازاد انقباضي سیاست دی او د مصرف کوونکي د خرید د قدرت د کموالي او په پای کې په ټولنه کې د اقتصادي فعالیتونو د کموالي باعث ګرځي.

3- **د خارجي تادیاتو د بیلانس تعادل:** عموماً د خارجي تادیاتو په بیلانس کې د کسر شتون یا په جاري بیلانس کې د کسر شتون او یا د پانګه ییزو نقل او انتقالاتو په حساب کې د کسر شتون دی. د پانګه ییز نقل او انتقالاتو په حساب کې له کسر سره د مقابلې لپاره باید له پولي سیاستونو څخه کار واخیستل شي او له دغو سیاستونو څخه په ګټې اخیستنې سره په اقتصاد کې د ګټې نرخ زیات او د پانګې ورود شتون تشویق شي. د جاري حساب او په ځانګړې ډول (د مرئي حساب) د کالیو د صادراتو او وارداتو حساب له کسر سره د مقابلې لپاره دولت کولای شي چې له مالي سیاستونو څخه مرسته واخلي. په هغه صورت کې چې د کالیو د صادراتو او وارداتو حساب کسر ولري، دا په دې معنا ده چې د اقتصاد صادرات د هغه د وارداتو په پرتله کم دي. د کسر د له منځه وړلو لپاره باید صادرات زیات او واردات راکم شي. غالباً صادرات، صادرونکي ته د سبسایډي د ورکړې له لارې په خارجي بازارونو کې په ټیټ قیمت سره د کالو د عرضې په موخه او د ګمرکي حقوقو (مالیاتو) د زیاتوالي له لارې د وارداتو کموالی ترسره کیږي. صادرونکو ته د کالیو د صادرولو د جایزې ورکړه هم چې د مصرف د مرستې یو ډول دی، د صادراتو په زیاتوالي کې کېدای شي مؤثر وي.

هماغه ډول چې اشاره ورته وشوه، د دولت د اوږد مهال هدف د اقتصادي ودې د نرخ زیاتوالی دی او دغه کار یوازې د سړي سر تولید په زیاتوالي، یعنې ملي تولید چې د نفوس په شمېر باندې وویشل شي ممکن دی. واضح ده چې د ملي تولید زیاتوالی د پانګونې په زیاتوالي سره ممکن دی. پر دې اساس، د اوږد مهاله مالي سیاست موخه باید په اقتصاد کې د پانګونې زیاتوالی وي.

په اقتصاد کې خالصه پانګونه د ګټې په نرخ او د پانګې په نهایي حاصل پورې تړاو لري. د ګټې د نرخ تغییرات د پولي سیاستونو د تطبیق له لارې ممکن دي. نو د دولت مالي سیاست باید د پانګې نهایي حاصل زیات کړي. د شرکتونو په ګټې باندې د مالیاتو د کموالي له لارې د پانګې د

نهايي حاصل يا د مصرف د مرستې د زياتوالي له لارې هغوی ته ممکن ګرځي. پر دې سربېره، د پانګونې د زياتوالي لپاره دولت کولای شي د دولتي پانګونو په زياتوالي سره، خصوصي پانګونه تشويق کړي.

په هغو هېوادونو کې چې عايد په مساوي ډول د مختلفو سيمو ترمنځ نه دی وېشل شوی او ځينې سيمې د ځينو نورو سيمو په پرتله وروسته پاتې وي، ممکن ده چې د دولت د سياست هدف نه يوازې د پانګونې د اندازې زياتوالی بلکې د مختلفو سيمو ترمنځ د پانګونې لا ډېر مطلوبول وي. په دې صورت کې هم د مالياتو کموالی او د مصارفو د مرستې زياتوالي ته پر ځای وي. د مثال په توګه، فرض کړئ چې د ايران دولت غواړي نه يوازې په ټولنه کې د پانګونې مقدار زيات کړي، بلکې په پام کې لري، چې د پانګونو مقدار د هېواد محرومو سيمو لکه کردستان، سيستان، بلوچستان او هرمزګان ته ولېږدوي. دغه کار هغو شرکتونو ته د ګټې پر معافيت چې په دغو سيمو کې فعاليت کوي، له مالياتو څخه د فعاليت د څو لومړيو کلونو لپاره يا د توليد د مصرف د مرستې د وړاندې کولو د ودې نرخ په زياتوالي کې مؤثر وي. سربېره پر دې، په محرومو سيمو کې د دولت د پانګونو زياتوالی او په غير محرومو سيمو کې د هغه کموالی هم کولای شي په هېواد کې مساوي پانګونه ممکن کړي.

## یوویشتم څپرکی

## د ملي عاید وېش

### نابرابري او فقر:

دغه مسئله چې ملي عاید باید څرنګه د خلکو د افرادو ترمنځ ووېشل شي ډېر وخت کېږي، چې په اقتصاد او فلسفه کې د بحث او مناقشې وړ مسئله ده. یوه ډله بحث کوي چې برابري تر ډېره حده د پانګې اچونې مخکنۍ اړتیا ده. له بلې خوا یوه ډله بارو لري چې برابري خوا ته حرکت پانګوال نظام سقوط او نابودۍ ته کشوي.

په دې څپرکي کې، مونږ د عوایدو د وېش په رابطه اطلاعات او د هغه په پلوۍ او پر وړاندې بحثونه وړاندې کوو. بیا د فقر په مسئلې بحث کوو او هلته بیا له فقر سره د مبارزې او د عاید او د عاید د عادلانه وېش لپاره د دولت د سیاستونو په اړوند بحث وکړو. 1- 21 جدول د ایران په اقتصاد کې د ملي عاید د وېش وضعیت ښکاره کوي. لومړۍ ستن عاید لرړونکې ډلې او دوهمه ستن د هرې ډلې ونډه له ټول عاید څخه مشخص کوي. له 1- 12 جدول څخه کولای شو چې 2- 21 نتیجه واخلو.

| عاید لرونکې ډله | له مجموعي عاید څخه فیصدي | تراکم شوې فیصدي |
|---|---|---|
| لومړۍ لسی (د تر ټولو فقیرې کورنۍ فیصدي) | 1,3 | 1,3 |
| دوهم لسی | 2,8 | 4,1 |
| درېیم لسی | 4 | 8,1 |
| څلورم لسی | 5,2 | 13,3 |
| پنځم لسی | 6,5 | 19,8 |
| شپږم لسی | 8 | 27,3 |
| اووم لسی | 9,9 | 37,7 |
| اتم لسی | 12,5 | 50,2 |
| نهم لسی | 16,9 | 67,1 |
| یوولسم لسی | 32,9 | 100 |

«1- 21 جدول، د ایران د جدول، د ایران د 1363 کال د عاید وېش»

| د عاید فیصد | د کورنۍ فیصدي |
|---|---|
| 13,3 | د تر ټولو فقیر افرادو 40 فیصده افرادو ونډه |
| 36,9 | د متوسط عاید لرونکو افرادو 40 فیصده ونډه |
| 49,8 | د ډېر عاید لرونکو افرادو 40 فیصده ونډه |

«2- 21 جدول»




«1- 21 شکل»[60]

د OB خط په 1- 21 شکل کې د عاید د کاملې برابرۍ ښکارندوی دی، یعنې په هغه حالت کې چې د عاید وېش په دې ډول وي، چې هر لسی د 10 فیصدو په اندازه ملي عاید ترلاسه کړي، د لورنز منحني د OB په شکل راځي. په عاید کې نابرابرۍ اندازه د لورنز منحني ترمنځ فاصله چې په شکل کې خط خط شوې ده، مشخص کېږي. واضح ده چې هرڅومره دغه ناحیه کوچنۍ وي د نابرابرۍ اندازه کمه او هرڅومره چې لویه وي، د عاید په وېش کې د نابرابرۍ اندازه به زیاته وي. خط خط شوې سطحه د جیني د ضریب په وسیله اندازه کېږي، چې د ایران د اقتصاد لپاره په 1363کال کې 0,45 ده. د کاملې برابرۍ په صورت کې به دغه ضریب له صفر سره مساوي وي او هرڅومره چې نابرابري زیاتوالی مومي، مقدار به یې له صفر نه زیات شي.

[60]- دغه منحني د لورنز منحني په نامه یادېږي.

## د عايد په وېش کې د نابرابرۍ د موجوديت دلايل:

په يو آزاد اقتصاد کې چې د قېمتونو د ميکانيزم په وسيله هدايت کېږي. د نابرابرۍ د موجوديت علتونه په دې ډول دي:

1- **ذاتي وړتيا-** فکري او فزيکي وړتياوې په قدرتي ډول د خلکو د افرادو ترمنځ وېشل شوې دي. ځينې کسان له ځينو نورو نه ډېر هوښيار وي يا د نورو خصوصياتو لرونکي وي. په هغوی کې د ډېر عايد د ايجاد وړتيا منځته راوړي او ځينې نور دغه خصوصيات نه لري.

2- **زده کړې او مناسب فرصتونه-** فرصت د فردي خصوصياتو د پراختيا لپاره په مساوي ډول د ټولو افرادو په واک کې نه شي ورتلی. ډېر عايد لرونکو مشاغلو ته د ورتلو لپاره زده کړې ته اړتيا ده او کله هم د دغې زده کړې ترلاسه کول ډېر مصرف غواړي. ډېرى فقيرې کورنۍ نه شي کولای له خپلو مالي منابعو څخه د پام وړ مبالغ د خپلو ماشومانو په زده کړو مصرف کړي. په انساني منابعو کې د پانګونې د ټيټوالي پر علت، کوم حاصل چې لاسته راوړي، ډېر ټيټ دی. حتى که افراد هم له مشابه فردي خصوصياتو څخه برخمن وي، د دې لپاره چې ددغو خصوصياتو د پراختيا لپاره مساوي فرصت د ټولو په واک کې نه وي، د عايد په وېش کې نابرابري حتمي ده.

3- **ثروت (شته):** د منابعو مالکيت او نهايتاً له ثروت او پانګې څخه ترلاسه شوی عايد هم نابرابره دی. ډېرې کورنۍ د منابعو يا ثروت خاوندې نه دي، په داسې حال کې چې يوه کوچنۍ ډله د پام وړ املاک او شتمنۍ لري. په 1962 ز کال د امريکا د اقتصاد لپاره راټول شوي اطلاعات ښکاره کوي، چې 25 فيصده تر ټولو فقير افراد د صفر په اندازه د ثروت خاوندان وو، يعنې د هغوی شتمنۍ د هغوی له پورونو سره مساوي وې او 20 فيصده تر ټولو زيات عايد لرونکي افراد په دغه اقتصاد کې د 75 فيصده شتمنيو لرونکي وو. پر دې سربېره، 1 فيصد تر ټولو زيات عايد لرونکو افرادو په دغه هېواد کې په افرادو پورې متعلقې 26 فيصده شتمنۍ په خپل تملک کې لرله.

4- **په بازار باندې د أثر غورځولو وړتيا:** په بازار باندې د أثر غورځولو وړتيا هم يو له هغو عواملو څخه ده، چې د عايد په وېش کې د نابرابرۍ د ايجاد باعث گرځي. کوم شرکتونه چې انحصاري قدرت لري، فوق العاده گټې ترلاسه کوي، د هغو بوختياوو خاوندان چې په يو ډول هغه مسلک ته ورتلل محدودېږي. د مثال په توگه، د محکمې رسمي ژباړونکي يا د هغو بوختياوو خاوندان چې هغو ته د ورتلو لپاره د مسلک جواز لازم وي، هغوی چې د سوداگرۍ جواز لري ټول او

ټول د دې په خاطر چې کولای شي د انحصاري موقعیت په خاطر، چې لري یې په بازار أثر وغورځوي، لوړ عاید لاسته راوړي.

5- **د بدبختی نابرابر وېش:** غالباً اقتصادي ستونزې لکه وژونکې ناروغۍ، ناوړه پېښې، د کورنۍ د مشر او ډوډۍ ګټونکي مړینه او د کورنۍ د سرپرست وزګارېدل د کورنۍ عواید راکموي. دغه مصیبتونه هم په نابرابر ډول د خلکو د افرادو ترمنځ وېشل کېږي او په همدې خاطر د عاید په وېش کې د نابرابرۍ باعث ګرځي.

6- **نور عوامل:** نور عوامل لکه چانس او بخت، سیاسي وابستګي او نور هم د لوړو عوایدو په ترلاسه کولو کې مؤثر دي.

## د عاید د نابرابرۍ روند او په هغه باندې مؤثر عوامل:

اقتصادي ودې د عاید مطلق مقدار ته د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې زیاتوالی ورکړی دی. د نړۍ د اکثرو هېوادونو لپاره اطلاعات او احصائیې ښکاره کوي، چې د عوایدو له زیاتوالي سره مل د عوایدو وېش هم د لا عادلانه کېدو په لوري حرکت کړی دی. د مثال په توګه، د جیني ضریب محاسبه لاندې ارقام ښکاره کوي:

| کال | مقدار |
|---|---|
| 1356 | 0,53 |
| 1362 | 0,454 |
| 1363 | 0,453 |

«د ایران د اقتصاد لپاره د جیني ضریب»[61]

## مالیات او انتقالي ورکړې:

1- **مالیات**: مالیات کولای شي د عاید د وېش الګو تر اغېزې لاندې راولي. په ایران کې په مالیاتي نظام کې د ستونزو د موجودیت په خاطر، غالباً د حقوقو او مزد مالیات، یعنې هغه مالیات چې د کار کوونکو او کارګرو په ثابتو عوایدو پورې تړاو لري او غیر مستقیم مالیات، چې د کالیو او خدماتو په پلور مالیات دي، په آسانۍ سره د ترلاسه کېدو وړ دي. په داسې حال کې چې د شرکتونو پر ګټې مالیات او پر بوختیاوو مالیات په معمول ډول دولتونه نه شي کولای چې په آسانۍ سره ترلاسه کړي. پر دې اساس، په ایران کې غالباً ډېر مالیات د متوسطو او لږ عاید

61- مرکز آمار ایران، شاخصهای نابرابری توزیع درآمد- بررسی شماره‌ء 6 مهر ماه 64.

لرونکو له خوا ورکول کېږي. په دې حساب که له ټول عاید څخه ونډه د مالیاتو له ورکړې وروسته د عاید لرونکو ډلو لپاره مشخص کړو، د عاید وېش د مالیاتو له کسر وروسته باید د مالیاتو له کسر نه مخکې د عاید له وېش څخه لا هم نابرابره وي. په نورو اقتصادونو کې چې د مالیاتو نظام په کارايۍ (وړتیا) سره له موډیانو څخه حقه مالیات راټولوي او د مالیاتو نرخونه تصاعدي وي، مالیات د عوایدو وېش لا نور هم عادلانه کوي.

2- **انتقالي ورکړې**: غالباً د دولت انتقالي ورکړې لکه وزګارو خلکو ته د مصرف د مرستې ورکړه، د وړیا روغتیايي او درماني خدماتو وړاندې کول او سبسایډې ګانې د عوایدو په وېش کې د برابرۍ باعث ګرځي، ځکه په دې چې ترلاسه کوونکي یې غالباً لږ عاید لرونکې کورنۍ دي. پر دې اساس، د پورتنیو اقلامو لپاره د دولت د مصارفو زیاتوالی په اقتصاد کې د عوایدو په وېش کې د برابرۍ باعث ګرځي.

## د عاید د نابرابرۍ پر وړاندې دلایل:

غالباً د عاید په وېش کې د نابرابرۍ د موجودیت د نامطلوب والي لپاره دوه دلایل وړاندې شوې دي:

1- **د رضایت او خوشالۍ اعظمي کول:** غالباً ویل کېږي چې د عاید په وېش کې نابرابري د مصرف کوونکي په وسیله له خوشالۍ سره د مطلوبیت د اعظمي کولو په مخ کې خنډ دی. علت دا دی چې پولي عاید هم د نهايي مطلوبیت د دوامداره کموالي په قانون کې هم شامل دی. پر دې اساس، د پولي عاید لوړ واحدونه به د مصرف کوونکي لپاره لا نور لږ مطلوبیت ولري. فرض کړئ، چې احمد، د میاشتې 500000 پولي واحده او محمود، د میاشتې 100000 پولي واحده عاید لري. اوس که د عاید وېش ددغو دواړو ترمنځ نابرابره شي، یعنې که 50000 پولي واحده د محمود له میاشتنې عاید څخه واخلو او احمد ته یې ورکړو، د فرض کړی شوې مثال پر بنا، کوم مطلوبیت چې احمد ته اضافه کېږي، له هغه مطلوبیت نه لږ دی چې محمود یې له لاسه ورکوي. پر دې اساس، د عاید په وېش کې دغه تغییر د احمد او محمود مطلوبیت راکموي. برعکس که د احمد له عاید څخه 50000 پولي واحده واخیستل شي او محمود ته ورکړل شي، کوم مطلوبیت چې احمد یې له لاسه ورکوي له هغه مطلوبیت څخه کم دی چې محمود یې لاسته راوړي. په دې صورت کې د عاید د وېش عادلانه کېدل داحمد او محمود مجموعي مطلوبیت زیاتوي.

2- **کارايي (ممثریت):** سربېره پر دې بحث کېږي، چې د عاید په وېش کې فوق العاده زیاته نابرابري د کارايۍ د کموالي باعث ګرځي. د مثال په توګه، کارګر چې تر ټولو لږ عاید لرونکې

ډله جوړوي، ممکن د کالیو او خدماتو، په ځانګړي ډول د خوراکي توکو او اوسېدنځای په پېرودلو برلاسي نه شي. پر دې اساس، نه شي کولای چې خپلې فکرې او فزیکي وړتیاوې خوندي کړي. پر دې اساس، د هغوی کارایي کموالی مومي. له بلې خوا، فوق العاده زیات عاید لرونکي افراد ممکن د لوړو عوایدو د ترلاسه کولو په خاطر له هغه نه کم چې کولای شي کار وکړي. په لنډ ډول د یوې ډلې په باور د عاید د وېش غیر عادلانه کېدل په ټولنه کې د افرادو د کارایۍ د کموالي باعث ګرځي.

## د عاید د نابرابرۍ په ملاتړ دلایل:

هغه کسان چې باور لري چې د عوایدو په وېش کې نابرابري ګټوره ده، لاندې دلایل وړاندې کوي:

1- **د پانګې تشکیل**: د عاید په وېش کې نابرابري د سپما د زیاتوالي باعث ګرځي. بحث کېږي چې د زیات عاید لرونکو افرادو سپما ده چې د وخت په تېرېدو سره د ټولنې د افرادو د ژوند معیار د لوړولو باعث ګرځي. د پانګې په تشکیل کې د عاید د وېش د غیر عادلانه کېدو د اغېزې په دلیل، پخوا ځینو هېوادونو لکه جاپان په قصدي ډول د عاید وېش نابرابره کړی دی.

2- **تشویقي اغېزې**: یوه ډله د عاید په وېش کې له نابرابرۍ څخه پر دې اساس، چې دغه نابرابري د تولید، کار او نوښت انګېزه، چې د اقتصاد محرک ځواکونه زیاتوي، ملاتړ کوي. د کاریګرو او پانګوالو لپاره زیات عاید دواړه انګېزې د کار او تولید لپاره منځته راوړي. جایزه یا مالي تشویق په پانګوال اقتصاد کې تر ټولو مهم انګېزه ورکوونکي عامل دی. که مالي بدلې د عاید د وېش د برابرولو لپاره راکمې شي، اقتصادي کارایي به راکمه شي.

## فقر:

ډېری خلک د عاید له نابرابرۍ سره کار نه لري، بلکې کومه مسئله چې د هغوی د پام وړ ده او د هغوی پاملرنه ځان ته جلبوي، د عاید د عدم کفایت مسئله ده. آیا د افرادو عاید د هغوی د ژوند تېرولو لپاره کافي دی؟ کوم کسان فقیر پېژندل کېږي؟ او له کومو سیاستونو څخه د فقر په راکمولو کې استفاده کېدلی شي؟

## فقیر څوک دی؟

فقیر په دقیق ډول نه شو تعریفولی. په کلي ډول کولای شو ووایو، هغه کورنۍ په فقر کې ژوند کوي چې له هغه سره موجودې منابع د هغوی د اصلي اړتیاوو د پېرودلو لپاره تکافو نه کوي. البته د عاید مطلقه اندازه چې له هغه نه کم د فقر تر کرښې لاندې عاید پېژني په ډېرو عواملو لکه د

کورنۍ اندازې، د کورنۍ د غړو عمر (سن)، له دولت څخه انتقالي لاسته راوړنې او په پخوانۍ سپما پورې تړاو لري. د مثال په توگه، د قېمتونو وضعیت، د پخوانیو سپماوو صفر فرض کول او له دولت څخه انتقالي لاسته راوړنو ته په کتو، که یوه کورنۍ چې دوه غړي لري، په کال کې له 600000 پولي واحدو څخه په لږ عاید سره د فقر تر کرښې لاندې راځي او نور. هرڅومره چې د کورنۍ اندازه زیاته وي، باید ډېر عاید ولري ترڅو وکولای شي خپلې اساسي اړتیاوې تأمین کړي.

## دوه متضادې فلسفې:

په ټولنه کې د فقر د موجودیت په فرضولو سره آیا دولت د هغه د له منځه وړلو لپاره اقدام وکړي؟ په دې هکله له یو بل سره دوه کاملاً متفاوت نظرونه موجود دي.

1- **فردي کمبودی**: یوه ډله باور لري چې اغلب فقیرې کورنۍ خپله په کوم وضعیت کې چې اوسي د هغه مسئولې دي. دوی غالباً له دوی سره له موجوده ښوونیزو فرصتونو څخه گټه نه ده اخیستې، یا سره له دې چې کوم خاص مهارت نه لري په مجددو ښوونو برنامو کې نوم لیکنه نه کوي. غالباً ډېر بچیان لري او کله چې یې مناسب عاید درلود بېځایه خرچې یې کړې دي. بله ډله فقیره ده، په دې خاطر چې لټه او تنبله ده او ځینې نور فقیرانه ژوند ته لېواله دي. په لنډ ډول، د دوی په باور فقر له فردي لټیو، عدم تحرک، لنډ فکرۍ او لنډ لیدلوري او په ځینو مواردو کې کورنۍ ته د فقر د ارجحیت په دلیل وي. پر دې اساس، په دې چې فقیر افراد د خپل فقیروالي مسئول دي، د دولت له خوا د فقر د جرړې ایستلو لپاره د اقتصادي سیاستونو اجراء ته اړتیا نشته.

2- **د ټولنې قربانیان**: بله ډله له پورتني نظر سره مخالفه ده او باور لري، چې فقر له ټولنیزو او فرهنگي کمبودیو څخه رامنځته کېږي، چې افراد نه شي کولای په هغو برلاسي شي. پر دې اساس، فقیر افراد ددغو ټولنیزو او فرهنگي نارسایيو قربانیان دي. ځینو نورو له چټکو ټکنالوژیکي تغییراتو څخه ضربه خوړلې ده. ځینې نه شي کولای چې ځان ته کار پیدا کړي، په دې چې ټولنې د هغوی په واک کې د ښوونې فرصت نه دی ورکړی یا د هغوی لپاره یې د بوختیا فرصت نه دی ایجاد کړي. ځینې نور فزیکي او رواني معلولیتونه لري، چې خپله د هغه د منځته راوړلو مسئول نه وو او نه دي. په لنډ ډول فقر یوه اجتماعي ضایعه ده او پر دې اساس، دولت د هغه د جرړې ایستلو مسئول وي.

دولتونه غالباً له دوهم نظر سره موافق دي او اکثره یې د فقر د جرړې ایستلو کوشش کوي. د دولت د انتقالي ورکړو، سبسایډي گانو او د مصارفو مرستې خپله په دې مسئله کې دلیل دی. په ځینو هېوادونو کې وزگار خلک له دولت څخه د مصرف مرسته لاسته راوړي. په اېران کې کارگر د

وزګارتيا پر مهال د اجتماعي تامين (بيمې) له سازمان څخه پولي وسايل نه ترلاسه کوي. د نړۍ په اکثرو هېوادونو کې له هغې جملې په اېران کې هم دواړه ښوونيز او روغتيايي خدماتو وړاندې کول تر يوه حده پورې د فقر د کموالي او د عايد د وېش له نابرابرۍ سره مرسته کوي. په عين حال کې، د دولت د مالي مشکلاتو په خاطر د ځينو سبسايډي ګانو له منځه وړل د عايد پر عادلانه وېش او د فقر په جرړې ايستلو نامطلوبه اغېزه لرلې ده.

## په منفي عايد ماليات:

پورتني بحث ته په کتو، په دې وروستيو کې يوه ډله، په ځانګړې سطحه کې د عايد له ثبات څخه ملاتړ کوي. دوی لږ تر لږه اړين عايد تعريف کړی او باوري دي، چې دولت نه يوازې له هغه د ټيټو عوايدو خاوندانو څخه ماليات وانخلي، بلکې بايد افراد د عايد په هماغه تفاوت سره يا د عايد حداقل هغه ته ورکړي (منفي ماليات) په هغه صورت کې چې د عايد د عادلانه کولو او د فقر د له منځه وړلو لپاره دا ډول نظام طراحي شي، بايد لاندې ځانګړنې ولري:

1- بايد په ټولنه کې د فقيرو افرادو لپاره حداقل عايد تأمين کړي.
2- بايد په کار د بوختېدو انګېزه راکمه نه کړي، يعنې طرحه داسې نه وي چې د افرادو د يوې ډلې لپاره د بوختياوو پرېښودل او د دولت له دستګاه څخه د مصرف د مرستې ترلاسه کول جذابيت ولري.
3- طرحه بايد فوق العاده لوړه وړتيا ولري، ترڅو په تر ټولو لږ مصرف سره اجراء شي[62].

[62] - C. R. Mc Connell, Economics, 1978, Mc Graw Hill, pp. 760 -777.

## ماخذونه

1- ابو طالب مهندس، مهدي تقوی، ماليه عمومي- انتشارات فروردين، 1366
2- حسن گلريز، حسابداري اقتصادي، انتشارات پيشبرد، 1366
3- سالواتوره، دومېنېک، تجارت بين الملل، نشر نی، چاپ پنجم 1392
4- سالواتوره، دومېنېک، ماليهء بين الملل، نشر نی، چاپ چهارم 1392
5- کاتوزيان، محمد علي، آدم سېمت او د ملتونو ثروت، ژباړه؛ صميم او حساس، کتاب خپرندوی، 1393
6- محمد نعيم اسد، محمد انور شبان، امکانات استفاده از نظريات و سياست پولي و بانکداري در افغانستان، انجمن تقويه و انکشاف افغانستان، چاپ دوم 1996
7- مرکز آمار اېران، شاخصهاي نابرابري توزيع درآمد، 1364
8- منکېو، گريگوري، مباني علم اقتصاد، نشر نی، چاپ هشتم، 1393
9- منکېو، گريگوري، نظريهء اقتصاد خرد، نشر نی، چاپ سوم 1392
10- منکېو، گريگوري، نظريهء اقتصاد کلان، نشر نی، چاپ دوم 1392
11- محمد نعيم اسد، محمد انور شبان، اقتصاد بين المللي و ممالک روبه انکشاف، نيو زمان پرېنتر، 1997
12- مهدي تقوی، مقدمه ای بر تجزيه و تحليل اقتصاد ميکرو، مؤسسه علوم سياسي، 1354
13- مهدي تقوی، تجارت بين الملل، انتشارات پيشبرد، 1366
14- مهدي تقوی، ماليه بين الملل، انتشارات پيشبرد، 1366
15- مهدي تقوی، مقالات در بارهء نظام پولي بين المللي، مجلهء حسابدار، شمارهء30، 31 و 32، سال 1366
16- نورعباد، حميدالله، اساسات اقتصاد جزء، دهکدهء چاپ، 1393
17- نورعباد، حميدالله، اساسات اقتصاد کل، دهکده چاپ، 1395
18- نېلی، مسعود، مباني اقتصاد، نشر نی، چاپ ششم 1393
19- G. Ackley, Macroeconomic Theory, Collier –Macmillan, 1968
20- R. J. Ball, inflation and Theory of Money
21- F.S. Brooman, Macroeconomics, Georg Allen and Unwin, 1967
22- E. Charle, Macroeconomics, of Developing countries, Tata Mc Grow Hill, 1983

23- R. Dorman, prices and Markets, prentice Hall, 1967
24- C. A. E. Goodhart, Money, Inflation and Uncertainity, Macmillan, 1967
25- T. J. Hailstones, Basic Economics, Doubleday and co, 1969
26- J. L. Hansen, A Textbook of Economics Macdonald and Evans, 1966
27- C. R. Mc. Connell, Economics –Mc Graw Hill, 1978
28- G. ohlin, population control and Economic Development, OECD, 1967
29- M. Parkin et al., Incomes policy and Inflation, Manchester University prees, 1974
30- W. Rostow et al., Inflation
31- D. C. Rowan, output, Inflation and Growth, Macmillan, 1970
32- E. Shapiro, Macroeconomic Analysis, HarCourt, Brace and world -1966
33- S. C. Stumey –D. W. Pearce, Economic Analysis, Mc Grow Hill, 1966
34- A. H. Turner, et al., Prices, Wages and Income policy
35- T. E. Van Dahm, Money and Banking, D. C. Heath, 1975

# دافغانستان دپوهنتونونو دانجنیري، زراعت، طبي علوم، اقتصاد او ژورنالیزم چاپ شوو درسي کتابونو لست (ننگرهار، کابل، کابل پولی تخنیک، هرات، بلخ او خوست) ۲۰۱۵ـ۲۰۲۱

| شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون | شمیره | د کتاب نوم | لیکوال | پوهنتون |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عالي کلکولس ریاضي A 534 I ریاضي | حمیدالله یار | ننگرهار | ۲ | د عالی ریاضیاتو عمومی کورس | محب الرحمن جنتی | ننگرهار |
| ۳ | د نفوسو جغرافیه | پروفیسور لطف الله صافی | ننگرهار | ۴ | عالي کلکولسII | نظر محمد | ننگرهار |
| ۵ | فزیکی کیمیا III کیمیاوی کنتیک او کتلسس، کروماتوگرافی او اسپکتروسکوپی | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار | ۶ | فزیکی کیمیا II الکترولیتی محلولونه او الکترو کیمیا | پوهاند دوکتور خیر محمد ماموند | ننگرهار |
| ۷ | د د ودانیو د تودولو تخنیک لومړی برخه، دسون تخنیک | داکتر غلام فاروق میر احمدی | ننگرهار | ۸ | د ژویو فزیولوژي | پروفیسور غنچه گل حبیب صافی | ننگرهار |
| ۹ | معیار های جدید اعمار ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار | ۱۰ | د متیورولوژی مبادی | پروفیسور عبدالغیاث صافی | ننگرهار |
| ۱۱ | الجبر او د عددونو تیوری لومړی برخه | سطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۱۲ | چگونگی مصرف انرژی در ساختمان های رهایشی | انجنیر محمد عمر تیموری | ننگرهار |
| ۱۳ | د اوسپیز کانکریټي عناصرو د لومړی صنفي کار متودیکي لارښود | پوهندوی دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ۱۴ | د ژوند چاپیریال | پوهاند عارف الله مندوزی | ننگرهار |
| ۱۵ | عضوی کیمیا، کړیوال ترکیبونه | پوهاند دوکتور محمد غوث حکیمی | ننگرهار | ۱۶ | جامداتو میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۱۷ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات دویم ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننگرهار | ۱۸ | د ودانیو د جوړولو مهندسي اساسات لومړی ټوک | دیپلوم انجینېر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ۱۹ | کیمیایي عنصرونه دویم ټوک | محمد طاهر کابنی | ننگرهار | ۲۰ | کیمیایي عنصرونه لومړی ټوک | محمد طاهر کابنی | ننگرهار |
| ۲۱ | عمومی ریاضیات | کل محمد جنت زی | خوست | ۲۲ | د اقتصاد او تجارت اصطلاحات (انگلیسي-پښتو تشریحي قاموس) | پوهنیار عبدالله عادل او امان الله ورین | ننگرهار |
| ۲۳ | خطي الجبر | داکتر عبدالله مهمند | ننگرهار | ۲۴ | روانشناسی و ضرورت آن در جامعۀ افغانستان | داکتر اعظم دادفر | کابل پوهنتون |
| ۲۵ | مبادی اقتصاد زراعتی | پوهاند ولی محمد فائز | بلخ | ۲۶ | اساسات هندسه ترسیمی مسطح | پوهنوال سید یوسف مانووال | بلخ |
| ۲۷ | تأسیسات و تجهیزات تخنیکی ساختمان | انجنیر محمد عمر تیموری | کابل پولی تخنیک | ۲۸ | د رادیویي خپرونو تولید | پوهنوال دوکتور ماسټر واحدي | خوست |
| ۲۹ | د خاورې تخریب او د چاپیریال ککړتیا | پوهنیار محمد حنیف هاشمي | خوست | ۳۰ | تیوری و سیاست بودجه عامه | پوهنوال داکتر سید محمد تینگار | کابل |
| ۳۱ | حیوانات مفصلیه | پروفیسور داکتر دیپلوم علی آقا نحیف | هرات | ۳۲ | عضوي کیمیا، د اروماتیک او هیتروسیکلیک برخه | پوهنوال ډاکټر گل حسن ولیزی | کابل |
| ۳۳ | د پروژې تحلیل او مدیریت | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار | ۳۴ | د انجنیری میخانیک | پوهنوال محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۳۵ | کلکولس او تحلیلي هندسه، لومړی برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار | ۳۶ | کلکولس او تحلیلي هندسه، دوهمه برخه | پوهندوی سید شیر آقا سیدي | ننگرهار |
| ۳۷ | د کرنیزو محصولاتو بازار موندنه | پوهاند محمد طیب | ننگرهار | ۳۸ | کارتو گرافی با اساسات توپوگرافی | پوهنوال دوکتور محمد طاهر عنایت | ننگرهار |
| ۳۹ | انرژي سمپا کوونکي ودانۍ | اسد الله ملکزی | ننگرهار | ۴۰ | د موادو مقاومت | پوهنمل بهرام امیری | خوست |
| ۴۱ | فزیکی کیمیا گازونه او کیمیاوی ترمودینامیک | پوهاند خیر محمد ماموند | ننگرهار | ۴۲ | اطلاعاتو ته د لاسرسي لارې چارې | دانش کروخیل | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۳ | حیاتي جغرافیه | پوهاند لطف الله صافی | ننگرهار | ۴۴ | د فاضله اوبو انجنیري | زلمی خالقی | ننگرهار |
| ۴۵ | د رياضي په هلکه خبرې اترې | سلاطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۶ | اقتصادي جیولوجي (کانپوهنه-فلزي کانونه) | پوهاند دوکتور شریف الله سهاک | ننگرهار |
| ۴۷ | گروه های اجتماعی بسته (مطالعه جامعه شناختی سکتها) | داکتر احمد سیر مهجور | کابل پوهنتون | ۴۸ | گرم شدن کره زمین | محمد نعیم نسین | بلخ |
| ۴۹ | الجبر او د عددونو تیوري دوهمه برخه | سلطان احمد نیازمن | ننگرهار | ۵۰ | اعمار ساختمانها (اساسات، مواد و سیستم ها) | پوهندوی دیپلوم انجنیر امان الله فقیری | کابل پولیتخنیک |
| ۵۱ | په سیول انجنیري کې د اټوکډ استعمال | پوهنوال میا پاچا میاخیل | ننگرهار | ۵۲ | وترنری عمومي پتالوژي | پوهندوی محمد طاهر کاکړ | ننگرهار |
| ۵۳ | انجنیري جیودوزی (سرو) | پوهندی گل حکیم شاه سیدی | ننگرهار | ۵۴ | جیومورفولوژي | پوهنوال عزت الله | ننگرهار |
| ۵۵ | د تلویزیوني خپرونو تولید | پوهنوال داکتر ماستر واحدی | خوست | ۵۶ | اوسپنیز کانکرېټي عناصر ، لومړی برخه | پوهنوال دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۵۷ | زولوجي فقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار | ۵۸ | زولوجی غیرفقاریه | ذاکره بابکرخیل | ننگرهار |
| ۵۹ | د تهداب انجنیري | پوهاند انجنیر زلمی خالقی | ننگرهار | ۶۰ | الجبر معاصر | داکتر عبدالله مهمند | بلخ |
| ۶۱ | رهنمود موثریت حفظ انرژی در تعمیرات | داکتر انجنیر محمد عمر تیموری | کابل | ۶۲ | معاصر الجبر | داکتر عبدالله مهمند | خوست |
| ۶۳ | د افغانستان د پوهنتونونو د درسی کتابونو چاپول (پشتو) | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۴ | آلماني د افغانانو لپاره | داکتر یحیی وردک | ټولو ته |
| ۶۵ | آلمانی برای افغانها به دری | داکتر یحیی وردک | ټولو ته | ۶۶ | د پروژې مدیریت په عمل کې | محمد داود علم او یو اف . گهل | ننگرهار |
| ۶۷ | صنعتي اقتصاد | پوهاند محمد بشیر دودیال | ننگرهار | ۶۸ | نباتي فزیولوژي لومړی جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست |
| ۶۹ | نباتي فزیولوژي دوهم جلد | پوهنمل محمد طاهر میاخیل | خوست | ۷۰ | د ساختمانونو تحلیل (لومړی برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار |
| ۷۱ | د ساختمانونو تحلیل (دویمه برخه) | پوهاند محمد اسحق رازقی | ننگرهار | ۷۲ | د مهندسانو د پاره ساختماني ستاتیک زده کړه | دیپلوم انجنیر اسدالله ملکزی | ننگرهار |
| ۷۳ | د ساختمان د جوړلو طریقې (لومړی برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار | ۷۴ | د ساختمان د جوړلو طریقې (دوهمه برخه) | پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۷۵ | سیټونه او هرڅه د هغوی په هکله | لیف بوکوفسکی/ سلطان احمد نیاز من | ننگرهار | ۷۶ | د لوبو لارو د هندسي عناصرو ډیزاین | پوهنیار انجنیر محمد شاکر فاروقي | ننگرهار |
| ۷۷ | د سرخلاصو کانالونو هایدرولیک | پوهنوال میاپاچا میاخیل | ننگرهار | ۷۸ | د جوړښتونو تحلیل (لومړی برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست |
| ۷۹ | د جوړښتونو تحلیل (دوهمه برخه) | پروفیسور حفیظ الله وردک او پروفیسور دکتور زرجان بها | خوست | ۸۰ | د رياضي منطق | سطان احمد نیازمن | ننگرهار |
| ۸۱ | ۴۵ انجنیري درسي کتابونه | ټول پوهنتونونه | ننگرهار | ۸۲ | د اوبو رسولو انجنیري | پروفیسور انجنیر محمد عیسی تنها | ننگرهار |
| ۸۳ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، لومړی ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار | ۸۴ | اوسپنیز کانکریټي عناصر ډیزاین (دویمه برخه، دوهم ټوک) | پوهاند دیپلوم انجنیر عبادالرحمن مومند | ننگرهار |
| ۸۵ | د تحلیلی هندسه لومړی برخه | سید شیر اقا سیدی | ننگرهار | ۸۶ | د اقتصاد د علم اساسات | شبر خان حساس | ننگرهار |
| ۸۷ | د انجنیری اساسی ریاضی (لومړی برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار | ۸۸ | د انجنیری اساسی ریاضی (دوهمه برخه) | پوهندوی عبدالغفور نیازی | ننگرهار |
| ۸۹ | عمومي تخنیکي رسم | پوهیالی فضل اکبر | ننگرهار | ۹۰ | د اقتصادي پرمختیا تیوري | پوهاند محمد بشیر دویال | ننگرهار |
| ۹۱ | اقلیم پوهنه | پوهاند عزت الله سایل | ننگرهار | ۹۲ | کید او گرافیک | پوهنوال دیپلوم انجنیر بهاوالدین جلالي | ننگرهار |
| ۹۳ | جنایي ارواپوهنه | پوهنیار راز محمد فیضي | ننگرهار | ۹۴ | نړیوالې تولنې | احسان الله آرینزی | ننگرهار |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | ننگرهار | پوهنوال ډاکتر نظر محمد سلطانزی ځدران | د طبيعي علومو انگليسي-پښتو قاموس | ۹۵ |

ټول کتابونه له دې ويبپاڼې څخه ډونلوډولای شی : www.ecampus-afghanistan.org

**مرسته کوونکی:** د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کميټی، د آلماني او افغانی پوهنتونونو ټولنې، د آلمان د فدرالی جمهوريت جنرال کنسولگري، کانراد ادناور بنسټ، ميخايل کلبت، سلواک ايد، په جرمنی کې د اناسيس کمپنی او افغانيک

**تطبيق کوونکی:** ډاکتر يحيی وردگ د لوړو زده کړو وزارت، څلورمه کارته، کابل افغانستان، مې ۲۰۲۱

دفتر:075601640، ايميل: textbooks@afghanic.de



## Publishing Textbooks

Honorable lecturers and dear students!

The lack of quality textbooks in the universities of Afghanistan is a serious issue, which is repeatedly challenging students and teachers alike. To tackle this issue, we have initiated the process of providing textbooks to the students of medicine. For this reason, we have published 342 different textbooks of Medicine, Engineering, Science, Economics, Journalism and Agriculture from Nangarhar, Khost, Kandahar, Herat, Balkh, Al-Beroni, Kabul, Kabul Polytechnic and Kabul Medical universities. The book you are holding in your hands is a sample of a printed textbook. It should be mentioned that all these books have been distributed among all Afghan universities and many other institutions and organizations for free. Out of the total, 96 medical textbooks funded by German Academic Exchange Service, 210 medical and non-medical textbooks funded by Kinderhilfe-Afghanistan, 7 textbooks funded by German-Afghan University Society, 2 textbooks funded by Consulate General of the Federal Republic of Germany, Mazar-e Sharif, 4 textbooks funded by Afghanistan-Schulen, 2 textbooks funded by SlovakAid, and 8 textbooks funded by Konrad Adenauer Stiftung. All the published textbooks can be downloaded from www.ecampus-afghanistan.org & www.kitabona.com.

The Afghan National Higher Education Strategy (2010-2014) states:

*"Funds will be made available to encourage the writing and publication of textbooks in Dari and Pashto. Especially in priority areas, to improve the quality of teaching and learning and give students access to state–of–the–art information. In the meantime, translation of English language textbooks and journals into Dari and Pashto is a major challenge for curriculum reform. Without this facility it would not be possible for university students and faculty to access modern developments as knowledge in all disciplines accumulates at a rapid and exponential pace, in particular this is a huge obstacle for establishing a research culture. The Ministry of Higher Education together with the universities will examine strategies to overcome this deficit ".*

We would like to continue this project and to end the method of manual notes and papers. Based on the request of higher education institutions, there is the need to publish about 100 different textbooks each year.

**I would like to ask all the lecturers to write new textbooks, translate or revise their lecture notes or written books and share them with us to be published. We will ensure quality composition, printing and distribution to Afghan universities free of charge. I would like the students to encourage and assist their lecturers in this regard. We welcome any recommendations and suggestions for improvement.**

It is worth mentioning that the authors and publishers tried to prepare the books according to the international standards, but if there is any problem in the book, we kindly request the readers to send their comments to us or the authors in order to be corrected for future revised editions.

We are very thankful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and its director Dr. Eroes, who has provided fund for this book. We would also like to mention that he has provided funds for 210 medical and non-medical textbooks so far.

I am especially grateful to GIZ (German Society for International Cooperation) and CIM (Centre for International Migration & Development) for providing working opportunities for me from 2010 to 2016 in Afghanistan.

In our ministry, I would like to cordially thank Academic Deputy Minister Abdul Tawab Balakarzai, Financial & Administrative Deputy Minister Noor Ahmad Darwish, Advisor at Ministry of Higher Education Dr. Gul Rahim Safi, Chancellor of Universities, Deans of faculties, and lecturers for their continuous cooperation and support for this project.

I am also thankful to all those lecturers who encouraged us and gave us all these books to be published and distributed all over Afghanistan. Finally I would like to express my appreciation for the efforts of my colleagues Hekmatullah Aziz and Fahim Habibi in the office for publishing and distributing the textbooks.

Dr Yahya Wardak
Advisor at the Ministry of Higher Education
Kabul, Afghanistan, May, 2021
Mobile: 0706320844, 0780232310
Email: textbooks@afghanic.org

**Message from the Ministry of Higher Education**

In history, books have played a very important role in gaining, keeping and spreading knowledge and science, and they are the fundamental units of educational curriculum which can also play an effective role in improving the quality of higher education. Therefore, keeping in mind the needs of the society and today's requirements and based on educational standards, new learning materials and textbooks should be provided and published for the students.

I appreciate the efforts of the lecturers and authors, and I am very thankful to those who have worked for many years and have written or translated textbooks in their fields. They have offered their national duty, and they have motivated the motor of improvement.

I also warmly welcome more lecturers to prepare and publish textbooks in their respective fields so that, after publication, they should be distributed among the students to take full advantage of them. This will be a good step in the improvement of the quality of higher education and knowledge transfer process.

The Ministry of Higher Education has the responsibility to make available new and standard learning materials in different fields in order to better educate our students.

Finally I am very grateful to Kinderhilfe-Afghanistan (German Aid for Afghan Children) and our colleague Dr. Yahya Wardak that have provided opportunities for publishing this book.

I am hopeful that this project should be continued and increased in order to have at least one standard textbook for each subject, in the near future.

Sincerely,
Abdul Tawab Balakarzai
Academic Deputy Minister of Higher Education
Kabul, 2021

| | |
|---|---|
| Book Name | Fundamental of Economics |
| Translator | Sherkhan Hasas |
| Publisher | Nangarhar University, Economics Faculty |
| Website | www.nu.edu.af |
| Published | 2021, Second Edition |
| Copies | 1000 |
| Serial No | 334 |
| Download | www.ecampus-afghanistan.org |
| | www.kitabona.com |

This publication was financed by **Kinderhilfe-Afghanistan** (German Aid for Afghan Children) a private initiative of the Eroes family in Germany.

Administrative and technical support by Afghanic.

The contents and textual structure of this book have been developed by concerning translator and relevant faculty and being responsible for it.

Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your textbooks, please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Karte – 4, Kabul
Office 0780232310, 0706320844
Email textbooks@afghanic.org

All rights reserved with the author.

Printed in Afghanistan 2021

ISBN 978-9936-620-75-9